# دَ مواعظِ اشرفیه

(سوم)

پښتو ترجمه

لهٔ سیّد تسنیمُ الحق فاضلِ دیوبند

چهاپوُنکے

یونیورسٹی بک ایجنسی

خیبر بازار پېښور

Scanned with CamScanner

(جُملہ حقوق محفوظ)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِؕ

دعواتِ عبدیت اول جلد

اولئے وعظ

# آدابُ المساجدُ

لہ ارشادا تو دَ حکیم الامّت

حضرت مولانا اشرف علی تھانوی رحمۃ اللہ علیہ

پښتو ترجُمہ

لہ سیّد تسنیم الحق کاکاخیل

---

ناشران:- یونیورسٹی بک ایجنسی

خیبر بازار پشاور

# خلاصه

جُمات داسے ځائے دے. چه خالص دَ الله تعالیٰ دَ ذکر او عبادت دَ پاره جوړ شوے دے. ځکه ورته دَ الله کور ویلے شی. نو په جمات کښ څهٔ دُنیاوی کارکول یا دَ دُنیا خبرے کول یا بل داسے کارکول چه دَ ذاکرانو په ذکر کښ یا دَ مونځ گذارو مانځهٔ کښې په خلل راځی. جائز نهٔ دے. هرمسلمان ته ترے ځان ساتل پکاردی۔

بنیادی خبره دَ دے وعظ داده. نورے ضمناً پکښې دَ تصوف باریک نکات او ډیرے علمی خبرے راغلی دی۔

دَا وعظ حضرت مولانا **تهانوی** رحمۃ الله علیهٔ دَ تهانه بهون په جامع مسجد کښې په ۲۳ محرم ۱۳۲۹ھ کښې په دوه نیم گهنټې کښ دَ کمزورئ په وجه په ممبر په ناستی کړے دے — او مولوی نورحسین صاحب قلمبند کړے دے. (ت)

○

بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ نَحۡمَدُہٗ وَنَسۡتَعِیۡنُہٗ وَنَسۡتَغۡفِرُہٗ وَنُؤۡمِنُ بِہٖ وَنَتَوَکَّلُ عَلَیۡہِ وَنَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنۡ شُرُوۡرِ اَنۡفُسِنَا وَمِنۡ سَیِّئَاتِ اَعۡمَالِنَا۔ مَنۡ یَّھۡدِہِ اللّٰہُ فَلَا مُضِلَّ لَہٗ وَمَنۡ یُّضۡلِلۡہُ فَلَا ھَادِیَ لَہٗ۔ وَنَشۡھَدُ اَنۡ لَّآ اِلٰـہَ اِلَّا اللّٰہُ وَحۡدَہٗ لَا شَرِیۡکَ لَہٗ وَنَشۡھَدُ اَنَّ سَیِّدَنَا مُحَمَّدًا عَبۡدُہٗ وَرَسُوۡلُہٗ۔ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَاَصۡحَابِہٖ وَبَارَکَ وَسَلَّمَ۔

امابعد فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ٥ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ٥

قال اللہ تبارک وتعالیٰ :- وَمَنۡ اَظۡلَمُ مِمَّنۡ مَّنَعَ مَسٰجِدَ اللّٰہِ اَنۡ یُّذۡکَرَ فِیۡھَا اسۡمُہٗ وَسَعٰی فِیۡ خَرَابِھَا ؕ اُولٰٓئِکَ مَا کَانَ لَھُمۡ اَنۡ یَّدۡخُلُوۡھَا اِلَّا خَآئِفِیۡنَ ۵ؕ لَھُمۡ فِی الدُّنۡیَا خِزۡیٌ وَّلَھُمۡ فِی الۡاٰخِرَۃِ عَذَابٌ عَظِیۡمٌ ○

(ترجمه) او ده هغه کس نه زیات ظالم څوک دے. چه دَ اللہ په جماتونو کښے دَ هغه ذکراوعبادت بند وی. او دَ جماتونو په شاړولو کښے کوشش کوی. دے خلقو ته هیچرے بے ویرے ورننوتل نهٔ وو پکار- دوئ دَپاره په دُنیا کښ هم ذلت اورُسوائی ده. او په آخرت کښ سخته سزا ده.

---

دَدے آیت مبارک په شانِ نزول کښ اختلاف دے. بیا هم په دومرهٔ خبره اتفاق دے. چه دا حکم عام دے. دَ جمات په شاړولو کښے مسلمان او کافر دواړه ته شامل دے. لکه چه مخکښے راغئ- او ورستئ جُمله. " مَا کَانَ لَھُمۡ اَنۡ یَّدۡخُلُوۡھَا اِلَّا خَآئِفِیۡنَ ٥ (دوئ ته هیچرے بے ویرے ورننوتل نه دَو پکار.) دَ ورنبئ جُملے دَپاره دَ دلیل په طور ده. یعنی دوئ ته خو پکار دا وو چه خپله هم جمات ته ډیر په ادب او په ویره ورننوتے (ځکه چه دا دَ اللہ ﷻ کور دے) نهٔ دا چه بل مخلص عابد او ذاکر دَ ورننوتو نه منع کوی. (ځکه چه دا دَ ډیرے بے خوفئ او بے پروائ کار دے.) نو دا سے سړے ډیر زیات ظالم دے.

دلته دا شک کیدے شی چه دا آیت مبارک خو دَ کافرانو په حق کښے نازل شوے

دے. چہ مسلمانان بہ ئے مسجدِ حرام کښے مانځهٔ ته نهٔ پریښول. نو یو مسلمان دَ دے مخاطب څنګه کیدے شی؟ دَ دے یو جواب خو اُصولی دے. چه اَلْعِبْرَةُ لِعُمُوْمِ اللَّفْظِ لَا لِخُصُوْصِ الْمَوْرِدِ. دیه احکامو کښ عموم دَ الفاظو لره اعتبار دے. نهٔ خصوصی واقعے لره) دَ دے شرعی نظیر دَ لعان او زنا حد دے. بل جواب ئے عقلی دے. که یو سړے خپل نوکرته په څهٔ غلط کار سزا ورکول غواړی. نو وائی. څوک چه داسے کار کوی دا به ئے سزا وی. نو په دے وخت کښ دَ دے وینا سبب خاص نوکر او خاص کار دے. لیکن الفاظ ئے عام دی. چه ټول نوکران ترے عبرت واخلی. او بیا داسے کار نهٔ کوی.

لیکن څما په خیال په دے اُصولی قاعده کښے چه عموم دَ الفاظو لره اعتبار دے. دا عموم تر هغے حده دے څو پورے چه دَ متکلم مراد وی. دَ دے نه زیاتی پکښے نشته. دَ دے نظیر دا حدیث شریف دے. لَيْسَ مِنَ الْبِرِّ الصِّيَامُ فِي السَّفَرِ (په سفر کښ روژه نیول نیکی نهٔ ده) چه سره دَ الفاظو دَ عموم دَ چا چه طاقت وی. هغهٔ ته شاملیدل ئے دَ متکلم مراد نهٔ دے. په دے وجه دا حکم دَ هر مسلمان دَ پاره نهٔ دے. بلکه چا ته چه په سفر کښے روژه نیول ګران وی. دَ تندے نه ئے دَ مرګ خطره وی. یا ئے دَ مرض زیاتید و خطره وی. دا حکم صرف داسے کسانو دَ پاره دے. دَ چا چه طاقت وی. او څهٔ خاص نقصان ورته نهٔ رسی. هغهٔ ته روژه نیول بهتر دی.

بل مثال ئے دا دے. چه نن صبا که څوک دَ چا عالِم نه دَ کانړے متعلق تپوس اوکړی. نو هغه به ورته اووائی چه کانړه جائز نهٔ ده. ځکه چه هغهٔ ته دَ عرف پته ده. چه دَ سائل مطلب سره دَ انتفاع کانړه ده. نو اګرچه دَ جواب الفاظ ئے عام دی. خو مراد ترے دغه خاص حالت دے. نو صِرف دَ الفاظو عام والے دَ کُلّی عموم دلیل نهٔ دے. تر څو چه مستقله قرینه موجوده نهٔ وی. چه دَ متکلم مراد څو مره عموم دے.

حاصل دا چہ دَدے آیت الفاظ مسلم او غیرمسلم دواړو ته شامل نړدی۔ دا آیت خاص دَ کافرانو په حق کښې دے. لیکن مسلمان ته په بله طریقه شاملیږی۔ هغه دا چه دَ منع نه پس وَسَعیٰ فِیْ خَرَابِهَا دَ دلیل په طور راغلے دے۔ او شاړول مقابل دے دَ آبادولو۔ او دَ جمات آبادی په ذکر او مانځه ده۔ نو ورانے بړئے په داسے کار راځی کوم چه ئے دَ آبادیٔ یعنی ذکر او مانځه خلاف وی۔ نو که دَمسلمان نه په جمات کښې داسے کار اوشی چه په ذکر او مانځه کښې په خلل راځی۔ نو هغه به هم دَ علت دَ اشتراک په وجه په دے ملامته کښې شریک شی۔

پاتے شوه دا خبره چه قیاس ظنی دے. نو بدی ئے یقینی نهٔ شوه۔ دَدے جواب دا دے. چه قیاس ظنی په هغه وخت کښې دے. چه علت ئے هم ظنی وی. او چه علت ئے قطعی منصوص وی لکه د لته چه دے۔ نو قیاس قطعی وی۔

پاتے شوه دا خبره چه که دَ مسلمان نه داسے کار اوشی. نو دَ هغهٔ نیت دَجمات دَخرابولو نهٔ وی۔ کوم چه دَ سَعیٰ دَ لفظ نه په ظاهره معلومیږی۔ دَدے جواب دا دے. که سَعیٰ خاص وی مُبَاشِرْ (کار کوونکی) پورے. نو دَدے شک گنجائش وو۔ خو په غور کولو داسے معلومیږی. چه سَعیٰ عام دے دَ مُبَاشِرْ (کار کوونکی) او مُسَبِّبْ دواړو ته۔

دلیل ئے دا دے. چه کله رسول اللہ صلی اللہ علیه وسلم په مدینه منوره کښې دا خوب اولیدو چه عُمرے ته لاړم. او دَ بیت اللہ شریف طواف م اوکړو. او اصحابوؓ ئے دا خوب بیان کړو. (دَ نبی خوب هم وحی وی) نو اگر چه هغے کښې دا نهٔ وه. چه دا عُمره به هم په دے کال وی. لیکن اصحابو دَ ډیر شوق په وجه حضور صلی اللہ علیه وسلم ته هم په دغه کال دَ سفر مشوره ورکړه. او هغویٔ دَ خوش خلقیٔ او رحمت په وجه قبوله کړه. بیا چه قریشو مکے معظمے ته ننوتونه منع کړل۔ نو اللہ تعالیٰ دا منع کول دَ جمات (مسجد حرام) دَ خرابیٔ دَ سبب کیدو په وجه۔ دَ سَعیٰ فِیْ خَرَابِهَا۔ مصداق اوګرځولو۔ سره دَدے چه قریشو

دَ مسجدِ حرام بلکہ دَ حرم شریف دَ ټولو حدودو ډیر تعظیم کولو. او دَ مسجدِ حرام دَ آبادیٔ ئې ډیر خیال ساتلو. خوسره دَ دے وړته دَ ورانیٔ کوشش اوفرمائیلے شو. ځکه چه هغوئ حضور صلی اللّٰه علیه وسلم او دَ هغهٔ اصحاب چه مخلصان ذاکران اوعابدان وو. دَ ذکر او عبادت نه منعَ کړل.

نو اوس په دلالة النص سره دا ثابته شوه. چه په جمات کښې داسے کارکول چه په ذکر او مانځه کښې خلل اَچوی. دَ سَعیٰ فِیْ خَرَابِهَا په حکم کښے داځی. ورنه کافرانو جمات ته قفل نهٔ وو لګولے. نه ئې دَ جمات بے حرمتی کړې وه. اونهٔ ئې دَ جمات آبادیٔ ته څهٔ نقصان رسولے وو.

او ظاهره ده چه په جمات کښے بے ضرورته دَ دنیا خبرے کول او دنیاوی کاروند کول. دَ ذاکرانو او مونځ ګذارو توجّه خرابوی. او دَ هغوئ په کار کښے خلل اچوی. نو بیشکه چه داګناه اوظلم دے.

(ربیا دَ اَنْ یُّذْکَرَ په مناسبت دَ ذکر دَ فضیلت یو څو واقعات بیان شو.) پکښې داهم بیان شو. چه څئے خلق په ذکر او تلاوت څهٔ دُنیاوی عوض (څهٔ رقم) اخلی. حالانکه دَ اللّٰه تعالیٰ نوم دومره قیمتی شے دے. چه دواړه جهانه هم دَ هغے عوض نشی کیدے. بیائې دا شعر اووے.

شعر

قیمتِ خود ہر دو عالم گفتهٔ نرخ بالا کن که ارزانی هنوز

(ترجمه) تاخپل قیمت دواړه جهانه اوښیلو. نرخ زیات کړه په دے هُم ارزان ئې.)

لیکن دَ دے په خوند هغه څو پوهیږی. چې چه داخوند څکلے وی.

شعر

(۱) گفت لیلٰے را خلیفه کان توئی کز تو مجنون شد پریشان وغوی

(۲) از ہمه خوبان تو افزون نیستی گفت خامش چون تو مجنون نیستی

(۳) دیدهٔ مجنون اگر بودے ترا ہر دو عالم بے خطر بودے ترا

(ترجمه) (۱) لیلیٰ ته خلیفه اووے هغه ته ئې چه مجنون دِ پریشان او لیونے کړے دے.

(۲) ته خودَ نورو جینکو نه څهٔ زیاته ښائسته نهٔ ئې. هغے ورته اووے چه دَ مجنون په شان نهٔ ئې نو غلے کینه.

(۳) کہ ستا نظر دَ مجنون پرشان وے، نو دواړه جهانه به درته ځما په مقابله کښے بے قدره ښکاره شوی وُو.

عجب داری از سالکانِ طریق کہ باشند در بحر معنی غریق

تاته داعجیبه ښکاری چه دَ طریقت سالکان دَحقیقت په سمندر کښے ډوب وی.

عشق مولیٰ کے کم از لیلیٰ بود کوئے گشتن بهر او اولیٰ بود

دَ الله عشق ځمُ دَ لیلیٰ دَ عشق نه کم خو نهٔ دے.-دَ دَپاره کوچه گردی ډیره بهتره دَه-

دینه پس حافظان چه دَ قرآن شریف په ختم په رمضان کښے. یا په قبرونو- یا په

دریمه وغیره کوم اُجرت اخلی.دَ هغے دَ ناجائز کیدو بیان اوشو - (جامع)

بیائے اوفرمائیل چه اهل الله خو دَ الله دَ نوم او دَ هغهٔ دَ رضا په بدله کښے دُنیا څکه

نشی قبلولے چه دَ آیت مبارک نه دا معلومیږی. چه دَ الله رضا دجنت دَ ټولو نعمتونو نه

هم بهتره دَه. ارشاد دے. وَرِضْوَانٌ مِّنَ اللّٰهِ اَکْبَرُ- ردَ الله لږه غوندے رضا هم

غټ شے دے.)

دَدین فروشئ دَ شبهے په وجه به څنے بزرگان بازارته نهٔ تلل.چه شاید دَ هغوی

دَ دینداریٔ او بزرگئ دَوجاهت په لحاظ به څوک دکاندار ورته په نرخ کښے رعایت اوکړی

نو دا به دَ دینداریٔ عوض اخستل شی-

نو بازارته نهٔ تلل په دوه وجهے کیدے شی. یو دَ کبر او لوئی په وجه.دا ناجائز

او حرام دی. بل په دے وجه چه خلقو باندے به څمونږ دَوجاهت اثر پریوځی.او دَ

لحاظ په وجه به شے په داسے نرخ راکړی. چه دکاندار ته به تاوان وی.دا ښهٔ کار بلکه

ضروری دے. په دے کښے یو خو دَ دین فروشئ دَ شبهے نه بچ کیدل دی. بل مسلمان

دَ تکلیف نه بچ کول دی. (او دا ثواب دے)

دَوجاهت په اثر دَ چا نه څهٔ شے اخستل رشوت دے. ځکه حاکم ته تحفے اخستل

جائز نه دی.او رسول کریم صلی الله علیه وسلم چه سره دَ حاکم کیدو تحفه قبلوله. نو ځکه چه

هغوئ ته دَ محبت په وجه ورکولے شوه. اوس حاکمانو سره چه دَ چا محبت نشته. رشوت ورکوی.

مخکښے چه ویلی شوی دی. دَ جمات آبادی په ذکر او مانځه دَه. نو دَ دے دلیل دا دے چه الله تعالیٰ

فرمائی. مَا كَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ اَنْ يَّعْمُرُوْا مَسَاجِدَ اللّٰهِ (مشرکانو کښې دا لیاقت نشته چې د الله جماتونه آباد کړی.) ځنې کسانو دَدې آیت نه دَ جمات په آبادئ کښې دَ مشرکانو پیسه نهٔ لګولو باندې استدلال کړے دے. ځما په خیال هغه مستقله مسئله ده. په نورو دلیلونو ثابته ده. لیکن دَدې آیت نه نهٔ ثابتیږی. دلته مطلب دا دے. چه مشرکان دَدې اهل نهٔ دی. چه جماتونه آباد کړی. دَ آبادئ نه ئې مراد ذکر او عبادت دے. دَ عمارت ابادول نهٔ دی. که داسې وے نو رسول الله صلی الله علیه وسلم به دَ مکې دَ فتحې نه پس هیچرې دَ بیت الله شریف دَ قریشو دَ لاس ابادی باقی نهٔ وه پریښې. هغه به ئې ورانه کړې وه. او خپله به ئې بیا اباده کړې وه. قریشو دَ سامان دَ کمی په وجه دَ بیت الله شریف کوټه دَ ابراهیم علیه السلام په ابادئ دَ اندازې نه کمه کړې وه. حطیم دَ ابراهیم علیه السّلام په ابادئ کښې دننه وو. قریشو باهر پرېښو. او دروازه ئې صرف یوه کېښوه. هغه هم ډېره اوچته بیا دَ خلفائې راشدینو دَ زمانې نه پس حضرت عبد الله ابن زبیر رض دَ خپلې ترور حضرت عائشې رضی الله عنها په روایت دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ خواهش مطابق دَ قریشو ابادی ورانه کړه. او دَ ابراهیم علیه السلام دَ آبادئ په بنیا دونو ئې بیا جوړه کړه. لیکن دَ عبد الملک دَ خلافت په زمانه دَ هغهٔ ګورنر حجاج دَ حضرت عبد الله رض دَ شهادت نه پس هغه آبادی ورانه کړه. او دَ قریشو دَ آبادئ په بنیاد ئې دوباره آباده کړه. بیا خلیفه هارون الرشید په بنائې ابراهیمیؑ باندې جوړولو دَ پاره دَ حضرت امام مالک رح نه فتوی اوغوښته. هغهٔ په دې خیال چه بیت الله دَ بادشاهانو دَ دست برد نه محفوظ شی. دَ ورانولو اجازت ورنهٔ کړو. نو هغه هم دَ حجاج آبادی دَ قریشو په بنا باقی پاتې شوه.

اګرچه دَ عبد الله ابن زبیر رض ابادی کوم چه دَ حضرت ابراهیمؑ په طریقه وه. باقی نهٔ پاتې کېدل په ظاهره دَ افسوس خبره ده. خدائې ته به معلومه وی چه په دې کښې دَ خدائې پاک څومره مصلحتونه وو. لیکن یو غټ مصلحت خو ئې ځرګند دے. هر څوک ئې پوهیدے شی. دَ ابن زبیر رض ابادی که پاتې وے. نو اګرچه دروازې به ئې دوه وې.

اودَ زمکے سرہ بہ سمے وے. بیا هم کنجیانے بہ ئے دَ خادمانو سرہ وے. او هر چا بہ بیت اللہ شریف تہ دَ ننوتو برکت نشو حاصلولے. پہ موجودہ ابادئ کنبے حطیم چہ پہ اصل کښے دَ بیت اللہ شریف حصہ دہ، دَ ابادئ نہ بهر دے. آزاد دے. هر څوک پکښے عبادت کولے شی. او دَ بیت اللہ شریف دَ ننوتو برکت حاصلولے شی. څهٔ تا منع پکښے نشته ـــ دا خبرہ دَ یاد ساتلو دہ. چہ مشرکانو سرہ دَ کفرہ او شرکه دَ بیت اللہ شریف پہ ابادئ کښے صرف پاک مال لګولو. ځکه ورسرہ دَ سامان کمے راغلو. او دَ حضرت ابراهیم علیہ السلام پہ بنیادونو ئے ابادی اونۀ کړے شوہ. یوہ ټوټه (حطیم) ئے ترے کمه کړہ.

غرض دا چہ دَ مَا کَانَ لِلْمُشْرِكِيْنَ مطلب دا دے. چہ مشرکانو کښے دَ جمات ابادولو لیاقت نشته. ځکه چہ پہ کوم کار چہ جمات ابادیږی. یعنی ذکر او مونځ هغه کار دوئ نشی کولے.

یعنی دَ جمات ابادی دَ اللہ پہ ذکر کیږی. څنګه چہ پہ دے آیت مبارک کښے چہ ارشاد دے. اِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللّٰهِ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَاَقَامَ الصَّلٰوةَ وَاٰتَى الزَّكٰوةَ. (دَ اللہ جماتونہ خو صرف هغه کسان ابادولے شی چا چہ پہ اللہ ایمان راوړو. مونځ کوی. او زکوٰۃ ورکوی) پہ دے آیت کښے اصل مقصود اقامتِ صلوٰۃ دے. څهٔ دَ پارہ چہ جمات جوړ شوے دے. آمَنَ بِاللّٰهِ دَ هغے دَ شرط پہ طور راغلے دے. چہ مونځ بے ایمانہ نۀ کیږی. او زکوٰۃ دَ اقامتِ صلوٰۃ تتمه دہ. ځکه چہ دلته دَ اقامت صلوٰۃ مطلب دے دَ ایمان ټول حقونه پورہ پورہ ادا کول دا پہ اخلاص موقوف دے. او دَ اخلاص یوہ نښه مال خرچ کول هم دہ. ـــ خلاصه دا چہ تش دَ خولے ذکر دَ اخلاص دلیل نۀ دے. بلکه څهٔ مال خرچ کول ورسرہ هم ضروری دی.

زکوٰۃ صرف هغه کسان ورکولے شی دَ چا زړهٔ کښے چہ اخلاص وی. ځکه چہ سرکاری مطالبه ئے نشته چہ بندہ مجبور شی. او که دَ چا دا شک وی، چہ دَ اسلامی خلافت پہ زمانہ کښے خو زکوٰۃ جمع کولو دَ پارہ سرکاری نوکران مقرر وو. هغوئ بہ ئے مطالبه

کولہ. نو اخلاص پکښې کوم ځائے را غلو. دَ دے جواب دا دے. چه هغه زمانه کښې سرکاری نوکران صِرف دَ ښاررو او فصلونو دَ زکوٰة راجمع کولو دَپاره وو. او پټ مال سره سپین. روپۍ پیسے دَ مالکانو په خپل اختیار وے. دَ ښاررو او فصلونو دَپاره هم سرکاری نوکران (عاملان) مقرر کول په زور ظلم اخستو دَپاره نهٔ وو. بلکه دَ دے اسانتیا دَپاره وو. چه دَ زکوٰة حقدارو ته خپله برخه په صحیح طریقه اورسی. او مالکان هم دَ حقدارو دَ تلاش نه بے غمه شی.

او دَ تجارت په مال کښې به هم دَ عامل دَ طرفه څهٔ سختی نهٔ کیده. تش دومره تپوس به ئے کولو چه په دے مال کال پوره شوے دے که نه. که چا به اووے چه نه نو پرینبو به ئے. که چا به اووے چه ما ئے زکوٰة خپله حقدارو ته رسولے دے نو هغهٔ ته به ئے هم څهٔ نهٔ وے.

(۲) دوئم دلیل دَ دے خبرے چه جماتونه ذکر دَپاره جوړ شوی دی. دا آیت مبارک دے. فِیْ بُیُوْتٍ اَذِنَ اللّٰہُ اَنْ تُرْفَعَ - (په دا سے کورونو کښې چه الله تعالیٰ دَ هغے دَ عـزّت کولو حکم کړے دے) دلته رفعتِ معنوی. یعنی قدر او عزت مراد دے.

(۳) دریم دلیل دا حدیث مبارک دے. اِنَّمَا بُنِیَتِ الْمَسَاجِدُ لِذِکْرِ اللّٰہِ (جماتونه صرف دَ الله تعالیٰ دَ ذکر دَپاره جوړ شوی دی) نو کوم کار چه دَ ذکر متعلق نهٔ وی. هغه دَ جمات شاړول دی. لکه څُنې کسان چه په اُجرت کتابت کولو دَپاره په جمات کښې کینی. یا پکښې درزی توب کوی. په اُجرت جامے گنډی. بلکه فقهاؤ لیکلی دی. چه څوک چه په تنخواه دَ علم دین درس ورکوی. هغه دِ هم په جمات کښې درس ته نهٔ کینی. البته دَ دینیاتو درس که بے تنخواه ورکوی. هغه عبادت دے. په جمات کښې ئے ورکولے شی. دَ غه شان معتکف چه دَ ذکر دَپاره جمات کښې ډیره شوے وی هغه که خپل ضرورت دَپاره څهٔ شے اخلی یا خرڅوی. نو مال جمات ته راوړلو نه بغیر تش دَ سودا خبرے کولے شی. دَ دے اجازت صرف په دے وجه ورکړے شوے دے. چه تاجران

دَ اعتکاف دَ ثواب نه محروم نهٔ شی. او دَمال نهٔ راوړلو شرط هله دے که هغه شے ډیر وی. دَ جمات ځائے نیسی. که څهٔ مختصر غوندے شے وی. نو خیر دے. راوړے ئے شی۔

او دَ معتکف نه بغیر بل چاته دَ خرید فروخت خبرے کول هم جائز نهٔ دی. وړوکے شے وی او که غټ. لکه جمات کښے دَ روپئ مات اخستل هم منع دی. او دَ داسے ورک څیز تپوس جمات کښے منع دے. کوم چه بهر ورک شوے وی. او که جمات کښے ورک شوے وی دَ هغے تپوس جائز دے. دَ غه شان جمات کښے تجارتی اشتهارات لګول او تقسیمول هم منع دی۔

(۴) څلورم دلیل دا دے. چه حدیث شریف کښے دَ قیامت نزدے کیدو په علاماتو کښے راغلی دی. مَسَاجِدُ هُمْ عَامِرَةٌ وَهِيَ خَرَابٌ۔ (جماتونه به ئے آبادوی خو وی به شاړ) عَامِرٌ معنیٰ ده آباد۔ او خراب معنیٰ ده شاړ۔ نو شاړ او آباد دواړه داسے جمع کیدے شی. چه په ظاهره خو به اباد وی. تعمیر به ئے ښهٔ وی. ګټه به پکښے ډیره وی. خو معنوی آبادی. یعنے اخلاص سره ذکر به پکښے نهٔ وی. یعنے په ظاهره به آباد وی خو په حقیقت کښ به شاړ وی. چه ذکر پکښے نهٔ کیږی. دے نه دا ثابته شوه. چه دَ جمات اصل ابادی په ذکر ده۔ او جماتونه جوړ شوی ذکر دَ پاره دی. نو بل کار پکښے جائز نهٔ دے۔

(۵) دلیل دا دے. چه اصحابو دَ رسول کریم صلی الله علیه وسلم نه تپوس او کړو شَرُّ الْبُقَاعِ (په دُنیا کښے خراب ځایونه) کوم دی. او خَیْرُ الْبُقَاعِ (ښهٔ ځایونه) کوم دی. حضورؐ او فرمائیل. ماته نهٔ دی معلوم. دَ حضرت جبریلؑ نه به تپوس او کړم. چه دَ هغهٔ نه ئے تپوس او کړو. نو هغهٔ ورته اووے ماته هم نهٔ دی معلوم. دربار خداوندی نه به ئے معلوم کړم. هغه چه تپوس ته لاړو. نو دَ رسول کریم صلی الله علیه وسلم دَ پاره دَ مسئلے دَ تپوس په برکت ورته دومره قرب خداوندی حاصل شو. چه هغه فرمائی دومره قرب راته چرے نهٔ وو حاصل شوے. یعنے صرف او یا زره پردے ترمینځه پاتے شوے. غرض دا چه دربار خداوندی نه ارشاد او شو. شَرُّ الْبُقَاعِ بازار دے. او خَیْرُ الْبُقَاعِ جمات دے. نو اوس غور پکار دے چه جمات او بازار کښے نور څهٔ فرق دے. سوا دَ دے نه چه بازار کښے

دَ دُنیا کارونه اودَ دنیا خبرے کیږی. اوجمات کښے دَ الله ذکر کیږی. نوجمات کښے دَدنیا خبرے کول دَ خَیْرُ الْبِقَاعِ نه شَرُّ الْبِقَاعِ جوړول دی۔

اوس دلته دَ حضور صلی الله علیه وسلم او حضرت جبریل داویل چه مونږ ته نۀ دَه معلومه. دے نه هغه خلقو ته عبرت اخستل پکار دی. چا ته چه مسئله معلومه نۀ وی. غلط سلط جواب ورکولو ته تیار شی. خو په دے شرمیږی چه اووائی چه ما ته نۀ راځی. او هغه عالمان دِ هم بیدار شی. چه دَ کتاب پوره مطلب ورته نۀ وی معلوم. طالبانو ته څۀ کیږودِ مطلب بیان کړی. خودا نۀ وائی چه په دے ځائے نۀ پوهیږم۔

وائی چه بزی جبهر نه یو بوډئ څۀ تپوس اوکړو. هغۀ ورته اووے ما ته نۀ دے معلوم. بوډئ ورته اووے. تۀ دَ بادشاه نه دومره غټه تنخواه اخلے. بیا هم درته دا خبره نۀ دَه معلومه: هغۀ ورته اووے. زۀ تنخواه په هغے خبرو اخلم کومے چه ما ته معلومے دی. کۀ دَ نامعلوموخبروتنخواه دِم اخستے. نو دَ بادشاه ټول خزانه به ورته هم نۀ وه کافی شوی.

او دَ حضرت جبریل اویا زۀ پردوته کمالِ قرب ویل هم قابل غورخبره دَه. کوم خلق چه دُنیا کښے په لږ غوندے ذکراوشغل دَ حق تعالیٰ دَلید وهوس کوی. هغوی خومره غټه غلطی کوی-ایا دوی دَ حضرت جبریل غوندے مقرب فرشتے نه هم زیات قرب غواړی دَدے نه زیاته غټه غلطی داده. څوک چه دَ ذاتِ خداوندی حقیقت معلومول غواړی دَ الله دَذات حقیقت نه رسیدل نا ممکن دی. داخیال کول هم نۀ دی پکار. البته دَحق تعالیٰ په کارونو غور اوتد بر پکار دے. تَفَكَّرُوْا فِي آلَاءِ اللهِ وَلَا تَفَكَّرُوْا فِي ذَاتِهٖ. ردَ الله په نعمتونو غور کوئ اودَ الله په ذات کښے غور مۀ کوئ۔ یو بزرګ ویلی دی ؎

دور بینانِ بارگاه الست — غیر ازیں پے نه بُرده اند که هست

آنچه درراه مے آید بدست — حیرت اندر حیرت اندر حیرت است

دَدربارِ خداوندی هوښیارانو سوادَ دے نه چه الله موجود دے. نور څۀ نۀ دی معلوم کړی. دَسلوک په لار کښے چه هغوئ ته څۀ معلوم شوی دی. هغه په حیرانتیا کښے حیرانتیا اوحیرانتیا دَه) یعنی ډیره حیرانی۔ —— یو عارف فرمائی :؎

اے برتر از خیال و قیاس و گمان و وہم و زہرچہ گفتہ اند و شنیدیم و خواندہ ایم
دفتر تمام گشت و بہ پایان رسید عمر ما ہمچنان در اول وصف تو ماندہ ایم

(اے اللہ تہ د خیال و قیاس گمان و وهم نہ ډیر پورته ئے. او څه چه خلقو ویلی دی. مونږ اوریدلی دی. او مونږ لوستی دی. د دے نه تو لو نه ډیر پورته ئے. دفتر ختم شو. عُمر پوره شو او مونږ یا هغه شان د ستا د وصف په ابتداء کښے یو.)

البته په آخرت کښے به د اللہ تعالیٰ د وعدے موافق جنتیان بے حجابه دیدار کوی. په حدیث شریف کښے راغلی دی. په دغه ورځ به بله پرده ترمینځه نهٔ وی، بے د کبریا د پردے نه. د دے مطلب دا دے. چه دیدار خو به بے پردے وی. لیکن د عظمت او جلال او کبریائی په وجه به ئے احاطه نشی کیدے. دے عظمت او جلال ته د کبریا پرده ویلی شوی ده۔

شرعی مسئله او صحیح عقیده دا ده چه په دُنیا کښے بے حجابه رؤیت نشی کیدے. او حضرت شیخ عبد القادر جیلانی رحمة اللہ علیه ته چه دا شعر منسوب دے.

بے حجابانہ درآ از در کاشانۂ ما

نو د دے تاویل دا دے. چه په دے کښے د آخرت د ملاقات شوق ظاهر شوے دے. او که دا شعر د بل چا وی. نو بیا ئے د تاویل ضرورت هم نشته. (یعنی غلط دے)

غرض دا چه دے حدیث شریف نه ثابته شوه. چه په جمات کښے د بازار په شان دُنیا وی خبرے کول بدکار دے. ځنے کسان په اصحاب کرامو رض تهمت لګوی. چه هغوئ به هم څومره په شان په جمات کښے دنیا وے خبرے کولے. دا خالص تهمت دے. کراصحابؓ په ارشاد نبویؐ باندے عمل او نهٔ کړی. نو بل به ئے څوک او کړی. یو خو په جمات کښے دُنیاوی خبرے کول خپله بدکار دے. وریا څه دا ظلم زیاتی کوی. چه په اصحابو رض هم تهمت لګوی. خپله توبه څهٔ نهٔ او باسی. چه د اُمت پاک خلق هم بدنامه وی.

البته ځنے خلق دا غلطی کوی. چه د ډوند هر کار ورته د دُنیا کار ښکاری. یا د لوئی د بیمارپتوس کول. د مسلمان رور حال احوال معلومول شرعی حق او عبادت دے. دا سے خبرے

جمات کښے کول جائز دی. دغه شان که چا نه جمات کښے څه شے ورک شوے وی دهغے تپوس کول هم جائز دی. دَ معتکف دَ پاره خرید و فروخت هم جائز دے لکه چه مخکښے بیان شوے دے.

سبحان الله شریعت څومره اسانتیا ورکوی. که یو تاجر دَ پاره په اعتکاف کښے دَ خرید وفروخت خبرے کول جائز نهٔ وے. نو هغه به دَ دے عبادت دَ ثواب نه محروم شوے وو. هم دغه خبرے دَ شریعت دَ حقانیت دلیل دے. چه یکښے دَ دُنیا سره تعلق، سا تو نکو او تارک دُنیا دواړو خیال ساتلے شوے دے.

بهارِ عالم حسنش دل وجان تازه میدارد
برنگ اصحاب ظاهر را به بو اصحابِ معنیٰ را

(دَ شریعت دَ عالمِ حُسن بهار زړهٔ او روح دواړه تازه ساتی. اصحابِ ظاهر ئے په رنګ مست دی. او اصحابِ باطن ئے په حقیقت.)

باقی دَ غیر معتکف دَ پاره دَ خرید فروخت دَ خبرو اجازت نشته.

(حضرت تهانویؒ فرمائی) یوځل ما ته ځما یو دوست چه ځما شاګرد هم دے یو خبره اوکړه. چه ځما ډیره خوښه شوه. زهٔ په جمات کښے ناست وم. دَ یو روپئ مات م دَ یو سړی نه اوغوښتو. هغه دوست را ته سمدستی اووے. چه داخو هم بیع ده په جمات کښے نهٔ ده پکار. دَ اهلِ حق دا شان وی چه مشرانو ته هم په غلطئ تنبیه ورکوی خو په ادب سره.

په دے موقعه دے مناسبت سره را ته یو بله دغه شان خبره را یاده شوه حضرت سیّد احمد بریلوی رحمة الله علیه چه دَ مولانا اسماعیل شهیدؒ. او مولانا عبد الحیؒ پیر وو. یو ورځ دَ نوی وادهٔ په وجه سحر مانځه ته لږ ناوخته دا غلو تکبیرِ اولیٰ ترے فوت شو. نو دَ هغهٔ مرید مولانا عبد الحی صاحبؒ روستو په وعظ کښ اووے. دا سے خلق هم شته. چه دَ ښځے خوا کښے پروت وی. تکبیر اولیٰ ترے قضا شی. سیّد صاحبؒ دَ هغهٔ شکریه ادا کړه. بیائے اووے انشاء الله بیا به داسے نهٔ کیږی.

داخبره په ظاهره مُرید دَ پاره دَ بے ادبئ بنکاری. لیکن هغه په دے پوهیدو چه سید صاحب به په نڈ خفه کیږی. بلکه خوشحال به شی. نو دَ هغهٔ دَ خوشحالو دَ پاره ئے دا بے ادبی اوکړه۔ ؎

گفتگوئے عاشقان درکاررب    جوشش عشقست نے ترکِ ادب

با ادب ترنیست زوکس درجهان    بے ادب ترنیست زوکس درجهان

(دَ الله په کارونو کښ دَ الله دَ عاشقانو دَ خولے که دَ حال دَ غلبے او جوش په وخت کښ څهٔ خبره په ظاهره دَ بی ادبئ اووځی۔ نو دا بے ادبی نهٔ ده. په ظاهره دوئ نه زیات بے ادبه څوک نشته. په حقیقت کښ دوئ نه زیات با ادبه څوک نشته۔)

هم دغه شان واقعه دَ حضرت عائشے بی بی رضؓ هم ده. یو حدیث شریف کښے دی. چه رسول اکرم صلی الله علیه وسلم یوه ورځ عائشے بی بیؓ ته اوفرمائیل. ماته پته ده چه تهٔ ما نه خفه ئے. نو وائی لَا وَرَبِّ إِبْرَاهِيْمَ (یعنے چه قسم خورے په رب ابراهیم قسم خورے) او چه کله خوشحاله ئے. نو وائی. لَا وَرَبِّ مُحَمَّدٍ (قسم دِے وی په رب محمد بانده) حضرت عائشےؓ ورته اوفرمائیل لَا اَهْجُرُ اِلَّا اِسْمَکَ. رزهٔ خو صِرف ستا نوم وانهٔ خلم) یعنی تا نه خفه کیدے نشم.

څنے خبرې داسے وی که بل څوک ئے اوکړی. نو بے ادبی بلکه دَ کفر وی. لیکن که ربښتونے عاشق ئے دَ محبت په جوش کښے اوکړی. نو معاف وی.۔ یعنی څنے خبرې په ظاهره دَ بی ادبئ ښکاری. خو په حقیقت کښ بے ادبی نهٔ وی ؎

(۱) کارِ پاکان را قیاس از خود مگیر    گرچه باشد در نوشتن شیر شیر

(۲) جمله عالم زین سبب گمراه شد    کم کسے ز ابدال حق آگاه شد

(۳) گفت اینک ما بشر ایشان بشر    ما و ایشان بستهٔ خوابیم خور

(۴) این ندانستند ایشان از عمی    درمیان فرقے بود بے انتها

(۵) احمد و بوجهل در بتخانه رفت    این شدن تا آن شدن فرقے است ژرف

(۱) پاک خلق دَ ځان په شان مهٔ گڼړه    اگرچه په ظاهره هغوئ او تا سو یو شان ښکاری

لکه په لیکلو کښې شِیَر (زمرے) او شِیْر (شودهٔ) یو شان لیکلے شي. خو په معنے کښې ئے ډیر فرق دے. دغه شان نیکان او عام خلق هم په شکل یو شان بنیادم ښکاري. خو حقیقت کښې یکښې ډیر فرق دے۔
(۲) ډیر خلق په دے وجه گمراه شو چه دَخدائے پاک ولیان ئے اونهٔ پیژندل.
(۳) وائي چه دوئ هم څنوبز په شان بندیان دي. موندږ غوندے خوري څکي۔
(۴) دوئ دَ جهالت په وجه په دے نهٔ پوهیږي چه په دواړو کښې بے انتهافرق دے۔
(۵) حضرت احمد مجتبیٰ صلی الله علیه وسلم هم بت خانے ته ننوتے وواو ابوجهل هم ننوتو. (یعنے بیت الله شریف چه هغه زمانه کښې یکښې بتان پراتهٔ وو.) لیکن دَ دواړو په ننوتو کښې ډیر فرق دے. (حضوؐر بتانو ماتولو دَ پاره ننوتے وو. دَ فتح مکے په موقعه او ابوجهل به دَ بتانو دَعبادت دَ پاره ورننوتو۔
خلاصه دا چه جمات ته ننوتو په وخت کښې دا خیال ساتل پکار دي. چه زهٔ دَرب العالمین په دربار کښې حاضریږم. او گورئ که دَ یو دُنیاوی معمولی حاکم دربار ته څوک ورځي. نو څومره په ادب او په ویره ویره ورځي. او هر وخت ئے زړه کښې دا خطره وي چه چرته دَ دربار دَ ادابو خلاف څهٔ حرکت رانه اونشي. نو دَ احکم الحاکمین په دربار کښې خو ډیر خیال ساتل پکار دي. دَ قلب حضور هم ضروري دے او دَ اندامونو خضوع او خشوع هم پکار ده. دا سے حالت پکار دے لکه دے شعر کښې چه بیان شوے دے.
یک چشم زدن غافل ازان شاه نباشی شاید که نگاهے کند آگاه نباشی
(دَ سترگو رپ قدر هم دَ هغه حقیقی بادشاه نه غافل کیدل نهٔ دي پکار. شاید چه هغه دربا ندے دَرحمت نظر اوکړي. او ته بے خبره ئے)
اول خو دا حالت په هر وخت کښې پکار دے. ځکه چه الله تعالیٰ یوا ځې جمات کښې نهٔ دے. هر ځائے کښې حاضر ناضر او مهربان دے. نو هیڅ وخت کښې غفلت نهٔ دے پکار که هر وخت دا حالت نهٔ وي. نو کم ازکم په جمات کښې او مانځه کښې خو حضور قلب ډیر ضروري دے. دا خیال مهٔ کوئ چه دا کیفیات دَ تیرو ولیا نو سره ختم شو.

اوس څوک دے درجے ته نشی رسیدے - ؎

**تو مگو مارا بدان شہ بار نیست**
**با کریمان کارہا دشوار نیست**

(ته دا خیال مه کوه چه زهٔ دَ هغې بادشاه په دربار کښې دَ حاضرئ قابل نهٔ یم - ځکه چه هغه رحیم کریم دے. هغهٔ ته هیڅ کار گران نهٔ دے)

او کورئ اصحاب کرامو به دَ جمات څومره ادب کولو. حضرت عُمر رضی الله عنه دوؤ کسانو ته چه په مسجد نبویؐ کښې ئې په زوره خبرے کولے - زور نه ورکړه - ورته ئې اووے. که تاسو مسافر نهٔ وے نو ما به سزا درکړې وه - آیا تاسو دَ رسول الله ؐ په جمات کښې په زوره خبرے کوئ ؟ -

دا خیال مهٔ کوئ چه دا حکم به په مسجد نبویؐ پورے خاص وی. ځکه چه جماتونه ټول دَ رسول الله (صلی الله علیه وسلم دی. لکه په یو حدیث کښې چه دی. فَلَا یَقْرِبَنَّ مَسَاجِدَنَا - (چا چه اوم پیاز او اوږه خوړلی وی. څوښ جماتونو ته دِ نهٔ راځی )

په دے کښې ئې دَ ټولو جماتونو نسبت ځان ته کړے دے -

البته دَ مسجد نبویؐ ادب دَ نورو نه زیات پکار دے - علاوه دَدے نه داهم ده - اِنَّ الْمَسَاجِدَ لِلّٰهِ - (جماتونه دَ الله دی۰) نو بیا خو ئې نور هُم زیات ادب پکار دے. دغه شان دَ هغه کسانو څوک چه په جمات کښې عبادت دَ پاره دیره وی. دیر قدر عزت پکار دے - او داسے کار کول نهٔ دی پکار چه هغوئ ته په تکلیف رسی -

ذاکرانو ته هم پکار دی - که بل څوک مونځ کوی. نو دے وخت کښې دِ په زوره ذکر نهٔ کوی. چه دَ هغهٔ په مانځه کښې به خلل راشی او تکلیف به ورته اورسی -

په جُمات کښې هیڅ ته هیڅ قسم تکلیف رسول بنه نهٔ دی. ځکه چه جماتونه دَ ارشاد نبوی ؐ مطابق رِیَاضُ الْجَنَّۃِ (دَجنت باغونه دی) او په جنت کښې هیڅ قسم تکلیف نهٔ وی.

۵

بهشت آنجا که آزارے نباشد
کسے را با کسے کارے نباشد

(هغه ځائے جنت دے چرته چه هیڅ قسم تکلیف نهٔ وی. هیڅوک په هیچا څهٔ غرض نهٔ لري.)

اوس دُعا اوکړئ. چه الله تعالیٰ مونږ ټولو ته دَ جمات او اهلِ جمات ادب کولو توفیق راکړی.

آمین

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ
خَلْقِهٖ مُحَمَّدٍ وَّ اٰلِهٖ
وَ اَصْحَابِهٖ
اَجْمَعِيْنَ ط



بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

دعواتِ عبدیت اول جلد

(دویم وعظ)

# مُھِمّاتِ الدُّعاءِ (حصہ اول)

(د دعا اهمیّت ۍ اوله برخه)

له ارشاداتو د حکیم الاُمّت

حضرت مولانا اشرف علی تھانوی رحمۃ اللہ علیہ

پښتو ترجمه:- له سیّد تسنیمُ الحق کاکاخیل -

ناشران:- یونیورسٹی بک ایجنسی

خیبر بازار

پشاور شهر -

Scanned with CamScanner

# خلاصه

الله تعالیٰ په قرانِ کریم کښې فرمائی - وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِيٓ أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ ۝ ستاسو پروردګار فرمائی - ما نه غواړئ - زۀ ستاسو سوال قبلوم - او خوک چه زما د عبادت نه انکار کوی.

هغه زر به ډیر ذلت سره دوزخ ته ننوځی -

یعنی الله تعالیٰ فرمائی دعا غواړئ زۀ ستاسو دعا قبلوم - او س د دعا د قبلیدو دپاره څۀ شرائط دی. ؟ او د دعا غوښتو صحیح طریقه څۀ ده ؟ چه قبلیدل ئے یقینی شی. او د دعا قبلیدو صحیح مطلب څۀ دے؟ دا ټولے خبرے پدے وعظ کښې پوره تفصیل سره بیان شوی دی. چه د دعا اهمیت ترے پوره واضح شوے دے -

دا وعظ حضرت مولانا تهانوی د تهانه بهون په جامع مسجد کښې - یعنی خپله خانقاه کښې زیرِ تربیت عالمانو سالکانو ته د صفرے د میاشتے په دویم تاریخ ۱۳۳۹ھ په دوه ګهنټے کښې د ضعف په وجه په ممبر په ناستی کړے - او مولوی نورحسین قلمبند کړے دے -

تسنیم الحق

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِیْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَیْهِ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَیِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ یَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ یُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِیَ لَهٗ وَنَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ وَنَشْهَدُ اَنَّ سَیِّدَنَا مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ صَلَّى اللّٰهُ عَلَیْهِ وَعَلٰی اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَبَارَكَ وَسَلَّمَ۔

اما بعد. فاعوذ باللّٰه من الشیطٰن الرجیم بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم قال اللّٰه تبارک وتعالیٰ. وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِیْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ اِنَّ الَّذِیْنَ یَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِیْ سَیَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دَاخِرِیْنَ

(او ستاسو پروردګار فرمائی. ما نه غواړئ. زهٔ ستاسو سوال قبلوم. او څوک چه زما دعبادت نه انکار کوی. ډیر زر به ذلیله دوزخ ته ننوځی۔)

ددے آیت مبارک دمضمون نه به تاسو پوهه شوی ئی. چه دنن وعظ مقصود ددعا په باره کښے خبرے دی. شاید چه ستاسو دا خیال وی. چه دعا خو مونږ غواړو. او ضرورت ئے هم راته معلوم دے. نو بیا د تنبیه فائده څهٔ ده. ځکه چه تنبیه خو په هغه کار ورکولے شی. چه څوک ئے ضروری نهٔ ګنړی یا ئے نهٔ کوی۔

نو ضرورت ئے ځکه دے. چه سړے د ضروری ګنړلو او سره د پوهے هم چه په دعا کښے غفلت کیږی. او د ضروری آدابو او شرائطو خیال ئے نشی ساتلے. نو دے نه معلومیږی چه پردے کښے د ناپوهئ نه هم څه ډیر مضبوط حجاب دے. په نامعلومو څیزونو کښے صرف د ناپوهئ حجاب وی. نو لرے کول ئے اسان وی. او د معلوم کار سره چه داسے معامله کیږی. نو هغه حجاب ډیر سخت وی. په اسانه نهٔ لرے کیږی۔

اګرچه غفلت او د زړهٔ د حضور نشت په ټولو عبادتونو کښې بد دے. لیکن په دُعا کښې ډیر بد دے. ځکه چه اصل مقصد خو په ټولو عبادتونو کښې د هغے معنیٰ ده. لیکن په یو درجه کښې ئې ظاهری شکل هم مطلوب دے. مګر دُعا کښې صِرف معنیٰ ده. او هغه عاجزی او انکساری د زړهٔ خشوع او الله تعالیٰ ته زاری ده. چه دا پکښې نۀ وی نو هغه دُعا په څۀ شوه؟

د دے تفصیل دا دے. چه مثلاً مونځ دے. نو اصل مقصود خو پکښې توجه اِلی الله ده. لیکن ظاهري شکل یعنے رکوع سجده هم پکښې څۀ قدرے مطلوب دی. د ظاهري شرطونو نه ئې معلومیږی. چه اودس کول. قبلے ته مخ کول. د رکعتونو شمار. رکوع سجدهٔ هم مطلوب دی. نو که یو سړی حضورِ قلب نۀ بغیر مونځ اوکړو. رکوع سجده په شمار رکعتونه ئې د نور شرطونو سره پوره پوره اوکړل. نو دا فتویٰ به ورکولے شی چه د فرضونه ئې غاړه خلاصه شوه۔

د دے نه معلومه شوه چه د مانځه صرف ظاهری شکل هم مطلوب دے. د دے تحقیق او د مانځه صحیح کیدو د فتوے نه د بے دینه خلقو دا شبهه هم ختمه شوه. چه وائی. د زړهٔ حضور مونشته. نو هسے تیټ پاس کیدو کښې څۀ خیر دے. د داسے مونځ نه څۀ فائده؟

دا معلومه شوه چه علاوه د مانځهٔ د حقیقت نه رچه توجّه الی الله دے - د مانځه ظاهری شکل هم مطلوب دے۔

(۲) بل نظیر ئې روژه ده. د روژے اصل مقصود قوتِ بهیمی کمزورے کول دی. خو سره د دے که یو سړے پیشمنی کښے دومره خوراک اوکړی چه تر ماښامه هډو اُوږے نشی. نو د هغهٔ قوتِ بهیمی نۀ کمزورے کیږی. لیکن د روژے ظاهری (یعنی د ورځے خوراک څکاک نۀ کول) پوره شو. روژه ئې صحیح شوه. او د فرضونه ئې غاړه خلاصه شوه۔

(۳) دریم نظیر ئې زکوٰة دے. چه اصل مقصود ئې د مسکینانو حاجت

پوره کول دی. لیکن بیا هم الله تعالیٰ ورته یو خاص وخت او یو خاص انداز مقرر کړے دے. دَدے نه معلومیږی چه ظاهری شکل ئے هم په یو درجه کښے مطلوب دے. ورنه دَ مسکینانو حاجت پوره کول خو په دے شرطونو موقوف نهٔ دی.

لیکن دُعا دَپاره نهٔ څهٔ خاص وخت مقرر دے. او نهٔ ئے څهٔ شرطونه شته (دَخاصو الفاظو یا خاص جهت یا خاص مقدار یا او دس وغیره) په دے کښے خو صِرف انکسار دے او زاری ده. او خپل مالک ته خپله عاجزی او بے وسی او احتیاج څرګندول دی. او بس دا کافی ده. نور شرطونه پکښے نشته. دُعا په هره ژبه کښے په هر وخت او په هر حالت کښے کیدے شی.

دے نه معلوم شوه. چه دَ دعا خاص ظاهری شکل نشته. صِرف معنیٰ معنیٰ ده. نو اوس که څوک تش په ژبه لکه دَ طوطی په شان یا دکړی الفاظ تیروی. چه نهٔ پکښے خشوع وی نهٔ خشیت. نهٔ په زړهٔ کښے دَ خپلے عاجزیٔ بے وسیٔ او کمزوریٔ تصوّر وی. نو دا څنګه دُعا شوه.

دَدے بے توجهیٔ مثال خو داسے دے لکه یو سړے چا حاکم ته دَ څهٔ کار دَپاره درخواست پیش کوی. حاکم ته مخامخ اُودریږی. خو مخ بل خوا واړوی. دَ چا دوست سره خبرے کوی. او دَ خبرو ترمینځه حاکم ته درخواست اوروِل شروع کړی دوه ځلور جُملے اووائی بیا خپل اشنا سره په خبرو شی. نو تاسو خپله سوچ اوکړئ آیا حاکم به ئے دَدے درخواست څهٔ قدر اوکړی؟ او دَ منظوریدو څهٔ طمعه به ئے وی؟ بلکه دا خطره ده چه سزا ورکړے شی.

هم دغه شان حال دَ دعا دے. چه دَ زړهٔ حضور عاجزی او انکساری ورسره نهٔ وی هغه به دُعا نهٔ ده شمار. او دَ قبلیدو ئے هیڅ طمعه نشته. ځکه چه الله تعالیٰ خو زړونو ته ګوری. الفاظو ته نهٔ ګوری.

ما برون را ننگریم و قال را ما درون را بنگریم وحال را

ناظر قلبیم گر خاشع بود    گرچه گفت لفظ ناخاشع بود

(مونږ ظاهر ته نه گورو. نه الفاظو ته گورو. مونږ خو زړه ته گورو او د زړه حال ته گورو. مونږ خو زړه ته گورو چه عاجزي او زاري پکښې وي. اګرچه په خوله ئې الفاظ د عاجزئ نه وي.)

یو حدیث شریف دے. اِنَّ اللّٰهَ لَا يَنْظُرُ اِلٰى صُوَرِكُمْ وَلٰكِنْ يَّنْظُرُ اِلٰى قُلُوْبِكُمْ (الله تعالیٰ ستاسو شکلونو ته نه گوری. هغه ستاسو زړونو ته گوری) چه اخلاص پکښې شته که نه. او په آیت اِنِّیْ وَجَّهْتُ وَجْهِیَ لِلّٰهِ کښې هم د وَجْهِ نه مُراد وَجْهِ قَلْبْ دے. یعنی د زړه توجه. ظاهري وَجْهَه یعنی مخ ترے نه دے مُراد. ځکه چه دا دے نه بیا لازمیږی چه الله تعالیٰ لره دِ یو خاص جهت وی. ځکه چه معنیٰ ئې داده. ما خپل مخ الله طرف ته کړو. او ظاهره ده چه د مخ په یو خاص طرف کړے وی. نو آیا د الله تعالیٰ ذاتِ پاک هم دے طرف ته دے؟ دا خو شرعًا او عقلًا محال ده. الله تعالیٰ د جهاتو د قید نه پاک دے. دا آیت پاک اَيْنَمَا تُوَلُّوْا فَثَمَّ وَجْهُ اللّٰهِ. (کوم طرف ته چه تاسو مخ کوئ. اخوا د الله تعالیٰ مخ دے) دا دے دلیل دے. چه الله تعالیٰ لره خاص جهت نشته.

او د جهت د نفی نه دِ څوک دا خیال نه کوی. چه ذاتِ باری هیڅ قسم تشخص او تعین نه لری. (لکه څنګه چه ځنو خلقو خیال دے) ځکه چه بے تشخصه او بے تعینه خو د څه څیز وجود خارجي محال دے. ذاتِ باری لره تشخص او تعین شته خو د هغه د شان لائق. مونږ د هغے حقیقت ادراک نشو کولے.

[ او که څوک دا شک اوکړی چه څنګه د وجهے د پاره جهت ضروری دے. نو دغه شان خو د قلبی توجه د پاره هم جهت پکار دے. نو بیا هم هغه خبره شوه]

دا دے جواب دا دے. چه د قلب نه مراد د غوښے ټکړه نه ده. بلکه قلب یو غیبی لطیفه ده. د مجرداتو نه ده. اګرچه د متکلمینو په دے کښې اختلاف دے. چه د مجرداتو وجود شته که نه. لیکن د صوفیانو محققینو د کشف په ذریعه معلومه کړې

دہ. چہ ځنې ځیزونہ خو مجرد دی. خو حادث دی- ذاتاً هم او زماناً هم. او دغه فرق دے پہ صوفیانو او فلسفیانو کښې. فلسفیان مجردات صرف ذاتاً حادث منی. او زماناً ئې قدیم منی. دَ متکلمینو سرہ دَ مجرداتو پہ نفی هر کلہ چہ زماناً حادث او منلے شی خو پوخ دلیل نشته- او دا خبرہ چہ دَ قلب نہ مُراد غیبی لطیفه ده. چہ دَ مادّے نہ مجردہ دہ. دَ غوښے ټکړہ تر مراد نۀ دہ. کوم چہ جهت غواړی. دَ کشف نہ علاوہ دَ یو عامے محاورے پہ ذریعہ هم واضح کیدے شی. لکه موږ وایو. زۀ دلته ناست یم خو زړۀ مې پہ بازار کښې دے. ظاهرہ دہ چہ دَ غوښے زړۀ ئې دلته پہ جسم کښې موجود دے. بازار کښې نۀ دے. (دَدے څخه زمونږ مطلب دَ محاورے نہ پہ علمی حقیقت استدلال کول نشته دی- بلکه صرف وضاحت مو غرض دے.)

[نوټ:- دا آخری پیرہ گراف " کہ خوک دا شک اوکړی نہ تر دے پورے" یو ډیرہ باریکہ مسئله دہ چہ دَ اصطلاحی الفاظو ترجمہ ئې پښتو کښې ممکنہ نۀ دہ. کہ خوک پورہ عالم نۀ وی. پوهه پہ نشی. نو ډیر ځان دِ پہ نۀ کړوی. دا ټوټہ دِ پریدی او مخکښې نورہ مضمون دِ پورہ کړی- شکریہ - مترجم.]

غرض دا چہ دا پورہ ثابته شوہ چہ دعا کښې اصل مقصود خشوع او حضورِ قلب دے. او کہ بے دَدے نہ چہ دعا قبوله شوہ- نو پہ دے دِ پوهه شی. چہ دا ورباندے دَ الله تعالیٰ خاص احسان دے. دَ دُعا اثر نۀ دے.

دا خو تمهید وو دَ دعا دَ مضمون. اوس دَ تلاوت شوی آیت تفسیر واورئ. الله تعالیٰ پہ دے آیتونو کښې دَ دعا مضمون پہ ډیر اهتمام سرہ بیان کړے دے. لکه شروع کښې تصریح فرمائی. وَقَالَ رَبُّكُمُ- (ستاسو رب فرمائی) حالانکہ دا دَ مخکښې نہ معلومہ دہ- چہ قرآن شریف دَ الله تعالیٰ کلام دے. بیا هم دے دَ پارہ ظاهر کړے شو چہ پہ زړۀ پوخ اثر اوکړی. او ورپسے خبرہ پہ زړۀ ننوځی. دَ رَبُّكُمُ لفظ سرہ اظهار کښې دعا قبلوو ته اشارہ دہ. چہ زۀ ستاسو رب یم. همیشه راسے ستاسو پرورش کوم. بغیر دَ ستاسو دَ خواستونہ هم

نو اوس چې تاسو په زارو خواست کوئ. نو ضرور به ئې قبلوم. يو عارف ويلي دي.

مانه بوديم و تقاضائے مانبود        لُطفِ تو ناگفتهٔ ما مے شنود

(مونږ نۀ وو نۀ څمونږ تقاضا وه. ستا لطف وکرم بې وينا څمونږ خبره واوريدۀ.)

په آيت اِذْ اَنْشَاَكُمْ مِّنَ الْاَرْضِ وَاِذْ اَجِنَّةٌ فِيْ بُطُوْنِ اُمَّهٰتِكُمْ.

(او کله چې ئې تاسو دَ زمکې نه پيدا کړئ. او کله چه تاسو دَ ميندو په خيټو کښې بچي وئ.) کښې هم دَ دې بې خواسته تربيت ذکر شوے دے. بيا دَ پيدائش نه پس دَ بچي په حالت غور اوکړئ چه څومره کمزورے وی. هيڅ قسم طاقت او عقل پوهه پکښې نۀ وی. په دې وخت کښې که دَ ټولې دنيا هوښياران راجمع شی. صرف په دې خبره سوچ کوی. چه دا ماشوم به دَ پيو څکلو چل څنګه زده کړی. نو ترقيامته به ئې ورته اونۀ ښيلې شی. (ځکه چه دې وخت کښې هغۀ کښې دَ زده کړې طاقت نشته. نۀ په خبرو پوهيږی.) دا دَ هغې قادرِ ذوالجلال حکمت رحمت او عنايت دے. چه ماشوم بې ښيئې دَ پيو څکلو چل زده کړی. فلسفيان به وائی. چه دا خو دَ طبيعت کار دے. ليکن هغوئ خپله منی چه طبيعت کښې عقل او شعور نشته. نو بې عقله څيز ته دا سې دَ عقل کار منسوب کول بې عقلی نۀ ده. نو څۀ دی ؟

دريم اهتمام دَ رَبُّكُمْ په دې اضافت کښې داد دے. چه گويا فرمائی. زۀ ستاسو پالونکې يم. نو هم ماند غواړئ. زۀ به ئې درکوم. دَ دې نظير په بل آيت کښې دا اضافت دے. الله تعالیٰ فرمائی. وَلَوْ يُؤَاخِذُ اللهُ النَّاسَ بِمَا كَسَبُوْا مَا تَرَكَ عَلٰى ظَهْرِهَا مِنْ دَابَّةٍ وَّلٰكِنْ يُّؤَخِّرُهُمْ اِلٰٓى اَجَلٍ مُّسَمًّى فَاِذَا جَآءَ اَجَلُهُمْ فَاِنَّ اللهَ كَانَ بِعِبَادِهٖ بَصِيْرًا ٥ (که الله خلق دَ دوئ په عملونو نيولې. نو دَ زمکې په مخ به ئې يو ژوندې شې نۀ وو پريښې. ليکن هغۀ ئې تر يوې مقررې نيټې روستو کوی. بيا کله چه دا نيټه. يعنی دَ قيامت ورځ راشی. نو الله ته دَ خپلو بندیا نو حال ښۀ معلوم دے. يعنی هر يو ته به دَ خپل عمل پوره پوره بدله ورکړی.)

دا د گنهګارو بندیانو ذکر دے. لیکن هغوئ ته ئے هم خپل بندیان اووے ګڼان ته ئے منسوب کړل. سُبْحَانَ اللهِ ط. دا څومره لوئ رحمت دے. چه ګنهګار او نافرمانه بنده ته هم خپل بنده وائي.

دَدے آیت په تفسیر کښے یوه خاصه نکته دَغور قابله داده. چه دَ بندیانو دَګرفت په سبب به دَ ځمکے په سر ټول ژندۍ سروله تباه کیږي ؟ دا ځکه چه دَدُنیا دا ټول ځیزونه دَ بنیادم دَ فائدے دَپاره پیدا شوي دي. لکه چه ارشاد دے. هُوَ الَّذِیْ خَلَقَ لَکُمْ مَّا فِی الْاَرْضِ جَمِیْعًا ط الله هغه ذات دے چه ستاسو دَ فائدے دَپاره ئے پیدا کړل څه چه په دے زمکه کښے دي ټول) یعنی په دے دُنیا کښے موجود ټول ځیزونه دَ انسان دَ فائدے دَپاره پیدا شوي دي. څه بالواسطه. او څه بلا واسطه. نو چه انسان دَ ګناهونو په وجه هلاک شي. بیا به دَدے ځیزونو ضرورت هم پاتے نه شي. کاروان چه دَ یو ځائے نه روان شي. نو خیمے پورته کړي او ټوله کڅ راغونډه کړي. ډیره ورانه شي.

البته یو شبهه پاتے شوه. چه ګنهګار که دَګناهونو په وجه هلاکیږي. نو نیکان به ورسره ولے هلاکیږي. دَهغوئ خو څۀ قصور نشته.

دَدے جواب داد ے. چه نیکان به دُنیا کښے ډیر کم دي. او دَ تمدُن ضرورتونه ډیر زیات او قسم قسم دي. که لږ کسان په دُنیا کښے پاتے شي. نو هغوئ ته به خپل ضرورتونه پوره کول او په آرام ژوند تیرول ډیر ګران شي. په داسے وخت کښے به دانوسره نیکان ختمول عین رحمت. حکمت او مصلحت دے.

دَټولونه غټه خبره داده. چه دَ دعا دَدے آیت په آخر کښے دُعا نه غوښتونکو ته زورنه ورکړي شوي ده. ارشاد دے. اِنَّ الَّذِیْنَ یَسْتَکْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِیْ سَیَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دَاخِرِیْنَ ۝ د بیشکه څوک چه زما دَعبادت نه لوئ کوي. (یعنی انکار کوي) ډیر زر به ذلیله دوزخ ته واچولے شي.)

دلته یو علمي فائده بیانول ضروري دي. چه دا ثابته شي چه دلته ذوي نه

په دُعا نۀ کولو خفګان ده. دَ آیت په شروع کښې لفظ دَ دعا دے. او دَ زور نے په جمله کښې لفظ دَ عبادت دے. په دواړو کښې مطابقت ضروری دے. نو یا خو دُعا دَ عبادت په معنیٰ اخستل غواړی. یا عبادت دَ دُعا په معنیٰ فِی نَفْسِه دواړه احتماله برابر دی. نو د لته به یوه معنیٰ متعین کولو دَ پاره دَ حدیث شریف نه مدد واخلو حضور فرمائیلی دی. اَلدُّعَاءُ مُخُّ الْعِبَادَةِ. (دُعا دَ عبادت مغز دے) او دَ دے په دلیل کښے ئے بیا هم دغه دَ دعا آیت تلاوت کړو. دے نه معلومه شوه. چه دَ آیت په آخری جمله کښے عبادت دَ دُعا په معنیٰ دے. دَ قرآن مجید په مطلب دَ رسول الله صلی الله علیه و سلم نه زیات څوک پوهیدے شی. دَ دے دوه اهتمام نه ثابته شوه چه دَ دعا درجه او شان ډیر اُوچت دے.

یو بل خاصیت په دعا کښے دَ نورو عبادتونو نه زیات دادے. چه نورو عبادتونو کښے که دَ دُنیا نیت وی. نو عبادت نۀ پاتے کیږی. ثواب ئے نۀ وی. دعا یو داسے عبادت دے چه که دَ دُنیا دَ پاره وی. یعنی که الله تعالیٰ نه دَ دنیا په څۀ کار کښے دَ کامیابۍ سوال کوی. هم ئے ثواب کیږی. په نورو عبادتونو کښے که دَ څۀ دُنیاوی فائدے غرض وی. نو ثواب ئے نۀ کیږی ———— لکه امام غزالیؒ لیکلی دی. که یو سړی باندے څۀ بیمارۍ کښے حکیم خوراک بند کړو. چه نن به هیڅ شے نۀ خورے. هغهٔ زړهٔ کښے اووے. چه خوراک خو دَ باندے هسے هم بند دے. راشه دَ روژے نیت اوکړه چه ثواب خو دِ اوشی. نو هغهٔ ته به دَ خالصے روژے هوره (یعنی څوک چه خوراک کولے شی. او دَ روژے دَ پاره ئے په ځان بند کړی) ثواب نشی ورکولے. لیکن په دُعا کښے دا خبره نشته. جائز دنیاوی حاجت که دَ الله نه غواړے. بیا هم پوره ثواب لری. ځکه چه دَ دعا اصل مقصد عاجزی انکساری او دَ خپلے کمزورۍ او حاجتمندۍ اظهار دے. او دا دَ دُنیاوی څیز غوښتو وخت کښے هم وی. (نو ځکه ئے ثواب پوره کیږی) عاجزی او زاری خپله یو مستقل عبادت او مقصود و محبوب دے. ځکه چه عاجزۍ سره کبر ختمیږی. او کبر ډیر مبغوض شے دے. او الله ته قُرب کښے غټ خنډ دے. لکه حدیث

قدسی کښې ارشاد دے. الله تعالیٰ فرمائی اَلْکِبْرِیَاءُ رِدَاءِی وَالْعَظْمَةُ اِزَارِی.
دکبر او لوئی ځما جامه ده) یعني دا دواړه ځما خاص صفتونه دي. بل چاته
دَدے دعوه نهٔ ده پکار-
دَ حضرت بایزید بسطامیؒ نه روایت دے. چه یو ځل ئے په خوب کښې دَ
الله تعالیٰ په دربار کښې عرض اوکړو. رَبِّ دُلَّنِی عَلیٰ اَقْرَبِ طُرُقٍ اِلَیْکَ
(یا الله ما تر ستا دَ قرب حاصلولو لنډه لار اوښیه) جواب کښې ورته ارشاد
اوشو. دَعْ نَفْسَکَ وَ تَعَالَ (خپل نفس پریږده او بس راځه) یعني ځما او ستا
ترمینځه صِرف نفس حائل دے. نفس خوشحالول پریږده. بس ما ته به راورسې.
حافظ شیرازیؒ دا مضمون په یو شعر کښې ډیر ښهٔ راوستے دے. وائی ؎

میان عاشق ومعشوق هیچ حائل نیست  تو خود حجاب خودی حافظ از میاں برخیز
تو درو گم شو وصال این است بس  گم شدن گم کن کمال اینست بس

(۱) دَ محبوبِ حقیقی او عاشق. یعني الله او بنده ترمینځه هیڅ حائل نشته -
اے حافظه ته خپله دَخپل ځان حجاب ئے. ته خپل نفس دَ مینځه اوباسه
یعني ځان فنا کړه بس واصل به شے. بل څه حائل ترمینځه نشته -
(۲) ته خپل ځان په ذاتِ حق کښې فنا کړه بس دغه وصال دے. او دا فنا کیدل
هم هیر کړه. داغه کمال دے -
یعني خپل نفس داسے ورک کړه. چه په دے ورکیدو دِ هُم نظر نه شي.
دا احساس هُم درته نهٔ وي چه ځما نفس ورک شو. خو دَ الله دَ رضا دَ پاره م ورک کړے
دے. دے ته دَ سلوک په اصطلاح کښې فناء الفنا ویلے شي. او دا هسے شاعرانه خیال
نهٔ دے. دَدے نظائر په روزانه ژوند کښې موجود دي-
دَدے مسئلے وضاحت په دے مثال سره ښهٔ کیدے شي. لکه یو سړے په چا
مین وي. دَخپل محبوب په تصور کښې ډوب ناست وي. په تصور کښې ورسره
خبرے او سوال جواب کوي. هغه وخت کښې دَ هغهٔ په ذهن کښې دا نهٔ راځي. چه زهٔ

په تصور او خیال کښې یم. بلکه دا سې خوند ورکوی. لکه محبوب چه وتې مخامخ ناست وی. یا لکه یو سړے اُوده وی په خوب کښې خه واقعات وینی. نو په هغه وخت کښې هغه ته دے نه ښه وی خبر چه دا زه خوب وینم. که خبر وی نو بیا خو اُوده نشو ویلې دے۔

او دا خیال دِ څوک نهٔ کوی. چه دَ فناء الفنا غوندے اُوچته مرتبه مونږ کله حاصلولے شو. ځکه چه دَ الله تعالیٰ فضل ډیر لوئ دے. هغهٔ ته هیڅ کار گران نهٔ دے۔ او دَ الله تعالیٰ فضل جاری دے. بند شوے نهٔ دے ۔ ؎

تو مگو مارا بدان شه بار نیست    با کریمان کارها دشوار نیست

(ته دا مه وایه چه زهٔ دَ هغې حقیقی بادشاه دربار ته رسیدے نشم. ځکه چه هغه کریم دے مهربانه دے. او کریم ته هیڅ کار گران نهٔ دے۔ هغه دربار ته دَ حاضرئ طاقت درکولے شی۔)

البته دَ دے نعمت حاصلولو دَ پاره دَ شیخ صحبت ضروری دے. او صحبت دا سے شے دے. چه او گوره دَ چرگے اگئ کښې تشې زیړے او سپینے او بل وی۔ یو بے ساه شے. خو چه څو ورځے دَ چرگے دَ سینے لاندے تیرے کړی جاندار شے ترے جوړ شی۔ بچے پکښې پیدا شی۔

او دا شک مهٔ کوه چه صحبت کښې خو برکت یقینی دے. لیکن اوس هغه کاملان پیران چرته دی؟ دَ چا صحبت چه به خلق رنګول. په دے بنهٔ پوهه شه چه دَ الله نیک بندیان اوس هم شته. دُنیا دَ نیکانو نه خالی نهٔ ده. خو طلب او تلاش پکار دے۔ ؎

هنوز آن ابرِ رحمت دُر فشان است    خُم و خُمخانه با مهر و نشان است

(اوس هم هغه دَ رحمت وریځ مرغلرے وروی. دَ حقیقت دَ شرابو مټے او شرابخانه خپل مُهر او نشان سره موجود دی۔) دَ ذرهٔ دَا خلاصه دَ طلب میدان ته ورګډ شئ او پوره کوشش شروع کړئ. کامیابی به حاصله کړئ. په تشه تمنا

او خالی آرزوګانو کار نهٔ کیږی -

سه

ګرچه رخنه نیست درعالم پدید خیره یوسف وار مے باید دوید

(اګرچه دُنیا نه دَ وتو لار څرګنده نشته - بیا هم دَ یوسف غوندے دَ منډے کوشش پکار دے - الله تعالیٰ به درته لار راوباسی -)

دَیوسف علیه السلام په خپل مولیٰ باور وو - زلیخا ور پسے دروازے بندے کړی وے - چرندے ورته وهلی وی - خوچه یوسف ځان بچ کولو دَپاره منډه اووهله نو الله تعالیٰ ورته دروازے پرانستے - چرندے لرے شوے - چه په رښتیا دَ زړهٔ په اخلاص طلب او کوشش وی - نو الله تعالیٰ ئے مقصود ته رسوی -

خلاصه دا چه دَ دُعا غرض عاجزی او انکساری ده - او دُعا دَهر کار دَپاره چه وی - دینی وی - که دُنیاوی وی (خو چه جائز کار وی - ناجائز نهٔ وی) عبادت دے - او ثواب په ورکولے شی -

سوال دَ ورو کی څیز وی که دَ غټ - صرف دَ الله نه پکار دے - حدیث شریف کښے خو تر دے راغلی دی - که دَ چا دَ خپلے تسمه او شلیږی - هغه دِ هم دَ الله تعالیٰ نه غواړی -

یو بزرګ ژړل - چا ورته اووے ولے ژاړے - وے چه اُوږے یم - هغهٔ ورته اووے - ورو کے خو نه ئے چه دَ لوږے نه ژاړے - هغهٔ ورته اووے - چه دَ مولیٰ رضا داده چه زهٔ دَ لوږے نه اوژاړم - نو زهٔ ولے ځان بهادر بهادر کړم - سه

ګر طمع خواهد زمن سُلطانِ دین خاک بر فرقِ قناعت بعد ازین

(که دَ دین بادشاه (الله) ځما نه طمع غواړی - نو زهٔ دے نه پس دَ قناعت په سر خاورے اچوم -)

سه

نالم این نالها خوش آیدش از دو عالم ناله و غم بایدش

(زهٔ ځکه فریاد کوم چه هغه ځما په فریاد خوشالیږی - دَ دواړو جهانو نه فریاد و غم غواړی) یعنی الله تعالیٰ دَ خپلو بندګانو نه عاجزی او انکساری غواړی -

آهلِ لطائفو لیکلی دی. چه کله حضرت ایوب علیه السّلام ته معلومه شوه
چه دَ الله رضا داده چه زهٔ دَ مرض نه فریاد اوکړم. نو بیائے عرض اوکړو.
رَبِّ اِنِّیْ مَسَّنِیَ الضُّرُّ وَاَنْتَ اَرْحَمُ الرّٰحِمِیْنَ ○ (اے خُما ربه ما ته خو
ډیر زیات تکلیف اورسیدو. او ته ډیر رحم کوونکے او مهربانه ئے.) نو دَ هغهٔ
دا فریاد دَ بے صبرئ په وجه نهٔ وو. که بے صبره وے. نو الله تعالیٰ به ئے داسے
تعریف نهٔ کولو. اِنَّا وَجَدْنٰهُ صَابِرًا نِعْمَ الْعَبْدُ اِنَّهٗ اَوَّابٌ ○ (مونږ
هغه صابر اوموندو. ښهٔ بنده دے. ډیر رجوع کوونکے دے) سه

در نیابد حالِ پخته هیچ خام
پس سخن کوتاه باید وَالسَّلام

(هیڅ یو ناقص سړے دَ کامل حال نشی معلومولے. خبره
مختصره پکار ده بس وَالسَّلام.)

غرض دا چه دَ کاملانو نظر دَ الله په رضا وی. خپله ظاهری یا باطنی
خُما مزه ئے مقصود نهٔ وی. په څه چه الله راضی کیږی. هم هغه کوی.

(۱) گفت معشوقے بعاشق اے فتا — تو بہ غربت دیدهٔ بس شهرها
(۲) پس کدامی شهر زانها خوشتر است — گفت آن شهرے که در وے دلبر است
(۳) هر کجا یوسف رُخے باشد چو ماه — جنت است او گرچه باشد قعرِ چاه
(۴) با تو دوزخ جنت است اے جانفزا — بے تو جنت دوزخ است اے دلربا

(۱) یوے معشوقے خپل عاشق ته اووے. اے ځوانه تا خو په سفر کښے ډیر ښارونه کتلی دی.
(۲) دا راته اووایه. چه په دے ټولو کښے دِ کوم ښار ډیر خوښ شوے دے. هغهٔ
اووے. هغه ښار رم ډیر خوښ دے. کوم کښے چه خُما محبوب اوسی.
(۳) کوم ځائے چه دَ یوسف په شان لکه دَ سپوږمئ روښانه مخ وی. هغه
ځائے جنت دے اگر چه دَ کوهی ویخ وی.
(۴) اے محبوبه چه ته راسره ئے. نو دوزخ هم جنت دے. بے تا جنت هم دوزخ دے.

دَ عاشقانو شان بیل وی. حضرت حافظ ضامن شهید رحمة الله علیه به فرمائیل. مونږ خو ذکر ځکه کوو. چه دَ الله حکم دے. فَاذْكُرُونِىٓ اَذْكُرْكُمْ. (تاسو ما یادوئ. زهٔ به تاسو یاد کړم.) یعنی دَ هغوئ نظر دَ ذکر په کیفیاتو او احوالو نهٔ وی. صِرف دَ حکم تعمیل کوی.

اوګورئ دَ پوهه کسانو خو دا حال دے. چه دَ خدائے په ذکر کښے په باطنی احوالو او کیفیاتو نظر نهٔ لری. او افسوس دے چه نن صبا ډیر خلق وظیفے دُنیا حاصلولو دَ پاره کوی. او ځنے خو پکښے دَ دستِ غیب په تلاش کښے وی. دَ الله دَ رضا خیال ئے هم نهٔ وی. حالانکه دا کار جائز هم نهٔ دے، دَ دست غیب په ذریعه چه ورته څهٔ حاصلیږی. دا ټول حرام دی. پیریان ورته پردی مالونه راپیټوی. او که څهٔ شے ورته خپل راوړی هم په مجبورئ ئے راوړی. په ښهٔ زړهٔ ئے نهٔ راوړی دغه شان حال دَ بندیانو دَ زړونو دَ تسخیر هم دے. دَ تسخیر په طاقت چه کوم عامِل مال حاصلوی. هغه هم حرام دے. ځکه چه هغوئ په ښهٔ زړهٔ نهٔ ورکوی په مجبورئ ئے ورکوی. او بے دَ ښهٔ زړهٔ نه دَ مسلمان مال اخستل حرام دی.

—— دَ تسخیر عملیات اکثر په ناجائزو طریقو کیږی. او که ځنے عملیات جائز هم وی. بیا هم دَ دنیاوی کار دَ پاره دَ الله نوم استعمالول بے قدری او بے ادبی ده۔

او په احادیثو کښے چه دَ سورتِ واقعه لوستل راغلی دی. نو هغه دے دَ پاره دی. چه دا مال دَ دین په کار کښے او لګولے شی. نو بیا هم دَ دین کار شو۔

ارمان دے. که دے خلقو دَ عملیاتو په ځائے دُعا غوښتے. نو مطلب به ئے هم کیدو او ثواب هم. او که مطلب ئے نهٔ وے شوے. بیا هم دَ دُعا ثواب خو ئے چرته نهٔ تلو۔

دَ دے نه علاوه په عملیاتو کښے بل خرابے دا دے چه دعا سره خو

عاجزی او انکساری پیدا کیږی. لیکن عملیاتو سره کبر اولوئ داځی. عامل په دعوه سره وائی. چه دا کار ما داسے اوکړو. او هغه کار ما داسے اوکړو.

حضرت مولانا فضل الرحمٰن گنج مراد آبادیؒ به فرمائیل. که صاحبِ نسبت بزرګ عملیات شروع کړی. نو نسبتِ سلب کیږی. ځکه چه دَ عامل په خپلو عملیاتو نظر وی. په خدائے ئے توکل نۀ وی. او دا شے کبر پیدا کوی. او کبر دَ الله په نزدې مبغوض خوئی دے. کبر سره نسبت مع الله نشی کیدے.

دَ دعا دَ مهتم بالشان کیدو متعلق ضروری خبرے بیان شوے. او پاتے شوه دا چه خلق دَ دعا نه ولے غافله دی. دَ غفلت اسباب به انشاءالله بله موقعه بیان شی.

اوس دُعا اوکړئ. چه الله تعالیٰ مونږ دَ غفلت نه بیدار کړی او په اخلاص دَ دعا غوښتو توفیق را کړی.

وصلے الله تعالیٰ علیٰ خیر خلقه سیدنا محمدٍ
وعلیٰ آله واصحابه اجمعین ط آمین
برحمتک یا ارحم
الراحمین ہ

بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

دعوات عبدیت اول جلد

(دریم وعظ)

# مُهِمَّاتُ الدُّعَاءِ (حِصَّہ دوم)

(د دُعا اهمیت) دویمه برخه

له ارشاداتو د حکیم الامت


حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمۃ اللّٰہ علیه

پښتو ترجمه :- له سیّد تسنیم الحق (کاکاخیل)



ناشران :- یونیورسټی بک ایجنسی

خیبر بازار

پشاور ښهر

# خُلاصه

دے نه مخکښے وعظ کښے دَ دعا اهمیت واضح شوے دے. او دا وعده شوی وه چه په بله موقع به دَ دعا نه دَ غفلت اسباب بیانیږی نو په دے وعظ کښے هغه وعده پوره شوی ده. او دا واضح شوی ده. چه عام خلق په غیر اختیاری څیزونو کښے خومجبوراً دُعا غواړی. لیکن اختیاری کارونو کښے په ظاهری اسبابو او خپل تدبیرلګیا کوی. او دا تدبیر مؤثر ګڼړی. ځکه دَ دعا ضرورت ورته نه ښکاری حالانکه حقیقت دا دے چه اسباب خپله مؤثر نهٔ دی. چه الله تعالیٰ او غواړی نو تاثیر پکښے واچوی. او تدبیر کامیاب شی. نو په اسبابو کښے تاثیر اچولو دَ پاره دَ الله نه دَ دعا غوښتو ضرورت دے.

په دے موضوع دا وعظ حضرت تهانوی رحمة الله علیه دَ تهانه بهون په جامع مسجد کښے. یعنی خپله خانقاه کښے زیرتربیت عالمانو سالکانو ته په ۱۶ر صفر سنه ۱۳۳۹ھ کښے تقریباً دری ګهنټے کښے په ممبر په ناستی کړے دے. او مولوی "نور حُسین" قلمبند کړے دے. (ت)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ وَنَشْهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَسَلَّمَ۔

اما بعد فاعوذ باللّٰه من الشیطن الرجیم ۰ بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم ط

قال اللّٰه تعالیٰ :- وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِيْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دَاخِرِيْنَ ۰

(او ستاسو پروردګار فرمائی - ما نه غواړئ زهٔ ستاسو خواست قبلوم. بیشکه څوک چه څما دَ عبادت نه انکار کوی. ډیر زر به ذلیله دوزخ ته ننوځی.)

دَدے نه مخکښے وعظ کښے دَ دعا عظمت او اهمیت بیان شوے وو- اودَ وعظ په آخر کښے دا ویلی شوی وو. چه په بله موقعه به انشاء اللّٰه دَ دعا نه دَ غفلت اسباب بیانیږی- نو په نن وعظ کښے هغه اسباب بیانولے شی-

دا هم هغه آیت دے دَکوم چه مخکښے وعظ کښے تلاوت شوے وو. نن وعظ هُم دَ دعا متعلق دے. نو هم هغه آیت تلاوت شو. دَاوعظ هم دَهغے وعظ تتمّه یا باقی حصه اُوګڼړئ -

دے نه وړمبے چه دَ دعا نه دَ غفلت اسباب بیان شی. داوضاحت ضروری دے. چه دُعا صِرف غیرِ اختیاری کارونو پورے خاصه نهٔ ده. لکه څنګه چه عام عادت دے. چه کوم کاردَ اختیار نه بهر وی. اوپه عامو تد بیرونو نهٔ حل کیږی. لکه دَ باران ضرورت یا څهٔ وبائی آفتونو نه بچ کیدو دَپاره مجبورًا دَ دعا آسره کوی. او په اختیاری کارونو کښے ئے په خپل تدبیر اعتماد وی. دَدعا ضرورت نهٔ ګڼړی- داسے نهٔ ده. بلکه په اختیاری کارونو کښے هم دَ دعا سخت ضرورت دے. هرڅومره که دَ یو کار وجود په ظاهری اسبابو مبنی وی. لیکن که غور اوکړے شی نو خپله دَدے ظاهری اسبابو جمع کیدل اومؤثر کیدل

غیر اختیاری دی. مثلاً دَ غلې پیدا کولو دَ پاره پټې تیارول. تُخم ورکښې اچول او بهٔ خور کول خو اختیاری کاروُنه دی. لیکن دَ تخم زرغونیدل لوئیدل او دَ آفتونو بدلئ یا مرض وغیره نه بچ کیدل دَ بنده په اختیار کښې نهٔ دی ځکه الله تعالیٰ فرمائی. اَفَرَاَیْتُمْ مَّا تَحْرُثُوْنَ ۝ ءَاَنْتُمْ تَزْرَعُوْنَهٗ اَمْ نَحْنُ الزّٰرِعُوْنَ ۝ د آیا تاسو غور کړے دے؟ کوم تُخم چه تاسو کرئ آیا دا تاسو زرغونوئ. که مونږ ئې زرغونوو.) بیا دا ټول کاروُنه کوم چه ځمونږ په اختیار کښې دی. دا هم دَ الله تعالیٰ په رضا موقوف دی. نو واضح شوه چه په اختیاری کارونو کښې هم دَ دعا سخت ضرورت دے.

بیا که مونږ دے ته اوګورو. چه دا کوم تدبیرونه او کوم اسباب چه ځمونږ په نظر کښې دی. دا هم په حقیقت کښې اصل اسباب نهٔ دی. په دے معنیٰ چه خپله پکښې دا تاثیر نشته. الله تعالیٰ پکښې تاثیر اچوی، او کله چه اُونهٔ غواړی تاثیر پکښې وانهٔ چوی. لکه دَ حضرت ابراهیم علیه السّلام په واقعه کښې چه اور کښې ئې دَ سوزولو تاثیر وانهٔ چولو. نو دومره تیز اور په ابراهیم علیه السّلام هیڅ اَثر اونهٔ کړے شو.

څوک چه په دے راز پوهه دی. هغوئ هیچرے په دے تعجب نهٔ کوی. چه ابراهیم علیه السلام باندے اور اثر ولے اونهٔ کړو. ځکه چه تعجب په تاثیر سلب کیدو کیږی. په اَثر نهٔ اچولو کښې دومره دَ حیرانتیا خبره نشته.

که سوزول دَ اور مستقل ذاتی اَثر وے څنګه چه فلسفیان وائی. نو مونږ هغوئ نه داتپوس کولے شو. چه دَ اور په لمبه کښې څوک په تیزئ لاس اوباسی نو لاس ئې ولے نهٔ سوزی. که سوزول دَ اور ذاتی تقاضا وے. نو پکار ده چه دے وخت کښې ئې هم سوزولے. که څوک اووائی چه سوزول خوئې ذاتی تقاضا ده. لیکن دے دَ پاره شرط دادے چه څیز ورکښې کافی وخت حصارشی

نو مونږ دَ دے نه انکار نهٔ کوو- لیکن خبره په دے کښے ده چه دا شرط عادی دے که عقلی۔ اودَ شرط موجود کیدو په وخت کښے اثر مرتب کیدل لازمی دی۔ که لازمی نهٔ دی۔ که لازمی وی نو فلسفیانو سره دَ دے څهٔ دلیل دے؟ که تجربه ئے دلیل ښئی- نو دَ تجربے نه خو صرف اثر مرتب کیدل معلومیږی۔ دَ اثر لازمی کیدل نهٔ معلومیږی۔ نو دعوه ئے بے دلیله پاتے شوه- ځکه چه په تجربه دَ اول نه تر آخره دَ ټولو افرادو احاطه نشی کیدے۔ دَ یو څو افرادو په مشاهده حکم لګولے شی- کیدے شی چه نورو داسے افراد چه تر اوسه ئے مشاهده نهٔ ده شوی دَ دے خلاف وی۔

اصل کښے خلق دَ دے ټولو خُرافاتو قائل کیږی ځکه۔ چه الله تعالیٰ فاعلِ مختار نهٔ منی- نو په داسے کمزورې تاویلونو کولو مجبوره شی- دَ اسبابو دَ تاثیر داسے مثال دے۔ لکه دَ سرے جنډے په خوزولو چه ګاډے اودریږی- او دَ شنے جنډئی په خوزولو روانیږی۔ یو نا پوهه دا تماشه اوکړی نو دا خیال اوکړی چه په دے سره جنډئی کښے دا تاثیر دے۔ چه ګاډے اودروی۔ هغه کم عقل په دے نهٔ پوهیږی چه جنډئی کښے داسے هیڅ طاقت نشته۔ دا خو یو اصطلاحی علامه ده۔ په دے باندے ګاډه ډرائیوره ته دَ ګاډی اودرولو حکم ورکوی۔

دغه شان مثال په اسبابو دَ کار مرتب کیدو دے۔ چه اصل کار خو دَ الله تعالیٰ په اختیار کښے دے۔ دا اسباب ئے دَ بندیانو دَ تسلّی او نورو حکمتونو دَ پاره علامے مقرر کړی دی۔ په اسبابو کښې ذاتی تاثیر هیڅ هم نشته۔ ؎

این سببها در نظرها پردهاست   در حقیقت فاعلِ هر شئے خداست

(دا ظاهری اسباب دَ نظر دَ پاره پردے دی۔ په اصل کښے دَ هر کار کوونکے الله تعالیٰ دے)

کب فلک کو یہ سلیقہ ہے ستمگاری میں   کوئی معشوق ہے اس پردۂ زنګاری میں

(شاعران دَ مصیبتونو نسبت اکثر زمانے ته او فلک ته کوی۔ نو دا عارف وائی۔ فلک ته دَ ستمګارئ سلیقه کله ورځی۔ دا خو دَ پردے شاته دَ حقیقی محبوب کار دے څهٔ چنګوی هغه ئے کوی)

یو عارف وائی۔ ے

عشق من پیدا ومعشوقم نہان    یار بیرون فتنہ او در جہان

(ځما عشق څرګند دے. او معشوق مې پټ دے نه ښکاری. ځما محبوب خپله خو د جهان نه بهر دے. لیکن تصرف ئې په ټول جهان کښې څرګند دے.) بل عارف وائی ے

کار زلف تست مشک افشانی اما عاشقان    مصلحت را تہمتے بر آہوئے چین بستہ اند

(د مشکو خوشبوئی خورول خو د ستا د زلفو کار دے. لیکن عاشقان د څه مصلحت په خاطر د دے نسبت د چین او سیو ته کوی۔) ے

آب وخاک وباد وآتش بندہ اند    با من و تو مردہ باحق زندہ اند

(اوبه. خاوره. هوا. او اور. یعنی څلور واړه عناصر د حق تابعدار دی. ځما او ستا په خیال مړه (بے ساه) دی. لیکن د حق په مخکښے ژوندی (یعنی تابعدار دی) هر حکم منی)

په مثنوی کښے د یو یهودی بادشاه واقعه ده. چه مسلمانان به ئې بتانو ته په سجده کولو مجبوره کول. چه هغوئ به انکار اوکړو. نو ژوندی به ئې اور ته واچول. نو هغوئ به پکښے نه سوزیدل. د خدائے په قدرت اور په هغه اثر نه کولو. هغے بادشاه د ډیره قهره اور ته اووے. په تا څه چل شوے دے. چه نن سوزول نه کوے. او ور ته د خدائے په حکم جواب ورکړو۔ ے

گفت آتش من ہمانا آتشم    اندر آتا تو بہ بینی تابشم

(اور ورته اووے. زه هم اور یم. هم هغه د سوزولو طاقت مې دے. ته راکوز شه چه ځما تاؤ اووینې. یعنی زه خو سوزول د الله په حکم کوم. د هغه دا حکم دے چه مسلمانان مه سوزوه. نو زه نه سوزوم. ته راکوز شه چه ځما زور درته معلوم شی)

اوګورئ هم دغه اور دے. چه څوک ئې سوزول. او څوک ئې نه سوزول. د دے نه صفا معلومه شوه چه د اسبابو تاثیر د خالق په اختیار کښې دے. هر کله چه داسے ده. نو بیا صرف په اسبابو اعتماد کول او د خالق نه غفلت او بے پروائی غټه غلطی ده۔

غرض دا چه اختیاری کار و نه وی که غیر اختیاری په ټولو کښے د دعا سخت ضرورت

البته په اختیاري کارونو کښې دا خیال ضروري دے. چه دَ دعا سره سره دَ ظاهري اسبابو تدبیر هم پکار دے. داسې نه چه بې تدبیره تشه دعا کافي اوګڼړي. مثلاً څوک اولاد غواړي. نو هغهٔ ته پکار دي چه اول واده اوکړي. بیا دَ خدائے نه دَ اولاد سوال اوکړي که بې واده اولاد غواړي. نو دا دَ هغهٔ حماقت دے. الله تعالیٰ ظاهري اسباب پیدا کړي دي په دے کښې ډیر حکمتونه او ډیرے فائدے دي. ظاهري اسباب بالکل پریښول افراط دے. دَ الله تعالیٰ حکم نه غفلت. بې پروائي. بے ادبي. او دَ عبدیت خلاف کار دے. دَ ظاهري اسبابو تدبیر کول او بیا په هغې کښې تاثیر اچولو دَ پاره الله تعالیٰ ته زاري کول دَ عبدیت اظهار دے. کوم چه اصل مقصود دے. نو په اختیاري کارونو کښې دَ ظاهري اسبابو تدبیر کول لیکن په هغې اعتماد نهٔ کول. بلکه په هغې کښې تاثیر اچولو دَ پاره دَ الله نه دعا غوښتل دَ اعتدال او سلامتیا لار ده.

نو دَ دعا ضرورت ښهٔ واضح شو. اګر چه دا دَ عامو مسلمانانو عقیده ده. لیکن بیا هم دَ دعا نه غفلت ډیر دے. دَ دے وجه څهٔ ده؟ دَ غفلت اسباب خو ډیر دي. لیکن مونږ دلته یو څو غټ اسباب دَ قاعدے کلئے په طور بیانوو. جزئیات ورنه خپله معلومیدے شي. یو غټ سبب خو تش صبا دا دے چه په طبیعتونو باندے دَ جدید مغربي تعلیم په وجه ظاهري اسبابو داسې قبضه کړې ده. چه مُسَبِّبُ الْاَسْبَابْ ئې دَ نظر نه پناه شوے دے. ځکه دَ دعا ضرورت نهٔ ګڼړي. بلکه بې کاره ئې ګڼړي. او ظاهري اسباب اصلي مؤثر مني حالانکه دَ کومو سائنسدانانو چه دوئ تقلید کوي. خپله دَ هغوئ پوهه کسانو دَ ظاهري اسبابو دَ تاثیر او دَ قدرت دَ پټو اسبابو په تحقیق او احاطه کښې دَ خپلے لاعلمئ اقرار کوي. او ولے به نهٔ کوي. دَ جدید سائنس ټوله بنیاد په استقراء. تلاش. کوشش او تجربو دے. کوم چه ډیر ناقص او کمزورے دلیل دے دا مغرب زده کسان دَ اسلام دَ دعوے په وجه دَ الله تعالیٰ دَ وجود څخه انکار نشي کولے. لکه دَ یورپ خلق چه کوي. لیکن بیا هم دوئ په خپل ګمان کښې یو

دَ فطرت قانون تجویز کړے دے. او دا قانون په جوړیدو کښے خود الله ماتحت منی. لیکن په چلیدو کښے ئے بیا دَ الله محتاج نۀ منی. بلکه نَعُوذُ بِاللهِ خدائے دَ هغے تابع منی۔

دا ئی چه الله تعالیٰ یو خاص نظام جوړ کړو. بس اوس نظام په خپله چلیږی څۀ تغیر او تبدیلی پکښے نشی راتلے. لکه گهړئ چه په چابی ورکولو کښے بل ته محتاجه ده لیکن چه څوک چابی ورکړی نو بیا په خپله چلیږی. گویا که نعوذ بالله الله تعالیٰ یو خاص نظام جوړ کړو. اوس هغه په خپله چلیږی. بیا ورکښے څۀ تغیر او تبدیلی نشی کولے. نو توبه توبه. مسلمان او دا عقیده۔

دا خو دَ عقل نه هم خلاف ده. په دے کښے دَ الله تعالیٰ عجز لازمیږی او مشیت معطل پاتے کیږی. حالانکه مشیت په قطعی دلیلونو ثابت دے.

دا هم دا سے خبره ده لکه دَ یونان فلسفیانو چه دَ الله تعالیٰ وجود دَ حدوثِ عالم دَ پاره عِلّتِ موجبه اضطراری منلو. او دَ اختیار او مشیت قائل نۀ وو. دَ هغوئ نه خو څۀ شکایت نشته. ځکه چه دَ اسلام دعویدار نۀ وو. لیکن دا نیچریان خو دَ تولو نه زیات دَ اسلام دَ خیر خواهئ دعوے کوی. او بیا هم داسے عقیده لری ؟

افسوس دے دا کم عقل دومره هم نۀ پوهیږی. که دَ الله تعالیٰ دَ اختیار و مشیت صفت او نۀ منلے شی. نو عالم پیدا کولو کښے به ترجیح بلامرجح راشی. کوم چه عقلاً محال دے. یا به عالم قدیم منلے شی. او دا هم محال دے۔

او دا شک دِ څوک نۀ کوی چه په اختیار کښے هم ترجیح بلامرجح راځی. ځکه چه دَ اختیار او ارادے دَ صفت سره تخصیص دَ مَا شَاءَ او مَتٰی شَاءَ لازمی دے. او دا امر ذاتی او لازمی دَ پاره دَ عِلّت سوال نامعقوله دے۔

ځکه چه دَ دے په وجه دَ ذات او دَ ذاتیاتو ترمینځه. او دَ لازم او ملزوم ترمینځه دَ جَعَلْ تخَلُّلْ راځی. او دا محال دے. نو دَ اختیار او مشیت عقیده بے غباره ثابته شوه او دا واضحه شوه چه دَ قدرت او اختیار نه انکار او دَ مشیت دَ تعطل عقیده باطله ده۔

(نوټ:-) دَ "داهم دا یے خبره ده" نه تر دے پورے باریکی علمی خبرے دی اصطلاحی الفاظ پکښے ډیری راغلی دی. او دَ اصطلاحی الفاظو ترجمه ممکنه نهٔ ده. که په تو له خبره څوک پوهه نشی. خو خلاصه مطلب ئے واضح دے. کوم چه ور پسے پیراګراف کښے راځی۔ ت)

حق مذهب دا دے چه الله تعالیٰ فاعلِ مختار او قادر مطلق دے. الله تعالیٰ چه په خپل قدرت کوم ممکنات پیدا کړی دی. او کوم تاثیر ئے پکښے اچولے دے. هغه قادرِ مطلق دا تاثیر بند ولے هم شی. او بدلولے هم شی۔

نو دَ دعا ضرورت دے دَ پاره دے. چه الله تعالیٰ په خپله اراده څمونږ تد بیر ونه کامیاب کړی. او څمونږ په ظاهری اسبابو کښے هغه تاثیر واچوی کوم چه ئے عام عادت دَ چه دغه خاصو اسبابو سره دا خاص مُسبّب پیدا شی. دا خو په هغه وخت کښے ده چه ظاهری اسباب ټول موجود وی. لیکن خپله داهم ضروری نهٔ ده چه دَ یو کار دَ پاره دِ دَ هغے ټول ظاهری اسباب موجود وی. کله کله الله تعالیٰ په خپل فضل دَ خپلو نیکو بندیا نو دَ عاجزئ او زارئ په خاطر په خپل کامل قدرت نیمګړی ظاهری اسباب کافی کړی. بلکه کله کله ئے دَ ظاهری اسبابو کار پوره کړی۔

لکه یو حدیث شریف کښے چه دا واقعه بیان شوی ده. چه یو نیکه ښځه وه. اوړه ورکره ختم شوی وو. دَ روټئ په وخت ئے تنور کښے خشاک واچولو. تنور ئے سور کړو. بیا ئے خدائے سوال اوکړو. اَللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا (یا الله مونږ تہ رزق راکړے) څه ساعت پس چه ئے دَ تنور نه سر پورته کړو. دَ روټو نه ډک وو. دا ځکه چه دَ هغوئ په الله اعتماد وو. کامل یقین ئے وو. نو بے دَ ظاهری اسبابو الله تعالیٰ رزق ورکړو. دا خو دَ الله دَ نیکو بندیا نو حال وو دَ ابلیس لعین دَ دُعا قبلیدو یقین نه اوکړو. چه عین دَ قهر او غضب په موقع ئے هم دا یقین وو. چه قهر به ئے په دعا قبلیدو کښے مانع نشی. ځکه چه هغه خپله فرمائی۔ اِنَّ رَحْمَتِیْ سَبَقَتْ غَضَبِیْ (بیشکه زما رحمت په غضب غالب دَے) نو عین دَ قهر او غضب په موقع شیطان دَ الله تعالیٰ دَ وسیع رحمت په اعتماد دا سوال اوکړو. چه یا الله

ما ته قیامته ژوند راکړه. چه د آدمؑ د اولاد نه خپل بدل واخلم. او الله تعالیٰ ئې سوال قبول کړو. حکم اوشو. اِنَّکَ مِنَ الْمُنْظَرِیْنَ اِلیٰ یَوْمِ الْوَقْتِ الْمَعْلُوْمِ (تا ته تو مقررې نیټې (قیامته) پورې مهلت درکړې شو) په دُعا قبلیدو چه د چا پوخ یقین او اعتماد وی نو ضرور اثر کوی. یقین داسې شے دے چه غټ غټ کارونه پرې کیږی.

لکه حضرت علاء الحضرمیؓ چه د حضرت ابوبکر صدیقؓ د خلافت په زمانه کښې مرتدانو سره غزا کښې بحرین ته تلو. نو په لار کښې یو دریاب راغلو. د کشتۍ څۀ انتظام نۀ وو. خلقو ورته د حصاریدو صلاح ورکړه. چه د کشتو انتظام برابر کړو. هغۀ اوفرمائیل. خلیفه راته د زر رسیدو حکم کړے دے. زۀ حصاریدے نشم. د دریاب په غاړه اودریدو. الله ته ئې سوال اوکړو. یا الله تا د حضرت موسیٰ علیه السّلام په برکت بنی اسرائیلو ته په سمندر کښې لار ورکړې وه. نن د خپل حبیب حضرت محمّد مصطفےٰ صلی الله علیه وسلم په برکت مونږ دریاب نه پورې باسې. دائې اووے. او اَس ئې په دریاب ورګډ کړو. نور لښکر هم ورپسې شو الله تعالیٰ ورته دریاب پایاب کړو. او صحیح سلامت پورې وتل.

دغه شان یوه مشهوره قصه ده. چه یو مُلا صاحب د بسم الله په فضائلو وعظ کولو چه د بسم الله په برکت هر کار کیږی. د بانډے یو ساده مُسلمان دا وعظ واوریدو. زړۀ کښې ئې اووے چه دا خو ډیر ښۀ کار اوشو. هره ورځ به کشتۍ کښې په دریاب راپورې وزم مانړۍ که را نه پیسې اخلی. اوس به د بسم الله په برکت مُفت ځم راځم. چه کلی ته تلو د دریاب غاړې ته اُورسیدو. نو کشتۍ ته ئې آسره اُونۀ کړه. بسم الله ئې اووے په اوبو ورګډ شو. دغه شان پورې وتو. ډیره موده ئې داچل کړے وو. یو ورځ ورسره اتفاقی هغه مُلا صاحب هُم مرکرے شو. چه د دریاب غاړې ته راغلو. کشتۍ نۀ وه. ملا صاحب د کشتۍ په انتظار په غاړه اودریدو. هغه سری د لاسه او نیوو. او د بسم الله په برکت ئې ملا صاحب هُم ځان سره پورې ویستو. دا په الله تعالیٰ باندے د پوره یقین طاقت وو. چه الله ورته ګران کار

اسان کړو. په دغه وجه څنې بزرګان چه چا ته تعويذ اوليکی نو ورته وائی چه پرانزه ئے مه. اثر به ترے لاړ شی. په هغے کښے غرض داوی چه که دے ئے اوګوری چه عام معمولی الفاظ دی. یقین به ئے ترے پورته شی نو اثر به او نه کړی. دے نه معلومه شوه. چه څوک لږ غوندے ظاهری اسباب برابر کړی، او د الله په اعتماد یقین سره دعا اوغواړی. نو الله تعالیٰ به ئے د یقین او په الله د اعتماد په برکت دا نیمګړی اسباب مؤثر کړی. او کار به ئے پوره کړی. دغه معنیٰ معلومیږی د دے حدیث شریف أَجْمِلُوا فِي الطَّلَبِ وَتَوَكَّلُوا عَلَيْهِ (کوشش لږ کوئ او په الله اعتماد زيات کوئ) أَجْمِلُوا فِي الطَّلَبِ (لږ کوشش کوئ) کښے دے ته اشاره ده. چه ظاهری اسباب بالکل ترک کول نه دی پکار. اسباب اختیاروئ خو نظر په تقدیر لوئ. زيات اعتماد په الله ساتئ. تَوَكَّلُوا عليه کښے د دے اشاره ده.

اصل خبره داده. چه که روزی صرف په عقل او تدبیر حاصلیدے. نو ډیر خلق به مالدار شوی وو. لیکن څوک چه لیدے شی. مالداری صرف په تدبیر نه حاصلیږی. شیخ شیرازیؒ فرمائی۔

اگر روزی به دانش بر فزودے     ز نادان تنگ تر روزے نبودے
به نادان آنچنان روزی رساند     که دانا اندران حیران بماند

(که روزی په عقل زیاتیدے. نو د کم عقل نه به سخت ژوند د چا نه وو. لیکن الله تعالیٰ کم عقلو ته داسے روزی ورکوی. چه هوښیاران ورته حیران پاتے شی.)

ډیر داسے لیدلی شوی دی. چه معمولی مزدورکار سړے د لکهونو مالک شی. که مالداری صرف په تدبیر او کوشش حاصلیږی بے تقدیره. نو مونږ د دے سړی په مقابله کښے کوم چه څو کاله کښے په مزدورکارئ کښے ډیر مالدار شوے دے. یو بل سړے اودرو. چه هغه په عقل طاقت او همت کښے د دهٔ نه زیات وی. تنخواه هم ورته د دهٔ نه زیاته مقرره وو. وخت هم دوچند ورکوو. او هغه ټول حالات ورته برابر وو. کوم حالات نو کښے چه هغه سړے مالدار شوے دے. بیا ګورو چه دے د هغهٔ نه په دوچند وخت کښے هغه هومره مال جمع کوی. هرګز ئے نشی کولے. د ترقئ چلونه او اسباب ډیرو خلقو ته معلوم دی. لیکن ترقی صرف هغه کسان



Scanned with CamScanner

اوکړی. دَ چا دَ تدبیر سره چه تقدیر هم برابر شی. کنی په ډیر محنت او تدبیر نهٔ کیږی.

اصل خبره داده. چه دَ کامیابئ دارمدار صِرف په عقل او تدبیر نهٔ دے. دَ تقدیر او مشیت سره هم غواړی. غرض دا چه نهٔ یواځې په ظاهری اسبابو کار کیږی. او نهٔ ظاهری اسباب دا سے بیکاره دی. چه بالکل ترک کړے شی. او تش په دُعا کار اوشی. افراط او تفریط (زیاتے او کمے) دواړه پرېښول غواړی.

دَ اعتدال لار داده. چه دَ ظاهری اسبابو تدبیر هم پکار دے. او الله تعالیٰ ته زاری او دعا هُم. په دے کښے دَ عبدیت او احتیاج اظهار دے. دَ ظاهری اسبابو په اعتبار دَ دعا نه غفلت نهٔ دے پکار. ځکه چه اصل کار دَ الله تعالیٰ په مشیت او رضا کیږی.

ځنے متوکلین په دے کښے زیاتے کوی. چه ظاهری اسباب بالکل ترک کړی. نو په دے وجه دَ توکل نه تعطل او بے همتی جوړه شی - ؎

چو باز باش که صیدے کنی ولقمه دهی طفیل خوار مشو چون کُلاغ بے پروبال

(دَ باز په شان ښکار کوه. خپله هم خوره او بل ته هم ورکوه. دَ بے وزره کارغهٔ په شان دَ بل په طمعه مه کینه.)

البته که دَ زړوند دَ ظاهری اسبابو په تلاش کښے ئے دَ دین یا دَ دین دَ خدمت نقصان کیږی. او دا سړے دَ توکل اهل وی او دَ سختو دَ برداشت همت لری. نو بیا توکل بهتر دے. لیکن توکل کښے صِرف دَ الله تعالیٰ په ذات اعتماد ضروری دے. چه زړهٔ کښے ئے دَ خلقو دَ تحفو او نذرانو څهٔ طمعه نهٔ وی. په حدیث شریف کښے توکل سره مِنْ غَيْرِ اِشْرَافِ نَفْسٍ شرط لګید لے دے. دَ یعنے دَ نفس دَ طمعے نه بغیر چه صِرف دَ الله تعالیٰ په ذات اعتماد وی. دَ نذرانو طمعه پکښے نهٔ وی. که دا شرط پکښے نهٔ وی نو بیا توکل نهٔ دے. پردو مالونو ته په ساؤ کښے کیناستل دی.

دلته دا نکته دَ یاد ساتلو ده. چه کله کله اهلِ کشف ته دَ کشف په ذریعه دَ غنا آمد پته اُولګی. نو په زړهٔ کښے طمعه پیدا شی. او کله ورته دَ کشف په ذریعه دَ مشتبه مال حقیقت معلوم شی. نو حلال مال پیدا کول ورته مشکل شی. نو دَ کشف



Scanned with CamScanner

رِنښت دَ الله تعالیٰ یو غټ احسان دے. دَ نفس دَ طمع متعلق راته دَ بلګرام دَ یو بزرګ واقعه رایاده شوه. یوه ورځ ئے یو خاص شاګرد اومُرید مُلاقات ته راغلو. پیر ورته کمزورے او مړاوے غوندے ښکاره شو. پوهه شو چه ډیر و لوږو کمزورے کړے دے. واپس لاړو او ځان سره ئے څه خوراک راوړو. پیر ته ئے پیش کړو. هغه ورته اووے. شے خو دِ دَ سخت ضرورت په موقع راوړو. خو ماته ئے په قبلولو کښې یو عُذر دے. هغه دا چه ته دَ مجلس نه پاڅیدے. نو ځما زړه کښې دا خیال راغلو چه ته څه خوراک راوړو پسے پاڅیدے نو طمعه م اوشوه. او دَ طمع (اشراف) په وخت کښې هدیه قبلول خلافِ سُنت دی. ځکه ئے دَ قبلولو نه معذوری یم. مَا شَاءَ اللّٰهُ هغه شاګرد هم پوهه وو. دَ نن صبا جاهلانو په شان بے ادبه او بحث کوونکے نهٔ وو. سمد ستی ئے دَ خوراک لوښے اوچت کړو روان شو. دَ نیمے لارے نه بیا راواپس شو. هم هغه شے ئے په خدمت کښې پیش کړو. او عرض ئے اوکړو. چه اوس خو ئے قبول کړئ. ماچه واپس یوړو خو ستا طمعه به قطعه شوی وی. پیر هغه شے قبول کړو. او دَ هغهٔ په هوښیارتیا ئے شاباشے وی کړو.

نو اوګورئ چه بزرګانو دَ اِشراف نه څومره ځان ساتلو. غرض دا چه دَ توکّل په شرائطو کښې یو دا هم دے چه اِشراف نهٔ وی. اشراف نه بغیر توکل بهتر دے او که نفس دَ اشراف نه نشی بچ کولے. نو بیا تدبیر سُنت دے. خلاصه دا چه افراط تفریط دواړو نه ځان ساتل بکار دی. او په اعتدال چلیدل بکار دی.

؎ گر توکل میکنی در کار کن — کسب کن پس تکیه بر جبار کن

گفت پیغمبرؐ به آوازِ بلند — بر توکل زانوئے اشتر ببند

(۱) که توکل کوے نو په کار کښې کوه. یعنی دَ اسبابو تدبیر اوکړه. بیا په هغے کښې دَ اثر پیدا کولو. او تدبیر کامیابولو دپاره په الله اعتماد کوه.

(۲) (دَ رسول الله صلے الله علیه وسلم ملاقات ته یو سړے په اوښ سور راغلو. اوښ ئے دَ جُماتِ په دروازه

کښې کینولو وے په خدائے سپارلے. او جمات ته ننوتو.) رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته په اوچت آواز غږ وکړو. دا وېش کوه او تره نو بیائے په خدائے او سپاره.

په دے پوهه شئ چه د ظاهري اسبابو تدبیر کول د توکل خلاف نۀ دی. د دے مثال بالکل مقدمه کښې وکیل نیولو په شان دے. که څوک مقدمه چلولو د پاره وکیل اونیسي. نو آیا خپله بس دے بے غمه کیني؟ نه بلکښې خوره کوشش چه ترکیدے شي خپله هم کوي. او دا د وکیل نیولو خلاف نۀ گڼړي. بلکه دائے خیال وي چه د وکیل په ذمه خپل کار دے. او زۀ به خپل کوشش کوم. دغه شان په اعتدال د ظاهري اسبابو تدبیر هم د توکل خلاف نۀ دے. بلکه تدبیر یو داسے شے دے. چه کوم کار نه چه بالکل غیر اختیاری وی. د تدبیر پکښې هیڅ دخل نشته په احادیثو کښې غور کولو نه معلومیږی چه داسے غیر اختیاری کارونو کښې هم څۀ نۀ څۀ شکل کښې تدبیر کول سنت دی.

په احادیثو کښې یو واقعه بیانیږی. د هغې نه به صفا معلومه شي چه رسول اکرم صلے الله علیه وسلم توکل او دعا څنګه جمع کړی دی. په دے حدیث شریف کښې ضمناً نور هم ډیر فوائد دی. یو صحابی رض چه نوم ئے حضرت مقداد رض دے. څو ورځے د حضور صلی الله علیه وسلم په مکان کښې هغوئ سره د میلمۀ په طور ډیره وو. حضور هغه ته څۀ بیزے حواله کړی وے. چه د دے پۍ څۀ خپله څکه او په مرکړو څکوه او څۀ ماته ساته. هغه فرمائی چه یو ورځ حضور راتلو کښې ناوخته کړو. مونږ دا خیال اوکړو. چه هغوئ ته چا دعوت کړے دے. د هغوئ برخه پۍ مو هم اوڅکل. چه پۍ مو خلاص کړو. نو دا غم شو راسره چه هسے نۀ په بل څۀ حصار شوی وی. څۀ ئے خوړلی نۀ وی. او ناوخته راشي. نو اوږدے به پاتے شي. ډیر پریشان شوم. ډېره په ډېره اوریدم خوب نۀ راتلو. ناوخته حضور تشریف راوړو. د هغوئ دا عادت وو. چه داسے وخت کښې به ئے سلام رو غو ندے اچولو. چه که څوک ویښ وی وابه ئے وری. او که څوک اوده وی چه راویښ نه شي.

دغه شان په نسائی شریف کښې د حضرت عائشهؓ روایت دے. چه د برات په شپه حضورؐ بقیع مقبرے ته تللو نو غلے غونډے پاڅیدو. رو غونډے ئې وردے کړو. هر کار ئې غلے غلے کولو چه خوک راویښ نشی. دغه شان ما بنام چه به کورته راغلو. نوسلامؓ به ئې رو غونډے اچولو چه چا ته تکلیف اونه رسی.

په دے موقعه دا نکته د یاد ساتلو ده چه څنګه خلق د بل د تکلیف هډو خیال نه ساتی. په اُردو خاقو کښې پاڅی. خپل کار ونه بندوی. په ازادئ سره کوی. او د بل د تکلیف هیڅ خیال نه ساتی. دغه شان په څه کار کښې مشغول بنده خانته متوجه کول هم د تکلیف خبره ده. د هغه په کار کښې خلل راځی. او پریشان کیږی.

یوه ورځ په بهوپال کښې د نواب صدیق حسن خان ځوئے د ماښام مونځ کولو په خواکښې ئې یو اهلِ حدیث ولاړ وو. په دے خیال چه نوابزاده صاحب به خوشحاله شی. آمین ئې بنده په زوره اووے. نوابزاده صاحب ورته مانځه نه پس اووے تا سره به څه کار دے. چرځې نوما اووینه. هغه په خوشحالئ په انتظار کښې شو. چه شاید څه انعام به راکړی. نوابزاده صاحب چه جمات نه وتو هغه ورته رانزدے شو. چه ستا سو څه کار وو. هغه ورته په مخ یو څپیړه ورکړه او ورته ئې اووے. آمین بالجهر خو په حدیث شریف کښې راغلے دے. لیکن دا راته اووایه. چه د آمین آذان په کوم کتاب کښې لیکلے دے. دومره په زوره آمین ویلو کښې بل ته تکلیف رسول مقصد دے. ځکه م سزا درکړه.

نو ځوئند د ټولو حالت ډیر خراب دے. په هر کار کښې افراط او تفریط کیږی. اعتدال نشته. د عوامو به څه شکایت کوو. صحیح خبره دا ده. چه اکثر عالمان هم د آدابو خیال نه ساتی. محض لفظ پرستئ کښې مبتلا دی.

مولوی گشتی و آگاه نیستی   خود کجا و از کجا و کیستی

(مولا شوے خو خبر نشوے چه چرته ئې. د کوم ځایه راغلے ئې او څوک ئې.)

په لفظ پرستئ پورے یو مثال را یاد شو. یو سړی د مرګ په وخت خپل ځوئے ته

وصیت اوکړو. چه څنا ناڅے ته چه میلمانه راځی. نو ډیر قدرئے کوه. او په اوچت ځائے کینوه. پستے او خوږے خبرے ورسره کوه. درنے جاے وا غونده. او میلمنو ته قیمتی خوراک ورکړه. اوس داورئ چه دے هلک د پلار وصیت څنګه پوره کړو. یوه ورځ ئے د پلار یو دوست راغلو. هغهٔ نوکرانو ته اووے په اُونه کښے ورته اوچت مچان جوړ کړئ. او ورته ئے اوخیژوئ او د ځنګلی ځناورو پړانګ زمری و غیره ښکاریان د وُنے په اوچتو څانګو کښے پټ کینا ستو د پاره ځانته ځائے جوړوی. دومره اوچت چه پړانګ ورته په ټوپ نشی رسیدے. په هغے کښے په ساؤ کینی او په ښکار دز اوکړی. دے ځائے ته مچان وائی.

نوکرانو میلمهٔ په زور مچان ته اوخیژولو. هغهٔ ډیرے چغے اووهلے. خو نوکرانو ورته وے. د مالک حکم دے. بیا دے هلک د ځان نه غټ قالین راچا پیره کړو. میلمهٔ سره کیناستو. چه هغهٔ خبره اوکړی دے ورته وائی کوره. چه هغه بله خبره اوکړی. دے ورته وائی مالوچ. د هغه شان د یوے خبرے په جواب کښے کوره وائی. او د بلے په جواب کښے مالوچ. میلمهٔ حیران شو چه دا څه دی. آخر روټئ راغله. میلمهٔ کیله اوکړه چه غوښه کلکه ده. هلک غصه شو په قهرئے اووے. ما درته د پنځوسو روپو سپے پوخ کړے دے او ته وائی غوښه خرابه ده. هغه نور هم حیران شو. ورته ئے اووے پوره حال اووایه دا څه دی؟ هلک ورته اووے ما ته پلار نصیحت کړے وو. چه قدر من میلمهٔ راشی په اوچت ځائے ئے کینوه. نو دلته د دے وُنے نه اوچت ځائے بل نهٔ وو. مچان کښے م ځکه کینولے. بل ئے راته و یلی وو چه میلمهٔ سره پستے او خوږے خبرے کوه. نو د کوړے نه خوږ او مالوچ نه پوست بل شے ما ته نهٔ دے معلوم. ځکه م درته د یوے خبرے په جواب کښے کوره. او د بلے په جواب کښے مالوچ وے. بل ئے راته ویلی وو. چه د درنے جاے نه اوچوره. نو ځمونږ په کور کښے دے قالین نه درنے جاے نورے نهٔ وے. بل ئے راته و یلی وو چه قیمتی خوراک ورکړه نو ځمونږ په ټولو ځارو کښے دا سپے زیات قیمتی وو. چه تا ته م حلال کړو. میلمهٔ ورباندے لعنت اووے او روان شو.

دغه حال ځمونږ دے. چه الفاظ مو یاد کړی دی. د اخلاقو. اعمالو. او ادابو حقیقت

مونږ دے پیژندلے ۔ مونږ اخلاق خوشامندو او خوږو خبرو ته وایو. نو اخلاق په نفاق بدل کړو۔ دَ اخلاقو حقیقت دا دے چه چا ته دَرنه تکلیف اونهٔ رسی ۔ نهٔ ظاهری نهٔ باطنی نه مخامخ نه پسی شا۔ مونږ ظاهرداری ته اخلاق وایو که بل ته تکلیف رسی هم پروا نشته ۔ دَرسولِ کریم صلی الله علیه وسلم دَ شفقت دا حال دے چه په زوره سلام هُم نهٔ اچوی۔ چه څوک به دَ خوبه ویښ شی.

غرض دا چه حضورؐ نا وخته راغلو۔ غلے غوندے سلام ئے واچولو۔ په خپل عادت دَ پیو لوښی ته ورغلو. خو هغه تش وو۔ حضورؐ څهٔ خوړلی نهٔ وو. وږے وو. په خپل عادت ئے څو رکعاته مونځ اوکړو۔ بیا ئے دا دعا اوکړه. اَللّٰهُمَّ اَطْعِمْ مَنْ اَطْعَمَنِیْ (یا الله چا چه په ما خوراک اوخوړولو ته ئے په هغهٔ اوخوروے) په دے غور اوکړئ چه حضورؐ په دے دُعا کښے توکل او ظاهری اسباب دواړه څنګه په لطیفه طریقه یو ځائے کړل. چه خوراک اکثر دا سے حاصلیږی. چه بل څوک ئے ورکړی کنی حضورؐ دا سے دُعا هم کولے شوه (یا الله دَ آسمان نه خوراک راواستوے) لیکن حضورؐ توکل او تدبیر دواړه یو ځائے کړل۔

هغه صحابیؓ ویښ وُو پوهه شو چه حضورؐ څهٔ خوړلی نهٔ دی، او دا ئے یقین وو. چه دَ حضورؐ دُعا به ضرور قبوله شوی وی. نو ما ښام ئے بیزے لو شلی وے. بیا هم پاڅیدو لوښے ئے راواخستو. بیزے لوشلو ته کیناستو. دَ خدائے په قدرت دَ بیزو په تو کښے دومره پئ راپیدا شو. چه لوښے ئے ښه ډک کړو۔ پئ ئے دَ حضورؐ په خدمت کښے پیش کړل۔

دَ دے واقعے بیانولو غرض دا وو۔ چه اوګورئ حضورؐ په دُعا کښے دَ توکل سره دَ ظاهری اسبابو څنګه خیال اوساتلو۔ نو معلومه شوه چه دَ توکل په اعتماد ظاهری اسباب بالکل ترک کول نهٔ دی پکار۔ او نهٔ په ظاهری اسبابو دا سے اعتماد پکار دے. چه په مُسَبِّبُ الْاَسْبَابْ نظر پاتے نشی۔ اصل مسنونه طریقه اعتدال دے. لیکن دا آسان کار نه دے. چه هر څوک ئے دعویدار شی ۔ سه

درکفے جام شریعت درکفے سندان عشق هر بوسنا کے نه داند جام و سندان باختن

(یو طرف ته د شریعت تقاضے دی. او بل طرف ته عشق دے. د شریعت او عشق دواړو تقاضے پوره کول د هرچا کار نه دے.)

رسول کریم صلی الله علیه وسلم خو تر دے حده د اعتدال خیال ساتلو. چه په معجزاتو کښے به ئے هم (چه بالکل خلاف عادت ښکاره کیدی) د ظاهری اسبابو په څه نه څه شکل کښے ضرور خیال ساتلو. لکه د حضرت جابر رض د دعوت معجزه (چه غزوهٔ احزاب کښے د خندق کنستو په موقع ښکاره شوی وه) په دے ګواه ده. حضور هغهٔ ته او فرمائیل چه کټوئ د نغری نه مه کوزوه. او د روټو ټکوړے نه دسترخوان مه پوړته کوه. بیا ئے په کټوئ کښے خپلے مبارکے لاړے واچولے. او د څو کسو خوراک د خدائے په حکم ټول لشکر ته کافی شو. کټوئ نهٔ کوزول او د روټو شکورپټ ساتل د ظاهری تدبیر یوه پرده وه. کنی بغیر د دے نه هم خوراک کښے برکت پیدا کیدے شو. دا د توکل او تدبیر آداب مونږ ته د سید المرسلین ص د ژوند نه زده کول پکار دی. د دے نه غافل کیدل کله کله په ظاهری اسبابو کښے د روبیدو سبب شی. کوم چه د ترکِ دعا یو سبب دے. او د عقیدے کمزوری ده۔

(۲) اوس د دعا نه د غفلت یو بل سبب واورئ. هغه دا چه عقیده خو په دعا وی. لیکن زړهٔ کښے دا خیال راشی چه څمونږ دعا د قبلیدو قابله نه ده. دا هم په اصل کښے د شیطان وسوسه ده. چه د بنده په زړهٔ کښے د تواضع په رنګ کښے اچوی درحقیقت څنګه باطنی حالات په ظاهره څهٔ داسے مشتبهٔ غونډے وی. چه د بنهٔ اوبا د فیصلے د پاره ئے ډیر ژور فکر او شریعت نه پوره خبریدو سخت ضرورت وی۔ لکه په آیت مَرَجَ الْبَحْرَيْنِ يَلْتَقِيَانِ بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ ٥ (دوه دریابونه ئے یو ځائے کړل. بیا ئے هم تر مینځه داسے پرده ده چه یو بل سره ګډیدے نشی.) کښے اهلِ لطائف دے طرف ته اشاره کوی. چه په داسے موقعه دوه څیزونه تواضع

او حیله سره مشتبه شی. د تواضع علامه داده. چه د ګناه په وخت کښې ئې هم د خپلې کمزورئ بندګئ او د الله تعالیٰ د عظمت خیال زړه ته راشی. او د ګناه نه منع شی. که صرف د دعا په وخت د تواضع په وجه دعا نه منع کیږی. او د ګناه په وخت یې اوبې باکه وی. نو دا په حقیقت کښې تواضع نه ده. سستی او بې همتی ده. او شیطان ورته د دعا د برکت نه محروم کولو د پاره یو حیله جوړه کړې ده.

نو دا وسوسه د څوک زړه ته نه راولی. بلکه په اخلاص د دعا غواړی. که قبوله نشی هم خالی نه ځی. کم از کم د آخرت د پاره ئې اجر جمع کیږی. او یو مغلوب الحال چه ویلی دی.

اُحِبُّ مُنَاجَاتُ الْحَبِیْبِ بِاَوْجُہٖ وَلٰکِنَّ لِسَانَ الْمُذْنِبِیْنَ کَلِیْلُ

(زړه یې غواړی. چه د حقیقی محبوب صفتونه په قسم قسم او کړم. لیکن د ګنهګارو ژبه کونګه وی.) نو دا سے اسان د حال د غلبې په وجه معذور ګڼړلے شی. د تقلید قابل نه دی.

حاصل دا چه په حیا او تواضع کښې د الله تعالیٰ د رضا خیال ساتلے شی. که دا پکښې نه وی. نو حیا نه ده. بې همتی او سستی ده. لیکن د دې دوارو په فرق باندې پوهیدو د پاره د شریعت د علم ضرورت دے. دغه شان دا خبره هم ده. لَاصَلٰوۃَ اِلَّا بِحُضُوْرِ الْقَلْبِ (چه حضورِ قلب پکښې نه وی. هغه مونځ نه دے) په دې کښې هم که څوک د دعا په شان حیله جوړه کړی. نو هغه و مونځ به پریدی. چه بې حضوره مونځ نه کیږی. او حضور هم شته نه. نو هسې ټګان ولے اوکړوم.

سمه خبره داده چه دې وسوسه ته هیڅ خیال نه دے پکار. هر څنګه چه څوک وی. بنده وی که بد وی. خپل پوره کوشش د کوی. او د خپل مالک دربار ته د حاضریږی. یعنی مونځ د ضرور کوی. حضور ئې برابر وی که نه.

بازآ باز آ هر آنچه هستی باز آ گر کافر و گبر و بت پرستی باز آ
این درگهِ ما درگهِ نومیدی نیست صد بار اگر توبه شکستی باز آ

رهر څنګه چه ئے هر څومره ګناهونه که دِ کړی وی. را اوګرزه رتوبه اوباسه) که کافر ئے که ملحد ئے که بُت پرست ئے را اوګرزه. ځما دربار دَ نا اُمیدئ دربار نۀ دے. که سل ځله دِ توبه ماته کړی وی. بیا هم را اوګرزه (بیا توبه اوباسه. زۀ ئے قبلوم.)

داسے بنده یو غلطی داکوی چه دَ بے همتئ په وجه عبادت. طاعت. او دُعا ته نۀ راګرزی. او بله غلطی داکوی چه په خپل ځان داګمان کوی. چه څۀ وخت به ځان صفا سُتره کړم. او څنګه چه دَ عبادت حق دے. داسے عبادت به اوکړے شم. نو کله چه داسے شم بیا به عبادت کوم. ګویا دے دا دعوه لری. چه زۀ دَ عبادت حق ادا کولے شم. او دا غټه غلطی ده. انسان هیڅ وخت کښے هم پوره پاکیدے نشی. او دَ الله تعالیٰ پاک دربار کښے دَ حاضریدو قابل کیدے نشی. او نۀ څنګه چه دَ عبادت حق دے. داسے عبادت چرے کولے شی. وُجُوْدُکَ ذَنْبٌ لَایُقَاسُ بِهٖ ذَنْبٌ. (ستا هستی خپله داسے ګناه ده. چه بله هیڅ ګناه ورسره نشی برابریدے)

مولانا رومؒ فرمائی۔

ے

خود ثنا گفتن زمن ترکِ ثنا ست    این دلیل هستی و هستی خطا ست

(خپله ځما دَ طرف ثنا ویل دَ ثنا ترک دے. ځکه چه ثنا ویل دَ خپلے هستئ دعوه ده. او دا دعوه غلطه ده.) یعنی دا دعوه کول چه ځما هم وجود شته. دَ ثنا ویلو قابل یم دَ خپلے هستئ دعوه کول خپله غټه ګناه ده.) دَ دوارو جهانو سردار فرمائی. لَا اُحْصِیْ ثَنَاءً عَلَیْکَ اَنْتَ کَمَا اَثْنَیْتَ عَلٰی نَفْسِکَ. (زۀ دَ ستا دَ ثنا حق نشم ادا کولے. تا چه خپله دَ خپل ځان څنګه ثنا ویلی هغه کافی ده.)

حضرت مرزا مظهر جانِ جانان رحمة الله علیه په دے باره کښے چه موند دَ ثنا حق نشو ادا کولے. فرمائی۔

ے

(۱) خدا در انتظارِ حمد ما نیست    محمدﷺ چشم بر راهِ ثنا نیست

(۲) خدا حمد آفرینِ مصطفٰی بس    محمدﷺ حامدِ حمدِ خدا بس

(۳) مناجاتے اگر خواهی بیان کرد    به بیتے هم قناعت میتوان کرد

(۴) الٰهی از تو حُبِّ مُصطفیٰ را : محمدؐ از تو مے خواهم خُدا را :

(۱) الله تعالیٰ څمونږ حمد ته محتاج نهٔ دے - او نهٔ رسول اللهؐ څمونږ د حمد په انتظار دے

(۲) حضورؐ ته د الله تعالیٰ مدح کافی ده - او الله تعالیٰ ته د حضورؐ حمد کافی دے -

(۳) ثنا که څهٔ دُعا غواړے - نو په یو بیت کښے ئے غوښتے شے -

(۴) اے رسول اللهؐ تا نه د الله محبت غواړم - او یا الله تا نه د رسول الله محبت غواړم

الله تعالیٰ فرمائی لَا تُزَکُّوْا اَنْفُسَکُمْ - (خپل ځانونه پاک مهٔ گنړئ) په دے شکر او باسئ چه په دے عبادت مو کړے نهٔ کیږی. څمونږ مثال خو داسے دے لکه مولانا رومؒ فرمائی -

شعر

شاه را گوید کسے جولاه نیست　　این نه مدح است او مگر آگاه نیست

د بادشاه په صفت کښے که څوک اووائی چه جولا نهٔ دے. دا د بادشاه صفت نهٔ دے. خو دے پوهیږی نه -)

شعر

ما بری از پاک و ناپاکی همه　　وز گرانجانی و چالاکی همه

من نه گردم پاک از تسبیح شان　　پاک هم ایشان شوند و درفشان

(الله تعالیٰ فرمائی. بنیادم چه ځما څنګه پاکی بیانوی. زهٔ د دے نه هم پاک یم. او د هر قسم سستئ او چالاکئ نه هم پاک یم. زهٔ د دوئ په تسبیح نهٔ پاکیږم. بلکه دوئ خپله ځما په پاکئ بیانولو پاکیږی. او خوبی ئے څرګندیږی -

هم دغه وجه ده - چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائی اِنِّیْ لَاَسْتَغْفِرُ اللهَ فِیْ کُلِّ یَوْمٍ سَبْعِیْنَ مَرَّةً - (زهٔ هره ورځ اویا ځله استغفار وایم) سره د دے چه د نبیانو معصوم کیدل (یعنی د هرے گناه نه پاکیدل) متلی شوی خبره ده - بیا هم استغفار کول گویا د خپل عبادت حالت د کمالِ خداوندی په مقابله کښے ډیر نیمګړے گنړل. یعنی خپل عبادت او حمد و ثنا د قربِ خداوندی حاصلولو قابل نهٔ گنړی ځکه استغفار وائی. د کاملانو دا حالت دے. چه د دوهره اوچتے مرتبے سره د الله تعالیٰ د عظمت او کمال په مقابله کښے ځان هیڅ هم نهٔ گنړی. دا نه چه واقعه

کښې دَ کمال او وصال نه خالي وي. بلکه ؎

دلارام در بر و دلارام جو ؛ لب از تشنگی خشک و برلب جو

نگویم که برآب قادر نیند ؛ که بر ساحلِ نیل مستسقی اند

(محبوب ئې په ترخ کښې دے او محبوب لټوي. دَ نهر په غاړه ئې شونډې دَ تندے نه وچې دي. زهٔ دا نه وایم چه اوبهٔ څکلے نشي. خو دَ دریاب په غاړه تږي ناست دي. (یعني دَ تندے دَ مریض په شان ئې تنده ماتیږي نه. یعني دَ قرب او وصال په یو درجه قانع کیږي نه. دَ زیات قرب په کوشش کښې لګیا وي. ؎

دامان نگه تنگ و گل حُسنِ تو بسیار ؛ گلچین بهارِ تو ز دامان گله دارد

(څما دَ نظر لمن تنګه ده. او ستا دَ حُسن ګلونه ډیر دي. دَ ستا دَ بهار ګلونه راټولونکي دَ خپلې لمنې دَ تنګوالي ګیله کوي. (چه لمن م ډیره اړته وے. نو ډیر ګلونه به م راټول کړي وو)

چه دَ خواصو (نبیانو او اولیانو) دا حال دے. نو مونږ عوام په کوم شمار قطار کښې یو. دا خو دَ الله تعالیٰ لوئ فضل او رحم و کرم دے. چه مونږ غوندے بد عملو او خراب حالوته ئې دَ خپل عبادت او حمد و ثنا اجازت ورکړے دے. او حکم ئې کړے دے. چه هر څنګه چه ئې عبادت کوئ. نو چه هغه سره دَ علمه څمونږ کوته مال او ناقص عبادت قبلوي. نو بیا مونږ ته څه عُذر پیش کول غټ حماقت دے. (اګرچه هغه عُذر دَ نا قابلیت وي) ؎

چون طمع خواهد ز من سلطانِ دین ؛ خاک بر فرقِ قناعت بعد ازین

(چه دَ دین بادشاه (الله) څما نه طمعه غواړي. نو زهٔ دے نه پس دَ قناعت په سر خاورے اچوم.) ؎

این قبولِ ذکرِ تو از رحمت است ؛ چون نمازِ استحاضه رخصت است

(دا ستا رحمت دے. چه څمونږ ذکر قبلوے. لکه چه مستحاضې ته دَ مونځ کولو اجازت دے.)

دا دعا نه دَ غفلت دویم سبب دے. یعني ځان دَ دعا قابل نه ګڼړل.

(۳) دریم سبب ئے دادے۔ چه واڼی ځمونږ دُعا دَ قبلیدو نهٔ ده۔ نو هسې ځان ولے کړوو۔ نو اول خو دا خیال غلط دے۔ چه الله تعالیٰ ځمونږ دُعا نهٔ قبلوی۔ حقیقت دا دے۔ چه دَ دعا قبلیدو موانع خپله ځمونږ دَ طرفه دی۔ چه دُعا کښې خضوع اوخشوع نهٔ وی۔ کوم چه دَ دُعا روح دے۔ حضورؐ فرمائی اِنَّ اللّٰهَ لَا یَسْتَجِیْبُ الدُّعَآءَ عَنْ قَلْبٍ لَاهٍ۔ (الله تعالیٰ دَ غافل زړهٔ دعا نهٔ قبلوی) نقصان ځمونږ خپل دے۔ کنی هغه لوئ ذات په هرچا مهربانه دے۔ او دَ هغهٔ فیض خو تولو ته عام دے۔ خو چه خپل ځان کښې لیاقت نهٔ وی۔ نو دَدے څهٔ علاج دے سه

اس کے الطاف تو ہیں عام شہیدی سب پر ؎ تجھ سے کیا ضد تھی اگر تو کسی قابل ہوئے

دا ے شهیدی دَ هغهٔ مهربانی خو عامه ده په هرچا مهربان دے۔ که تا کښې څهٔ لیاقت وے۔ نو تا سره ئے څهٔ دشمنی نهٔ وه) (خو لیاقت در کښې نهٔ وو۔ ځکه محروم پاتے شوے) ځمونږ خو دا حال دے۔ لکه یو شاعر ویلی دی۔ سه

توبه بر لب سبحه بر کف دل پر از ذوق گناه ؎

معصیت را خنده می آید بر استغفارِ ما

(په خوله توبه په لاس کښې تسبیح او زړهٔ دَ گناه دَ شوق نه ډک۔ ځمونږ په دے توبه پورے گناه ته هم خندا ورځی) حدیث شریف کښې راځی۔ چه الله تعالیٰ دُعا قبلوی۔ ترڅو چه دَ گناه دَ کار سوال نهٔ وی۔ یا دَ رشته دارئ دَ ختمولو سوال نهٔ وی (قطعِ رحم) یعنی دا دوه سوالونه نهٔ قبلیږی۔ نور هر سوال قبلیږی۔)

ځمونږ اکثر دُعاگانے خو دَ گناه وی۔ دَ هغے نهٔ قبلول دَ الله رحمت دے۔ لکه دَ موروثی زمکے په مقدمه کښې دَ مالکانو نه دَ قبضے حاصلولو سوال۔ یا دَ قتل په مقدمه کښې دَ قاتل دَ پاره دَ سزا نه بچ کیدلو سوال وغیره۔

اکثر خلق بزرگانو نه دُعا غواړی چه ځمونږ هلک په امتحان کښې پاس شی۔ او ډپتی یا تحصیلدار یا بل عهده دار شی۔ نو دا دعا هم ناجائزه ده۔ ځکه چه سرکاری نوکری اکثر دَ شریعت خلاف وی۔ دا خیال دِ څوک نهٔ کوی چه دَ بزرگانو

ډیر مُریدان سرکاری نوکران وی. که دا نوکری نا جائز وی. نو دوئ نے منع کوی ولے نه — دَ دے جواب دا دے. چه دا دی خو نا جائز دے لیکن دا خلق ور کښے دَ مخکښے نه راګیر شوی وی. او دغه ئے دَ روزګار یوه ذریعه وی. که دا په بند کړے شی بے روزګار به شی او دَ دے نه په غټو ګناهونو کښے به مبتلا شی. نو دا په اصل کښے دوئ ته اجازت نه دَے. بلکه دَ وړے ګناه په ذریعه ئے دَ غټے ګناه نه بچ کول دی.

په دا سے وخت کښے بزرګانو او عالمانو ته خپله احتیاط پکار دے. نا جائز مقدمو یا نا روا کارونو دَ پاره دِ دُعا نهٔ غواړی. ځکه چه خپله په ګنهګار بیږی. مطلبی خو په خته او لکوی. حاجتمند به ورته هرڅهٔ وائی. خو دوئ ته احتیاط پکار دے. او که خاځا خوک خفه کیږی. نو دا سے سوال پکار دے. یا الله کوم چه حق وی هغه او کړه غرض دا چه دَ نا جائز کار سوال یا دَ غافل زړهٔ سوال هغه اسباب دی کوم چه دَ دُعا قبلیدو موانع دی.

کله کله هغه کار دعا غوښتونکی دَ پاره بهتر نهٔ وی. نو دَ دا سے سوال نهٔ قبلول رحمت دے. دَ دے مثال دا سے دے. لکه یوما شوم ته دَ اور سکروټه ښائسته ښکاره شی. لاس ور وړی خولے ته ئے اچوی. نو مهربانه مور و پلار به ضرور دَ هغهٔ لاس نیسی. او دے کار ته به ئے نهٔ پریدی. ؎

آنکس که تونګرت نمیګرداند آن مصلحتِ تو از تو بهتر داند

(کوم ذات چه تا نهٔ مالدار کوی. هغه دَ ستا بهتری تا نه ښه پیژنی.)

لکه قصه مشهوره ده چه موسیٰ علیه السلام بانده چا دا دعا غوښتی وه. چه دَ صبا حال را ته معلومیږی. موسیٰ علیه السلام ورته ډیر نصیحت او کړو چه دا خبره پریده. خو هغهٔ نهٔ منله. آخرئے ورته دعا او غوښته. او قبوله شوه. یوه ورځ دے سړی ته معلومه شوه. چه صبا به ئے آس مری. هغه په منهٔ ه بازار ته لاړو. هغه اس ئے خرڅ کړو. بیا ورته معلومه شوه چه صبا به ئے غلام مری. نو هغه ئے هم خرڅ کړو. او زړهٔ کښے خوشحال شو چه تاوان نه مِ ځان بچ کړو. بیا ورته معلومه

شوه چه صبا ستا نیټه پوره ده. ډیر پریشان شو. او موسیٰ علیه السلام ته په ژړا لاړو چه اوس څهٔ اوکړم. موسیٰ علیه السلام ته وحي اوشوه. چه ورته اووایه. ما خو دَ کشف راز نه ډیر منع کړے وے. خو ته نهٔ منع کیدے. ځان ته دِ خپله مُصیبت جوړه کړه. اصل خبره داوه. چه ستا په کور څهٔ مُصیبت راتلونکے وو. نو مونږ دا اوغوښته چه هغه مُصیبت په خاروی راشی. تا خاروے خرڅ کړو. نو په غلام مو وا چولو. چه تا غلام هُم خرڅ کړو نو خپله په تا راغلو. که دَ کشف سوال دِ نهٔ وے کړے. خاروے او غلام به دِ نهٔ وو خرڅ کړی. نو ته به دَ مُصیبت نه بچ شوے وے. نو معلومه شوه چه بنیادم په خپل خیر نهٔ پوهیږی.

په دے کښے ذاکرانو او سالکانو ته هم نصیحت دے. که خپله ورته الله تعالیٰ په خپل فضل غیر اختیاری طور یو بهتر حالت ورکړی. نو هغه دِ یو نِعمت گنړی. او دَ خپل طرفه دِ دَ یو بهتر حالت خواهش نهٔ کوی.

شعر

به دُرد و صاف تراحکم نیست دَم دَرکَش — که هرچه ساقیٔ ما ریخت عین الطاف است

ر دَ خیرن او صفا ویلو درته څهٔ حق نشته غلے کینه. ساقی چه درته په جام کښے څهٔ وا چول دَ هغهٔ مهربانی ده ) یعنی سالک ته په قبض و بسط کښے څهٔ فرق کولو اجازت نشته. حق تعالیٰ چه درته کوم حالت خوښ کړی. هم هغه بهتر دے. په مجاهده کښے دَ یو خاص کیفیت خواهش نهٔ دے پکار.

شعر

تو بندگی چو گدایان بشرط مزد مکن — که خواجه خود رَوِشِ بنده پروری داند

ر ته دَ سوالگرو په شان دَ مزدورئ په شرط عبادت مهٔ کوه. ځکه چه ستا مالک دَ بنده پرورئ په طریقو ښهٔ پوهیږی ) کوم حالت چه الله درکړی هم هغه بهتر دے کله کله داسے کیږی چه ډیر ذوق و شوق او دَ انبساط حالت په زړهٔ کښے لوئی راولی. نو حقیقی مُربی دَ هغے علاج په دے طریقه اوکړی. چه دَ انقباض او خفگان کیفیت په راولی. دَ سرے تواضع او انکساری پیدا شی. غرض دا چه په خپل فکر ځانته یو حالت خوښول ښهٔ نهٔ دی ځان مولیٰ ته سپارل پکار دی.

شعر

فکر خود و رائے خود در عالم رندی نیست — کفر است درین مذهب خود بینی و خود رائی

(دَ سلوک په لار کښې دَ خپلې رائې او خپل فکر هیڅ دخل نشته. دَ سلوک په لار کښې خودبینی او خود رائی کفر دے.)

ځنې خلق ذکر کوی او چه یو خاص کیفیت او یو خاص حالت ورته حاصل نشی نو هغوی چه ځنې دَ غلط فهمئ په وجه اصل مقصود گنړلے وی. نو خفه شی. په ذکر ځنې فائده رانکړه. دا سے خلق سخت غلطی کوی. اصل مقصود دَ مولٰی رضا حاصلول دی. ذکر او عبادت دَ رضا دَ حصول یو ذریعه ده. چا چه ذکر اوکړو. هغه ته شکر پکار دے. چه الله تعالیٰ دَ عبادت توفیق ورکړو. په حقیقت کښې دا طلب او درد وغم خپله لوئے نعمت دے. شکر په پکار دے.

گفت آن الله تو لبیک ماست ... وین نیاز و سوز و دردت پیک ماست

(ورته ئے اووے دا ستا الله الله ویل دَ ذکر توفیق ورکول) ځما دَ طرفه جواب دے او دغه ستا درد او سوز او عاجزی ځما دَ طرفه قاصد دے.)

حضرت حاجی امداد الله صاحب رحمة الله علیه ته به چه چا مرید شکایت اوکړو چه ذکر ځنې فائده نه راکوی. نو هغوئی به ورته اوفرمائیل شکر اوباسه. چه دَ ذکر توفیق خوئے درکړو. او په دا سے موقعه به ئے اکثر دا شعر وے.

یابم اورا یا نیابم جستجوئے میکنم ... حاصل آید یا نیاید آرزوئے میکنم:

(بیائے مومم او که بیائے نه مومم کوشش خو کوم. په لاس راشی او که رانشی ارمان خو دے.) او دا به ئے فرمائیل. کوم عبادت نه پس چه الله تعالیٰ بیا دَ هغے توفیق ورکړی. دا دَ دے علامه ده. چه مخکښې عبادت ئے قبول کړے دے. دا خو ډیر لوئی نعمت دے. غرض دا په قبلیدل یواځې دا نه دی. چه دے چه ځنې غواړی. هم هغه کیفیات ورکړے شی. او عاشقان خو هډو دَ کیفیاتو خیال نه ساتی. دَ هغوئی خو دا حال وی.

از دعا نبود مرادِ عاشقان ... جز سخن گفتن بآن شیرین دهان

(دَ عاشقانو خو په دعا کښې بل ځنې مطلب نه وی بے دَ دے نه چه دَ حقیقی محبوب سره خبرے اوکړی.)

دَ خدائے عاشقان ، دَ مجنون نه کم خو نه دی. دَ مجنون دا حال وو.

(۱) دید مجنون را یکے صحرا نورد　　در بیابانِ غمش بنشستہ فرد
(۲) ریگ کاغذ بود وانگشتان قلم　　مے نمودے بہرِ کس نامہ رقم
(۳) گفت اے مجنون شیدا چیست این　　مے نویسی نامہ بہر کیست این
(۴) گفت مشقِ نامِ لیلےٰ میکنم　　خاطرِ خود را تسلی میدہم؛

(۱) یو سیلانی مجنون اولیدو۔ چه دَ خپل غم په صحرا کښې یواځې ناست دے۔
(۲) ریګ ئې کاغذ دے اوګوتې ئې قلم دے۔ چاته څۀ خط لیکی۔
(۳) ورته ئې اووے۔ اے عاشق مجنونه دا څۀ کوے۔ دا خط چاته لیکے۔
(۴) هغۀ ورته اووے۔ دَ لیلیٰ نوم بیا بیا لیکم۔ او خپل خفه زړۀ ته په تسلی ورکوم۔

دَ خدائے عاشقانو ته دَ خپل محبوب ذکر کول او دَ هغۀ خوږ نوم بیا بیا اخستل لوئ دولت خونۀ دے۔ چه دَ نورو کیفیاتو خواهش اوکړے شی۔

علاوه دَدے نه چه دُعا نۀ قبلیدو کښې مصلحت هم وی۔ یو فائده دا هم ده چه کومه دُعا قبوله نشی۔ هغه بنده دَپاره دَ آخرت توښه شی۔ اجرئې ورکولے شی۔ نو مسلمان دَ پاره دا ډیره دَ افسوس خبره ده۔ چه دَ آخرت په اجرقناعت اونکړی اودَ یو دُنیاوی فائدے په نۀ حاصلیدو غمژن شی۔ کامل مسلمان خو دَ آخرت په مقابله کښې دَ دُنیا بادشاهی هُم هیڅ نګنړی۔

یوه ورځ سلطان سنجر حضرت شیخ عبدالقادر جیلانی رحمة الله علیه ته خط واستولو۔ چه که ستا خوښه وی۔ نوزۀ دَ نیمروز دَ علاقے آمدنی دَ ستا دَ خانقاه دَخرڅ دَپاره پیش کوم۔ هغوئ ورته په جواب کښې دا دوه شعرونه اولیکل۔

چون چترِ سنجری رُخِ بختم سیاه باد　　در دل اگر بود هوسِ ملک سنجرم
زانگه که یافتم خبراز ملکِ نیم شب　　من ملکِ نیمروز بیک جوئے نخرم

(۱) دَ سنجر دَ بیرغ په شان دِ څما دَ بخت مخ تور شی۔ که په زړۀ کښې مِ دَ سنجر دَ بادشاهئ څۀ خیال وی۔ (دَ سنجر شاهی بیرغ تور وو)
(۲) کله نه چه مِ دَ نیمے شپے بادشاهی مونتی ده۔ دَ نیمروز بادشاهی څما په نظر کښې دَ اوړو نشی

دَ یوے دانے برابر هُم نۀ دہ۔

دا دَ دعا قبلیدو او نۀ قبلیدو متعلق ضروری خبرے وے. دَ ځنې خلقو دا شک دَے چه دُعا دَ رضا بالقضا خلاف دہ. دَ دے جواب دا دے. چه دعا او رضا دواړه جمع کیدے شي څۀ اختلاف نشته۔ په دے طریقه چه دَ دعا په وخت کښې دا خیال هم وی که قضا دَ دے دعا موافق وی هم په راضی یم۔ او که مخالف وی هم په راضی یم. او چونکه مولوٰتہ دَ دعا کولو حکم دے. نو دا هم په قضا کښې شمار دہ۔

ځنې کسان دَ حضرت ابراهیم علیه السّلام دَ قصے نه استدلال کوی. چه هغهٔ دَ جبریل علیه السّلام په وینا هم دُعا او نکړه - هغهٔ ته ئے اُووے. حَسْبُهٗ عَنْ سُؤَالِیْ عِلْمُهٗ بِحَالِیْ۔ (الله ځما په حال بنۀ خبر دَے ما ته ئے دَ وینا څۀ ضرورت نشته) یعنی که دَ هغهٔ رضا وی بچ به م کړی. او که نۀ م بچ کوی هم زۀ په راضی یم. هغوئ وائی دَ ابراهیم علیه السّلام دَ دے جواب نه دا سے معلومیږی چه دُعا دَ رضا بالقضا او تفویض و تسلیم خلاف دہ. نو دَ دے یو جواب خو دا دے. چه دا قصه دَ سیوطیؒ روایت دَے. رسند ئے قوی نۀ دے) په دلیل کښې نشي پیش کیدے. بلکه صحیح او منلے شی هم دا دَ شریعت خبره دہ. په مونږ حجت نۀ دہ. دریم دا چه هغه صاحبِ وحی وو. په هغه وخت هغهٔ ته دا معلومه شوی وہ. چه دے وخت کښې دُعا دَ رضا خلاف دہ. مولانا فرمائی۔

کفر باشد نزد شان کردن دُعا   که اے خدا ازما بگردان این قضا

(کاملان دا دُعا کفر گنړی۔ چه اے خدایه ځما نه دا قضا واپس کړے)

هغه خو په هر حال کښې په قضا راضی وی۔ په مونږ وحی نۀ راځی. چه دَ خاص وخت خاص حالت را ته معلوم شي۔ مونږ ته خو دَ دعا حکم دے. مونږ به سوال کوو۔ قبلول او نۀ قبلول ئے دَ هغهٔ په اختیار کښې دی. که قبول ئے کړی هم په راضی یو. او که قبول ئے نکړی هم په راضی یو. څلورم جواب ئے دا دے. چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم علم دَ ابراهیم علیه السّلامؑ دَ علم نه زیات کامل او مکمل وو. په ابراهیمؑ په دے وخت کښې دَ تفویض او تسلیم دَ حال غلبه وہ. دَ دعا فضیلت ترے مستور شوے وو.

په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندے به هر وخت د تسلیم ورضا فضیلت هم منکشف وو. او د دعا فضیلت هم.

نو هغوئ به دواړه جمع کول. نو مونږ ته د خپل رسول الله صلی الله علیه وسلم اتباع پکار ده.

د ډیرو بزرګانو نه د حال د غلبے په وخت کښے داسے کارونه شوی دی. چه مونږ ته د هغے تقلید جائز نۀ دے. نۀ ئے کولے شو او نۀ ترے انکار کولے شو. ځکه چه هغوئ په دے وخت کښے د حال د غلبے په وجه معذور ګڼړلے شو.

لکه د شاه فخرالدین دهلویؒ واقعه ده. چه یوه ورځ د جُمعے د مانځه نه را او وتو. د جامع مسجد په پوړو کښے ورته یوے بوډئ د شربت جام پیش کړو. د شاه صاحب نفلی روژه وه. خوشحالے ئے وڅکلو. چا ورته اووے ستاخو روژه وه. شاه صاحب ورته اووے. د روژے که په قضا پوره کیدے شی. او د چازړۀ چه خفه شی. د هغے علاج نشته.

حضرت حاجی صاحبؒ به فرمائیل. شاه صاحب باندے دے وخت کښے د حال غلبه وه. د قلب فضیلت ورته منکشف شو. (ښکاره) شو. او د روژے فضیلت ترے مستور (پټ) شو. که کامل وے. او په حال غالب وے. نو دے وخت کښے به ئے بوډئ په نرمئ سره په خپله چل ول خوشحاله کړی وه. او روژه به

ئے نۀ وه ماته کړی۔

دَ مغلوب الحال تقلید بل چاته جائز نۀ دے دَ شریعت صفا احکام موجود دی۔ چه هیڅ خطره پکښې نشته۔

الغرض دا یو څو اسباب دَ مُعانه دَ غفلت دَ یو عام قاعدے په طور بیان شو۔ اوس دَدے نه جُزوی اسباب هر هوښیار سړے خپله راویستے شی۔

وَ اٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۞ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ ۞ وَ عَلٰی اٰلِهٖ وَ اَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ ۞ بِرَحْمَتِکَ يَا اَرْحَمَ الرّٰحِمِيْنَ ۞



Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

دعواتِ عبدیت اول جلد

څلورم وعظ

# سِیرَةُ الصُّوفِیْ

دَصوفي کردار (معمولات :-)

(له ارشاداتو دَحکیمُ الاُمّت)

حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہِ

(پښتو ترجمه)

له سَیِّد تسنیم الحقّ دکاکاخیل)

ناشِران :- یونیورسټی بک ایجنسی خیبر بازار

(پیښاور ښهر

# خلاصه

دَ ځنے کسانو دا خیال دے. چه دَ تصوّف معمولات صوفیانو دَ ځانه جوړ کړی دی. شریعت کښے څۀ ثبوت نشته. دَ ځنے مریدانو په درخواست حضرت تهانویؒ دَ سورةِ مزمل داسے تفسیر بیان کړے دے چه دَ تصوف بنیادی معمولات تهجد - دَ تلاوت کثرت. دَ ذکر کثرت - تبلیغ و تربیت چه توکل او تفویض وغیره تر صفا ثابتیږی. نو اوس څوک دا نشی ویلے چه دَ صوفیانو دا معمولات بدعت دے. یا دا چه شریعت او طریقت دواړه جُدا جُدا څیزونه دی. ضمناً پکښے دَ دیندارو او دنیا دارو صحیح مطلب هم بیان شوے دے. او دا چه دَ شریعت احکام بنیادی طور ټول آسان دی. خو مونږ ځان ته خپله ګران کړی دی. چه ټوله معاشره دَ شریعت خلاف رسم ورواج باندے روانده. نو یو کس یواځے که په شریعت عمل کوی. دَ ټولے معاشرے خلاف چلیدل ورته ګران شی.

دا وعظ حضرت تهانویؒ دَ تهانه بهون په جامع مسجد کښے یعنی خپله خانقاه کښے دیره زیرِ تربیت عالمانو سالکانو ته په ۲۳ رصفر ۱۳۲۹ه کښے تقریباً درے نیمے ګهنټے کښے کړے دے - او مولوی نور حسین صاحب قلمبند کړے دے.

په دے کښے دَ یو صوفی دَ پاره دَ ژوند پوره دستور العمل بنیلے شوے دے. (ت)

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ نَحۡمَدُهٗ وَنَسۡتَعِيۡنُهٗ وَنَسۡتَغۡفِرُهٗ وَنُؤۡمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيۡهِ ط وَنَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنۡ شُرُوۡرِ اَنۡفُسِنَا وَمِنۡ سَيِّئَاتِ اَعۡمَالِنَا مَنۡ يَّهۡدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنۡ يُّضۡلِلۡهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ ط وَنَشۡهَدُ اَنۡ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحۡدَهٗ لَاشَرِيۡكَ لَهٗ وَنَشۡهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبۡدُهٗ وَرَسُوۡلُهٗ ط

اما بعد. فاعوذ باللّٰه من الشيطٰن الرجيم ٥ بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم ط

يٰۤاَيُّهَا الۡمُزَّمِّلُ قُمِ الَّيۡلَ اِلَّا قَلِيۡلًا نِّصۡفَهٗۤ اَوِ انۡقُصۡ مِنۡهُ قَلِيۡلًا اَوۡزِدۡ عَلَيۡهِ وَرَتِّلِ الۡقُرۡاٰنَ تَرۡتِيۡلًا ٥ اِنَّا سَنُلۡقِيۡ عَلَيۡكَ قَوۡلًا ثَقِيۡلًا ٥ اِنَّ نَاشِئَةَ الَّيۡلِ هِيَ اَشَدُّ وَطۡاً وَّاَقۡوَمُ قِيۡلًا ٥ اِنَّ لَكَ فِى النَّهَارِ سَبۡحًا طَوِيۡلًا ٥ وَاذۡكُرِ اسۡمَ رَبِّكَ وَتَبَتَّلۡ اِلَيۡهِ تَبۡتِيۡلًا ٥ رَبُّ الۡمَشۡرِقِ وَالۡمَغۡرِبِ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَاتَّخِذۡهُ وَكِيۡلًا ٥ وَاصۡبِرۡ عَلٰى مَا يَقُوۡلُوۡنَ وَاهۡجُرۡهُمۡ هَجۡرًا جَمِيۡلًا ٥ وَذَرۡنِىۡ وَالۡمُكَذِّبِيۡنَ اُولِى النَّعۡمَةِ وَمَهِّلۡهُمۡ قَلِيۡلًا ٥ اِنَّ لَدَيۡنَاۤ اَنۡكَالًا وَّجَحِيۡمًا وَّطَعَامًا ذَا غُصَّةٍ وَّعَذَابًا اَلِيۡمًا ٥ يَوۡمَ تَرۡجُفُ الۡاَرۡضُ وَالۡجِبَالُ وَكَانَتِ الۡجِبَالُ كَثِيۡبًا مَّهِيۡلًا ٥

(اے په څادر کښې پټه د شپې په مانځه اودریږه. مګر لږه حصه (په دې کښې آرام کوه) نیمه یا د نیمې نه لږه کمه یا لږه زیاته (یعنی خاص د نیمې سخته پابندی نشته. که د نیمې نه لږ کم عبادت کوے او که لږ زیات. خو ټوله شپه به عبادت مه کوه. څه آرام هم کوه. (ځکه چه د ورځې دِ هم په سر د تبلیغ ډیر کارونه دی) او قرآن ښه صفا صفا وایه. مونږ به تا یو درونډ کلام اچونکی یو. بیشکه د شپې پاڅیدل لوکښې د ډېر اوزړه تعلق مضبوط وی. او خبره صفا کیږی. بیشکه په تا باندے د ورځې ډیر کار دے. او د خپل ربّ نوم یاده. او د نورو ټولونه تعلق پریکړه. هغهٔ ته متوجّه شه هغه د مشرق او د مغرب مالک دے. نیشته بل معبود لائق د عبادت بے د هغهٔ نه. نو خپل

ټول کاروته هغهٔ ته اوسپاره. او دا خلق چه درته څهٔ خبرے کوی په هغې صبر کوه. او په ښهٔ طریقه دَ دوئ نه ځان جُدا ساته. او دا تکذیب کوونکی په عیش وارام کښې اوسیدونکی ما ته پریده. او څو ورځې مهلت ورکړه. مونږ سره دلته بیړئ دی. او دَ دوزخ اُور دے. او په مرئ کښې نښتونکے خوراک دے. او دردناک عذاب دے. په کومه ورځ چه به زمکه او غرونه اولړزیږی. او غرونه به لکه دَ نری ریګ روان وی.)

(حضرت تهانوی فرمائی) ځنې دوستانو سالکانو راته خواست کړے وو. چه که مونږ دَپاره دَ ژوند دَ دستور العمل په طور څهٔ بیان اوشی. نو ښه به وی. هغه وخت مې په ذهن کښې څهٔ خاص مضمون رانغلو. نو پخه وعده مې ورسره اونکړه. بل دا چه دا سے خبرو دَپاره خلوت مناسب وی.

نن سحر مې په زړهٔ کښې دَ سورهٔ مُزمّل ابتدائی آیتونه راغلو. او دا راته معلومه شوه چه په دے کښې دَ سلوک ټولے طریقے بیان شوی دی. نو ځکه مې نن وعظ دَپاره دَ دے آیتونو تلاوت اُوکړو.

دَ بیان نه مخکښې دا خبره ضروری ګنړم. چه عام خلق دِ دا خیال نهٔ کوی. چه دا خو دَ سالکانو خبرے دی. مونږ دُنیا دارو ته دَ دے په اوریدو کښې څهٔ فائده نشته. سمه خبره داده. چه دا تقسیم غلط دے. چه دُنیا دارو دَپاره بیل احکام دی. او دینداړو دَپاره بیل احکام دی. ځکه چه مسلمانئ کښې دواړه برابر دی. شرعی حکم دواړو دَپاره یوشان دے. بلکه مسلمانانو کښې هیڅو دُنیا دارشته نه ټول دیندار دی. ځکه چه اصل کښې دُنیا دار هغه دی. چه دَ حلال او حرام فرق نهٔ کوی. هرڅنګه چه وی مال راجمع کوی. او دغه دَ ژوند اصل مقصد ګنړی او که کله دَ دواړو مقابله راشی. نو دنیاوی فائده غوره کړی. او دَ شریعت حکم شاته کړی او وائی مونږ په دین نشو چلیدے. دَ شریعت احکام دومره ګران دی. چه که مونږ په عمل شروع کړو. نو دَ دنیا ژوند به راباندے تنګ شی.

ظاهره ده چه په اسلام کښې دَ دے خیالاتو ګنجائش نشته. الله تعالیٰ فرمائی. یُرِیْدُ اللّٰهُ بِکُمُ الْیُسْرَ وَلَا یُرِیْدُ بِکُمُ الْعُسْرَ- دالله تعالیٰ ته په ستاسو آسانی منظوره ده. په تاسو سختی

کول نهٔ غواړی) او ارشاد دے لَا یُکَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا - (الله هیچا ته دَ طاقت نه زیات تکلیف نهٔ ورکوی) نو الله تعالیٰ خو فرمائی. دَ شریعت احکام آسان دی- او دَ ستاسو دَ وَس نه بهر نهٔ دی. او تاسو وائی چه گران دی مونږ په عمل نشو کولے- څو مونږ ژوند په خرابیږی. نو دا خو صفا دَ الله تعالیٰ دَ کلام تکذیب شو که څوک او وائی چه څومونږ نیت خو دَ تکذیب نهٔ دے. دَ الله کلام ته دروغ نهٔ وایو. لیکن دَ ژوند روزانه واقعات په دے گواهی ورکوی. چه په شریعت چلیدل گران دی. نو په دے کښے څومونږ څهٔ قصور دے-

دَ دے جواب دا دے- چه یو خو سختی وی په اصل حکم کښے چه هغه کار خپله گران وی. دے ته وائی اِصْرٌ وَاِغْلَالٌ. دَ زړو امتونو په شریعت کښے ځنے حکمونه داسے گران وو. لیکن په اُمتِ محمّدی صلے الله علیه وسلم الله تعالیٰ ډیر رحم کړے دے. دَ سے گران حکم ئے پکښے یو هم نهٔ دے اینیے- او دویم دا چه اصل حکم کښے سختی نهٔ وی. لیکن مونږ دَ خپلو فاسدو اغراضو په وجه خپل حالت داسے خراب کړے دے او ټول قوم په جمع دَ شریعت خلاف داسے عادتونه او رواجونه اختیار کړی دی. چه که یو سړے دَ شریعت په حکم چلیدل غواړی. نو هغه به دَ ټول قوم او رسم و رواج خلاف روان وی. نو ضروری به ورته آسان کار گران ښکاری او مشکلات به ورته جوړیږی-

دَ دے مثال داسے دے لکه یو طبیب یو غریب مریض ته ډیره ارزانه نسخه او یو عام معمولی شے اولیکی. لیکن اتفاق سره هغه مریض په یو داسے بانړه کښے اوسی. چه هلته دا عام او ارزان شے هم نهٔ پیدا کیږی. او هیڅوک ئے هُم نهٔ ساتی. نو دَ خلقو دَ دے بے وقوفی په وجه به ضرور هغه مریض ته سخت مشکلات پیښ شی. حالانکه طبیب ورته ډیره عامه او ارزانه نسخه لیکلی وه. دلته به هر یو هوښیار سړے دا او وائی. چه حکیم صاحب خو ورسره ډیره مهربانی کړی وه. ډیر آسان علاج ئے ورته ښیلے وو. لیکن قصور دَ دے کلی دَ خلقو دے. چه داسے ارزان دارو هُم نهٔ ساتی-

دغه حال څومونږ دے. چه ټول قوم په یو اتفاق خپل عادتونه خراب کړی دی.

او دَ شریعت خلاف رسمونه او رواجونه مو روان کړی دی۔ نو اوس او وائی چه دَ شریعت احکام ګران دی۔ که څمونږ قصور دے چه دَ شریعت خلاف روان یو۔

مثلاً نوکران وائی چه تنخواه کمه ده۔ که رشوت نهٔ اخلو نو ګذاره مونه کیږی۔ که ټول قوم دَ فضول خرچئ په لار نهٔ وے روان۔ ساده ژوند ئے تیرولے۔ نو تنخواه به ولے نهٔ کافی کیده۔

یا مثلاً اکثر دَ میوو باغونه۔ دَ خټکو۔ اَمونو۔ آمردو وغیره باغونه په ګُل کښے خرڅیږی چه میوه ئے یا څرګنده شوی نهٔ وی۔ داسے سودا شریعت منع کړی ده۔ خو چه عام خلق ئے کوی نو یو کس ته دَ دے په خلاف کښے تکلیف او تاوان وی۔ که ټول قوم اتفاق اوکړی چه ګل کښے به باغ هیڅوک نهٔ خرڅوی۔ نو هیڅ تکلیف نشته — ګران کار هغه دے که ټول خلق ئے پر اتفاق کول غواړی۔ هم چه نهٔ ئے شی کولے۔ دا عارضی مشکلات مونږ ځانته خپله پیدا کړی دی۔ چه خپل عام عادتونه او رواجونه مو دَ شریعت خلاف روان کړی دی۔ عجیبه خبره ده۔ خلق دے ته سوچ نهٔ کوی چه دا مشکلات مونږ ځانته خپله پیدا کړی دی۔ او په شریعت الزام لګوی۔ چه په شریعت عمل ګران دے۔

دَ دے مثال داسے دے۔ لکه مثنوی کښے چه یو واقعه بیان شوی ده۔ چه یو زمری سویه رانیوه په اوبو کښے ورته خپل ځان او سویه ښکاره شو۔ نو داخیال ئے اوکړو۔ چه دا جوړے بل زمرے دے۔ ځما په ښکار حمله کوی۔ سویه ئے پریښوه۔ او په زمری ئے حمله اوکړه۔ نو اوبو ته پریوتو۔ سویه ترے لاړه او تښتیده۔ اصل کښے هغهٔ په خپل ځان حمله کوله۔

دغه شان مونږ ته هم دَ شریعت په آئینه کښے خپل عیبونه ښکاره شی۔ نو دَ خپلے بے وقوفئ الزام په شریعت اولګوو۔ چه شریعت کښے تنګی ده۔ در حقیقت دا په شریعت حمله نهٔ ده۔ په خپل ځان حمله ده۔

حمله بر خود میکنی اے ساده مرد　　همچو آن شیرے که بر خود حمله کرد

(آسادہ سړیہ تہ پہ خپل ځان حملہ کوے. لکہ هغہ زمری چہ پہ ځان حملہ کړی وہ)
ځنے خلق وائی چہ موږ ناجائز کارونہ لکہ رشوت وغیرہ دَضرورت پہ وجہ
کوو. لیکن دوئ چہ څۀ شی تہ ضرورت وائی. دا پہ اصل کښے ضرورت نۀ دے. بلکہ
دَنفس خواهشونو او لذتونو تہ ئے دَضرورت نوم ایښے دے.
لکہ دَیوکس پہ تنخواہ کښے دومرہ ګنجائش وی چہ سادہ جامہ او سادہ خوراک
پکښے کولے شی. لیکن قیمتی جامہ سوټ بوټ او مزیدار خوراکونہ پکښے نۀ کیږی.
دے دَپارہ بہ رشوت اخلی. یا بل څۀ ناجائز آمدنی بہ پیداکوی، پہ داسے وخت
کښے یو هوښیار هم دا نشی ویلے. چہ دۀ تہ واقعی دَرشوت اخستو ضرورت دے.
او کہ سادہ ژوند کښں څۀ تکلیف وی. نو آخر دَصبر تعلیم او دَصبر اجرونہ خو هم
دَدغہ شان حالت دَپارہ دی. او کہ دَصبر دَ اندازے نہ هم خبرہ واوړی. نو دا سے
خلقو دَپارہ پہ شریعت کښے خاص قواعد مقرر دی. دَهغے نہ فائدہ اخستے شی.
غرض دا چہ یو مسلمان دَپارہ پہ هیڅ حالت کښے دُنیا تہ پہ دین ترجیح ورکول جائز
نۀ دی. نو پہ دے حیثیت سرہ مُسلمان هډو دُنیا دار کیدے نشی. صِرف غیرمسلم
دُنیا دار دی. چہ هغوئ دَ دین پہ مقابلہ کښے دُنیا خوښہ کړی دہ. پہ دے طرز
دَدے شعر معنیٰ بالکل صفا دہ.

اهلِ دُنیا کافران مُطلق اند روز وشب در بق بق و در زق زق اند

(پہ وړنبئ مصرع کښے خبر مقدم دے او مبتدا مؤخر دے. یعنی څوک چہ مطلق کافران
دی هُم هغہ اهلِ دُنیا دی. چہ شپہ او ورځ پہ فضول کارونو او فضول خبرو کښے مشغول
وی.) باقی پاتے شو مسلمانان. نو دَ هغوئ خو شان دا دے. اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ
اٰمَنُوْا. (اللہ دَ ایماندارو دوست دے) پہ دے کښے عامو مسلمانانو تہ دَولایتِ عامہ
خوشخبری دہ. البتہ دَولایتِ خاصہ دَپارہ یو قید بل هم دے. اَلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا
وَكَانُوْا يَتَّقُوْنَ ۝ (یعنی چہ دَایمان سرہ پرهیزګار هم وی)
او کہ دَ دنیا دار معنیٰ دا واخستے شی: طَلَبُ الْمَالِ عَلٰى وَجْهِ الْحَلَالِ (پہ جائزو

طریقو دَمال گټلو کوشش کول) نو دا دَ دین منافی نۀ دے. پیغمبرانو هُم تجارت زراعت. صنعت. خوراک. څښاک. نکاح وغیره دَ دُنیا کارونه کړی دی۔ غرض دا چه دَ دنیا کار کسب کول په جائز طریقو. چه دَ شریعت خلاف نۀ وی دُنیاداری نۀ ده. دَ الله تعالیٰ رحمت خو دومره وسیع دے. چه گنهګار مؤمنان ئے هم دَ ولایتِ عامه نه محروم کړی نۀ دی. فرمائی ثُمَّ اَوْرَثْنَا الْكِتَابَ الَّذِيْنَ اصْطَفَيْنَا مِنْ عِبَادِنَا فَمِنْهُمْ ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ وَمِنْهُمْ مُّقْتَصِدٌ وَمِنْهُمْ سَابِقٌۢ بِالْخَيْرَاتِ بِاِذْنِ اللّٰهِ ط (بیا مو داکتاب هغه خلقوته اورسولو کوم چه مونږ په خپلو بندیانو کښے غوره کړل. بیا په هغو کښے څنو خو په خپل ځان ظلم اوکړو. او څنے متوسط وو. او څنے ورکښے دَ خدائے په حکم نیکیو کښے مخ په وړاندے روان دی.)

ظاهره ده چه منهم ظالم لنفسه او منهم مقتصد او منهم سابق بالخیرات درے واړه دَ الذین اصطفینا اقسام دی. او دَ مقسم صدق په هرقسم واجب دے. نو اصطفا کښے ظَالِمٌ لِّنَفْسِهٖ هم راغلو. بنه نو هرکله چه دَ گناه سره هُم ولایتِ عامه او اصطفا باقی پاتے کیدے شی. نو دَ ژوند په ضروری کارونو کښے مصروفیت سره به ولے منافی وی۔

دَ حیرانتیا خبره ده. چه څوک په خپله خوله په خپل ځان ځنګه داسے دَ ذلت او بےغیرتئ نوم کیدی (یعنی وائی چه مونږ خو دُنیاداریو) چه دوئ هغه و الله تعالیٰ دین دَ پاره پیدا کړی نۀ وی۔

او غضب خو دادے چه دے نیک بختانو ځانته خپله داسے دَ بےغیرتئ نوم خوښ کړے دے. لیکن دیندارو باندے هم ډیرے ډیرے بے ډیرے په نومونه کیدی. څوک طالبانو ته دَ جمات گهوری وائی او څوک څۀ۔

په دے نوم پورے راته یو لطیفه رایاده شوه. دَ جمات یو طالب تریو کیرجن مالدار دَ جمات گهوړے اووے. هغۀ ورته په جواب کښے اووے گهوړے خو بیا هم دَ دُنیا دَ سپی نه هر حال ښۀ دے. په دے جواب کښے دَ غور قابل نکته داده چه طالب ته جمات گهوړے ویل خو یو

دعوه ده بے دلیله - لیکن دا مالدار خوځانته خپله دُنیا سپے وائی. او بنده په خپل اقرار پرے دے۔

غرض داچه دا قسم نوموته خپل ځان دَپاره یا دَبل دَپاره کیښول بدکار دے الله تعالیٰ فرمائی۔ وَلَا تَنَابَزُوا بِالْأَلْقَابِ ۖ بِئْسَ الِاسْمُ الْفُسُوقُ بَعْدَ الْإِيمَانِ ۚ (یو بل په خرابو نومونو مه یادوئ. دَایمان نه پس دَګناه خبرے ډیر بدکار دے ــــ) حدیث شریف کښے دی لَيْسَ لَنَا مَثَلُ السَّوْءِ - (خراب مثالونه مونږ (یعنی مؤمنانو دَپاره نه دی) دَحیرانتیا خبره ده چه ځنے خلق دا خراب نومونه تواضع او انکسار ګڼړی.

(حضرت تهانوی فرمائی) په دے پورے یو واقعه را یاده شوه. یو ځل په کار کښے ماته محتاج سیټ باندے ناست یو توقمار مالدار بل ته دَروټئ ست کولو. ورته ئے اووے. راشه خدۓ غُل غوشا په مونږ سره اُوخوره. هغهٔ ورته اووے تا خودَ خوراک بے ادبی اوکړه. هغهٔ ورته اووے ماخو تواضع کوله. دَبے ادبئ نیت م نهٔ وو. نو دا سے تواضع ناروا ده. او حماقت دے. راز پکښے دادے چه څوموږ هرشے تردے چه څومونږ خپل نفس هم په حقیقت کښے څومونږ ذاتی ملکیت نهٔ دے. چه په خپله خوښه ورکښے هرقسم تصرّف کولے شو. بلکه دا ټول سرکاری مال دے. اصلی مالک دَهرڅیز الله تعالیٰ دے. مونږ ټول سرکاری نوکران یو. دَیو خاص حد دننه ئے مونږ ته ئے دَاستعمال اجازت دے. دَسرکاری قانون خلاف استعمال او بے قدری کول ئے جائز نهٔ دی ــــ اهل الله کله کله په دَې بنا دَخپل نفس هم قدر کوی. لیکن عام خلق په دے خبره نهٔ پوهیږی۔

در نیا بد حالِ پختہ هیچ خام　　پس سخن کوتاه باید والسلام

(هیڅ یو ناقص دَکامل په حال نشی پوهیدے. خبره لنډه پکار ده بس وَالسَّلام)

نو اهل الله په دے وجه دَخپل نفس قدر کوی چه دا سرکاری مال دے حفاظت ئے ضروری دے. څومونږ لاس پښے دماغ او نور طاقتونه ټول سرکاری څیزونه دی چه تر یو مقرره نیټے ئے دَیو مقرر حد دَننه مونږ ته دَاستعمال اجازت راکړے شوے دے. که مونږ دَبے اعتدالئ او غلط استعمال په وجه دا څیزونه خراب کړو. نو خپله به دَملامتے ځائے

او دَ عذاب حقدار یو۔ دَ رسولِ اکرم صلے اللہ علیہ وسلم صفا ارشاد دے۔ اِنَّ لِنَفْسِکَ عَلَیْکَ حَقًّا وَاِنَّ لِزَوْجِکَ عَلَیْکَ حَقًّا وَاِنَّ لِعَیْنِکَ عَلَیْکَ حَقًّا۔ دَ ستا دَ خپل نفس ہم پہ تا حق دے او دَ ستا دَ ښځے ہم پہ تا حق دے۔ او دَ ستا دَ سترګو ہم پہ تا حق دے )

نو دَ خپل بدن دَ خپل دماغ او سترګو حفاظت او خدمت پہ دے نیت کول چہ دا څونږ دَ مولیٰ امانت دے۔ مونږ تہ ترځہ وختہ حوالہ شوے دے۔ دَ دے عزت او حفاظت پہ خادم ضروری دے۔ دَ ثواب کار دے۔ ہم دغہ مطلب دے دَ اِنَّمَا الْاَعْمَالُ بِالنِّیَّاتِ ـ (دَ اعمالو ثواب پہ نیتونو دے) او ہم پہ دغہ مرتبہ کښے چہ څونږ دَ اندامونو تعلق دَ حقیقی محبوب سرہ دے۔ یو شاعر ویلی دی۔

نازم بچشم خود کہ جمال تو دیدہ است افتم بہ پائے خود کہ بہ کویت رسیدہ است

ہردم ہزار بوسہ زنم دست خویش را کو دامنت گرفتہ بسویم کشیدہ است

(زۂ پہ خپلو سترګو فخر کوم چہ ستا جمال ئے لیدلے دے۔ زۂ پہ خپلو ښپو پریوځم چہ ستا کوڅے تہ رسیدلی دی ہرساعت خپل لاس زر ځلہ ښکلوم۔ چہ ستا لمن ئے نیولی او ما تہ ئے را ښکلے ئے۔)

او چا چہ دَ دے اندامونو نسبت ځان تہ کړے دے۔ نو دَ دغے نسبت پہ وجہ ئے دا شعر ویلی دی

رشکم بخدا آید ز دو چشم روشنِ خود کہ نظر دریغ باشد بچنین لطیف روئے

دقسم پہ خدائے ماتہ پہ خپلو دواړو روښانہ سترګو رشک راځی۔ افسوس دے چہ دوئی داسے ښائستہ مخ تہ ګوری۔) دا شعر پہ غلبۂ حال کښے ویلے شوے دے۔ دَ اہلِ مقام تحقیق مخکینی اشعار دی۔

حضرت جنید بغدادیؒ تہ چا اووے۔ چہ تۂ خو دَ وصال پہ دولت موړ شوے ئے۔ (یعنی کمال تہ رسیدلے ئے) نو اوس تسبیح څۂ دَ پارہ ساتے۔ ہغۂ څۂ عجیبہ جواب ورکړو روره دَ کوم څیز پہ برکت چہ زۂ دومرہ غنی دولت مونتے دے۔ دَ ہغے مرګ تیا اوس څنګہ پریدم۔ دا بے ځی رانہ نشی کیدے۔ حدیث شریف کښے راغلی دی۔ چہ څوک جہاد دَ پارہ آس ساتی۔ دَ دے اس دیران بہ ہم نۂ بربا دیږی۔ بلکہ دَ میزان پہ تلہ کښے بہ دَ نیکی پہ پلہ کښے اچولے شی۔ او دَ دے ثواب بہ ورکولے شی۔ دا ټول دَ نسبت اِلَی اللہ برکت دے۔

چه دَ اَس دیران هم دَ نیکئ په تله کښے اچولے شی. دَدے مثال داسے دَے لکه په مٹهائی کښے که خسنړے وی. هغه هم دَ مٹهائی په تول کښے دَ مٹهائی په قیمت خرخیږی.

دَ دعا په اول او آخر کښے درود شریف ویلو کښے هم داحکمت دَے. چه دَ درود شریف خو الله تعالیٰ ضرور قبلوی. او دادَ هغے رحیم وکریم بادشاه دَ شان نه بعیده ده. چه اول او آخر ئے قبول کړی او ترمینځه داکیږشے ترِنه اوغورځوی. او درود شریف خو قبلیږی. ځکه چه الله تعالیٰ په خپل حبیب خپله بے دَ چا دَ سوال نه خپل رحمتونه نازلوی. نو چه بندیان ورته سوال اوکړی. هغه خو به ضرور قبلوی. دَدے مثال داسے دے لکه یو سړے خپل ځوئ ته دَ اختر دَ سیل دَپاره ضرور څۀ رقم ورکوی. خوکه څوک ئے سفارش اوکړی. نو دَ هغۀ نه هم خوشاله شی. چه ځما دَ هلک سره ئے مینه ده. نو درود شریف خو قبلیږی. دَدے په برکت به دَ ویونکی دُعا هم قبوله شی. دَدے مثال داسے دے. لکه چنړو باندے چه چینی اوخیژولے شی. نو په خوږو کښے حساب شی. هغه چنړے هم دَ خوږو په تول کښے دَ خوږو په قیمت خرڅے شی. دغه شان دُعا هم چه اول آخر ته درود شریف او ویلے شی. په درود کښے اونغښتے شی. نو دَ درود شریف سره قبوله شی.

دغه راز او حکمت دَ جمعے په مانځه کښے هم دے. په جمع کښے داسے کسان هُم وی چه دَ هغوئ دَ مونځ قبلیدو گُمان غالب وی. ورسره دُعا مو مونځ هم مرکرے وی. نو هغه هم قبول شی. په شریعت کښے دَدے نظیر دادے چه یو ځائے کړ چا خو خیزونه آخستی وی په هغو کښے څۀ واپس کول غواړی. نو حکم دادے چه یا به تول واپس کوی او یا به تول ساتی یو ځائے سودا کښے دانشی کولے چه څۀ خیزونه واپس کړی او څۀ او ساتی. البته که نرخ ئے بیل بیل معلوم وی. نو چه کوم ئے نړۀ وی خوښ هغه واپس کولے شی. نو دَ الله تعالیٰ معامله دَ بندیانو سره دغه شان ده. او دَ جمعے دَ مانځۀ حکم هم په دے غرض شوے دے. دا خو کیدے نشی چه دَ بدانو دَ شراکت په وجه الله تعالیٰ دَ نیکانو مونځ هم رد کړی. دَ شریعت دَدے حکم په وجه دا هم نشی کیدے چه دَ نیکانو قبول کړی او دَ بدانو رَد کړی ځکه چه تول په یو ځائے ورغلی دی. نو دَ هغۀ وسیع رحم و کرم نه دا طمعه ده. چه

ټول به قبول کړی۔

البته یو شک پاتې شو۔ چه جمُع خو په فرض مونځونو کېږي وی۔ نو هغه خو به ټول قبول شی۔ لیکن نفل او سنت به دغه شان پاتې شی۔ نو دَ دې جواب دا دې چه نفل او سنت دَ فرضو تابع دی۔ او تابع همیشه دَ متبوع په حکم کښې وی۔ فرض چه ئې الله تعالی دَ جمُع په برکت قبول کړی۔ نو نفل او سنت به ئې دَ دې مقبولو فرضو په برکت قبول شی۔ لکه یو سړے چه ښاروے واخلی نو ورسره دَ هغې جلب هم راشی۔ زوړوی او کټوی نو نیکا نو سره مرکز تیا کښې دا فائده دے دی۔

دغه شان یو سړے په یو دُنیاوی کار کښې په نیک نیت هُم ثواب ګټلے شی۔ لکه دَ یو بزرګ قصه ده۔ چه دَ یو مُرید کورته ورغلو۔ دَ هغهٔ په کوټه کښې ئې روشندانه اولیدو۔ ورته ئې اووے داڅه وله پریښے دے۔ هغهٔ ورته اووے دَ رڼړا دَ پاره۔ پیرصاحب ورته اووے۔ که دا نیت دِ کړے وے چه دَ اذان آواز به پکښې راځی۔ نو ثواب به دِ شوو و رڼړا خو به ورکښې بیا هم راتله۔ مطلب دا چه دُنیاوی کار کښې هم نیک نیت یکار دے۔ نو دا سې دُنیاداری دَ دین خلاف نۀ ده۔ او دا سې دُنیادار دیندار هم دے۔

چه صِرف دُنیا دَ ژوند اصل مقصد اوګڼړی۔ په دے معنیٰ یو مسلمان هُم دُنیادارنۀ دے۔ نو مسلمانان ټول دیندار دی۔ دا دوه قسمه پکښې خلقو دَ جهالت په وجه جوړ کړی دی۔ او چه فرق پکښې نشته نو جدا جدا دستورالعمل ته څۀ ضرورت شو۔ دا بیله خبره ده۔ چه دَ څۀ عذر یا مصروفیت په وجه پکښې څۀ کمے راشی۔ نو دَ کُنړ دا نۀ لازمیږی چه دستور العمل دِ ئې جُدا جُدا شی۔ دستور العمل ئې یو دے۔ خو دَ وخت او ضرورت لحاظ به پکښې ساتلے شی۔

نو دا خو فیصله شوه چه دستور العمل ټولو مسلمانانو دَ پاره یو دے۔ لیکن دَ عوامو دا شک پاتې شو چه شاید په دے دستور العمل باندے یو هیدو دَ پاره څۀ شرائط وی۔ او دا دَ خواصو کار دے۔ نو دا شک غلط دے۔ ځکه دَ اعمالو فائده دَ خپل استعداد مناسب هرچا ته رسی۔ لکه پلاؤ ټول خوک خوری۔ نو هغه کسا نو ته هُم خوند ورکوی

چاته چه ئې ټول اجزاء معلوم وی. او هغه سړی ته هم خوند ورکوی څوک چه ئې اجزاء نهٔ پیژنی. دغه شان دَ خوند نه علاوه بدنی طاقت هم دواړو ته یو شان وی کوی.

نو دَ نیکئ فائده عامه ده. البته دومره ده چه خواصو ته به دَ پوهې په وجه لږ خوند زیات ورکړی. او شاید چه دَ نیت دَ اصلاح په وجه وی ته آخرت کښې ثواب هُم دَ اصل عمل نه څه زیات ورکړے شی. لیکن اصل ثواب کښې عوام او خواص دواړه یو شان دی. ـــــ اوس هغه دستور العمل بیانوم. کوم چه هر مسلمان دَ پاره پکار دے. دَ دے متعلق ټول ضروری هدایات په دے آیتونو کښې راغلی دی. دَ کوم چه دَ وعظ په ابتدا کښې تلاوت شوے دے. ارشاد دے. یٰاَیُّهَا الْمُزَّمِّلُ. هرڅوکه دا خطاب رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دے. لیکن حکم ئې ټول اُمت ته عام دے. دَ مزمل معنٰی ده په څادر کښې پټ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم چه دَ اسلام تبلیغ شروع کړو. نو ټول قوم دَ هغوئ مخالف شو. دَ هغوئ تکذیب به ئې کولو. او ایمان ئې نهٔ راوړو. دَ الله تعالیٰ په آیتونو پورے به ئې ټوقے مسخرے کولے. په دے به حضوؐر ته ډیر تکلیف رسیدو. او ډیر به خفه کیدو. ځکه چه هغوئ خو دا غوښته چه دوئ ایمان راوړی. او دَ دوزخ دَ اور نه بچ شی. او چه هغوئ ایمان نهٔ راوړو. ځان ئې په زوره دوزخ ته غورزولو. نو هغوئ به دَ خپل رحمت او شفقت په وجه په دے ډیر خفه کیدل.

یوه ورځ دَ ډیر خفګان نه ځان په څادر کښې را نغښلے وو. پروت وو. په دا سے حالت کښې دا وحی راغله. او هم دَ دے حالت مناسب په یٰاَیُّهَا الْمُزَّمِّلُ سره ورته خطاب اوشو. چه څهٔ تسلّی ئې اوشی.

دَ دے مثال دا سے دے. لکه یو سړے دَ دشمنانو په مینځ کښې راګیر وی. دشمنانو ښهٔ پریشان کړے وی. په دا سے حالت کښې ئې یو خاص دوست راشی او دَ هغه حالت مناسب سره په یو خاص عنوان خطاب اوکړی. نو اوګورئ دَ دے سړی به څومره تسلّی اوشی. او دا الفاظ به څومره خوند ورکړی. په دے خیال چه زما دوست زما په حال پوره پوره خبر دے. دلته هم

په دے خاص لفظ سره خطاب دَ حضورؐ دَ تسلّی دَ پاره شوے دے. دے نه پس وړله دَ یو خو کارونو کولو حکم شوے دے. او په یو خو کارونو ورته دَ صبر کولو حکم شوے دے وَاصْبِرْ عَلٰی مَا یَقُوْلُوْنَ وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِیْلًا ۝ (دوی چه څه وائی په دے صبر کوه او په ښه طریقه دَ دوی نه ځان جدا کړه.)

دَدے مثال داسے دے لکه یو سړے په دشمنانو کښه راګیر وی او هغوی په پیغورونو او سختو خبرو تنګ کړے وے. په دے کښے ورته خپل محبوب اووائی. دوی پریده چه لګیا وی. راځه چه مونږ سره خپلو کښے خوږے خوږے خبرے کوو. دَ دوی خبرے مه اوره لګیا دِ وی. راځه ما سره خبرے کوه. یا ما دا کار اوکړه. مطلب ئے دا وی چه توجه ئے بدله شی نو غم به ئے کم شی.

نو دلته حضورؐ ته خو دَ وحی په ذریعه تسلّی ورکړے شوه. لیکن دَ اُمت بزرګانو ته دا سے خطاب دَ الهام او وارداتو. یعنی زړهٔ کښے القاء په ذریعه کیږی. دلته دَ مُزَّمِّل په تفسیر کښے یو نکته ده. څنګه چه مخکښے ویلی شوی حضورؐ دَ خفګان په وجه څادر کښے ځان پټ کړے وو دینه دا ثابته شوه چه کاملان هم دَ بشریت دَ لوازماتو نه وتے نه شی. لکه دلته چه حضورؐ دَ کافرانو دَ خبرو په وجه غمجن شو. البته دومره فرق دے چه څمونږ غم دَ زړهٔ دَ تنګسیا او دَ تحمل دَ کمی په وجه وی. او دَ حضورؐ خفګان دَ رحمت او شفقت په وجه وو. چه دَ ایمان نه راوړو په وجه ئے خپل قوم عزیزان او خپلوان دَ دوزخ اُورته پریوتو. نو دَ هغوی په رحم راتلو. لکه بل ځائے کښے چه ارشاد دے. لَعَلَّكَ بَاخِعٌ نَّفْسَكَ اَلَّا يَكُوْنُوْا مُؤْمِنِيْنَ ۝ (شاید چه دَ دوی په ایمان نه راوړو نه له ډیره غمه ځان هلاک کړے.)

کارِ پاکان را قیاس از خود مگیر گرچه ماند در نوشتن شیر و شیر

(دَ نیکانو کار دَ ځان په شان مه ګنڼره. اګر چه په لیکلو کښے شَیر (زمرے) او شِیر (شودهٔ) یو شان ښکاری. (خو په معنیٰ کښے ئے ډیر فرق دے) (دغه شان دَ کامل او ناقص کار هم په ظاهره یو شان ښکاری. خو حقیقت کښے پکښے ډیر فرق دے.)

بهرحال دا ثابته شوه. چه کامل سره دَ خپل کماله دَ طبعی لوازمونه وتے نشی. او دَ غنا

پکار هم ده. په مصیبت باندے تکلیف محسوس کول طبعی لازمه ده. او په دے باندے صبر کول کمال دے. که تکلیف محسوس نهٔ شی. نو صبر به څنګه را شی. او د صبر اجر ونه به څنګه بیا مومی. ځکه چه د صبر معنیٰ ده په نا خوښه کار باندے ضبطِ نفس. چه یو شے په چا بد نهٔ لګی. نو ضبط به د څهٔ اوکړی. البته په غلبهٔ حال کښے په تکلیف نهٔ پوهیدل بیله خبره ده. لیکن غلبهٔ حال خپله څهٔ کمال نهٔ دے.

د یو بزرګ واقعه مشهوره ده. چه د خپل ځوئے د مرګ په خبرے اوخندل او هیڅ خفګان ئے ښکاره نهٔ کړو. دلته د احادیثو نه دا ثابته ده. چه د حضورؐ د ځوئے ابراهیمؓ په وفات د حضورؐ د سترګو نه اوښے بهیدلے وی. او فرمائیلی ئے وُو. اِنَّا بِفِرَاقِکَ یَا اِبْرَاهِیْمُ لَمَحْزُوْنُوْنَ. (اے ابراهیمه مونږ ستا په جُدائی خفه یو) او س که څوک چا ته دا دواړه واقعے بیان کړی. او دا ورته اونهٔ وائی چه اوله واقعه د چا ده. او دویمه د چا ده. نو هغه به ضرور د هغے بزرګ واقعے ته کمال اووائی. حالانکه دا منلی شوی خبره ده چه یو ولی هم په څهٔ کمال کښے د نبی نه زیاتیدے نشی. او دا هم منلی شوی خبره ده. چه ولی ته کمال د نبی په واسطه حاصل شوے وی.

دلته په دواړو واقعو کښے اصلِ حقیقت دا دے چه د ولی نظر صرف د الله په حق وو. د بنده حق چه د اولاد سره مینه ده. د زړهٔ نه مستور وو. نو د خفګان اثر چه د رحم په وجه به راتلو. ختم کند نهٔ شو. او د حضورؐ نظر په دواړو حقونو وو. نو د بنده د حق په وجه ئے غم محسوس کړو. د سترګو نه ئے اوښے لاړے او د الله د حق په وجه ئے صبر اوکړو. جزع فزع (شور فریاد) ئے او نهٔ کړو.

د دے مثال داسے دے. لکه آئینه کتونکی درے قسمه وی. یو ئے د خریدو په نظر ګوری. نو هغه خو د آئینے صفائی ته ګوری کوم شے چه پکښے ښکاری هغے ته نهٔ ګوری. دا د غافلانو مثال دے. دویم پکښے د څهٔ شی عکس ته ګوری. د هغهٔ په دے عکس نظر وی. د آئینے د قسم صفائی او شکل سره ئے څهٔ کار نهٔ وی. دا مثال د غیرِ کامل مغلوبُ الحال

چه هغهٔ دَ حال دَ غلبې په وجه صِرف ظاهر وینی مظهر نهٔ وینی. آو یو هغه کس دَے چه آئینې ته او دَ کوم شی عکس چه پکښې ښکاری هغې دواړو ته ګوری. او دَ دواړو حقونو خیال ساتی. دا حال دَ نبی او دَ کامل ولی دَے. دے ته جَمۡعُ الۡجَمۡعۡ وئیلے شی. یعنی دَ حقوق الله او حقوق العباد دواړو خیال ساتی۔

درکفے جامِ شریعت در کفے سندانِ عشق ہر ہوسنا کے نداند جام وسندان باختن

(یو طرف ته دَ محبوبِ حقیقی دَ عشق تقاضے دی. او بل طرف ته دَ شریعت حکم دَے - دا دواړه تقاضے پوره کول دَ هرچا کار نهٔ دَے)

دا سے باریکو دَ پاره دَ ډیرے پوهے او سوچ ضرورت دَے. کنی په ظاهره خو ناګوارهٔ کار ناګواره نهٔ لګیدل کمال ښکاری. دغه شان دَ نورو وُجدانی کیفیاتو په تفاضل کښې دا قسم غلطئ کیږی. څُنی خبوے کمال ګڼړلے شی. حالانکه په هغې کښې پټ نقص وی. لکه په تواضع کښې ډیره مبالغه کول کله کله ناشکرئ ته اورسی چه دَ نعمت انکار ترے معلومیږی. څُنے خلق وائی موږ ذکر شغل کوو خو څهٔ فائده نهٔ راکوی. هغوئ په خپل زړهٔ کښې تواضع او انکساری کوی. حالانکه په دَے کښې پټ کبر او لوئی ده. ځکه چه دے خپل ذکر دَ دے قابل ګڼړی. چه خامخا دِ قبول شی او لوئیه مرتبه دِ ورکړے شی. نو دا کبر دَے او دَ نفس و شیطان دَ مکر جال دَے خو دوئ په نهٔ پوهیږی. ذکر په خپله لوئ نعمت دے. څهُوږ حضرت (حاجی امداد الله صاحب) ته چه به چا خادم دا سے شکایت اوکړو نو هغوئ به فرمائیل چه دَ ذکر توفیق لږ نعمت دے څه؟ چه ته دَ نورو ثمراتو خواهش هم کوے. او اکثر به ئے دا شعر وَے -

یا بم اورا یا نیابم جستجوئے میکنم حاصل آید یا نیاید آرزوئے میکنم

(بیا مومهٔ ئے او که نه خو خپل کوشش کوم. په لاس راځی او که نه خو تمنائے لرم.)

بلا بودے اگر این ہم نبودے دکه دَ ذکر توفیق دِ نهٔ وے شوے نو دا بد غټه مصیبت وو

شکر او باسه چه دَ ذکر نعمت خو درته حاصل شو. دَ ثمراتو کیے خوشه خبره نهٔ ده.

یو خادم حاجی صاحبؒ ته خپل حال وے. چه دا ځل چیله کښیږم هره ورځ په لا کمی

پنځوېښت ځله اسمِ ذات ویلې دے خو پهٔ څهٔ فائده ئې پوهٔ نهٔ شوم. شاید چه حضرت دانه خفه دے. حاجی صاحب ورته اوفرمائیل. که زهٔ درنه خفه وے. نو دَ دومره ذکر توفیق به دِ نهٔ ووشوے. دَ ثمراتو طلبګار یو بله غټه غلطۍ کښې مبتلا دی. دَ هغوئی دا خیال دے چه دَ ذکرونه اصل مقصود دا ثمرات (یعنی انوار وغیره) دی. او اعمال یعنی ذکر وغیره دَ دے تابع دی. دا غټه غلطی ده. اعمال خپله مقصود بالذات دی. او اصلی ثمره ئې دَ الله رضا. جنت ته تلل. او دَ الله دیدار نصیب کیدل دی.

افسوس دے چه دَ ثمراتو طالب پهٔ عشق کښې دَ مجنون نه هم کم دے. هغه خو دَ لیلیٰ دَ نوم مشق دَ خپل ژوند مقصد ګڼړی. او دَ ثمراتو طالب دَ الله دَ نوم قدر نهٔ کوی. پهٔ نورو څیزونو پسے ګرځی. ؎

(١) دید مجنون را یکے صحرا نورد در بیابانِ غمش بنشسته فرد

(٢) ریگ کاغذ بود وانگشتان قلم مے نمودے بہرِ کس نامہ رقم

(٣) گفت اے مجنونِ شیدا چیست این مینویسی نامہ بہرِ کیست این

(٤) گفت مشقِ نامِ لیلیٰ میکنم خاطرِ خود را تسلّی میدہم

(١) یو سیلانی مجنون اولیدو. چه دَ خپل غم پهٔ بیابان کښې یواځې ناست دے (٢) شګې ئې کاغذ دے. او ګوتے ئې قلم وے. چا ته خط لیکی. (٣) هغهٔ ورته تپوس اوکړو اے عاشق مجنونه دا څهٔ کوے؟ دا خط چا ته لیکے؟ (٤) هغهٔ ورته اُووے (زهٔ خو خط نهٔ لیکم) دَ لیلیٰ دَ نوم مشق کوم. (دَ لیلیٰ نوم بیا بیا لیکم) او خپل خفه زړهٔ ته پهٔ تسلّی ورکوم.) ؎

ہمینم بس که داند ماه رویئے که من نیز از خریدارانِ اویم

(دغه کافی ده چه څما محبوب دومره قدر خبر شی. چه زهٔ هُم دَ هغه پهٔ خریدارو کښې یم)

دَ ثمراتو خواهش هیڅرے مهٔ کوئ. دا خو هم یو قسم مزدوری غوښتل دی. چه دَ عشق و محبّت نه بالکل خلاف ده. ؎

تو بندگی چو گدایان بشرطِ مزد مکن که خواجه خود روشِ بنده پروری داند

(ته دَ فقیرانو پهٔ شان دَ مزدورئ پهٔ طمعٔ عبادت مهٔ کوه. ځکه چه هغه حقیقی بادشاه



Scanned with CamScanner

دَچلوغلامانو به ساتنه دېرېنهٔ پوهیږی (ته څهٔ غواړه مه۔ نو هغه به ډیرځهٔ درکړی)

یو بزرګ ته دَ غیبو آواز اوشو چه ته هرڅومره عبادت چه کوے۔ قبلیږی نه، خو هغهٔ بیا هم خپل عادت هغه شان کولو۔ دا اواز ئے یو مُرید هم اوریدلے وو۔ هغهٔ ورته اووے چه قبلیږی نه نو هسے ځان ولے کړوے۔ هغهٔ څه عجیبه جواب ورکړو۔ ورته ئے اووے۔ که بل دَرُوی (یعنی که بل خدائے وی) نو زهٔ به دا دَرُ پریدم۔ (یعنی دَ الله عبادت به پریدم۔ او دَ هغهٔ عبادت به شروع کړم) چه بل در نشته۔ نو چرته لاړ شم۔ څهٔ اُوکړم۔ قبلوی ئے او که نه زهٔ خو به خپل کوشش کوم۔ نور دَ هغهٔ اختیار دے۔

توانی ازان دل بپر داختن که دانی که بے او توان ساختن

(زړهٔ دَ هغه نه خالی کولے شی۔ چه دا یقین ئے وی چه دهٔ نه بغیر ګذاره کیږی)

دا جواب چه ئے ورکړو۔ نو دَ غیبونه ورته آواز اوشو۔ بنده چه بله آسره دِ نشته۔ نو هرڅنګه چه دے قبول به ئے کړم۔

قبول است گرچه هُنر نیست که جز ما پناهے دگر نیست

(قبول دے۔ اګر چه ستا پکښے څه کمال نشته۔ بے دَ دینه چه او دِ وے۔ مانه بغیر دِ بله اسره نشته۔)

په عبادت کښے دَ الله رضا نه غیر نور ثمرات طلب کول دَ اخلاص خلاف دی۔ او ارشاد دے۔ وَمَآ اُمِرُوۤا اِلَّا لِيَعْبُدُوا اللّٰهَ مُخْلِصِيْنَ لَهُ الدِّيْنَ

(او دوئ ته خو هم دا حکم شوے دے۔ چه دَ الله عبادت اوکړی په اخلاص سره)

از خدا غیر خدا خواستن ظَنِّ افزونی است کُلِّی کاستن

(الله تعالیٰ نه دَ هغهٔ دَ رضا نه غیر بل شے غوښتل دَ زیاتولو په طمعه تول هر څه تباه کول دی) یعنی دَ خدائے نه دَ بل څیز غوښتو دَ پاره اخستل تباهی ده۔ دَ خدائے نوم اخستل خالص دَ الله دَ رضا دَ پاره پکار دی۔

بدُرد و صاف تراحکم نیست دم درکش که آنچه ساقیِ ما ریخت عینِ الطاف است

(دَ خیرن او صفا۔ یعنی دَ قبض و بسط تجویز ستا سو حق نهٔ دے غلی کینئ۔ څهٔ چه درته

ساقی په جام کښې واچول. تو له دَ هغهٔ مهربانی ده۔

دَ پورتنی بیان نه (چه کامِل دَ بشری لوازما تو نه وتے نشی) یوه خبره دا هم معلومه شوه چه نفسانی خواهشاتو ته دَ طبیعت میلان یو فطری خبره ده. نو که دَ چا په زړهٔ کښې څهٔ وخت دَ څهٔ نفسانی خواهش خیال راشی. نو دا دَ کمال منافی نهٔ دے. ځنے خلق دا غلطی کوی چه دَ طبیعت میلان هم دَ تقوی او کمال خلاف گڼری۔ نو که چرته ئے داسے څهٔ خیال په زړهٔ کښې راشی. بیا غمجن وی او تو له توجه ئے په دے فکر او غم کښې صرف کیږی دَ کاره او وځی. مثلاً پخوا چرے په چا مین وو. بیا الله تعالیٰ دَ توبے توفیق ورکړو. تعلق پاتے شو. بیا دَ کمال حاصلولو نه پس ئے که چرے هغه زوړ خیال په زړهٔ کښې تیر شی. نو دے پریشان شی په دے خیال چه دا میلان دَ تقوی خلاف دے.

په دے بندهٔ پوهه شی چه دَ گناه څهٔ کار کول خودَ تقوی خلاف دی. لیکن په زړهٔ کښې دَ گناه خیال تیریدل دَ تقوی خلاف نهٔ دی. معصیت ته میلان کله کله دَ کمال نه پس هم کیږی. دَ دے دَ زوال فکر فضول دے.

البته په کامل او غیر کامل کښې فرق دا دے چه دَ کامل میلان مغلوب (کمزورے) وی په لږه غوندے توجه ختم شی. لکه دَ باری تعالیٰ ارشاد دے. اِذَا مَسَّهُمْ طَآئِفٌ مِّنَ الشَّيْطٰنِ تَذَكَّرُوْا فَاِذَا هُمْ مُّبْصِرُوْنَ ۝ (کله چه ورته شیطان په زړهٔ کښې څهٔ وسوسه واچوی دوئ په ذکر کښې مشغول شی. نو ناساپه ئے سترگے او غړیږی۔) یعنی هغه وسوسه ختم شی. دَ دے نه مخکښې بل ایت دے. وَاِمَّا يَنْزَغَنَّكَ مِنَ الشَّيْطٰنِ نَزْغٌ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ. (او که کله درته دَ شیطان دَ مخے څهٔ وسوسه داشی نو دَ الله پناه غواړه۔)

نو دَ کاملانو میلان کمزورے وی په لږه توجه ختم شی. او دَ متوسط درجے سالک میلان لږ غوندے سخت وی. خو په مجاهده مغلوب کیږی۔ او دَ غافلانو میلان غالب وی. (چه گناه کولو ته ئے تیار کړی۔)

اصل خبره دا ده. که میلان هم پاتے نشی. نو بیا خو دَ گناه نه بچ کیدل څهٔ کمال

نشو. چه میلان وی نو دَ مجاهدے ضرورت پیښیږی. او دغه مجاهده دَ ترقئ سبب ګرځی دغه وجه ده چه ملائک هغه درجوته نشی رسیدے. کوم ته چه بنیادم دَ مجاهدو په برکت رسی. په فرشتو کښې ګناه ته میلان نشته. نو دَ مجاهدے ضرورت ورته نشته. او دَ بنیادم په فطرت کښې ګناه ته میلان پروت دے. نو دے دَ مجاهدو په برکت غیر متناهی درجوته ختے شی. غیر متناهی په دے معنیٰ چه څهٔ حد ورته نشته.

حکیم ترمذیؒ نوم ئے یو بزرګ تیر شوے دے. په ځلمی توب کښې ور باندے یو جینئ مینه شوی وه. ور پسے به ګرځیده. یوه ورځ دے یو باغ ته لاړو. هغه باغ نه دیوال چاپیره وو. هغه جینئ پسے ورغله. دَ باغ ورئے بند کړو. او دَ خپل مطلب خبره ئے ورته اوکړه. دَے ورنه او تښتیدو. په دیوال او ختو بهرئے ټوپ کړو. دَ دغه شان ئے دَ ګناه نه ځان بچ کړو. ډیره موده پس په بوډاوالی کښې ورته یو ورځ دا خیال راغلو. که په هغه ورځ جینئ نه تښتیدلے نه وے. دَ هغې مطلب م کړے وے. او بیا م توبه ویستے وے نو هغه به هم خوشحاله شوی وه. او ګناه به هم راته معاف شوی وه په دے وسوسه ډیر پریشان شو. او ډیرے اوژړل۔

بر دلِ سالک ہزاران غم بود گر زباغِ دِل خلالے کم بود؛

(دَ سالک په زړهٔ زرګونه غمونه راځی. که دَ زړهٔ دَ باغ نه ئے یو خلے کم شی.) یعنی که باطنی حالت کښې ئے څهٔ کمے راشی۔

نو هغه ډیر زیات خفه شو. چه افسوس دے. ځوانئ کښې خو م دَ ګناه نه ځان او ساتلو او اوس په بوډاوالی کښې م په زړه کښې داسے خراب خیالات ګرځی. ځما خو ټولے مجاهدے او ټول نیک عمل برباد شو. (په دے خفګان کښې اُودهٔ شو) په خوب کښې ئے دَ حضور اکرم صلی اللہ علیہ وسلم زیارت اوکړو. هغوئ ورته او فرمائیل. اے حکیمه! دومره خفه کیږه مه. ستا عمل برباد شوے نه دَے او نهٔ دِ په درجه کښې څه کمے راغلے دے. خو دا وسوسه دِ په زړهٔ کښې ځکه راغله. چه دا زمانه ځما دَ زمانے نه لرے شوه. په ځوانئ کښې ځما زمانے ته نزدو وے. نو دَ ګناه نه دِ ځان بچ کړے شو۔



Scanned with CamScanner

دَ عهدِ نبویؐ سره دَ قُرب دومره برکات دی. یو بُزرګ به سره روټۍ خوښوله چه دَدے وخت عهدِ نبویؐ ته نژدے دے. او تازه لږه لرے وتی ده. سُبحان الله چه دَ عهدِ نبویؐ سره دَ وخت نزدیکت دومره برکت لری. نو دَ نبی کریم صلے الله علیه وسلم په ارشاداتو یا ندے دَ عمل کولو به څومره برکت وی.

یو مولوی صاحب چه طبیب هم وو. ما ته یوه خپله واقعه بیان کړه. چه زۀ یو ځل تبے نیولے وُم. ډیر علاج مے اوکړو خو هغۀ فائده ئے نۀ کوله. آخر مے دَ حدیث شریف موافق (چه تبے علاج کښے غُسل راغلے دے) په تبه کښے په نهر کښے اولانبل. او تبه رانه داسے لاړه چه بیا را بانذے نورے بیمارئ راغلی دی. خو تبه بیا نۀ ده راغلی. اګر چه دَ طب ماهرانو دا علاج په صفراوی تبه پورے خاص کړے دے. خو دَ عاشقانو او مضبوطے عقیدے خاوندانو دَ پاره دَ تبے تو لو اقسامو ته عام دے. علاوه دَدے نه په علاج کښے مسئله دا ده چه دارو مُعِین دی. یعنی په مرض لرے کولو کښے طبیعت سره امداد کوی. طبیعت قوی کړی. نو هغه مرض لرے کړے شی. فاعل یعنی خپله مؤثر بالذات نۀ دی. نو دَ عقیده تمند طبیعت په دغه کار دومره قوی شی. چه مرض خپله لرے کړی.

نو دَ حکیم ترمذیؒ دَ واقعے نه معلومه شوه. چه دَ کمال نه پس هم معصیت ترمیلاً کیدے شی. (دَ هغۀ دَ کمال تصدیق خو رسول اکرم صلے الله علیه وسلم په رُویائے صادقه کښے اوکړو چه ورته ئے اوفرمائیل ستا درجه کمه شوی نۀ ده.) دَدے نه دا هم معلومه شوه چه څُنګه خلق چه خپلو پیرانو نه دا غواړی " چه څۀ داسے چل راته اوښیه. چه ګناه ته میلان مو بالکل ختم شی. دَ ګناه خیال مو په زړۀ کښے نۀ راځی " دا غلطی ده. او ناپوهی ده. اصل خبره دا ده. چه بنده چه ترڅو ژوندے وی. دَ بشری لوازمونه خلاصیدے نشی. کله کله خو ئے وسوسه یا خیال په زړۀ کښے راشی. حدیث شریف کښے راغلی دی. که چا پردئ ښځے ته اوکتل. او زړۀ ئے ورته اوشو. نو کور ته دِ راشی او خپل ضرورت دِ کور پوره کړی. ځکه چه اِنَّ الَّذِیْ مَعَهَا مِثْلُ الَّذِیْ مَعَهَا. ځکه چه هغې سره چه کوم شے دے. دَ دۀ دَ خپلے ښځے سره هم هغه شان شے دے) چه خپل کور کښے ضرورت پوره کړی نو هغه خیال به ئے دَ زړۀ نه اووځی. طبیبانو هُم



Scanned with CamScanner

دَ عِشق علاج وادهٔ لیکلے دے. که دَ هغې معشوقے سره اوشی څیره بهتره ده. که هغې سره اوشی هم دَ عِشق جوش کښې په کمے راځی. اګرچه څهٔ نه څهٔ خیال بیا هم په زړهٔ کښې ټول عمر پاتې وی. خو دَ دغې خیال په تقاضا بیا عمل نهٔ وی. نو دَ تش خیال هیڅ فکر نهٔ دے پکار. ځکه چه دَ دے دَ لرے کولو کوشش کښے دا خیال نور هم زیاتیږی. او زړهٔ تنګیږی. او سالک په دے جګړو کښے دَ خپل حقیقی محبوب دَ تصوّر نه غافل شی. حالانکه بنیادم پیدا شوے دَ حقیقی محبوب دَ قرب حاصلولو دَ پاره دے. هغهٔ ته خو بل خوا متوجه کیدل هډو پکار نهٔ دی.

چه طبیعت دے وسوسو ته توجه کښے او نهٔ لګولے شی. نو وسوسے خپله ختم شی دَ وسوسو ختمولو اصلی علاج دا دے چه څهٔ اهمیّت ورنکړے شی. بندهٔ خپله ټوله توجه ذکر کښے اوساتی. ذکر ته زور ورکړی. وسوسے به خپله ختم شی.

او په دے هُم پوهه شئ چه وسوسے راتلل څهٔ دَ نقصان خبره نهٔ ده. بلکه دَ دے په وجه چه په زړهٔ کومه تنګسیا راشی. هغه ئے دَ صفائی سبب ګرځی. او دے دَ پاره چه خو مره مجاهدے کوی. په هغې ئے درجے زیاتیږی. او ثواب ئے ورکولے شی.

(حضرت تهانوی فرمائی) ما چه اوئے چه په وړو وړو خیرو دِ په ځان بدګمانی نهٔ کوی. او دے طرف ته دِ زیاته توجه نهٔ کوی. خامخا دِ خپل عیبونه په نوسی نهٔ لټوی. او دِ پړ بابیک سپی دِ نهٔ کوی. نو دا طریقه دَ خواصو دَ پاره ده. (ځکه چه هغوئ چه په دے کښے مشغول شی. نو دَ حقیقی محبوب دَ مطالعے نه به غافل شی.) عـوام دِ نهٔ بے فکره کیږی. په خپلو عیبونو لټولو کښے دِ چُست شی. کنی نو په ګناهونو کښے به ګیر شی.

اوس یَا اَیُّهَا الْمُزَّمِّلُ سره خطاب نه پس احکام شروع کیږی. دَ احکامو حاصل دا دے چه دَ بنیادم تعلّقات دوه قسمه دی. یو تعلق ئے خپل خالق سره دے. او بل تعلق ئے مخلوق سره دے. دَ مخلوق سره تعلق ئے بیا په دوه قسمه دے. دَ دوستانو سره او مخالفینو سره. نو دَ دے ټولو تعلّقاتو متعلق څهٔ اعمال او څهٔ آداب بیانیږی.

اول تعلّق دَ خالق سره دے. دَ هغې متعلق ارشاد دے. قُمِ الَّیْلَ. دَ شپے په مانځهٔ اودریږه)

اِلَّا قَلِیْلًا (مگر لږه حصه دَ شپې) ارام کوه.

په دے کښې یوخوا دَ قیام اوعبادت حکم اوشو. او بل خوا درسره میانه روئ ته اشاره اوشوه. دَ قیامِ لیل آداب دا دی. چه قیام دَ پاره داسے وخت مقرر شو. چه نه دَ لوږے دَ تکلیف وخت دے. اونهٔ دَ موړوالی په وجه طبیعت کښې دَ درون والی او سستیٔ وخت دے بلکه داسے دَ آزاد طبیعت (نشاط) وخت دے. چه دَ دواړو تکلیفونو نه بچ دے. دَ فرښتو سره دَ تشبیه وخت دے. فرښتے نهٔ اوږی کیږی. او نهٔ ورکښې دَ موړوالی په وجه سستی راځی. په دے وخت کښې بنده هم دَ دے دواړو کمزوریو نه آزادوی. او بنهٔ په اخلاص او توجه سره عبادت کولے شی. دَ شپې وخت کښې خاموشی وی. یکسوئی او توجّه ورکښې ښه برابریدے شی.

میانه روی داچه ټوله شپه په عبادت تیرولو حکم اونشو. چه ګران کار دے. بلکه څهٔ حصه دَ خوب اوآرام دَ پاره مقرر شوه. چونکه هر وخت او هر حالت کښې هر بنده دَ پاره یو خاص مقدار نشو مقرریدے. نو په او تخیر یر سره یر نیمه. دریمه. او دوه دریمے یعنی نصف. ثلث. او دوه ثلثه کښې اختیار ورکړے شو. چه هر بنده دَ خپل حالت مناسب وخت ځانته خپله مقرر کړی. لکه روستو دویمه رکوع کښې چه راځی. که حالت ئې داسے وی چه زیات قیام نشی کولے. نو کم دِ اوکړی. لکه حدیث شریف کښې چه راځی ''دَ شپې څهٔ حصه په عبادت کښې تیرول پکاردی لږه وی که ډیره'' په دے میانه روئ کښې مصلحت دادے. چه درمیانه کار همیشه کیدے. او په افراط دوام نشی کیدے.

دا قیامِ لیل چه مُراد ترے تهجد دے. اول فرض وو. بیا ئې فرضیت منسوخ شو. مسنون پاتے شو. مضبوط دلیلونه په دے دی چه تهجد سنتِ مؤکده دی. فرض یا واجب نهٔ دی.

دَ ځنو غلطیو په وجه ډیر خلق دَ تهجدونه محروم پاتے شی. دَ ډیرو خلقو داخیال دے. چه تهجد صرف دَ شپې په آخری حصه کښې کیږی. او په دے وخت ورته پاڅیدل ګران وی نو تهجد پریږدی. یا داسے لرئ خوک چه په آخری شپه کښې نشی پاڅیدے. هغوئ د ماسخوتن دَ فرضونه پس اودَ وترونه مخکښې تهجد کولے شی. دَ ځنو خلقو داخیال دے

چه تهجد ونه پس اُوده کیدل جائز نهٔ دی. تهجد په خوا بیږی. دوهم ویښ پاتے کیدل ورته گران وی. په دے وجه ورنه تهجد پاتے شی. دا هم غلطی ده. تهجد ونه پس اوده کیدل جائز دی۔

غرض دا چه سالکانو دَ پاره تهجد دیر ضروری دی. خو کله کله ترے قضا شی. نو ډیر غم دِ نهٔ کوی. قضا دِ ئے اوجاربا سی. څهٔ خلقو نه چه تهجد قضا شی. نو ډیر پریشان وی. ژړا فریاد کوی. چه مانه خو چرے نهٔ وو قضا شوی. دا څهٔ چل اوشو. یا دلرئ ډیره پریشانئ کښے بنده دَ محبوب دَ مطالعے نه غافل شی. دَ نفس په مطالعه کښے مشغول شی. او په دے غم کښے ورنه ذکر پاتے شی کوم چه اصلی مقصود دے. سالک ته دَ محبوبِ حقیقی نه علاوه بل څیز ته توجه نهٔ ده پکار۔

ماضی و مستقبلت پردهٔ خدا است (ماضی او مستقبل دَ بنده او خدائے ترمینځه حجاب دے) یعنی په شوی کاربا ندے خفګان یا مستقبل باندے سوچ کول بنده دَ محبوب حقیقی نه غافل کوی. او توجه ئے بل خوا اړوی۔

غرض دا چه ځان ډیره پریشانئ کښے مبتلا کول بنه نهٔ دی. په تجربه ثابته شوی ده. چه څهٔ وخت کښے آسانتیا ورکولو په وجه نفس په خوشحالئ کښے زیات کار اوکړی. او دَ سختئ او تنګئ په وجه ورنه زوړ کار هم پاتے شی. نو به نفس ډیر سختی بند نهٔ ده. څهٔ اسانتیا ورکول پکار دی۔

شعر

که مزدورِ دل خوش کند کار بیش (چه خوشحاله مزدور کار ډیر کوی)

دَ محققانو قول دے. چه ذاکر ته بنهٔ غوړ خوراک پکار دے. کنی کمزورے او بیکاره به شی. بنه خوره څکه او دَ نفس نه بنهٔ کار اخله. البته دا یاد ساته چه دومره ډیر خوراک مهٔ کوه چه بدن کښے سستی او نا راستی را شی. په دے وجه قرآن شریف کښے كُلُوا وَاشْرَبُوا سره وَلَا تُسْرِفُوا هم فرمائیلی شوی دی. (یعنی خورئ څکئ خو زیاتے مهٔ کوئ.)

دَ اهلِ بیتو دَ یو بزرګ قول دے. چه یو عیسائی طبیب ترے تپوس اوکړو

چہ تاسو قرآن شریف تہ جامع کتاب وائی. پہ ھغے کښے خو دَ طب ضروری خبرے نشتہ. ھغۂ ورتہ اووے چہ اصلی طب پکښے موجود دے. كُلُوْا وَاشْرَبُوْا وَ لَا تُسْرِفُوْا ۔ ھغۂ حیران پاتے شو. چہ واقعی پہ دے یو جُملہ کښے خو ټول طب راغلے دے. غالب چہ ازا د خیال شاعر دے دَخپل ذوق موافق ئے دا شعر و یلے دے۔

ہم توبہ جب کرینگے شراب کباب سے قرآن میں جب آیا كُلُوْا وَاشْرَبُوْا نہ ہو

(مونږ دَ شرابو او کبابو نہ هلۀ توبہ ویستی وہ۔ کہ قرآن شریف کښے كُلُوْا وَاشْرَبُوْا نۀ وے راغلے)

یو بل شاعر ډیر ښہ جواب ورکړے دے)

تسلیم قول آپ کا ہم جب کریں جناب جب آگے وَاشْرَبُوْا کے وَلَا تُسْرِفُوْا نہ ہو

(مونږ بہ ستا خبرہ هلۀ منلی وہ۔ کہ وَاشْرَبُوْا پسے وَلَا تُسْرِفُوْا نۀ وے)

غرض دا چہ پہ روحانی تنګئ (قبض او حزن) کښے ډیر پریشان کیدل نۀ دی پکار. ځکہ چہ دَ قبض او حزن سرہ دَ نفس تزکیہ کیږی. او وسوسو تہ خو هډو خیال نۀ دے پکار. ځکہ چہ ور پسے کیدو سرہ دا نورے هم زیاتیږی. محققان دے ترهٔو توجہ نۀ کوی. هیڅ اهمیت نۀ ورکوی. علاوہ دَ دے نہ پکښے دا خرابے هم دے چہ نور نور شاخونہ ترے اوځی غم نور سوا کوی او دَ ډیر غم پہ وجہ بندہ دَ اصل کار ذکر او فکر نہ پاتے شی۔

دغہ شان دَ استغفار او توبے پہ وخت کښے هم دَ ګناهونو پہ یادولو کښے غُلو نۀ دہ پکار میانہ روی پکار دہ۔ دا ضروری نۀ دہ چہ ټول کړی ګناهونہ را پہ مخہ کړی. دَ یو یو ګناہ نوم اخلی۔ او توبہ ترے اوباسی. بلکہ دَ ټولو ګناهونو نہ اجمالی توبہ کافی دہ۔ حدیث شریف کښے دا الفاظ راځی وَمَا اَنْتَ اَعْلَمُ مِنِّیْ۔ (او دَ هغہ ګناهونو نہ هم توبہ اوباسم چہ ما نہ پرے نۀ بنۀ خبر ئے) دے نہ دا ثابتیږی چہ اجمالی توبہ کافی دہ۔ کوم ګناهُونہ چہ ورتہ یاد نۀ وی نو خامخا دَ هغے پہ یادولو وخت بربادول نۀ دی پکار۔ البتہ کوم چہ ورتہ ئے کوشش خپلہ را یاد شی. خاص دَ هغے نہ توبہ ویستل بنۀ دی۔

یو کم عقل پہ حج کښے دَ جمراتو ویشتو پہ موقعہ (شیطان پہ ګیټو ویشتو) پہ موقع دَ ګیټی پہ ځائے خپلئ راخستی وہ۔ یو یو ګناہ بہ ئے یادولہ۔ شیطان تہ بہ ئے کنځلے کولے۔

اودَ برجئ نه به ئے په خپلئ درز ویستو. دا غلط کار دے. نو کنا هونو دا یا دولو کښے وخت بربادول او دَ محبوب دَ یا دونه غافل کیدل بدکار دے. یو شاعر ویلی دی. ؎

عُمرِ عزیز قابلِ سوز و گداز نیست ٭ این رشته را مسوز که چندین دراز نیست

(قدرمن عُمر په غم کښے بربادول نهٔ دی پکار. دا نرے تار مه سوزوه چه ډیر اُوږد نهٔ دے)

خصوصًا سالکانو ته خو دا خیال ساتل ضروری دی. چه دَ حق دَ مشاهدے نه غفلت را نشی. حقیقت دا دے چه په دے خبرو صِرف عارفان پوهیږی.

یو ځل حاجی امداد الله صاحبؒ ته یو سالک په دے خبره خپل افسوس ښکاره کولو چه دا ځل دَ بیمارئ په وجه را نه ډیرے ورځے دَ حرم شریف حاضری پاتے شوه. حضرتؒ خپلو خاصو مُریدانو ته اووے. که دا سړے عارف وے. نو په دے به ئے هیچرے افسوس نهٔ وو کړے. ځکه چه اصل مقصود قُربِ حق دے. نو دَ هغے دَ پاره چه څنګه حرم شریف کښے حاضری یو طریقه ده. دغه شان ئے مرض هم یو طریقه ده. (مرض باندے دَ مسلمان ګنا هونه معاف کیږی. او درجے ئے اوچتیږی) دَ بندهٔ دا حق نشته چه ځان دَ پاره یو خاصه طریقه خوښه کړی دا دَ مُرَبِّیؒ اختیار دے. دَ یو مریض دَ پاره دارو تجویز کول دَ طبیب کار دے. مریض ته دا حق نشته. چه ورته اووائی فلانئ نُسخه راته اولیکه - ؎

به دردو صاف ترا حکم نیست دم درکش ٭ که هر چه ساقی ما ریخت عین الطاف است

(دَ خیرن او صفا. یعنی قبض وبسط تجویز کول ستا حق نهٔ دے. غلے کینه - ساقی چه څهٔ در کړل دَ هغهٔ مهربانی ده) یعنی باطنی تربیت دَ پاره چه الله تعالیٰ څهٔ عنایت کړل دهغهٔ مهربانی ده)

دا تول دَ قیامِ لیل دَ آدابو دَ اعتدال بیان وو. مخکښے دَ سالکانو بل معمول بیانیږی. وَرَتِّلِ الْقُرْاٰنَ تَرْتِيْلًا ۝ (قرآنِ پاک صفا صفا وایه) دَ ترتیل معنیٰ ده په دَ مه دمه یو یو ټکے صفا صفا ویل. دَ اصحابِ کرامو په زمانه کښے دَ نسبت حاصلولو دا هم یو طریقه وه - په قرآن کریم او مانځه مُداومت او حفاظت (یعنی ډیر نفلونه به ئے کول په ښه طریقه. او ډیر تلاوت به ئے کولو په ترتیل سره.)

لکه مشهوره ده. چه شاه عبدالعزیز رحمة الله علیه په خوب کښے دَ حضرت علی رضی الله



Scanned with CamScanner

عنه نه تپوس اوکړو. چه نن صبا دَ صوفیا نو په طریقو کښې کومه یو طریقه ستا سو طریقې ته زیاته نزدې ده. هغوئ ورته اوفرمائیل. څوک چه په وخت دَ تقرّب ذریعه دَ ذکر سره سره دَ نوافلو کثرت او ډیر تلاوت وو. او اوس صِرف په ذکر اکتفا کیږی. او دَ دے تغیر وجه دا ده چه دَ هغوئ زړونه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم دَ صحبت په برکت صفا شوی وو. هغوئ ته دَ دومره پابندیو ضرورت نهٔ وو. خو مره چه روستو پیدا شو. دَ هغوئ زړونو کښې اخلاص وو. صِرف نوافلو او تلاوت باندے ئے نسبت حاصلولے شو دَ ډیر ذکر او مراقبو دَ پابندیو حاجت ورته نهٔ وو. دَ ورستینو په زړونو کښې دَ ذکر او مجاهدو دَ مشقت نه بغیر خلوص پیدا کیدل ګران دی. ځکه دَ دے فن ماهرانو او مجتهدانو صوفیانو خاص اشغال او ذکرونه ایجاد کړل. هغوئ ته په تجربه معلومه شوی وه. چه په خلوت کښې چه یونوم بیا بیا ویلے شی. او ورسره په خاص طریقه ضرب وجهر کیږی. نو دَ دے تاثیر په زړهٔ او نفس ډیر پُوخ وی. رِقّت او سوز ورسره پیدا کیږی. او دَ محبّت ذریعه ګرځی. او دَ محبّت په وجه عبادت کښې اخلاص پیدا کیږی. او الله تعالیٰ مونږ ته دَ خالص عبادت حکم کړے دے. ارشاد دے. وَمَا اُمِرُوْا اِلَّا لِیَعْبُدُوا اللّٰهَ مُخْلِصِیْنَ لَهُ الدِّیْنَ. (او دوئ ته دا حکم شوے دے. چه دَ الله عبادت کوئ په دا سے طریقه چه عبادت خاص دَ هغهٔ دَ پاره وی.) بل آیت مبارک کښې ئې ماته دا حکم شوے دے. چه عبادت خالص کړم الله دَ پاره. دغه شان نور ډیر آیتونه هم په اخلاص دَ لالت کوی.

نو معلومه شوه. چه مشرانو صوفیانو دَ ذکر دا طریقې دَ علاج په طور تجویز کړیدی. اصل مقصود اخلاص حاصلول دی. نو که یو سړے داسے وی. چه دَ ذکر دَ خاصو طریقو دَ پابندیو سره ئے مناسبت نهٔ وی. او دَ خاصو پابندیو نه بغیر په مسنون اذکارو. نوافلو او تلاوت ورته پوره اخلاص حاصلیدے شی نو داسے سړی ته دَ خاصو طریقو او خاصو پابندیو سره ذکر کولو ضرورت نشته.



Scanned with CamScanner

نو ثابته شوه چه د ذکر خاصے پابندئ او خاصے طریقے د علاج په طور تجویز شوی دی. څه شرعي حکم او قُربتِ مقصوده نه دی. چه بدعت ورته او ویلے شی۔

حاصل دا چه سالکانو د پاره دویم دستور العمل د قرآن شریف تلاوت دے. د دے نه پس ارشاد دے. اِنَّا سَنُلْقِیْ عَلَیْکَ قَوْلًا ثَقِیْلًا ۵ د قولِ ثقیل نه مُراد وحی ده۔ چه درونه کلام وو. په مانځه او تلاوت د وحی د بوجه پورته کوو طاقت پیدا کیدو. ځکه ورته ورنبے د مانځه او تلاوت حکم اوشو. بیا د وحی نازلوو وعده اوشوه. اوس دا خبره چه د وحی نازلیدو په وخت دومره درونه والے وو. د دے په حقیقت پوهیدل د عام عقل کار نه دے. مونږ په نشو پوهیدے۔

د روایاتو نه ثابته ده. چه د وحی نازلیدو په وخت که به حضورؐ په خپله اُوښه سور وو. نو اوښه به د ډیر درونه والی په وجه کیناسته. دا بوجه به ئے نشو برداشت کولے یو صحابي روایت کوی چه یو ځل د وحی نازلیدو په وخت د حضور صلی الله علیه وسلم سر مبارک ځما په پټون پروت وو. نو ځما په پټون دومره زور راغلو چه ماوے هډوکے ئے مات شو. په یخ ژمی کښے به د وحی نازلیدو په وخت حضورؐ خولے خولے شو۔

د دے حدیثونو نه ثابته شوه چه د وحی نازلیدل درونه بوجه وو. او د دے آیت مبارک نه هم معلومیږی. ارشاد دے. اَلَمْ نَشْرَحْ لَکَ صَدْرَکَ وَوَضَعْنَا عَنْکَ وِزْرَکَ الَّذِیْٓ اَنْقَضَ ظَهْرَکَ (ایا مونږ ستا سینه فراخه نکړه او مونږ تا نه هغه بوجه لرے نکړو چه ستا ملا ئے ماته کړی وه) یعنی د نزولِ وحی د بوجه برداشت کوو طاقت مو درکړو. دلته په وِزْر کښے د وحی درونه والی ته اشاره ده. بل آیت مبارک دے. وَلَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰی جَبَلٍ۔ (که مونږ دا قران په یو غر نازل کړے وے) په دے کښے خو د وحی درونه والی ته ډیره واضحه اشاره ده۔

د تلاوت او نوافلو په کثرت سره د وحی د بوجه پورته کولو طاقت داسے پیدا کیدو چه د ذکر او تلاوت په وخت کښے قلب باندے علمی او عملی غیبی فیوض واردیږی. او په دے لړ لړ ورود سره روسره قلب کښے د برداشت طاقت پیدا کیږی. او دغه وجه ده چه سالکانو

باندے پہ ابتدا کښے چہ یا اهلِ تمکین نۀ وی. اضطراب زیات وی او چہ صاحبِ تمکین شی. بیا پکښے استقلال راشی اضطراب ختم شی. ځکه چہ ابتدا کښے پہ قلب کښے دَ فیوضو دَ برداشت طاقت نۀ وی. دَ کثرتِ ذکر سرہ پکښے روړ و طاقت پیدا کیږی. بیا دَ فیوضو برداشت کولے شی. نو اضطراب ختم شی. او استقلال پیدا شی. پہ دے شعر کښے دَ ځنے قلبی واړ داتو ذکر دے. مولانا فرمائی ؎

بیند اندر دل علومِ انبیاء  بے کتاب و بے معین و اوستاد

(پہ خپل زړۀ کښے بہ بے استاذہ او بے کتابہ او بے مددګارہ دَ پیغمبرانو علوم وینے)

او دا حالات دوه قسمه دی. کله ذوق و شوق فراخی وی. او کله حزن و قبض. (یعنی غم او تنګی وی) دَ بَسطُ (فراخی) بیلے فائدے دی. او دَ قبض (تنګسیا) بیلے او تولے بنے دی. ځکه چہ قبض کښے هُم دَ نفس تزکیه او دَ کبر اصلاح کیږی. ؎

چونکه قبض آمد تو در وے بسط بین  تازہ باش و چین میفگن در جبین

چونکه قبض آیدت اے راهرو  آن صلاحِ تست آیس دل مشو

(اے سالکه هر کله چہ در باندے دَ قبض حالت راشی مایوسه کیږہ مه. خوشحاله اوسه او تندی کښے غوټے مۀ اچوہ. دے کښے ستا دَ باطن اصلاح دہ. خفه کیږہ مه. چہ ستا خیر دے پکښے نو خفه کیږے ولے.

مخکښے ارشاد دے. اِنَّ نَاشِئَةَ الَّيْلِ هِيَ اَشَدُّ وَطْأً وَّ اَقْوَمُ قِيْلًا ۝

(بے شکه دَ شپے پاخیدو کښے زړۀ او خوله سرہ ښۀ جوړ خوری. او خبرہ صفا کیږی) یعنی دَ شپے شور شغب نۀ وی. خاموشی او سکون وی. دَ دنیا دَ ځنے کاروبار وخت هم نۀ وی. نو دَ زړۀ توجّه پکښے ښه برابریږی. نو دا سے وخت کښے چہ پہ ذِبه چرته ویلے شی. پہ زړۀ ئے پوخ اثر کیږی.

دَ دے آیت مضمون قُمِ الَّيْلَ دَ پارہ دَ علّت پہ طور دے چہ دے وخت کښے حضورِ قلب ښۀ برابریږی. ځکه دَ شپے مانځۀ تہ پاخیدل پکار دی.

دَ حضورِ قلب حاصلولو دَ پارہ پہ تجربه یو طریقه معلومه شوی دہ. چہ پہ ابتدا کښے

سالک په هرهر لفظ باندے په تکلف سره د توجّه یکسو کولو مستقله اراده کوی- نو دغه شان ورته حضورِ قلب حاصلیږی. ابتدا کښے په تکلّف سره وی. څهٔ مُدّه پس ورته ملکه حاصله شی. بیا د دیر تکلف ضرورت نهٔ وی -او منتهی ته په ملاحظهٔ د ذات حضورِ قلب حاصلیږی- ابتدا کښے خو ګران وی. ځکه چه د یو غائب څیز تصور په ذهن کښے کینول مشکل وی. خو په انتها کښے چه تصور پوخ شی. بیا آسان شی-

مخکښے ارشاد دے- إِنَّ لَكَ فِي النَّهَارِ سَبْحًا طَوِيلًا (بیشکه ستا په ذمه د ورځے دیر کارونه دی) مخکښے خو د حکمت په طور دا بیان شوے چه دے وخت کښے د تلاوت او مانځه اثر دیر زیات وی- او س دے نه علاوه یوه بله وجه هم بیانیږی. چه د ورځے ستا په ذمه د تبلیغ دیرے ذمه واری دی. نو عبادت طرف ته خاصه توجّه نشی کولے شپه د دا سے مصروفیاتو نه خالی ده- ځکه دے کار د پاره د شپے یوه حصه تجویز شوه- هر څو که تبلیغ او د خلقو روحانی تربیت هُم د دین کار دے- لیکن هغے کښے یو قسم تعلق د مخلوق سره هم وی- نو خالِصه توجّه اِلَی الله پکښے پوره پوره نشی راتلے- څنګه چه د شپے په خلوت کښے کیدے شی- د دے نه هُم د مخکینئ خبرے تائید کیږی- (چه بنیادم که هر څومره صاحبِ کمال وی. خو د بشری لوازمو نه خلاصیدے نشی-

او ګورئ دے آیت مبارک نه صفا معلومیږی. چه د ورځے دیر کارونه حضورؐ ته په یکسوئی کښے څهٔ قدرے مانع وو. او چونکه د حضورؐ ټول احوال کامل دی. نو معلومه شوه چه د مخلوق په کار کښے مشغولتیا د کمال منافی نهٔ ده- او صاحبِ کمال هم هر وخت په یو شان حالت کښے نهٔ وی.

د حضرت ابوبکرِ صدیقؓ او حضرت حنظلهؓ یو واقعه په حدیث کښے راغلی ده. چه حضرت حنظلهؓ په دے وجه په ځان د منافق ګمان اوکړو- چه د حضورؐ په مجلس کښے به ئے د قلب کوم کیفیت وو- د مجلس نه بهر به هغه شان نهٔ وو- حضرت صدیقؓ ته ئے خپل حال بیان کړو- هغهٔ ورته اوفرمائیل ځما هم دغه شان حال دے. بیا دواړه راغلو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ئے خپل حال بیان کړو- هغوئ ورته اوفرمائیل- یَا حَنْظَلَةُ سَاعَةٌ وَّسَاعَةٌ

هغوئ تسلي وکړه - چه دا حالت دَ نفاق نهٔ دے. بلکه دَ قلب کیفیت همیشه یوشان نهٔ دی. ساعت په ساعت بدلیږی. کله یوحالت وی. کله بل.

اوحقیقت دادے که هروخت دَ تجلیاتو یوشان کیفیت وے. نوجسمانی نظام به بیخی خراب شوے وو. ځکه چه په عالی حالت کښے خو نهٔ څوک خوراک ته جوړیدے شی. اونهٔ بدن دَ هضم نظام ته متوجه کیدے شی. بیا خو به نوبت فنا ته اورسی. یوشاعر ښهٔ ویلی دی.

ه چو سلطانِ عزت علم برکشد　　جهان سر بجیب عدم درکشد

(په قلب چه دَ محبوبِ حقیقی تجلیات وارد شی. نو دَ جهان نور ټول څیزونه دَ فنا په تیرو کښے پټ شی)

بل مصلحت پکښے دادے. چه ذوق وشوق او خوند مزه هله باقی پاتے کیدے شی. چه دا حالت همیشه نهٔ وی. همیشه حالت که ډیر اعلیٰ وی. هم بنده ورسره عادت شی. او خوند ئے ورک شی.) کله کله چه حاصلیږی. هغه نعمت ډیر قدرمن وی. چه همیشه شی نو بنده ورسره عادت شی - خوند ئے ورک شی -

بل حکمت پکښے دادے. چه دَ استغراق غلبه کښے خپل قصد او اراده پاتے نشی - او په بے قصده او بے ارادے کار کښے اجر نهٔ وی. او بغیر قصد او ارادے تقرب نهٔ حاصلیږی. په دُنیا کښے مقصود بالقصد اعمال دی. هم دے دَ پاره بنیادم دُنیا ته راغلے دے. دُنیا ته راتلو نه مخکښے روح ته حضور دائم حاصل وو. لیکن چه اعمال نهٔ وُو. نو دَ قُرب اُوچتے درجے نهٔ شوے حاصلیدے. په دے وجه دا اعمالو درجه مهتم بالشان ده.

په دے وجه پوهه صوفیان وائی چه په استغراق کښے ترقی نهٔ کیږی. دَ دے ټولو خبرونه معلوم شوه. چه څنګه فائدے او حکمتونه په تجلیاتو کښے دی. دَ غه شان ډیرے فائدے او حکمتونه په اِستِتار کښے هُم دی -

دلته یو باریکه نکته بله قابلِ غور ده. او هغه دا ده. چه تبلیغ او دَ دینی احکامو تعلیم متعدی نفعه ده. او متعدی نفعه دَ ذاتی نفع یعنی خانه ذکر او عبادت کولو نه) زیاته ده. نو منتهی ته په دے کښے زیات کوشش پکار وو. لیکن بیا هم ارشاد دے. چه دَ ورځے دریاندے دَ مخلوق ډیر کار دے. نو دَ شپے تهجد او تلاوت کوه -

او بل ځائے ارشاد دے. فَإِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ وَإِلَىٰ رَبِّكَ فَارْغَبْ. (چه د تبلیغ د کار نه اوزګار شے. نو په عبادت کښے زیات کوشش کوه. او خپل رب ته زیاته توجه کوه.)

دے نه دا ثابته شوه. چه کامِل ته د خلقو د تربیت نه پس ځان د پاره هم څه کول پکار دی. تکمیل نه پس هم د ذکر نه غفلت نهٔ دے پکار. کنی نهٔ به ئے خپله هغه بهتر حالت پاتے شی. او نهٔ به بل ته فائده اورسولے شی. ځکه چه د خپل عمل نه بغیر تعلیم کښے برکت نهٔ وی. او دغه ئے مطلب دے چا چه ویلی دی مَنْ لَا وِرْدَ لَهٗ لَا وَارِدَ لَهٗ. (څوک چه ذکر نهٔ کوی. کیفیات ئے هم پاتے نشی.

البته دا غلطی ده. چه منتهی خپل ټول تعلقات منقطع کړی. همیشه په خلوت کښے ځانته وی. خلقو ته فائده رسول بند کړی. ؎

طریقت بجز خدمتِ خلق نیست

به تسبیح و سجاده و دلق نیست

(تصوف د مخلوق د خدمت نه بغیر بل څهٔ نهٔ دی. تش په تسپو او مصلا. او کند نهٔ کیږی.)

لیکن خپل ځان خپله د ارشاد قابل نهٔ دی ګڼړل پکار. ترڅو چه وړته خپل پیر اِجازت نهٔ وی ورکړے. د اجازت نه پس هم خپل ځان کامل نهٔ دی ګڼړل پکار. بلکه د پیر د حکم په تعمیل کښے وړته کار شروع کول پکار دی. (ځان دِ کامل نهٔ ګڼړی) او د وخته دا نیت کول پکار چه زهٔ تکمیل اوکړم. نو بیا به د خلقو تربیت کوهٔ. بنهٔ کار نهٔ دے. دے نیت سره کامیابی نکرانیږی. ځکه چه دے کښے د لوئے جوړیدو تصور دے دا هم د کبر یو ښاخ دے. (او تصوّف کښے کامیابی پوره تواضع عاجزی او نفس فنا کول غواړی) صِرف د خپلے اصلاح او د الله د رضا نیت پکار دے.

پاتے شوه دا خبره چه کامِل د خلقو په تربیت کښے مشغول شی نو توجه به ئے دے خوا شی او د حق د یا دونه به غافِل شی. دا شبهه بے ځایه ده. ځکه چه کامِل سینه دومره فراخه

شي. په هغه دَ توجه الی المخلوق سره هم دَ توجه الی الخالق نه غافل نهٔ وی. (دواړه کاره سره سره کولے شي) او بله دا چه دا توجه الی المخلوق خو دَ خالق په حکم ده. دَ هغهٔ مقصود خو دَ خالق دَ حکم تعمیل او دَ هغهٔ رضا حاصلول وی. یعنی مخلوق ته توجه ئے هم دَ خالق په حکم او دَ هغهٔ دَ رضا حاصلولو دَ پاره وی. نو دا ټول وخت ئے هم په عبادت کښے شمیرلے شي غفلت پکښے څنګه را تلے شي؟ بلکه مخلوق ته توجه په دهٔ باندے دَ مخلوق حق دے. چه په آیت کښے ورته سَبۡحًا طَوِیۡلًا سره اشاره شوی ده. لیکن دَ مخلوق دَ حق ادا کولو سره سره ورته دَ خالق حق اَدا کول هم پکار دی. څنګه چه ورته مخکښے قُمِ الَّیۡلَ سره دَ خالق حق بیان شوے دے او ورپسے هم دَ وَاذۡکُرِ اسۡمَ رَبِّکَ ارشاد دے. اول او آخر دواړه ئے ورته خپل حق وریاد کړے دے. چه دَ مخلوق په کار کښے دومره مشغول کیږه مه. چه دَ خالق حق درے نه هیر شي.

دلته په وَاذۡکُرِ اسۡمَ رَبِّکَ کښے اکثرو مفسرانو دَ اسم لفظ زیاتی منلے دے. یعنی مطلب وَاذۡکُرۡ رَبَّکَ. (الله یاد وه) او څنه مفسرانو ورته زیاتی نهٔ دے ویلے. یعنی مطلب دا دے (دَ الله نوم واخله ذکر کوه) دَ دے اختلاف نه عجیبه نکته را اوځی. او دَ اِخۡتِلَافُ اُمَّتِیۡ رَحۡمَةٌ منظر پیش کوی. هغه نکته دا ده. چا چه دَ اسم لفظ زیاتی منلے دے. نو دغه معنیٰ دَ منتهی سالک دَ حالت مناسب ده. یعنی دَ ذاتِ باری تعالیٰ ملاحظه کوه. او چا چه زیاتی نهٔ دے منلے دا معنیٰ دَ مبتدی سالک دَ حالت مناسب ده. (یعنی دَ الله نوم اخله. ذکر کوه) ځکه چه مبتدی دَ مسمّی او مذکور تصور نشی کولے. هغهٔ دَ پاره دا کافی ده چه دَ اسم تصور اوکړی. او صِرف دَ الله نوم یاد کړی. او منتهی ملاحظه دَ ذات کولے شي. لکه په حدیث شریف کښے اَنۡ تَعۡبُدَ اللهَ کَاَنَّکَ تَرَاهُ. (احسان دا دے چه دَ الله عبادت داسے کوے لکه چه وینے ئے) کښے هم دَ مشهور توجیه په بنا دَ منتهی حالت بیان شوے دے. او مبتدی دَ پاره دَ حضورِ قلب حاصلولو آسان طریقه دا ده چه دا تصور کوی. چه زهٔ الله تعالیٰ ته قرآن شریف دَ هغهٔ په حکم اوروم. او هغه ئے اوری. په دے طریقه ورته حضورِ قلب په آسانه حاصلیدے شي.

بیا ارشاد دے. وَتَبَتَّلۡ اِلَیۡهِ تَبۡتِیۡلًا. (دَ ټولو نه تعلق پریکړه. هغهٔ ته متوجه شه)

دَدے دوه مطلب کیدے شی. یو دا چه تَبَتُّلُ صِرف دَ ذکر سره متعلق شی. یعنی دَ ذکر په حالت کښے ذهن دَ نورو خیالاتو نه صفا کړه. خالص ذکر ته متوجه شه. نو دا دَ ذکر سره مراقبه هُم شوه. بل دا چه مستقل حکم او منلے شی هر حالت کښے. نو مطلب به ئے دا شی. چه نورو ټولو تعلقات ختم کړه. بس یو دَ الله شه. دَ تعلق ختمولو مطلب دا نهٔ دے. چه په ځنګل یا کوټګئ کښے ځانته کیته بال بچ سره. یا نور مخلوق سره هیڅ قسم تعلق مهٔ ساته. بلکه مطلب ئے دا دے. چه دَ الله سره تعلق او دَ الله سره مینه په هر ځائے غالبه شی. دَدے اثر دَ مقابلے په وخت کښے معلومیږی مثلاً په یو وخت کښے دوه کاره پیښ شی. یو دَ الله سره تعلق لری - او بل دَ غیر الله سره دواړه جمع کیدل ممکن نهٔ وی. نو په هغه وخت کښے چه څوک دَ الله کار اوکړی. او دَ غیر الله کار پریدی. دا اصل تَبَتُّلُ دے. دا نه چه دَ هیچا سره هیڅ قسم تعلق نهٔ ساتی یواځی ځانته کینی. (دا سے ځانته کیدل تَبَتُّلُ نهٔ دے. رهبانیت دے. دکوم چه اسلام کښے ممنوع دے. ت)

**شعر**

تعلق حجاب است وبے حاصلی     چو پیوندها بگسلی واصلی

رغیر الله سره تعلق حجاب دے. او بے فائده دے. چه تعلقات اوشلوے حق ته به اُورسے - واصل به شے) دَ خلقو سره خلط (تعلق ساتل) منع نهٔ دی. البته په خلط کښے افراط (زیاتے) نقصانی دے.

مخکښے ارشاد دے. رَبُّ الْمَشْرِقِ وَالْمَغْرِبِ لَآ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ فَاتَّخِذْهُ وَكِيلًا ه (هغه دَ مشرق او مغرب یعنی ټول جهان مالک دے. دَ هغهٔ نه علاوه بل هیڅوک دَ عبادت لائق نشته. نو خپل ټول کار هغهٔ ته اوسپاره) (دے ته دَ تصوّف په اصطلاح کښے تفویض ویلے شی. ت) دے نه معلومه شوه چه سالک دَ پاره توکل هم ضروری امر دے. دلته دَ توکل په تعلیم کښے نکته دا ده چه دا کوم اعمال چه مخکښے بیان شو. په دے باندے عمل کولو نه پس به په حالت کښے تغیر او تبدیلی راځی. دَ قبض وبسط کیفیات به شروع کیږی. نو په دے کښے به دَ توکل ضرورت وی. نو ارشاد دے. چه هغه دَ ټول جهان مالک دے. په تاسو چه کوم حالت راولی. په دے کښے به ضرور څهٔ

حکمت وی. نو تا سوزړه مهٔ تنګوئ. خپل ځان الله ته اوسپارئ. کوم حالت چه دربانده راولی. په هغې راضی اُوسئ. او په تجربه ثابته شوی ده. چه اکثرَ دَ قبض په حالت کښې دَقلب تزکیه او تصفیه ښه کیږی. اوګورئ دَ مشرق او مغرب ذکردَ قبض و بسط سره څومره مناسبت لری. دَ مشرق حالت چه نمر ښکاره شی ملک روښانه شی. دَ بسط سره مناسبت لری چه دَ تجلیاتو او انوارو ظهور وی. او دَ سالک زړهٔ خوشحاله اوروښانه وی. دغه شان دَ مغرب حالت چه نمر پریوځی او په دُنیا تیارهٔ راخوره شی. دَ قبض دحالت سره مناسبت لری. چه تجلیات او انوار مستور شی. اودَ سالک په زړهٔ تیارهٔ راشی. خفه او تنګ شی. نودَا انسان په باطن کښې دَ مشرق او مغرب نمونه شته. څهٔ ښهٔ ویلی شوی دی.

آسمانهاست در ولایتِ جان؛ کارفرمائے آسمان جهان؛
در ره رُوح پست و بالاهاست کوه هائے بلند و بالا هاست

(دَروح په ملک کښې ډیر آسمانونه دی. چه په ظاهری آسمانونو کښې کار فرما دی)
(دَروح په لاره کښې ډیرے لوړے ژورے دی. او ډیر دنګ غرونه دی.)

نو څنګه چه په مغرب کښې نمر ډوب شی دَ سترګو نه پناه شی. لیکن حقیقت کښې موجود وی چرته ورک نهٔ وی. خو دَ نظرنه پناه شی. دغه شان په قبض کښې هم کیفیات سلب کیږی نه. صرف مستور شی. او په بسط کښې بیا څرګند شی. لکه مشرق نه چه نمر بیا را اوخیژی.

خلاصه دا چه سالکانو دَ پاره په دے سورت کښې یوڅو ضروری معمولات بیان شوی دی. تهجد. تلاوت. تبلیغ. ذکر. تبتل. توکل. او صبر. اوچونکه مخلوق سره تعلق دوه قسمه دے. دَ موافقو سره چه په اِنَّ لَکَ فِی النَّهَارِ سَبۡحًا طَوِیۡلًا کښې ورته اشاره شوی ده. چه حاصل ئے دَ دین تبلیغ اوارشاد و تربیت دے. چونکه دَ موافقو سره تعلق دَ محبت وی. اودَ محبت په وجه طبیعت خپله دَ هغوئ دَ حقونو اداکولو تقاضا کوی. نو دلته دَ زیات اهتمام ضرورت نهٔ وو

دَ مخالفینو سره په معامله کښې دَ کمی زیاتہ خطره وه۔ نو هلته زیات اهتمام شوے دَے
ارشاد دے۔ وَاصْبِرْ عَلٰى مَا يَقُوْلُوْنَ وَاهْجُرْهُمْ هَجْرًا جَمِيْلًاo (مخالفینو چه درته
تکلیف اُورسی، په هغې صبر کوه۔ او ځان ترې په ښه طریقه جُدا کړه۔) یعنی ډیره سختی
ورسره مه کوه۔ په نرمئ ورسره تعلقات ختم کړه۔ ځان ترې جدا کړه۔ دَ هجرِ جمیل مطلب دَے
په دا سے طریقه تعلقات ختمول چه ذړهٔ کښې تنګسیا او خفګان رانشی۔

دَ صبر دَ تعلیم نه پس بیا دَ هغې دَ آسانتیا او دَ تسلّئ دَ پاره ارشاد دے۔ وَذَرْنِيْ
وَالْمُكَذِّبِيْنَ اُولِي النَّعْمَةِ وَمَهِّلْهُمْ قَلِيْلًاo (یعنی دَ مخالفینو معامله ما ته او سپاره
زهٔ به پوره پوره سزا ورکړم۔ ستا بدله به ترے واخلم) دَ الله تعالیٰ عادت دا دے۔ چه
دَ مخالفینو نه دَ اهلِ حق بدله خپله اخلی۔ نو مناسب هم دادی۔ چه صبر اوکړے شی۔
ځکه چه یو بالا دست طاقتور ذات ورنه ستا بدل اخلی۔ نو بیا ته ئے څه غم کوے۔
عادت الله دا سے جاری دے۔ چه دَ الله دَ دوستانو مخالفین په دُنیا او آخرت دواړو
کښې رسوا کیږی۔

بس تجربه کردیم درین دیر مکافات     با دُردکشان هر که در اُفتاد بر اُفتاد
هیچ قومے را خدا رسوا نه کرد     تا دلِ صاحبدلان رنجیده کرد

(په دُنیا کښې مو ډیرے تجربے اوکړے۔ څوک چه اهل الله سره اونښتو۔ هغه
پریوتو۔ تباه شو۔
الله تعالیٰ هیڅ یو قوم نهٔ رسوا کوی۔ ترڅو ئے چه څوک اهل الله خفه
کړے نهٔ وو۔)

غرض دا چه په دے سورت کښې دَ سالکانو یو څو ضروری معمولات بیان شوی
دی۔ تهجّد۔ تلاوت۔ ذکر۔ تبلیغ۔ تبتّل۔ توکّل۔ او صبر۔ دا ټول مجموعه
دَ سالکانو په معمولاتو حاوی ده۔ نو په دے وجه ددے وعظ نوم
سیرة الصوفی کیدم۔
دلته په يَا اَيُّهَا الْمُزَّمِّلُ کښې دوه لطیفې نکتې دی۔ یو خو دا چه څنګه حضور



Scanned with CamScanner

صلی الله علیه وسلم له ډیره غمه ځان په څادر کښې را نغښتې وو. دغه شان د ځینو طریقو صوفیان هم د ذکر په وخت کښې ځان په څادر کښې پټوی چه نظر منتشر نه وی نو زړه به هم نه منتشر کیږی. او په جمعیت او یکسوئی سره به ذکر ته متوجه وی.

دویم د مزمل عام معنیٰ ده. کمبل (شړئ) په سرول. د صوفی په معنیٰ کښې اګرچه اختلاف دے. خو ظاهری معنیٰ ئې داده چه صوف وائی وړئ ته. او د وړئ نه جوړے شوی غټے کپړے یعنی شړئ ته. او پخوا به صوفیانو شړه له جامه. یا د شړی جامه خوښوله. ځکه چه شلیږی هم زر نه. او خیرنیږی هم ډیره نه. نو زر وینځل نه غواړی. کو

ګویا د یَآاَیُّهَا الْمُزَّمِّلُ معنیٰ شوه اے صوفی.

ځنو کاملانو صوفیانو دا خاصه جامه په دے وجه خوښه کړی وه. چه په عامه جامه کښې به چا پیژندل نه. نو څه بد تمیزی به ورسره چا اوکړه. نو د الله عذاب به پرے راغلو. په آفت کښې به ګیر شو. نو هغوئ په نا پوهه خلقو باندے د شفقت په وجه دا خاصه جامه د پیژند ګلو د پاره مقرری کړه.

په دے جامه کښې دا حکمت وو. لیکن اوس خو خالص د ریا د پاره اغوستے شی. ځکه اوس د پرینبو قابله ده.

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ۝

وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ ۝

وَعَلٰی عِبَادِ اللّٰهِ

الصّٰلِحِیْنَ ۝

بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

دعواتِ عبدیت اول جلد

پنځم وعظ

# استخفافُ المعاصِی

۱۳ جون بروز پیر
2016

ګناهونه معمولي ګڼل

له ارشاداتو د حکیمُ الاُمّت

حضرت مولانا اشرفُ علی تهانوی رحمة الله علیه

پښتو ترجمه

له سیّد تسنیم الحق کاکاخیل


ناشران:- یونیورسټي بک ایجنسي

خیبر بازار پشاور

شهر

# خُلاصه

ځنه کسان تپوس کوی چه دے کار کښے غټه ګناه ده که وړه . دا سے ښکاری. لکه که غټه ګناه وی. نو ځان به ترے اوساتی. او که وړه ګناه وی. نو خیر دے څه پروا نشته۔

دا تصوّر غلط دے. هرے ګناه نه بچ کیدل ضروری دی. صغیره وی که کبیره. ځکه چه دَګناه حقیقت دے دَالله تعالیٰ نافرمانی. اونافرمانی هره یوه نافرمانی ده. غټه وړه پکښے نشته. دَګناه مثال دَ اُور دے. چه غټه سروټکه ئے هُم سوزول کوی. او ورکوټے بسرګے ئے هم کور سوزولو دَ پاره کافی دے. آیا څوک به چاته دا اجازت ورکړی. چه دَکوټے په بلڅی کښے ورته دَ اُور بسرګے کیدی ؟ که دے تر نشی ټینګیدے نو دَ الله دَ نافرمانئ جرأت څنګه کوی بل مثال ئے دَ پلیتئ دے. چه پلیت شے لږ وی که ډیر په اصل پلیتئ کښے یوشان وی.

دَدے حقیقت دا تقاضا ده. چه بنده دَ هرے ګناه نه ځان اوساتی۔

بله خبره دا ده. چه څوک چه په وړه ګناه عادت شی. هغه بے باکه شی. بیا دَکبیره نه هم ځان نشی ساتلے. بلکه څوک چه په صغیره ګناه عادت شی. نو بیائے دَ ذهن نه دَ هغے دَګناه تصور اووځی. هغه ګناه ورته نه ښکاری.

او فقهاؤ لیکلی دی. چه ګناه عملاً څپکه ګنړل. یعنی چه ځان ترے نۀ ساتی. غټه ګناه ده. او اعتقاداً څپکه ګنړل. یعنی چه هغه ګناه ورته نۀ ښکاری. کُفر دے.

په دے موضوع دا وعظ حضرت تهانویؒ په رامپور ښار کښے دَ قاضی صاحب په مکان کښے په دریم ربیع الاول ۱۳۲۵ھ کښے کړے دے. او مولوی نورحسین پنجابی قلمبند کړے دے۔

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ نَحۡمَدُهٗ وَنَسۡتَعِیۡنُهٗ وَنَسۡتَغۡفِرُهٗ وَنُؤۡمِنُ بِهٖ وَنَتَوَکَّلُ عَلَیۡهِ ط وَنَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنۡ شُرُوۡرِ اَنۡفُسِنَا وَمِنۡ سَیِّئَاتِ اَعۡمَالِنَا مَنۡ یَّهۡدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنۡ یُّضۡلِلۡهُ فَلَا هَادِیَ لَهٗ ؕ وَنَشۡهَدُ اَنۡ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحۡدَهٗ لَاشَرِیۡکَ لَهٗ وَنَشۡهَدُ اَنَّ سَیِّدَنَا مُحَمَّدًا عَبۡدُهٗ وَرَسُوۡلُهٗ ؕ

امابعد. فاعوذ بالله من الشیطٰن الرجیم ۝ بسم الله الرحمٰن الرحیم ۝

قال الله تبارک وتعالیٰ :- اِذۡ تَلَقَّوۡنَهٗ بِاَلۡسِنَتِکُمۡ وَتَقُوۡلُوۡنَ بِاَفۡوَاهِکُمۡ مَّا لَیۡسَ لَکُمۡ بِهٖ عِلۡمٌ وَّتَحۡسَبُوۡنَهٗ هَیِّنًا وَّهُوَ عِنۡدَ اللّٰهِ عَظِیۡمٌ ۝

(او چه تاسو په خپلو ژبو دَ یو بل نه نقل کولے. او په خپلو خولو مو داسے خبرے چه تاسو ته یقینی معلومے نهٔ وے. تاسو معمولی کار گنړلو. او هغه دَ الله په نزد ډیره غټه خبره ده.)

دا دَ سورتِ نُور آیتونه دی. په دے کښے الله تعالیٰ دَ یو خاص گناه بدی بیان کړی ده. چه دا گناه تاسو ته معمولی ښکاریده. لیکن دَ الله په نزد غټه خبره وه. دا آیتونه دَ اِفک په واقعه کښے راغلی دی. په دے کښے دَ تُهمت بیان دے. او دَ دے په معمولی گنړلو زوی نه ورکړی شوی ده.

اوس کتل دا پکار دی. چه آیا دا حکم دَ دے خاص گناه متعلق دے. څنګه چه دَ شانِ نزول تقاضا ده. او که هره کبیره گناه معمولی گنړل بد کار دے. نو په غور کولو معلومیږی چه په دے کښے دَ یو خاص گناه څهٔ تخصیص نشته. ځکه چه قاعده داده چه دَ حکم الفاظ عام وی. نو دَ سببِ نزول په وجه تخصیص نهٔ کیږی. پاتے شو دَ عظیم دَ لفظ په وجه تخصیص. نو هره گناه که صغیره هم وی دَ خپل حقیقت په اعتبار غټه ده. ځکه چه دَ گناه حقیقت دے. دَ الله تعالیٰ نافرمانی. او ظاهره ده چه دَ مالک نافرمانی هر څنګه چه وی بد کار دے. او په گناهونو کښے چه کوم غټ او واړهٔ وی. نو هغه په خپلو کښے دَ نسبت په

لحاظ دی. یعنی دَ نسبتِ اِضافی په لحاظ یعنی یوه ډیره غټه ګناه ده. بله بے دَهغې نه لږه کمه ده. لیکن دَ اصل حقیقت په لحاظ هره ګناه غټه ده. وړه پکښې یو هم نشته. دَ ګناه دَ غټې او وړې مثال دا سے دے لکه دَ دُنیا آسمان دَ عرش نه وړوکے دے. لیکن په ځپل ځائے غټ شے دے. دویم مثال ئے دَ ناپاکئ دے. چه پلیت شے لږ دی که ډیر په اصل پلیتئ کښې یو شان وی. او په دے کښې راز دا دے چه څومره چه دَ چا عظمت او احسان ډیر وی. دومره دَ هغهٔ نافرمانی بدکاروی. او دَ الله تعالیٰ هومره عظمت او دَ هغهٔ هومره احسان دَ هیڅ انتها نشته. نو دَ الله نافرمانی ډیر بد کار دے. نافرمانی هره یوه نافرمانی ده. غټه وړه پکښې نشته. نو دَ دے حقیقت تقاضا خو دا ده. چه یوه ګناه هم چانهٔ کولے. نهٔ وړه نهٔ غټه۔

لیکن په ګناه دَ جرأت کولو یو څو اسباب دی:۔

(۱) څنه خلق دا خیال اوکړی چه صغیره (وړه) ګناه ده۔ ځان ترے اونهٔ ساتی:۔ حالانکه په دے وجه چه دَ ګناه حقیقت دَ الله تعالیٰ نافرمانی ده. فقهاؤ لیکلی دی چه ګناه ځیکه ګنړل کُفر دے. وړه وی که غټه. غرض دا چه دَ الله تعالیٰ نافرمانی هره یوه غټه ګناه ده۔ څهٔ فرق پکښې نشته. دَ ګناه مثال خو دَ اُور دے. چه وړوکے بسرے هم کوټ سوزولو ته کافی دے. او غټه سروټکه ئے هم سوزوی. نو دَ وړے ګناه مثال دَ بسری دے. او دَ کبیره ګناه مثال دَ سروټکے دے.

په کار کولو کښې دا تپوس کول چه دا وړه ګناه ده که غټه. دا شک پیدا کوی چه کبیره وی نو ځان به ترے بچ کړی او که صغیره وی نو خیر دے څهٔ پروا نشته. دَ دا سے سړی نه زهٔ دا اجازت غواړم چه دَ کوټے په بلټی کښې ورته دَ اُور وړوکے غوندے بسرے کیدم. که دے ته نشی تینګیدے. نو دَ الله تعالیٰ په نافرمانئ څنګه جرأت کوی. دَ اُور بسرے که وړوکے هُم وی. روی و خوریږی غټه سروټکه شی.

دغه شان بنده چه وړه ګناه اوکړی بیا ترِ خلاصیږی نه. همیشه ئے کوی. نو بیا ترے کبیره جوړه شی. ځکه چه ډیره موده ئے اوکړی. عادت ئے شی. بیا ورته هره ګناه نهٔ ښکاری. او ګناه ځیکه ګنړل غټه ګناه ده. بلکه کُفر دے۔



Scanned with CamScanner

(۲) ځنې خلق دَ توبې په اعتماد ګناه کوي. (یعنی دا خیال ئې وي. چې په آخري عُمر کښې به تِرِ توبه اوباسم. الله تعالیٰ به مې معاف کړي) او دا غټه غلطي ده. یو ګناه چې عادت اوګرځي دَ هغې نه توبه ویستل هم ګران شي. دَ کوم کار خوند چې چا ته وي ځکه دَ هغې نه بچ کیدل اسان وي. او کوم کار چې عادت شي. دَ هغې نه خلاصیدل ډیر ګران شي.

علاوه دَ دے نه دا هم ده. څوک چې دَ وړو ګناهونو نه احتیاط نۀ کوي. نو طبیعت ئې بے باکه شي. بیا روړو په کبیره ګناهونو هم زړه ورشي. لکه باران کښې چې یو ځل جامو ته دَ خټو څرکے ورشي. نو بیا که ټولے په خټو کښې لیت پیت شي. هم څوک ئې پروا نۀ ساتي. چې هسے هم پلیتې شوې دي. دغه معامله دَ ګناهونو هم ده. چې یو ځل پکښې څوک اولړلے شي. بیا دَ هیڅ نه مخ نۀ اړوي. او کومه ګناه چې یو عام عادت شي. دَ هغې نه بچ کیدل خو ډیر ګران شي.

لکه نن صبا چې دَ زمکو مالکان او کاشتکاران ځنې کبیره ګناهونه دَ عام عادت په جوړ کوي. او هیڅ باک ئې نه لري. غَصَبْ[۱] (دَ بل مال خوړل) ظُلم[۲] (په غریب زیاتے کول.) بیعِ[۳] باطل. (په شرع ناروا سودا کول) لکه دَ میوو باغونه په ګُل کښې خرڅول. چې یا میوه پکښې څرګنده شوې نۀ وي. ناروا دي. دَ نا بالغه یتیم په مال کښې بے ځایه تصرّف کول وغیره.

دا کبیره ګناهونه دي. خو دَ عام عادت په وجه ئې عام خلق بے خطرے کوي. بلکه ډیر دینداره خلق هم پکښې ګیر شي. شراب به نۀ څکي. غلا به نۀ کوي. جواری به نۀ کوي. دَ قتل زنا نه به ځان ساتي. لیکن دَ دے پورتنو ګناهونو هیڅ باک نۀ کنړي. حالانکه دَ شرع په حکم دا ټول یو شان کبیره ګناهونه دي. وجه صِرف دا ده چې دا ګناهونه عام عادت ګرځید لے دے. نو هغه دَ ګناه چا ته نۀ ښکاري. بلکه کله کله خو ورته دَ بد په ځائے ښۀ کار هم اووائي. نو توبه ویستل ترِ هم مشکل وي. بلکه دَ دے نه توبه ویستل ورته دَ خپل امیرانه شان خلاف ښکاري. توبه ویستل خو ترِ خود نشته. خو په زړه کښې ئې هم بد نۀ ګنړي حالانکه دا دَ ایمان نښه ده. ارشادِ نبویؐ دے. اِذَا سَرَّتْکَ حَسَنَتُکَ وَسَاءَتْکَ سَیِّئَتُکَ فَاَنْتَ مُؤْمِنٌ. (چې په نیکۍ خوشحالیږي. او په بدئ خفه کیږي نو هغه ایمانداره دے)

دے نہ معلومہ شوہ چہ دَ توبے پہ طمعہ گناہ کول څومرہ غټہ غلطی دہ۔ لیکن بیا هم ډیر خلق دا غلطی کوی۔ (وائی چہ اوس زړهٔ خوشاله کړه۔ بیا بہ توبہ اوباسے۔ اللہ غفورو رحیم دے۔ معاف بہ دِ کړی۔ت) دا دَ شیطان دهوکہ دہ۔ پہ گناهونو ئے زړه ورکوی۔ دَ دے سړی مثال داسے دے۔ لکہ چا سره دَ زخم مرهم وی۔ نو پہ قصد خپلہ گوتہ پریکړی۔ یا ئے اُور کښے اُومنډی۔ چہ بیا بہ پہ مرهم اولگوم جوړه بہ شی۔ آیا داسے سړی تہ څوک هوښیار ویلے شی؟ اوچرته هم چرے یو هوښیار سړی داسے کار کړے دے؟ هرگز نہ۔ چہ دَ دنیا اُورته دَ مرهم پہ طمعہ گوتہ وروړل هوښیاری نۂ دہ۔ نو دَ آخرت اُورته دَ توبے پہ طمعہ ځان غورزول (چہ دَ دُنیا دَ اُوره اویا چنده زیات دے) څنگہ هوښیاری شوه۔ بلکہ مرهم خو بیا هم اختیاری شے دے۔ خپلہ ئے پہ لگولے شی۔ لیکن توبہ پہ ظاهره اختیاری ښکاری۔ خو اختیاری نۂ دہ ځکہ چہ دَ توبے حقیقت دے پہ گناه دَ زړهٔ نہ پښیمانہ کیدل۔ پوره تعریف ئے دا دے۔ وَهُوَ اَنْ تَحْرِقَ الْحَشَا عَلَى الْخَطَا وَ تَاَلَّمَ الْقَلْبُ عَلَى الْاِثْمِ۔ (توبہ دا دہ چہ زړهٔ پہ غلطئ اوسوزی۔ او پہ گناه دړمن شی) یعنی داسے پښیمانہ شی چہ پہ زړهٔ ئے اوربل شی او پہ گناه دردمن شی۔ نو توبہ دَ دے سوزش او درد یو تاثر دے۔ (انفعال دے) اختیاری شے نۂ دے۔

دَلتہ دا شبہ کیدے شی چہ توبہ اختیاری شے نۂ دے۔ نو بیا مونږ تہ دَ توبے ویستو حکم څنگہ شوے دے۔ اللہ تعالیٰ خو بندیانو باندے دَ وَس نہ بهر تکلیف نۂ دے اینبے۔ لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا۔ ارشاد باری دے۔ (اللہ تعالیٰ پہ بنده دَ وس نہ بهر پابندی نۂ ده اینبی) دَ دے جواب دا دے چہ اختیاری څیزونہ دوه قسمہ دی۔ یو هغہ چہ خپلہ هغہ څیز دَ بنده پہ اختیار کښے وی۔ بل دا چہ دَ هغے اسباب او ذرائع دَ بنده پہ اختیار کښے وی۔ نو دَ توبے اسباب دَ اللہ تعالیٰ دَ عظمت او دَ هغهٔ دَ عذاب تصور کول دی۔ او دا دَ بنده پہ اختیار کښے دی۔ دا چہ څوک اوکړی۔ نو دَ اللہ تعالیٰ عادت داسے جاری دے۔ چہ زړهٔ کښے ئے پہ گناه پښیمانی او درد پیدا کړی۔ کوم چہ دَ توبے حقیقت دے۔ ځکہ دَ توبے حکم شوے دے بل ځائے ارشاد دے۔ وَالَّذِيْنَ اِذَا فَعَلُوْا فَاحِشَةً اَوْ ظَلَمُوْا اَنْفُسَهُمْ ذَكَرُوا اللّٰهَ

فَاسْتَغْفَرُوْا لِذُنُوْبِهِمْ - (او هغه مؤمنان داسې دی، چه کله ترې غلط کار اوشی، یا ځه گناه اوکړی نو سمدستی دَ الله عظمت او عذاب را یاد کړی. او دَ خپلو گناهونو توبه اوباسی.) مطلب دا چه ځنې غلطی ترې اوشی، نو دَ الله عظمت او عذاب دا یاد کړی او په خپلو کړو پښیمانه شی. نو توبه اوباسی - دلته په ذَكَرُوا اللهَ کښې مضاف محذوف دے. یعنی ذَكَرُوْا عَظْمَتَ اللهِ او عَذَابَ اللهِ - او واقعی دَ الله دَ عظمت خیال داسې شے دے. چه دا دَچا په زړه کښې پیدا شی، هغه هیچرے نافرمانی نشی کولے. نو دا خیال هر وخت زړه کښې دَ ساتلو شے دے چه دا دَ زړه نه اووځی. نو بنده په نافرمانۍ زړه ور نشی.

(۳) ځنې خلق په دے انتظار وی. چه دا کارونه پوره کړم. نو بیا به توبه اوباسم او نیک به شم. لیکن ممکنه ده چه کارونو پوره کولو نه مخکښې ئې نیته پوره شی او دے په کارونو کښې داسې مشغول شی. چه دَ توبې مهلت په لاس ور نشی. او بې توبې لاړ شی. نو پکار ده چه دَ فرصت دَ وخت نه فائده واخلی او توبه ویستو کښې نا راستی او نکړی.

هر کله چه دا معلومه شوه چه دَ الله تعالیٰ دَ عظمت او دَ عذاب په مراقبه (تصور) توبه نصیب کیږی. نو دَ غور قابله خبره دا ده چه دے مراقبې دَپاره هُم دَ فرصت ضرورت دے. لیکن اکثر خلق دَ دے فرصت قدر نهٔ کوی. حالانکه دا دیر دَ قدر شیز دے. لکه حدیث شریف دے. اِغْتَنِمْ خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ. (دَ پنځو شیزونو نه مخکښې دَ پنځو شیزونو قدر اوکړئ. دَ نا اُوزگاره سړی په ژوند چه غم اوکړی نو دَ فراغت قدر به ور شی. دا غریبان هر وخت په بلا اخته وی. هیڅ وخت کښې سوچ کولو ته نهٔ اوزگاریږی. بس دا حال ئې وی. ؎

چو میرد مبتلا میرد چو خیزد مبتلا خیزد (چه مری هم په تکلیف کښې وی. او چه قیامت په ورځ پاڅی. هم په تکلیف کښې به وی.) دَ فراغت متعلق چا ځهٔ ښهٔ ویلی دی. ؎

خوشا روزگارے کہ دارد کسے | که بازار حرصش نباشد بسے
بقدرِ ضرورت یسارے بود | کند کار اَز مردِ کارے بود

(۱)(فراغت څۀ عجیبه څیز دے. چه چا ته حاصل وي. چه ډیر حرص نۀ کوي. (۲) دَ ضرورت په اندازه مال ورسره وي. داسے بنده که څۀ دَ کاروي نو (دَ آخرت دَ پاره) کار کولے شي. (غفلت دِ نۀ کوي) — او په دغه حدیث شریف کښے دویم شے دے. وَصِحَّتَكَ قَبْلَ سُقْمِكَ (دَ بیمارئ نه مخکښے دَ صحت قدر اوکړه.) دریم شے دے. وَشَبَابَكَ قَبْلَ هَرَمِكَ. (او دَ بوډاوالي نه مخکښے دَ ځوانئ قدر اوکړه.) او یو بل حدیث شریف دے. مَنْ اَصْبَحَ اٰمِنًا فِيْ سَرْبِهٖ مُعَافًا فِيْ جَسَدِهٖ وَعِنْدَهٗ قُوْتُ يَوْمِهٖ فَكَاَنَّمَا حِيْزَتْ لَهُ الدُّنْيَا بِحَذَافِيْرِهَا. (په چا چه په خپل کټ کښے په امن سره صبا شي. او په بدن روغ وي. او ورسره دَ یوے ورځے خوراک وي. نو داداسے ده لکه دنیا ورته دَ هرڅۀ سره راجمع شوی وي.) یعنی دَ دنیا ټول نعمتونه ورته حاصل وي. چه په بدن روغ وي. دَ دشمن خطره ورسره نۀ وي. او دَ ورځے خوراک ورسره موجود وي. داغټ نعمت دے. قدر ئې پکار دے. یعنی دا ورځ دَ الله په عبادت مشغوله تیرول پکار دي. حقیقت دا دے. که چا سره دَ خوراک ګودامونه ډک وي هم بنده خو ترے دَ ورځے ورځے خپل خوراک خوري. (ټول په یو ځائے نشي خوړے) نو چا ته چه الله تعالیٰ دَ ورځے ورځے خپل مقرر خوراک ورکوي. دَ حقیقت په لحاظ[۱] دواړه برابر دي. ( دَ ډیره جمع هسے بے فائدے حرص دے.

شعر

گر بریزی بحر را در کوزهٔ چند گنجد قسمتِ یک روزهٔ

چون ترا نانے و خرقانے دهد هر بنِ موئے تو سلطانے بود

(که دریاب په کوزه کښے ځائے کړے. نو څومره به ترے اوځئي. خو دَ یوے ورځے خرڅ.) (چه تا سره یوه روټئ او یوه جوړه جامے وي. نو بس ته بادشاه ئې. زیاتي حرص مۀ کوه.)

دَ یو مالدار یهودي قصه ده. چه یوه ورځ خپلے خزانے کتو ته ورغلے وو. خزانه ئې لاندے په تخانه کښے وه. دَ تخانے دروازه پټه چرته په یو بے طرفه کوټه کښے وه. دننه پروخت ډیر تیر شو. پته ورغلے وو. نوکرانو یا دَ کور خلقو نۀ وو لیدلے. څوک ترے خبر نۀ وو. هغوی داخیال اوکړو چه بل خوا به چرته لاړ وي. دَ مکان دروازے ئې تولے بندے کړے. او چرته په سیل او وتو تخانه ډیره غرقه وه. او مکان ډیر لوئ وو. ده ډیرے چغے او وهلے خو چغے ئې چرته نشوے آوریدے

هم په هغه تخانه کښې د لوږې تندے نه مړ شو. خزانے هیڅ فائده ورنکړه. دغه وخت کښې که ورته چا تپوس کړے وے. نو دا ټوله خزانه به ئے په یو ګلاس اوبو. او یوه دوډئ قربان کړې وه۔

دغه شان یو بله قصه ده. چه یو وُړې سړی په ځنګل کښې یوه ډکه تهیلئ پیا مونده ډیر خوشحاله شو. چه څه خوراک به وی پکښې. چه پرانځستنه نو اشرفئ وے پکښې. هلته ئے اوغورزوله. چه په دے به څه اوکړم. که اوچ غنم وے پکښې هم چیچلی به مِ وو. څه کار خو به ئے راکړے وو۔

غرض دا چه فراغت او صحت او د خوراک ضروری څیزونه ډیر د قدر څیز دے ـــ هروخت په لاس نۀ راځی. کوم وخت چه حاصل وی. نو دا وخت برباد ول نۀ دی پکار. په توبه ویستو او عبادت کولو کښې تلوار پکار دے۔

(۴) څنه خلق د الله د رحمت او مغفرت په طمعه توبه ویستو کښې غفلت کوی. حالانکه د رحمت او مغفرت خوشخبری دے د پاره ورکړې شوی ده. چه بنده توبه ویستو کښې تلوار اوکړی. که ډیر ګنهګار وی. هم دا خیال دِ نۀ کوی چه اوس مِ توبه نۀ قبلیږی. مایوسه کیدل نۀ دی پکار. بنده که څومره ډیر ګنهګار وی. خو چه په اخلاص توبه اوباسی. او الله ته رجوع اوکړی. هغه رحیم و کریم بادشاه په رحم کوی. او توبه ئے قبلوی. لکه ویلی شوی دی ؎

باز آ باز آ هر چه هستی باز آ　　گر کافر و گبر و بت پرستی باز آ

این درگهِ ما درگهِ نومیدی نیست　　صد بار اگر توبه شکستی باز آ

(را اوګرځه را اوګرځه هر څنګه چه ئے را اوګرځه. که کافر ئے که آتش پرست ئے که بت پرست ئے را اوګرځه. ځما دربار د نومیدئ دربار نۀ دے. که سل ځله دِ توبه ماته کړې وی. بیا هم را اوګرځه.) ـــ یعنی چه د کافر او بت پرست توبه قبلیږی. نو مسلمان خو که هر څومره ډیر ګنهګار وی بیا هم د کافر نه بنۀ دے. نو توبه کښې غفلت نۀ دے پکار. او دا خیال هم نۀ دے پکار چه څوک اووائی. زۀ دومره ډیر ګنهګار یم. چه ځما توبه د قبلیدو نه ده. دا خیال غلط دے. د الله تعالیٰ رحمت ډیر وسیع دے. هغه په توبه ټول ګناهونه معاف کوی.)

نو د الله تعالیٰ د رحمت خبرونه دے د دې د پاره دي. چه څوک نا اُمیده نشي. د دې د پاره نۀ دي چه په ګناهونو زړه ورشي او د رحمت په طمع نا فرماني شروع کړي. بلکه د رحمت د احسان تقاضا خو دا ده چه بنده نور هم زیات تابعدار او فرمانبردار شي. نۀ دا چه ګستاخ او نافرمانه شي. لکه مونږ په دُنیا کښې دا تماشه کوو. چه څوک د چا سره لږ غوندے احسان اوکړي. نو هغه ئې ټول عُمر تابعداروي. او ډیر په مینه ئې حکم مني.

نو د احسان تقاضا خو دا ده. لیکن یو بله تقاضا ورباندے غالبه شوې ده. په ګناهونو کښې ډیره مزه وي. نو نفس ته ئې پریښودل ګران وي. که د چا عقل سالم وي هغۀ ته به دا اشکال فضول ښکاره شي. ځکه چه د ګناه مزه د خارښت په شان ده. چه اصل کښې پکښې هیڅ مزه نشته. د مرض په وجه خوند ورکوي. په هغه وخت خو ګرول خوند ورکوي. خو چه روستو سوے شروع کړي. نو بیا په پښیمانو پښیمانه وي. خو بیا وخت تیر وي. نو دا په اصل کښې مرض دے. لکه مار خوړلي باندے چه تریخ شے هم خوږ لګي.

اصل خوند په تابعدارئ کښې دے. لیکن دا خوند دے خلقو څکلے نۀ دے. ځکه ورته ګناه او نفساني لذت خوند ورکوي. د پرهیزګارئ د خوند تپوس دِ څوک د ابراهیم ادهمؒ نه اوکړي. چه روغه بادشاهي ئې ورپسے پریښوه. او فقیرې ئې خوښه کړه. یا دے څوک د عمرو بن عبد العزیزؒ نه اوکړي. چه په بادشاهئ کښې ئې شاهي جامے خوراکونه. او نور خرڅونه بند کړل. د فقیرئ ژوند ئې تیرولو.

حضرت شیخ عبد القادر جیلانیؒ ته سلطانِ سنجر د نیمروز علاقه د خانقاه د خرڅ د پاره بخښله. نو هغۀ ورته په جواب کښې دا دوه شعرونه اولیکل.

(۱) چون چترِ سنجری رُخِ بختم سیاه باد — در دل اگر بود هوسِ ملک سنجرم

(۲) زانگه که یافتم خبر از ملکِ نیم شب — من ملک نیمروز به یک جو نمے خرم

(۱) د سنجر د شاهي بیرغ په شان دِ ځما د بخت مخ تور شي. که په زړۀ کښې مِ د سنجر د بادشاهۍ څۀ خیال وي. (۲) کله نه چه مِ د نیمے شپے بادشاهي مونده ده. د نیمروز بادشاهي په یوه اوربشه هم نۀ اخلم.

به فراغ دل زمانے نظرم برماه روئے　　به ازانکه چترشاهی همه روزهائے هوئے

(دَ ذړه په اطمینان سره یوه لحظه دَ خپل محبوب مخ ته کتل - په بادشاهئ کښے ټوله ورځ په شور غوبل تیرولو نه بهتر دی -)

پس ازسی سال این معنی محقق شد بخاقانی　　که یکدم با خدا بودن به از ملک سلیمانی

(دیرش کاله بعد نه پس خاقانی ته دا ثابته شوه - چه یو ساعت دَ الله په تصور کښے تیرول دَ سلیمان علیه السّلام دَ بادشاهئ نه بهتر دی -)

چونکه دَ دنیا دا نعمتونه اودَ نفس خوندونه روح دَ پاره عذاب دے. ځکه الله تعالیٰ خپل حبیب ته فرمائی. وَلَا تُعْجِبْكَ اَمْوَالُهُمْ وَاَوْلَادُهُمْ اِنَّمَا يُرِيْدُ اللّٰهُ لِيُعَذِّبَهُمْ بِهَا فِي الدُّنْيَا. (ته دَ دوئ مالونو او اولاد ته حیرانیږه مه. الله ته دا منظوره ده چه دَ دے څیزونو په وجه دَ دوئ دُنیاوی ژوند په تکلیف شی-) ځکه چه اول خو دا څیزونه حسبِ خواهش حاصلیدل ګران اوغیرِ اختیاری دی- اوکه حاصل شی نو دے څیزونو سره دَ زړهٔ تعلّق دَ بے آرامئ اوپریشانئ سبب وی.نو په عذاب کښے مبتلا وی. کله ورسره مال کښے دَ نقصان راتلو غم وی.اوکله ورسره دَ اولاد دَ بیمارئ اومرګ غم وی. نو همیشه په عذاب کښے مبتلا وی-

حقیقی آرام اواطمینان خو صِرف الله سره تعلّق پیدا کوو کښے دے. اَلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوْبُ ٥ (یاد لرئ صِرف دَ الله په ذکر زړونو ته اطمینان حاصلیږی) دَ ګناه ځنے تکلیفونه او پریشانئ خو په خپل ځان وی. لیکن دَ ګناه په وجه بارانونه بند شی. اوعام قحط پیدا شی. ځنے وبائی مرضونه لکه طاعون. اوهیضه هُم دَ ګناهونو په وجه خوریږی. دَ بے اتفاقئ په وجه ټول قوم کمزورے اوتباه شی.

یاد لرئ. دَ وبائی مرضونو دَ پاره ځنے ظاهری اسباب هم وی. خو اصل حقیقی سبب ئے دَ ګناهونو کثرت او دَ خالق نافرمانی ده. او په دواړو کښے څهٔ تعارض نشته. (کیدے شی چه اصل سبب ئے ګناه وی. خو دَ سزا ظهور دَ طبعی اسبابو په ذریعه اوشی.) اوچونکه خلق دَ دے امراضو سبب ګناهونه نهٔ ګنړی. ځکه طبی علاج

خو کوی. دَ ظاهری اسبابو لره کولو کوشش خو کوی. لیکن توبه نهٔ اوباسی.
کوم چه ئې اصلی علاج دے. دوا ره علاجه پکار دی. ؎

چند خوانی حکمتِ یونانیان　　حکمتِ ایمانیان راهم بخوان
صحتِ این حس بجویید از طبیب　　صحتِ آن حِس بجوئید از حبیب
صحتِ این حِس ز معموری تن　　صحتِ آن حِس ز تخریبِ بدن

(دَ یونان فلسفه به ترکومے لولے. څهٔ خو دَ ایمان و معرفت فلسفه هم اووایه.
دَ بدن دَ صحت دَ پاره طبیب ته لاړ شه. او دَ روح دَ صحت دَ پاره مرشد کامل ته ورشه.
دَ جسم صحت خو دَ بدن په مضبوطیا راځی. لیکن دَ روح صحت دَ بدن په کمزورتیا کښے دے)

دَ گناهونو په وجه آفتونه راتلل دَ قرآن شریف دَ صریح نص نه ثابت دی -
ارشاد دے. مَا اَصَابَكُمْ مِّنْ مُّصِيْبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتْ اَيْدِيْكُمْ. (هر تکلیف چه تاسو ته
دریږی نو دَ ستاسو دَ خپلو لاسو کړی کارونو په وجه)

یو بزرګ په اَس سور وو. اس ئې ورانے شروع کړی. نو هغهٔ اُووئ. نن ضرور
ځما نه څهٔ گناه شوی ده. دَ خپل مالک نافرمانئ کړی ده ځکه دا اس ځما نافرمانی کوی. ؎

تو هم گردن از حکم داور مپیچ　　که گردن نه پیچد زِ حکمِ تو هیچ
هر که ترسید از حق و تقوی گزید　　ترسد از وے جن و انس و هر که دید

(ته هم دَ خپل حقیقی مالک دَ حکم نه څټ مهٔ اړوه. نو دَ ستا دَ حکم نه به هیڅ شے څټ وانهٔ ړوی-
څوک چه دَ الله نه اوویریدو. او پرهیزګار شو. جن و انس او هر شے چه ګورئ ورنه به ویریږی)

دَ حضرت حاجی امداد الله صاحبؒ واقعه ده. چه یو ځل دَ پیران کلیر شریف نه
واپس راتلو. په تهانه بهون کښے ئے شپه راغله. خلقو په یو داسے مکان کښے دیره کړو-
چه هغه دَ پیریانو دَ ویرے خلقو شاړ کړے وو. حضرت حاجی صاحبؒ چه دَ شپے تهجد دَ پاره پاځیدو
نو یو سړے راغلو سلام ئے په واچولو. مُصافحه ئے ورسره اوکړه. او یو ډیر ترکیناستو
حضرت حیران شو. چه ورخو بند دی دا سړے په کومه راغلو. ورنه ئے تپوس اوکړو. چه څنګه
راغلے. هغهٔ ورته اُووے. زهٔ پیرے یم. ډیر مُدے راسے په دے مکان کښے اُوسم. ځما په وجه دا مکان

شاړ شوے دے. حاجی صاحبؒ ورته اووے ته د خدائے نه نهٔ ویریږے چه خلقوته تکلیف رسوے هغهٔ ورته اووے بس دے. دے پس به چا ته تکلیف نهٔ ورکوم- دا وعده ئے اوکړه. او د مکان نه لاړو- بیا هغه مکان اباد شو. دا د حضرت د تقویٰ اثر وو په پیری باندے-

د تاریخ یو روایت دے. چه د حضرت عمرو ابن العاصؓ د گورنرئ په زمانه کښے (هغه د حضرت عمرؓ په زمانه کښے د مصر گورنر وو) یو کال د نیل دریاب کښے اوبهٔ کمے شوے. زمکے شاړے شوے. او د قحط خطره پیدا شوه. خلق ډیر پریشان شو. هغهٔ د مشرانو نه تپوس اوکړو. چه دا دریاب څنګه چرے داسے اوچ شوے دے- مشرانو ورته اووے کله کله داسے کیږی او ځوبن پخوا داسے دارواج راغلے دے چه کله دریاب اوچ شی نو مونږ یو ښائسته ځوانه جینئ لکه د ناوے په شان په ډول سنګار جوړه کړو. سیند کښے ئے واچوو. نو سیند جوش اووهی او اوبهٔ ډیرے شی. هغهٔ ورته اووے. زهٔ یو خو بےګناه انسان سیند ته نشم غورزولے او دا حالات ئے حضرت عمرؓ ته اولیکل-

حضرت عمرؓ قاصد ته یو خط ورکړو. چه د جینئ په ځائے دا خط سیند کښے واچوئی اوبهٔ به ډیرے شی. خط کښے ئے لیکلی وو "اے د مصر دریابه- که ته په خپل اختیار او خپله رضا روان ئے- نو مونږ ته د ستا هیڅ ضرورت نشته- ځمونږ رازق الله دے. او که ته د الله په حکم روان ئے. نو بیا د شیطان په حکم ولے بند شوے"

دا خط چه ئے سیند کښے واچولو. سیند په غورزنګونو روان شو- او بیا هیڅکله کم نشو دغه شان هغه غلط رواج ختم شو. دا صرف د الله د تابعداری برکت دے. خوک چه د الله تابعدار شی. هر شے د هغهٔ تابعدار شی- او خوک چه د الله د رضا طلبګار وی د هغهٔ هرکار اسان وی- هیڅ وخت کښے ورته تکلیف نهٔ وی-

خلاصه دا چه د الله تابعداری د آرام وراحت سبب دے. او د الله نافرمانی د تکلیف او مشکلاتو سبب دے-

نن صبا اول خو خلق ګناهونه د آفت سبب نهٔ ګنړی- که خوک ئے ګنړی هم. نو بیا خپلو ګناهونو ئے نظر نهٔ وی- نور خلق ورته ګنهګار ښکاری. مشرانو به د دے برعکس

اول نظر په خپلو گناهونو اچولو ځان به ورته د ټولو نه زیات گنهگار ښکاریږي۔

وائي چه حضرت ذوالنون مصری رحمة الله علیه ته خلقو سوال اوکړو۔ چه باران نه کیږی ته د باران د پاره دُعا اوکړه۔ هغه ورته اووے په دے کلی کښې زه ډیر گنهگاریم ځما په وجه په تاسو باران بند شوے دے. زه به د دے کلی نه لاړ شم چه په تاسو باران اوشی۔ نو هغه کلے پریښو۔ او خدائے پاک باران اوکړو۔ نو مونږ ته پکار دی چه خپلو گناهونو ته اوگورو او توبے اوباسو چه الله تعالیٰ را باندے رحم اوکړی۔ لیکن نن صبا خو خلق خپلے خوبۍ وینی غلطی نه وینی۔ حالانکه خوبۍ چرته دی. خو دوئ خبر نه دی۔ څو مونږ دا بے اخلاصه ناقص عملونه او بے روحه عبادتونه د الله تعالیٰ په لوئ دربار کښې د پیش کیدو قابل هم نه دی۔ څو مونږ د نیکئ دعوے غلطے دی۔

(۱) خواجه پندارد که دارد حاصلے حاصلِ خواجه بجز پندار نیست

(۲) از دست و زبانِ که برآید؛ کز عهدهٔ شکرش بدر آید

(۳) منت منه که خدمتِ سلطان همے کنی منت شناس ازو که بخدمت براشتت

(۱) (د خواجه صاحب دا خیال دے چه څه حاصل لری. خو بے د کبره ورسره نور هیڅ نشته۔

(۲) د چا په لاس او ژبه کښې دومره طاقت نشته چه د الله تعالیٰ د شکر حق ادا کړے شی۔

(۳) نه احسان مه اچوه چه زه د بادشاه خدمت کوم د بادشاه احسان اومنه۔ چه پر تا خدمت کوی۔) — نو دا خلق چه په کومو نیکیو ناز کوی۔ دا صرف د دوئ گمان دے. په حقیقت کښې دا نیکئ په نیکیو نه دی حساب۔ د الله دربار کښې د قبلیدو قابلے نه دی ځکه چه اکثر بے طریقے او د اخلاص نه خالی وی نو بے روحه وی۔

د مثال په طور را ته یاد شو (حضرت تهانوی فرمائی) یو ځل را ته یو ځائے کښې یو سړی بے طریقے ببوزے وهلو. زه ئے تنگ کړے وم. او د هغه دا خیال وو چه ډیر خدمت م اوکړو۔ او کافی آرام م ورا ورسولو۔ او د لته زه ډیر په تکلیف وم. خو برداشت م کولو چه مخلص دے. که منع کوم نو خفه به شی –

دغه حال څو مونږ د اکثرو عبادتونو دے. چه د بے طریقے او غلطیو په وجه د قبلیدو

قابل هم نهٔ وی. او مونږ په فخر کوو. چه عابدان او زاهدان یو.

څنه خلق خپل ګناهونه د تکلیف سبب اوګنړی. توبه او باسی او عبادت شروع کړی خو صرف په دے نیت چه دا تکلیف را نه لرے شی. خو چه کله تکلیف ختم شی. عبادت هم پریږدی. بیا هغه زوړ حال را واخلی. لکه اوس د دے طاعون په ورزو کښے ډیرو خلقو مونځونه شروع کړی وو. خو چه د طاعون زور ختم شو نو مونځونه هم لاړو. دا خو څرګند دهوکه او فریب دے. دے نه ځان ساتل پکار دی.

زنهار ازان قوم نباشی که فریبند
حق را بسجودے و نبی را به درودے

(خبردار هیڅ د داسے خلقو په شان نشی. څوک چه خدائے ته په سجده او د خدائے رسول ته په درود ویلو دهوکه ورکوی.) (یعنے په څهٔ خاص غرض عبادت شروع کړی.)

په دغه باب کښے الله تعالیٰ فرمائی (کله چه په انسان تکلیف راشی. دَعَانَا لِجَنْبِهٖ اَوْ قَاعِدًا اَوْ قَآئِمًا. (نو مونږ ته چغے وهی په پروتی. په ناستی او په ولاړه. یعنی هر وخت.) او کله چه ترے تکلیف لرے شی. نو بیا داسے شی لکه چه هیڅ چرے ئے مونږ ته سوال نهٔ وی کړے.) نو د دے طرزِ عمل سزا خو ډیره سخته پکار وه. لیکن الله تعالیٰ ډیر مهربانه دے دومره نافرمانیو او ګستاخیو سره هم په مونږ رزق نهٔ بند وی.

خدائے راست مسلّم بزرګواری و حِلم
که جرم بیند و نان برقرار میدارد

(دا دومره برداشت او لوئی خالص د الله کار دے چه نافرمانی وینی. او څمونږ رزق برقرار ساتی.)

اصل کښے د نافرمانی تقاضا تکلیف دے. په دے دُنیا کښے هم. او په آخرت کښے هم. نو د داسے کار به څهٔ خوند وی. دا اشکال خو ختم شو. او ثابته شوه. چه ګناه د سپک ګڼړلو شے نهٔ دے. نهٔ اعتقاداً چه دا خو کُفر دے. او نهٔ عملاً چه د عقل او دین خلاف دے.

حدیث شریف کښے راځی. چه مُسلمان ګناه داسے ګڼړی لکه د اُوچت غر نه چه څوک



Scanned with CamScanner

کوزه دارغړوی. څکه ترے څان ساتی. او منافق ګناه داسے ګنړی. لکه چه یو مچ په کیني او په لاس ئے اوشړی. نو بے خطرے په ورځی او بے باکه وی.

دګناه خوفناک کیدل خو واضح شو. اوس دَ دے نه دَ بچ کیدو یو طریقه بیا نو چه توبه آسانه شی -

روزانه یو وخت مقرر کړی. په هغې کښے دَ خپل نفس محاسبه کوئی. او دا سوچ کوئی چه په تیر شوا روز کښے مې نیکی څومره کړی دَه. او ګناهونه ئې نه څومره شوی دی. بیا دَ ګناه په فساد او ضرر سُوچ اوکړئ. او بیا چه دَ دے ګناه په وجه کوم عذاب کښے کیریدل دی دَ هغې خیال اوکړئ - دَ الله نعمتونه او احسانونه را یاد کړئ. او بیا خپل حال ته اوګوئ چه دَ دے احسانونو په بدل کښے څمونږ عمل څهٔ دے. او بیا په مرګ او دَ مرګ نه پس حالاتو باندے سوچ اوکړئ -

دَ دے فائده به دا وی. چه دُنیا سره بر محبّت کم شی - کوم چه دَ ګناهونو اصل سَبب دے. حدیث شریف کښے فرمان دے. اَکۡثِرُوۡا ذِکۡرَ هَاذِمِ اللَّذَّاتِ الۡمَوۡتَ (مرګ ډیر ډیر یادوئ کوم چه لذّتونه ختموی.) دے سوچ کولو سره دَ دُنیا محبت کم شی. دَ توبے توفیق اوشی. او دَ خدائے په فضل بیماری ختم شی. سُبۡحَانَ اللهِ.

شریعت څهٔ عجیبه علاج تجویز کړے دے. که څوک په یو تکوینی امر په مرض کښے مُبتلا شوے وی. نو په دے تشریعی امر باندے عمل کولو سره به الله تعالیٰ صحت ورکړی -

درد از یاراست و درمان نیز هم دل فدائے اوشرو جان نیز هم

دَ درد دَ محبوب دَ طرف دے او علاج ئے هم هغهٔ بښیلے دے. څما زړهٔ او روح داواړه ورنه قربان شه -) وَاٰخِرُ دَعۡوَانَا اَنِ الۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ ۞

وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الۡمُرۡسَلِيۡنَ ۞ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصۡحَابِهٖ اَجۡمَعِيۡنَ ۞

بِرَحۡمَتِكَ يَا اَرۡحَمَ الرَّاحِمِيۡنَ ۞



Scanned with CamScanner

16-6-2016 Typing

دعواتِ عبدیت اول جلد

شپږم وعظ

# حقوق المعاشرت

د معاشرے حقونه. (د یو علاقے د اوسیدونکو په یو بل حقونه)

له ارشاداتو د حکیم الامّت

حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه

پښتو ترجمه

له سیّد تسنیم الحق کاکاخیل


ناشران:- یونیورسټی بک ایجنسی

خیبر بازار پشاور

ښهر:

# خُلاصه

په احادیثو کښې راغلی دي. دَ یو مسلمان په بل مسلمان یو څو ...... حقونه دي. دَ مُلاقات په وخت سَلام اچول. دَ مریض تپوس کول. دَ مړي جنازه کښې شریک کیدل. دعوت قبلول. دَ اِنږي کولو په وخت که هغه اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ اووائي. نو جواب کښې ورته یَرْحَمُکَ اللّٰهُ ویل. دے ته تَشْمِیْتُ الْعَاطِسْ ویلے شي. دَ مسلمان روږ غیبت نهٔ کول. اوکه بل څوک په څهٔ تهمت لګوي. نو صفائي ئې کول.

دا معاشرتي حقونه دي. مُسلمانانو دَ پاره دَ دے خیال ساتل ډیر ضروري دي دَ ټولو شرعي احکامو په شان دَ دے حقونو هم خپل حدونه دي. چه دَ هغے نه کمے یا زیاتے جائز نهٔ دے.

په دے وعظ کښې حضرت تهانويؒ دَ دے معاشرتي حقونو شرعي حدونه بیان کړي دي. دَ ټولو معاشرتي حقونو خلاصه دا ده. چه هیچا ته دَ بل نه هیڅ تکلیف رسیدل نهٔ دي پکار. هرمسلمان ته دا خیال ساتل پکار دي. چه په هیڅ حالت کښې بل ته تر هیڅ تکلیف اُونه رسي.

دا وعظ "حضرت تهانويؒ" دَ تهانه بهون په جامع مسجد کښې. یعنې خپله خانقاه کښې دیره زیرِ تربیت عالمانو سالکانو ته په ۸ ربیع الاول ۱۳۳۹ھ کښې تقریبًا دوه نیمے ګهنټے کښې کړے دے. او مولوی نور حسین قلمبند کړے دے.

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّاٰتِ اَعْمَالِنَا. مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ. وَنَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ. وَنَشْهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ. صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ وَبَارِكْ وَسَلِّمْ.

امابعد۔ فاعوذ باللّٰه من الشيطن الرجيم ۝ بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم ۝

قُلْ يَا اَهْلَ الْكِتَابِ لَا تَغْلُوْا فِيْ دِيْنِكُمْ غَيْرَ الْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوْا اَهْوَاءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوْا مِنْ قَبْلُ وَاَضَلُّوْا كَثِيْرًا وَّضَلُّوْا عَنْ سَوَاءِ السَّبِيْلِ ۝

(او وايه۔ اے اهلِ كتابو تاسو په خپل دين كښې ناحق زياتے مه كوئ. او دهغې خلقو خيالاتو پسے مه ځئ. څوك چه خپله ګمراه دی. او نور خلق هم ګمراه كوی. او دوئ د سمے لارے نه ډير لرے وتی دی۔)

مخكښې يو وعظ كښې ما د حقونو بيان كړے وو. (چه د يو مسلمان په بل مسلمان يو څو حقونه دی. سلام اچول (او د سلام جواب وركول) بلنه قبلول. په دواړو معناګانو۔ يعنی د امداد د پاره ئے بلی. نو امداد ته ورے سيدل. او كه خوراك كښې شركت ته ئے بلی نو خوراك كښې ورسره شريك كيدل. د انږی په وخت كه الحمد للّٰه او وائی. نو په جواب كښې ورته يَرْحَمُكَ اللّٰهُ ويل. د بيمار تپوس كول. په جنازه كښې شريك كيدل. دا څو د حاضريدو په وخت كښې حقونه دی. او څنه حقونه پشی شا دی. د مسلمان رور غيبت نهٔ كول. او كه بل څوك په څهٔ تهمت لګوی. نو صفائی ئے كول۔)

او دا م وعده كړی وه. چه په بله موقع به د دے حقونو آداب بيانوم. نو نن به د دے حقونو متعلق يو څو ضروری آداب بيا نيږی۔

يادلرئ۔ چه د اخلاقو او معاشرت هم د عباداتو. يعنی مونځ روژے په شان احكام۔

قوانین او حدود دی. چه په هغو کښې کمے زیاتے. یعنی افراط تفریط کول کارخرابوی لکه څنګه چه څلورو رکعتی مونځ کښې پنځه رکعته یا درے رکعته کول جائز نۀ دی. او د ماز یګر مونځ د ماسپښین په وخت کښې کول جائز نۀ دی. یا لکه روژه چه تر ماز یګره نۀ کیږی. او تر ماسخوتنه ئے اوږدول هم ګناه ده. دغه شان د اخلاقو او معاشرتی حقونو د پاره هم څۀ حدونه او اندازے دی. په هغے کښې کمے زیاتے بد کار دے.

نو اوس دا آداب او دا حدونه پیژندل پکار دی. چه خیال ئے او ساتلے شی. نن صبا د معاشرت نه صفا معلومیږی. چه اکثر خلق د دے حقونو نه نا واقفه دی. بلکه هغوی د دین کار ئے نۀ ګڼړی. چه څه ئے په زړۀ کښې راځی هغه کوی. او د احکامو معلومولو کوشش ئے هم نۀ کوی. ځنے پوهه کسان په اخلاقو او معاشرتی حقونو کښې کمے خو بد ګڼړی. لیکن زیاتے په ئے نۀ ګڼړی. بلکه ښۀ ئے ګڼړی. حالانکه د پورتنی آیت مبارک نه معلومه شوه چه څنګه کمے بد دے. دغه شان زیاتے هم بد دے. حکم دے. لَا تَغْلُوْا فِیْ دِیْنِکُمْ. (د دین په کار کښې زیاتے مۀ کوئ) مثلاً یو معاشرتی حق سلام دے. په دے کښې خلق دا زیاتے کوی. چه د ذکر. تلاوت. خطبے. او اذان په وخت کښې هم په تلو راتلو کښې سلام اچوی.

یو مثال مشهور دے "اوچھے نے سیکھا سلام نہ صبح دیکھے نہ شام" (نادیده سلام زده کړو. نو سحر ماښام ته نۀ ګوری خو سلام اچوی) په دین کښې دا سے زیاتے ښۀ نه دے. بلکه د حدودونه زیاتے د آیت لَا تَغْلُوْا فِیْ دِیْنِکُمْ په وجه ممنوع دے.

د شریعت د احکامو مثال د طبیب د نسخے دے. مثلاً طبیب په یو نسخه کښې یو دارو شپږ ماسے لیکلی وی. نو که یو سړی په دے خیال چه دا شے طبیب لیکلے دے. نو ضرور به فائده من وی. د شپږو ماسو په ځائے په نسخه کښې پوره توله واچوی نو هغه نسخه به د فائدے په ځائے نقصان اوکړی. ځکه چه د هغے فائده په هغه خاصه اندازه کښې وی. دغه شان شریعت هم روحانی طب دے. ځکه د شریعت په



Scanned with CamScanner

احکامو کښې د طبیب د نسخې په شان کمې زیاتې دواړه منع دی. الله تعالیٰ فرمائي. تِلْكَ حُدُوْدُ اللهِ فَلَا تَعْتَدُوْهَا. (دا د شریعت احکام د الله مقرر کړې حدونه دی. نو د دے نه اخوا مه اوځئ.)

ما د معاشرتی حقونو د آدابو بیا نولو وعده کړې وه. نو نن هغه وعده پوره کوم. په شریعت کښې وعده پوره کول ضروری او په ذمه واجب دی. لیکن ډیر خلق پکښې سستی کوی. او هیڅ خیال ئې نه ساتی. بلکه په شریعت کښې خو د کمې درجې د حقونو (یعنی د مستحباتو او آدابو) زیات اهتمام شوے دے. ځکه چه د ضروری حقونو خو خامخا خیال ساتلے شی. لیکن د کمې درجې هغه ورته سپک ښکاری. نو خیال ئې نه ساتی. نو د دے د اهتمام زیات ضرورت دے. ځکه په قرآن شریف کښې وصیّت په دَین مخکښې ذکر شوے دے. ارشاد دے. مِنْۢ بَعْدِ وَصِيَّةٍ يُّوْصٰى بِهَآ اَوْ دَيْنٍ ط (میراث به تقسیمیږی پس د وصیت پوره کولو نه که چا وصیت کړے وی. او پس د قرض ادا کولو نه. که دا سړے مقروض وی) حالانکه شرعًا د کفن دفن د خرچ نه پس قرض په ټولو وړاندې دے. وروستو وصیت دے. لیکن ولله الله تعالیٰ د وصیّت ذکر مخکښې کړے دے. چه خوک پکښې سستی او نه کړی. قرض خو هر څوک ضرور ګڼړی او مطالبه کوونکے ئې هم موجود وی. لیکن وصیت په اصل کښې یو احسانی کار دے. او څوک ئې مطالبه کوونکے هم نه وی. نو وارثان پکښې سستی کوی. الله تعالیٰ د باندے خبرداری ورکولو د پاره وصیت په قرض وړاندې کړو. چه دا هم ضروری دے. غفلت پکښې مه کوئ.

(۱) په معاشرتی حقونو کښې یو حق سلام دے. دا سنتِ کفائی دے. خو خلق پکښې دا بے احتیاطی کوی. چه دا نه ګوری چه دا وخت د سلام اچولو دے که نه. د په څه وختونو کښې سلام منع دے. لکه څوک په عبادت کښې مشغول وی. ذکر کوی. که د قرآن شریف تلاوت. که مونځ. په دا سے وخت کښې سلام اچول منع دی. ځکه چه په دے وخت کښې سلام اچوونکے د هغه توجّه د الله نه ځانته را اړوی.

دَدے مثال داسے دے. لکه یو سړے دَ یو لوئے حاکم سره ناست وی. څه ضروری خبره کوی بل سړے داشی ځان سره ئے په خبرو کوی. نو دا خلافِ ادب ګنړلے شی.

یو بزرګ ویلی دی. څوک چه دَچا توجه دَ الله نه ځانته را اړوی. آدْرَکَهُ الْمَقْتُ فِی الْوَقْتِ. (په دغه وخت کښے دَ الله په قهر کښے ګیرېږی) البته که څه ضروری کار وی نو ذاکر به ذکر پرېږدی او هغه کار به کوی. لکه که یو روند یا ماشوم غارته پرېوځی. نو په داسے وخت کښے مونځ ماتول هم جائز دی. بلکه ضروری دی

یا دلته څنګه چه دَ ذکر په وخت کښے سلام اچول منع دی. دغه شان هر داسے کار منع دے. چه دَ ذاکر توجه پرې خرابېږی. لکه خبرولو دَ پاره تو خ. یا غاړه تازه کول. یائے شاته کیناستل په دے هم طبیعت پریشان کیږی. څنه خلق دا ادب ګنړی. لیکن دَ تکلیف په کار کښے ادب نشته. دا خو بے ادبی ده. څوک چه داسے کوی که دَ هغهٔ شاته څوک کیني. بیا به ورته پته اولګی چه په دے طبیعت پریشان کیږی.

څنه خلق په داسے خبرو په ما اعتراض کوی. چه ستا طبیعت کښے دَ پیرنګیانو په شان دَ انتظام سختی ده. افسوس دے. دُرِّ مختار خو دَ انګریزانو کتاب نهٔ دے. دا آداب ټول په هغے کښے لیکلی دی.

څنه کسان دَ ذکر په وخت کښے ذاکر ته مخامخ په انتظار کیني. او ورته ګوری. چه کله به اوزګار یږی. په دے هم طبیعت پریشان کیږی او توجه خرابیږی. که څوک انتظار کول غواړی نو په داسے ځائے کښے ورته کیناستل پکار دی چه ذاکر ته نهٔ ښکاری. چه هغه په اطمینان خپل کار پوره کړی. دغه شان څنه کسان دَ مونځ ګذار شاته نیت اوتړی. حالانکه نور ځائے دیری وی. نو اول خو دا کار ښهٔ نهٔ دے. دَ شرک شائبه ده پکښے. بل دا چه دا سړے ئے قید کړو. ترڅو چه دهٔ سلام نهٔ وی ګرځولے هغه خوزیدے نشی. کیدے شی چه دَ هغهٔ څه ضروری کار وی. او حصار یدو کښے ورته نقصان اورسی. څنه کسان دَ فیض اخستو په خیال داسے کوی ـ یا دلته. دَ تکلیف ورکولو په حالت کښے فیض هیڅ رے نشی اخستے. دا سخته غلطی ده. چه تکلیف دِ هُم ورکړی. او دَ فیض طمعه دِ هم کوی. واقعی څنه ادب تکلیف دِهٔ وی. داسے آداب پرېښول پکار دی.

کوری نه چه اصحابِ کرام به رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته نهٔ پاڅیدل. ځکه چه هغوئ ته معلومه وه چه حضورؐ دا نهٔ خوښوی. ادب دا دے چه دَ خپل مشر دَ رضا او خوشالئ خیال اوساتلے شی. که چا ته دَ علاماتو نه دا سے معلومه شی چه دے مشر سړے په لاس مُلکری کیدو کښے هغهٔ ته تکلیف دے. نو ورسره دِ نهٔ مُلکری کیږی. دغه شان که پوهیږی چه دا مشر مِ په پیزار پورته کولو خفه کیږی. نو ورسره دِ نهٔ اخلی. خپلے طبع ته دِ پریدی. (ادب دا دے. تکلیف ورکول ادب نهٔ دے.)

دَ حضرت مولانا فتح محمد جالندهریؒ رحمة الله علیه واقعه ده. چه یو ځل دَ جُمعے دَ مانځه نه پس جمات نه راوتو. خپل پیزار ئے خپله راخستے وو. یو سړی ورنه اخستو. ورسره ئے وړو. هغهٔ دَ تواضع په وجه نهٔ ورکولو. نو هغهٔ په یو لاس دَ مولانا صاحب لاس ته زور ورکړو. او په بل لاس ئے ترے پیزار را ښکلو. او کوری دے سړی په خپل خیال دَ هغهٔ عزت کولو. خو دَ ناپوهئ په وجه ئے دَ عزت په ځائے خو مره تکلیف ورکړو دا غټ حماقت دے. دا معمولی خبرے نهٔ دی※. خو چه تعلق ئے دَ بل مسلمان سره دے. نو په حقوق العباد کښے راځی. نو دے کښے په کمی زیاتی (افراط تفریط) کښے دَ مونځ روژے نه زیاته دَ گرفت خطره ده. ځکه چه مونځ روژه دَ الله حق دے او هغه غفور رحیم دے. که خپل حق معاف کړی نو دَ کرم نه ئے څهٔ بعید نهٔ ده. لیکن هغهٔ دا قانون مقرر کړے دے چه دَ بندیانو حقونه صِرف دَ صاحبِ حق په معاف کوو معاف کوی. نو دَ دے ډیر خیال ساتل پکار دی. (چه بل ته څهٔ تکلیف اونه رسی)

لکه په احادیثو کښے چه دَ حضرت عائشے رضی الله عنها روایت دے. چه یوه شپه رسولِ کریم صلی الله علیه وسلم ناوخته قبرستان ته دُعا دَ پاره تلو. نو په دے خیال چه عائشهؓ بی بی اُوده ده. راویښه نشی. غلے غلے پاڅیدو. روی و ئے ورلوے کړو. او غلے غلے بهر ته اووتلو. حضرت عائشهؓ ویښه وه. خو حضورؐ ته علم نهٔ وو. ځکه چه په هر څهٔ علم خو دَ یو اللهؒ خاصه ده. نو حضرت عائشےؓ دا خیال اوکړو. چه گوندے حضورؐ دَ بلے بی بی کور ته ورځی. هغه هم ورپسے غلی غلی روانه شوه. او دَ هغے دا شک دَ ډیر محبت په وجه راغلو.

※ (لکه دَ مونځ روژے په شان دَ اسلام ارکانو کښے نهٔ دی)



Scanned with CamScanner

دَحضورؐ دَ محبوبیت شان دومره غالب وو. چه بنیادم خهٔ چه ځاروی هم دَ حضورؐ په محبت کښې بے قراره وو۔

دَ حج په موقع چه رسولِ اکرم صلے الله علیه وسلم په قربانیٔ کښې سل اوښان ذبح کول درے اویا ئې په خپل لاس ذبحه کړی وو. نو روایت کښې راځي چه هغه اوښان دَ حضورؐ دَلاسه ذبحے ته داسے بے قراره وو چه هریو به خپه را مخکښې کولو۔ چه اول ما ذبحه کړی۔ دَ حدیث الفاظ دی. کُلُّهُنَّ یَزْدَلِفْنَ اِلَیْهِ. (هریو به ورته ځان را نزدے کولو. یو شاعر څهٔ ښهٔ ویلی دی۔

همه آهوانِ صحرا سرِ خود نهاده برکف باميد آنكه روزے به شکار خواهی آمد

(دَ صحرا ټولو هوسیو خپل سرونه په لاس کښې نیولی دی (په انتظار دی) چه یوه ورځ خو به هغه محبوب په ښکار راشي. او ځمونږ دَ سرونو تحفه به قبوله کړی۔)

هرکله چه ځاروی دَ حضورؐ په محبت کښې داسے بے قراره وو. نو دَ حضرت عائشهؓ خو ورسره خاص تعلق وو. هغه به ولے نهٔ بے قراره کیده. غرض دا چه هغه هم ور پسے روانه شوه. قبرستان ته اُورسیده. حضورؐ چه دُعا نه فارغ شو. را واپس کیدو. نو هغه ترے را مخکښې شوه چه اول کورته اورسی. اوس عائشه بی بیؓ مخکښې ده او حضورؐ ور پسے دے. حضورؐ ته مخکښې څو سورے سوری ښکاره شو. نو قدم ئې لږ تیز کړو چه څوک دی. هغې هم منډه کړه او ځان ئې دَ حضورؐ نه مخکښې کورته اورسولو. حضورؐ چه ورننوتو هغه په خپله بستره کښې پرته وه. خو ساه ئې کړه وړه وه دَ منډے په وجه. الیٰ اٰخر الحدیث۔

په دے واقعه کښې دَ آدابِ معاشرت دَ پاره یو غټ دلیل دے. (چه حضورؐ سره دَ شانِ محبوبیت دَ بل دَ آرام څومره خیال ساتلو. (چه غلے غلے پاڅیدو. ور ئې روی و لرے کړو. چه کړپ اونهٔ کړی. او بی بی عائشهؓ بے آرامه نشی۔)

څنه وخت کښې څنه کسانو ته دَ آدابو تعلیم په سختو الفاظو ورکول ضروری وی څو هغوی په خفه شی. او دَ اخلاقو خلاف ئې ګڼړی. بیا دلرئ دَ بے ادبیٔ په کار زورنه ورکول او په سختیٔ تعلیم ورکول دَ اخلاقو خلاف نهٔ دی. په حدیث شریف کښې راځي چه یو ځل یو سړی رسولِ کریم صلی الله علیه وسلم نه دَ ورک مال متعلق تپوس اوکړو. چه که څوک پردئ بیزه بے ځایه په خریځ

او وینی نو ځنګه پکار دی کو رته ئے راولی. که په هغه ځائے پریدی. حضورؐ ورته او فرمائیل. دَ حفاظت په غرض ئے کورته راوستل پکار دی. کنی څوک به ئے پټه کړی. یا به ئے کید رماته کړی. په دَ غه موقعه بل سړی تپوس اوکړو. که اوښ څوک دغه شان اووینی؟ نو حضورؐ په دے تپوس خفه شو. په قهرے ورته اووے. دَ اوښ هم دغه حکم دے. دے نه معلومه شوه چه بے تمیزئ باندے غصه جائز ده.

درشتی و نرمی بهم در به است چو رگ زن که جراح و مرهم نه است

(سختی او نرمی دواړه سره ښه دی. لکه رګ وهونکی چه زخمی کول هم کوی. او مرهم په هم کیدی.) — نو دَ اخلاقو بنیادی اُصول دادی. چه بل ته بے وجے تکلیف او نه رسولے شی. څنګه خلق دَ چا کورته ورشی چغے ورته وهی. او بیا بیا آوازونه ورکوی. دا هم تکلیف ورکول دی. ارشادِ خداوندی دے. اِنَّ الَّذِیْنَ یُنَادُوْنَکَ مِنْ وَّرَآءِ الْحُجُرٰتِ اَکْثَرُهُمْ لَا یَعْقِلُوْنَ (بیشکه کوم کسان چه تاته دَ کوټو شانه چغے وهی. دوئی کښے اکثر ناپوهه دی.)

**دَ سلام آداب:-** په معاشرتی حقونو کښے یو حق سلام دے. نو اوس مونږ دَ سلام آداب بیانوو. نو یو ادب خو ئے دادے چه دَ عبادت او ذکر کولو په وخت کښے په چا سلام اچول نهٔ دی پکار. بل ادب ئے دادے چه څوک دَ ګناه په کار کښے ګیاوی. (لکه جواری کوی. یا شراب څکی) په هغوئ هُم سلام اچول نهٔ دی پکار. ځکه چه سلام دَ مسلمان دَ عزت دَ پاره دے. او فاسق دَ عزت قابل نهٔ دے. بل دا چه څوک ضروری حاجت ته (بولو متیازو ته) ناست وی. په هغهٔ هُم سلام اچول نهٔ دی پکار. او څوک چه په خوراک څکاک کښے مشغول وی. په هغوئ هم سلام اچول ښه نهٔ دی (ځکه چه که دَ خوراک په حالت کښے جواب ورکوی. نو خطره ده. چه خوراک ئے په بدۀ مرئ لاړ شی او تکلیف ورکړی.) (او که جواب ورنهٔ کړی. نو دَ سلام جواب واجب دے. جواب به ئے په ذمه پاتے شی. او ګنهګار به شی. ت)

**مصافحه** دَ سلام تکمیل په مصافحه کیږی. دَ دے هم یو څو ضروری آداب دی. مصافحه (لاس ورکول) په ورنبی ځل مُلاقات کښے سلام نه پس یقینی سنت ده. لیکن دَ رخصت په وخت کښے سنت ده — او که نه. په دے کښے دَ عالمانو اختلاف دے.

او دَ دے دوؤ حالتونو نه علاوه بل وخت کښے مصافحه ثابته نۀ ده. نو دَ مصافحے دَپاره هُم حدونه مقرر دی. او یواځې داخبرۀ دَ هر شرعي کار دَپاره ضابطے او شرائط دی. چه دَ هغې خیال ساتلو نه بغیر کار نۀ سمیږی. مثلاً مونځ دے. که څوک دَ مازیګر دَ څلورو په ځائے پنځۀ یا درے رکعته اوکړی یا دَ ماښام دَ دریو په ځائے څلور یا دوه رکعته اوکړی. نو مونځ ئې نۀ کیږی.

یا که یو حنفی په بانډه کښے دَ جُمعے مونځ کوی. نو نه ئې کیږی. دغه شان حج دَپاره مکے معظمے ته تلل غواړی. په کراچۍ یا بمبئ یا بل ښار کښے نۀ کیږی. هر کار دَپاره خپل شرطونه او ضابطے دی. دغه شان مصافحه او معانقه هم دی. (لاس ورکول او غاړه وتل) په اخترونو او جمعه کښے چه خلقو دَ مصافحے او معانقے کوم رواج شروع کړے دے. شریعت کښے ددے هیڅ اصل نۀ دے ثابت. دا بدعت دے. او پرینبول ئې پکار دی.

او عالمانو سره په دے بحث کول چه دے کښے څۀ نقصان دے. غلط کار دے. ځکه چه په دلیل پوهیدل څۀ آسان کار نۀ دے. دے دَپاره دَ خاصو علومو ضرورت وی. البته په احکامو پوهیدل اسان دی. هر څوک مسئله معلومولے شی. او عمل په کولے شی. باقی په دے پوهیدل چه دا کار ولے کوئ او دا کار ولے مۀ کوئ په دلیل پوهیدل دَ هرچا کار نۀ دے.

خوافسوس دے چه ن هرجاهل دَ عالمانو سره بحثونه کوی. او دَ هرے خبرے دلیل غواړی. اصل خبره دا ده. چه زړونو کښے دَ عالمانو او دَ شریعت دَ احکامو قدر نشته. کنی هیچا به دَ وجے تپوس نۀ وو کړے.

اوګورئ که یو انجنیر دَ یو لوئے عالیشان سرکاری عمارت دَ غورزولو حکم اوکړی. او دَ عیب او نقصان څۀ تفصیل بیان نۀ کړی. نو سمدستی هغه آبادی ورانولے شی. او دَ هغۀ نه ئې دَ سبب تپوس هیڅوک هم نۀ کوی. ځکه چه هغه ماهر منلے شی. او دَ رائې قدر ئې کیږی. او هرهوښیار سړے زړۀ کښے وائې چه کوم نقصان انجنیر وینی. هغه زۀ نشم لیدے.

افسوس چه دَ یو عالم دومره قدر هم نشته. څومره چه دَ یو غیرمسلم ډاکټر یا انجنیر کیږی. دَ مسائلو آسانتیا او دَ دلائلو ګرانوالے دا سے دے. لکه دَ جومیټرۍ مسئلے. چه مثلاً دا دعوه خو ډیره آسانه ده. چه دَ مثلث درے واړه زاویے دَ دوو قائمو برابر دی. لیکن دا سے

ولې وي؟ دَدې په دلیل هرڅوک نشي پوهیدے۔ دے دَپاره ډیرے ابتدائی ضروري مثلې شوي مسئلې پیژندل پکار دي۔

بلکه څنګ کسان خو دَدے نه هم څوقدمه مخکښې ځي۔ په خپله رائې په شریعت کښې ترمیم کول غواړي۔ که دَدا سې خلقو خبرې او منلې شي. خو شریعت به ټول ختم شي۔ دَاسلام پرځائ به خالص کفر او دهریت پاتې شي. دَدې رائې ورکوونکو مثال دَدے شعر په شان دے

؎ گربه میر و سگ وزیر و موش را دیوان کنند　　این چنین ارکان دولت ملک را ویران کنند

(چه پیشوګې حاکمه وي. سپې ئې وزیر وي. او مږک ئې میر منشي وي. نو دَحکومت داسې غړي به ملک وران کړي۔) دَیو تابعدار او فرمانبردار بنده په حیثیت خو دَشریعت په حکم کښې دَمسلمان شان دا پکار دے.

؎ زبان تازه کردن باقرارِ تو　　نینگیختن علّت از کار تو

یو دَستا دَخدائي په اقرار ژبه تازه ساتل (هروخت دا اقرار کول) او دَستا په احکامو کښې علتونه او سببونه نه لټول) دَ احکامو دلیلونه نه تپوسل۔

افسوس دے. دا خلق په دے هم نه پوهیږي. چه دَیو وکیل نه دَقانون دَفعې تپوسل (چه قانون کښې دَدے کار اجازت شته که نه) خو دَعقل کار دے. لیکن دَوکیل نه دا تپوس کول چه قانون داسې ولې جوړ شوے دے، ډیره دَبې عقلۍ خبره ده. اول خو وکیل ته دا معلومه نه وي. او که چا ته معلومه وي هم صفا به ورته او وائي چه دا ځما منصب نه دے. دَقانون سازے اسمبلۍ دَممبرانو کار دے. ځما کار خو قانون بیل دي. باقي دا چه دا سې قانون ولې جوړ شوے دے۔ دَدے تپوس دَپارلیمنټ دَممبرانو نه اوکړئ. په قانون کښې دَتبدیلۍ مشورے ورکول. او په قانون کښې بحث کول خو صفا دَحکومت نه انکار دے. افسوس چه دَ دُنیاوي حکومت په قانون کښې مداخلت خو جائز نشي ګنړلے. لیکن دَ الله په قانون کښې ورته مداخلت آسان کار ښکاري۔

یو طبیب یا ډاکټر چه ورته نسخه اولیکي. نو هغه ته دا هیڅوک نشي ویلے. چه دا شے دِ لیکلو. نو دا بل دِ ولې نه لیکلو. یا دا شے دِ ولې او لیکلو. هیڅوک ترے دلیل نه غواړي



Scanned with CamScanner

لیکن دَ عالمانو نه په هره خبره دلیل غواړی. او وچله تپوسی. اصل خبره داده. چه هلته خپل صحت مقصود دے. که طبیب سره بله خبره کوی خود مطب نه به ئے اوشړی. او علاج به ئے پاتے شی. عالمان هم روحانی طبیبان دی. خو دلته څوک روحانی شفا حاصلول ضروری نهٔ گنړی. که روحانی شفا ئے مقصود وے. نو دَ هغوئی نسخه به ئے هُم بے تپوسه منله لیکن په زړونو کښے دَ شریعت دَ احکامو قدر نشته. دَ شریعت نه ئے تو قے جوړے کړی دی. دَ خپلو رسمونو او رواجونو په شان ئے گنړی. چه دَ وخت سره دَ مصلحت په خاطر وی کښے تبدیلئ کیږی.

سحر را با معجزه کرده قیاس هردورا بر مکر بنهاده اساس

(معجزه او سحر دواړه یو شان گنړی. چه دَ دواړو بنیاد په چل ول دے.)

دَ احکامو په دلائلو او اسرارو پوهیدل دَ مُحقّقانو کار دے. او دَ مُحقّق کیدو دَپاره دَ ډیر علم او خاصو حالاتو ضرورت دے. (یعنی دَ روحانی تزکئے) او څوک چه دَ تحقیق درجے ته رسید و همّت نهٔ لری. نو هغهٔ ته دَ مُحقّق تابعداری یعنی تقلید کول پکار دی. او چه نهٔ مُحقّق کیدے شی او نهٔ تقلید کوی. نو داسے حال به ئے وی لکه چه ارشاد دے وَقَالُوا لَوْ كُنَّا نَسْمَعُ اَوْ نَعْقِلُ مَا كُنَّا فِيْ اَصْحٰبِ السَّعِيْرِ ۝ (او دوئی به وائی که مونږ اوریدے یا پوهیدے نو په دوزخ کښے به نهٔ وو) یعنی که خپله پوهیدے. یا مو دَ پوهه کسانو خبره منلے. نو دا حال به مو نهٔ وو.

اوس دَ مصافحے متعلق یو څو ضروری خبرے واورئ. څُنه وخت کښے مصافحه ډیره گرانه شی. فرض کړه چه دَ چا په یو لاس کښے پیزار وی. بل کښے ئے چهترئ وی. نو اوس سره مُصافحه څنګه او کړی؟ داسے وخت کښے چا ته دَ مصافحے تکلیف ورکول نا معقوله کار دے دغه شان که څوک په کار کښے مشغوله وی. هغهٔ ته هم په مصافحه تکلیف رسی. کارکښے حرج راځی. دغه شان که څوک په څهٔ ضروری کار پسے تیز روان وی. نو لار کښے ئے مصافحے دَپاره حصارول بے ضرورته تکلیف ورکول دی. دَ څُنه خلقو دا عادت وی چه مجلس ته راورسی نو دَ ناستو ټولو خلقو سره مُصافحه کوی. که هغه خلق په څهٔ کار مشغول وی. نو دو مره ساعت

تول کار بند شی. نو زړونه تنګ شی. دغه شان د ځنو خلقو دا عادت وی. چه د وعظ نه پس موجود ټول کسان واعظ سره مصافحه کوی. نو اول خو دا بدعت دے. او بل دا چه په دے کښې واعظ ته تکلیف هم دے. نو کوم کار کښې چه یو مسلمان ته تکلیف رسی. هغې کښې هیڅ خیر نه وی.

که په علاما نو معلومه شی چه په سفارش کولو کښې چا ته تکلیف دے. نو په داسے وخت کښې سفارش کول هم بنه نهٔ دی. ځنو وخت کښې چا ته چه سفارش کیږی هغه کار د هغهٔ د مصلحت خلاف وی. نو پریشان شی. خو د سفارش کوونکی د خفګان په لحاظ ئے په منلو مجبوره شی. سفارش کوونکے په دے مست وی چه د یو حاجتمند ضرورت م پوره کړو. (ثواب ئے اوګټلو) خبر نهٔ وو چه برنا حق م بل بنده پریشان کړو. د هغهٔ مصلحت م خراب کړو. نو د یو نیکۍ د پاره چه واجب هم نهٔ وه. د بل د پریشان کولو ګناه ئے په سر واخسته. اکثر خلق دے ته ګوری چه یو کس ته فائده اورسیده. دے ته نهٔ ګوری چه نورو ډیرو ته نقصان اورسیدٔ. حَفِظْتَ شَیْئًا وَغَابَتْ عَنْکَ اَشْیَاءَ. (یو شے درته یاد شو او ډیر خیزونه د هیر کړل) که سفارش کول ضروری وی نو ور کښې صفا دا اظهار پکار دے. که د ستا د مفاد خلاف نهٔ وی. نو دا کار داسے اوکړه. چه په بل بار نشی. او بیا که هغه هغه کار اونکړی. نو خفګان په نهٔ دے پکار.

اوګورئ رسولِ اکرم صلی الله علیه وسلم چه حضرت بُرَیْدے رضی الله عنها ته د حضرت مُغِیْث رضی الله عنهٔ سره د نکاح منظورولو اوفرمائیل. نو هغه پوهیده چه حضورؐ په سفارش کښې په چا بوجھ نهٔ اچوی. تپوس ئے اوکړو چه دا حکم دے که سفارش. حضورؐ ورته اوفرمائیل حکم نهٔ دے سفارش دے. هغې ته معلومه وه. چه حضورؐ په سفارش نهٔ منلو خفه کیږی نه. نو صفا انکار ئے اوکړو. چه مغیث رضه ځما خوښ نهٔ دے. نو سفارش داسے پکار دے چه په بل ورې کښې زور نهٔ وی. که د مصلحت خلاف نهٔ وی او به ئے منی. او که خلاف وی. او به ئے نهٔ منی. دا نه چه ورته اووائی. دا کار به خامخا کوے.

افسوس دے. مونږ د ټول طرز معاشرت او معاملاتو اسلامی طریقے بدلے کړی دی. د کوم کوم کار به څوک اصلاح کوی. اوس خو هغه حال دے.

تن همه داغ داغ شد پنبه کجا کجا نهم

ربدن م ټول زخمی زخمی دے په کوم کوم ځاے پښه کیدم) اوس خو چه د مسلمانانو حالت ته گورم. نو بے اختیاره م دا شعر په خوله راشی.

شعر

اے به سرا پردهٔ یثرب به خواب    خیزکه شد مشرق و مغرب خراب

(اے چه په یثرب کښے آرام کوے. د امت خبر واخله چه ټول تباه و برباد شو۔)

غرض دا چه په کوم کار کښے چه بل ته د تکلیف رسیدو خطره وی. دا سے کار مهٔ کوئ مثلاً بلنه د لږو کسانو وی او راشی ډیر. دا مرض اوس ډیر عام شوے دے. په غم ښادئ کښے... ځوک د دے هیڅ پروا نهٔ کوئ. چه د کور خاوند د څو مره کسانو انتظام کړے دے او ورته غله په څومره.

یو ځو قمار د دے اصلاح په ډیره عجیبه طریقه کړی وه. هغهٔ چه اوکتل اکثر خلق په بنا دیو کښے ځان سره یو کس دوه نابللی بوزی. نو د دے د اصلاح نیت ئے اوکړو. یو ځل ورته څا دعوت کړے وو. ځان سره ئے سخے بوتلو. چه خوراک راغلو. نو یو پلیټ ئے سخی ته هم کیښو خلقو ته په حیرانتیا تپوس اوکړو. چه دا څهٔ دی ؟ هغهٔ ورته اووے روره وینم. چه ټولو ځان سره زیاتی کسان راوستی دی. څا ځوئے څا نمسے څا ورارهٔ څا بل عزیز. څما دا ځوک نهٔ وو. دا سخے راته د هر څا نه گران دے. نو دا م راوستو. خلق اوشرمیدل. او دغه شان دا خراب رسم په دے کلی کښے ختم شو.

په حدیث شریف کښے دی. چه یو ځل رسول کریم صلے الله علیه وسلم ته یو صحابی رضؓ دعوت کړے وو. هغوئ سره په لاره یو نا بللے سړے مرکرے شو. چه هغے کور ته اورسیدو. نو حضوٓر د کور خاوند ته صفا اووے چه دا سړے راسره په لاره کښے پیوسه مرکرے شوے دے. که ستا اجازت وی خوراک کښے به شریک شی. که نهٔ وی واپس به لاړ شی. هغهٔ اجازت ورکړو نو هغه هم ورسره خوراک کښے شریک شو. پاتے شو دا شک. چه هغهٔ به د حضوٓر د خفګان په لحاظ اجازت ورکړے وی. دا شک بے ځایه دے. ځکه چه هغوئ په داسے کارونو کښے اصحابو ته دومره آزادی ورکړی وه. چه که د هغهٔ خوښه نهٔ وے. نو صفا انکار ئے کولے شو. لکه اوس د حضرت بُریده په قصه کښے مو واوریدو (چه هغے د سفارش منلو نه صفا انکار اوکړو او حضورؐ ترے خفه نهٔ شو.) اوس د دے نه هم زیاته یو بله واقعه واورئ.

یو ایرانی سړے وو. هغهٔ به ښوروا ډیره مزیداره پخوله. یو ورځ ئې حضورؐ ته د ښوروا دعوت ورکړو. حضورؐ ورته اوفرمائیل په دے شرط دعوت قبلوم، چه د عائشے رضؓ دعوت هم وی. هغهٔ عرض اوکړو دعوت یواځې ستاسو دے. حضورؐ ورته اوفرمائیل چه عائشهٔ رضؓ داسره نهٔ وی نو ځما هم نشته. دعوت ئې منظور نهٔ کړو. هغهٔ بیا په یواځې تلو اصرار اوکړو. هغوئ انکار اوکړو دغه شان څو ځله اوشوه. که په داسے خبرو کښے د رسول الله صلے الله علیه وسلم د خفه کیدو خطره وے. نو هغهٔ به د حضرت عائشے رضؓ د دعوت نه هیچرے انکار نهٔ وو کړے. بیا څو ورځے پس هغهٔ په خپله خوښه د حضورؐ او حضرت عائشے رضؓ دواړو دعوت اوکړو. نو هغوئ منظور کړو. دینه معلومه شوه. چه د دعوت قبلولو کښے شرط لګول جائز دی.

غرض داچه دا قسم تکلیف او تکلّف کوم چه نن صبا په مونږ کښے دے. په هغه زمانه کښے نهٔ وو. مونږ خپل حالت خپله خراب کړے دے. او اسلام مو د نورو قومونو په نظر کښے سپک کړے دے. هغوئ ځمونږ حالت او ځمونږ کارونو ته ګوری. او دا غلط خیال کوی. چه دا د اسلام تعلیم دے. په اصل کښے مونږ خپله اسلام بدنام کړے دے.

نو څنګه چه د ختم نو. جُمعے او وعظ نه پس امام او واعظ سره مصافحه کول بدعت دے. یا لکه څنګه چه د مجلس ټولو کسانو سره مصافحه کول د تکلیف سبب دے دغه شان د خوراک په وخت کښے مصافحه کول هم بد تهذیبی ده - د یو لاس کښے نوړئ وی. کوتے ئے په اِنګلی لړلی وی او بل ورته لاس مصافحے ته دا مخکښے کړی. هغه حیران شی چه اوس څهٔ اوکړم. نو داسے وخت کښے صِرف سلام اچول کافی دی - مصافحه پریښول پکار دی.

(۲) **اِجَابَتُ الدَّاعِیُ** (بلنه قبلول) په اسلامی حقونو کښے یو حق دا هم دے. د دے دوه معنی دی. یو دا چه مسلمان رور درته آواز درکړی. نو جواب ورکوه. د دے هم خپل آداب دی امام اعظم رحمة الله علیه خپل شاګرد امام ابویوسفؒ ته نصیحت کړے وو. چه څوک در پسے شا نه چغے وهی. هغهٔ ته غږ مهٔ ورکوه. دا ستا توهین دے. چه لکه د خارو در پسے رُوستو نه آواز ونه کوی. کَمَثَلِ الَّذِیُ یَنْعِقُ بِمَالَا یَسْمَعُ اِلَّا دُعَآءً وَّ نِدَآءً (دا داسے دی لکه څوک چه په خارو پسے روان وی. چه بے د چغے او شوی نه بل څهٔ نهٔ اوری.) او په داسے حالت کښے آواز نهٔ ورکول کبر نهٔ دے. بلکه د یو سړی اصلاح ده - او حقیقت دا دے چه چا ته د شا نه آواز ورکول

بے تمیزی دہ. کار ئے خپل وی. او اودروی بل بہ خپله وڅ نهٔ ور مخکښے کیږی. چه په ادب عزت درسره خبرے اوکړی۔

دوئیمه معنیٰ ئے داده. دَ چاروټی قبلول. دَ دے هم خپل آداب دی. څنه خلق دَ کبر په وجه دَ غریبانو دعوت نهٔ قبلوی. دا ډیر بد کار دے. غریبانو کښے اخلاص ډیر وی. یو قصه ده:- وائی چه یو مُلا صاحب دَ یو غریب سړی سره روټۍ ته لاړو یو مالدار سړی اولیدهٔ. وے استاذ چرته روان ئے. هغهٔ ورته اووے دے ماشکی سره روټۍ ته ځم. هغه ورپورے اوښتو چه تا خو هم هسے شرموند او شرمول. دَ دے غریب نه اوس څهٔ غواړے. دَ مُلا صاحب هم توقے ته زړهٔ اوشو. ماشکی ته ئے اووے. زهٔ درسره هله ځم. که دا خان صاحب دِ هم روان کړو. ماشکی خان صاحب ته په منتونو شو. هغهٔ ترے ډیر ځان خلاصولو. خو پرے ئے نهٔ ښو. آخر مجبور شو او ئے منله. چه هلته اورسید. نو پته ورته اولګیده. چه غریبانو سره چه څومره قدر عزت او مینه محبت دے. مالدارو کښے دَ هغے بوئ هم نشته. حقیقت دا دے چه غریبی که پریشان کن حالت کښے نهٔ وی. نو دومره دینی او دُنیاوی فائدے او آرام وراحت دے پکښے چه مالداریٔ کښے دا سے نشته. او دا فضیلت ئے زیاتی دے. چه حضورؐ دُعا غوښتی ده. اَللّٰهُمَّ اَحْيِنِیْ مِسْكِيْنًا وَّاَمِتْنِیْ مِسْكِيْنًا وَّاحْشُرْنِیْ فِیْ زُمْرَةِ الْمَسَاكِيْنِ ط (یا الله ما ته دَ مسکینیٔ ژوندا کړے. او دَ مسکینیٔ په حالت کښے را ته مرګ راولے. او دَ قیامت په ورځ مِ دَ مسکینانو په ټولی کښے پاڅوے) مال خو صرف دومره قدر پکار دے چه بنده په دَ لوږے او پریشانیٔ نه بچ وی.

غرض دا چه دَ کبر لویٔ او شان په وجه مالدار ته دَ غریب دَ دعوت منلو نه انکار نهٔ دے پکار. البته په مخلص او غیر مخلص کښے فرق کولو نه بغیر. دَ هر چا دعوت قبلول هم ښهٔ نهٔ دی۔

دَ ډیر زیات لټون او تحقیق ضرورت نشته. خو چه دَ چا آمدنی کښے غالب ګمان په زیات آمدن دَ حرام وی. دَ هغویٔ دعوت قبلول جائز نهٔ دی. البته که زیات آمدن ئے حلال وی او څهٔ پکښے حرام وی نو جائز دے. لیکن دَ اصلاح په غرض که دَ دا

دعوت هُم رَدْ کړے شي. نو ښهٔ دے (چه لږ و حراموونه هم ځان بچ کړی)

په کومو دعوتونو کښے چه دَ ګناه کاروونه کیږی. لکه دَ رقص و سرود مجلسونه وی پکښے. لکه اکثرو ښادیو کښے چه وی. نو دا سے دعوت کښے شریکیدل ښهٔ نهٔ دی. که ورتلونه پس هلته دَ سرود مجلس شروع شي. نو که هم هغه ځائے کښے وی کوم ځائے چه خوراک خوړے شي. خو خوراک پریښول او دغه شان ترے راپاځیدل پکار دی. او که دَ ناستی دَ ځائے نه لرے وی. نو که دا سړے دیني مقتدا اوی. بیا هم ورته راپاځیدل پکار دی. که مُقتدا نهٔ وی په عوامو کښے شمارؤی نو خوراک دِ وُکړی. بیا دِ راپاځی.

نن صبا په ودونو کښے اکثر دا سے رواجونه شروع شوی دی. چه دَ هغے په وجه دا مجلسونه ټول دَ ګناه مجلسونه کیږی. نور خو ئے پریږدهٔ خپله دَ جنج دا رواج دَ ګناه کار دے. هیشه جنج دَ کور به دَ طاقت نه زیات وی. نو قرضدار ے شی او په غم اخته شي. نورے هم پکښے ډیرے خرابئ دی. دغه شان دَ غم ښادئ په موقعه اکثر خلق دَ نوم ناموس په خاطر دعوتونه کوی. دا سے دعوتونو کښے شرکت هم ښهٔ نهٔ دے. دغه شان کوم دعوت چه دَ څهٔ دیني کار او عبادت په عوض کښے وی. دا هُم جائز نهٔ دے. لکه دَ مړي په دریمه ورځ چه دَ قرآن شریف او کلمے درود دَ ختم په بدل کښے ډوډئ او خوارهٔ ورکولے شي. سه

زیان میکند مرد تفسیر دان که علم و عمل مے فروشد به نان

(دَ قرآن عالِم تاوانی دے. چه علم او عمل په ډوډئ خرڅوی.)

دغه شان په وعظ اجرت اَخستل. یا دَ وعظ په بدل کښے دعوت قبلول هم جائز نهٔ دی. دَ چا په زړهٔ کښے چه لږ غوندے هم دَ دین قدر او عِزّت وی. هغه به خپله دَ دا سے کارونو نه ځان ساتی. البته واعظ که مُسافروی نو دَ میلمستیا په طور دعوت قبلولے شي.

دغه شان دَ بیعت کولو په موقع پیرته دعوت کول. یا نذرانه ورکول هم بالکل دَ تبادلے شکل دے. دَ دے نه علاوه پکښے نورے خرابئ هم ډیرے دی. لکه یو غریب سړے که بیعت کیدل غواړی. نو دَ شرمه به پاتے شي. دغه شان څنګه دَ سپکاوی ډوډئ قبلول هُم نهٔ دی پکار. دَ سپکاوی ډوډئ نن صبا عامه دَ مړی دَ ورښئ شپے دَ خیرات ډوډئ

دہ۔ (چہ کوټہ ورته ویلے شی) اکثر ورته طالبان او مولیان بللے شی۔ او خلق ورته په سپک نظر گوری۔

یوه ورځ په لکهنؤ کښے طالبان دغه شان ډوډۍ ته روان وو۔ یوه ډله ناسته وه۔ یو کس پکښے اووے۔ خدائے دِ خیر کړی بیا دَ چا په کور ډاکه ده۔ نو دا دَ سپکاوی ډوډۍ ده۔ او هر مسلمان ته حکم دے چه دَ سپکاوی نه ځان بچ کړی۔ حدیث شریف دے لَا یَنۡبَغِیۡ لِمُؤۡمِنٍ اَنۡ یَّذُلَّ نَفۡسَهٗ (مسلمان ته نهٔ دی پکار چه خپل ځان ذلیل کړی۔

علامه شامیؒ لیکلی دی۔ عالمانو ته داسے ډوډۍ قبلول نهٔ دی پکار۔ کوم کښے چه سپکاوے وی۔ ځکه چه دَ عالم سپکاوے دَ علم سپکاوے دے۔ دَ قبلولو دعوت صرف هغه دے چه په مینه اخلاص او قدر عزت وی۔ نهٔ پکښے دَ رواجونو پابندی وی۔ نهٔ فخر ریا او سپکاوے۔ په اخلاص او محبت بلنه وی۔ په هدیه قبلولو کښے هم دغه پابندۍ دی۔ مسنون دعوت او مسنون هدیه هغه ده چه په اخلاص او مینه وی۔ لکه چه حدیث شریف دے۔ تَهَادُوۡا تَحَابُّوۡا (یو بل ته تحفے ورکوۍ چه مینه مو زیاته یږی) په رواجونو کښے چه کوم څیزونه ورکولے شی۔ لکه دَ بنادۍ جوړه۔ په دے کښے دَ محبت او اخلاص بوئ هم نهٔ وی۔ دَ نوم ناموس په خاطر ورکولے شی۔ خالص ریا کاری ده۔

(۳) **عیادت**:- دَ بیمار تپوس کول۔ په اسلامی حقونو کښے بل حق عیادت دے دَدے هم خپل آداب دی۔ چه کمے زیاتے پکښے بنهٔ نهٔ دے۔ خواوس په دے کښے هم افراط او تفریط (زیاتے کمے) کیږی۔ څوک خلق خو هډو بیمار پرسی کوی نه۔ (دا تفریط دے) او څوک چه دَ بیمار تپوس ته ورشی۔ نو بیا دَ پاڅیدو نوم نهٔ اخلی۔ په بے ځایه خبرو بیمار تنګ کړی۔ تیمار داران هم تنګ وی۔ خو دَ شرمه غږ نشی کولے۔ (دا افراط دے) بیمار سره ډیر ساعت کینا ستل او بے ضرورته ډیرے خبرے کول دَ تکلیف سبب ګرځی۔ دَ بیمار ډیر داسے کارونه دی چه په ګنړه کښے ئے نشی کولے۔ نو په تکلیف شی۔ حدیث شریف دے۔ مَنۡ عَادَ مِنۡکُمۡ مَرِیۡضًا فَلۡیُخَفِّفۡ۔ (څوک چه دَ مریض تپوس کوی نو پکار ده چه ډیر ورسره نهٔ حصاریږی) البته تیمار داری بیل شے دے۔ دَ مریض سره هر



Scanned with CamScanner

وخت کیناستل او د هغهٔ خدمت کول په هرچا لازم نهٔ دی. دے د پاره خاص کسان وی لیکن ارام ورسول او تکلیف نهٔ ورسول په هرچا لازم دی۔

ځنے کسان بیمار سره کینی او فضول قصے او بے ځایه خبرے شروع کړی. څوک د مریض نه د دے مرض متعلق بے ځایه تپوسونه کوی۔ او بیمار تنګوی. د دے نه بچ کیدل پکار دی۔

سه

بهشت آنجا که آزارے نباشد کسے را با کسے کارے نباشد

(هغه ځائے جنت دے. چرته چه څهٔ تکلیف نهٔ وی. څوک په چا څهٔ غرض نهٔ کوی.)

(۴) **جنازه کښے شرکت :-** بل حق جنازه کښے شریکیدل او غمزده کوړنئ سره غمخوری او همدردی کول دی. د دے هم خپل آداب دی. لکه د جنازے کټ اُوچته ورکول. مړے قبر ته کوزول. د ثواب د پاره څهٔ قدرے تلاوت کول۔ او ثواب ئے مړی ته بخښل۔ دا کارونه ټول د شرعی حکم موافق کول پکار دی چه مړی ته ترے څهٔ فائده اورسی.

ځنے خلق د مړی ټولے اغوستی جامے خیرات کوی۔ خو د ټولو وارثانو نه اجازت نهٔ اخلی۔ ځنے وارثان پکښے نابالغه هم وی۔ چه د بلوغ نه مخکښے ئے اجازت معتبر نهٔ دے دا تصرف د مړی په ترکه کښے دے. او ترکه کښے ټول وارثان شریک دی. نو بے اجازته تصرف پکښے جائز نهٔ دے. البته د میراث د تقسیم نه پس که څوک غواړی خپله حصه خیرات کولے شی. دا سے ځیزونه اکثر دینی مدرسو او جماتونو ته اسنولے شی. نو مهتمانو او امامانو له پکار دی. چه تحقیق ئے کوی۔ (چه ټولو وارثانو نه اجازت اخستے شویدے که نه)

# خلاصه

د دے وعظ خلاصه دا ده چه په معاشرت کښے دا خیال ضرور پکار دے چه د مړګ ژوند په هیڅ کار کښے هیچا ته څهٔ تکلیف او نهٔ رسی. بلکه بل ته د آرام رسولو کوشش پکار دے د دے خیرو سلیقه د بزرګانو په مجلس کښے ناستی با ندے حاصلیدے شی. لیکن نن صبا خلق د بزرګانو مجلس ته ورتلو کښے هم دا سے بے احتیاطی کوی۔ چه هغوئ ته ورته تکلیف رسی۔ مثلاً خپل ځانته خو د فرصت وخت ګوری او دا خیال نهٔ کوی چه هغوئ ته هم د آرام

ضرورت دے. دَ فرصت په وخت کښې ورتلۀ پکار دی. بلکه په دا سې وخت کښې به ورشي کوم چه دَ هغوئ دَ آرام وخت وی - او صرف دا نه بلکه دومره به کيني چه دَ هغوئ دَ آرام وخت به ټول برباد کړی - دا ډیر بد کار دے. که اتفاقاً دا سې وخت کښې دورتلو سخت ضرورت پيښ شي - نو ډير لږ ساعت کيناستل پکار دی. چه هغوئ ته هم دَ آرام څۀ وخت پاتے شي -

يو سړے به دَ حضرت حاجی امداد الله صاحبؒ ملاقات ته په سره غرمه کښې راتلو. دا وخت دَ هغوئ دَ خوب وو. خو دَ خوش اخلاقئ په وجه ئې ورته څۀ غږ نۀ کولو يوه ورځ حضرت امام ضامن صاحبؒ خبر شو. (چه دا سړے په غرمه کښې دَ حاجی صاحب ملاقات ته ورځي.) نو هغه سړے ئې ښه او زورلو. چه څپله خو ټوله شپه خوب نه کوئ. درويشان ټوله شپه په عبادت ويښه تيره کړی. غرمه کښې لږ آرام کوی. نو هغې ته ئې هم نۀ پريدئ. آخر دا کوم انصاف دے؟ دَ حافظ صاحب دا تيزی دَ ضرورت په وجه وه. کله کله دَ اصلاح دَ پاره دَ سياست او سختئ ضرورت وی.

نو چا سره ورتلو کښې دا خيال هم ضرور پکار دے. چه په اجازت ورځئ. اګر چه دَ ناستې عام ځائے ته بے اجازته ورتلۀ جائز دی. دَ لَا تَدْخُلُوْا بُيُوْتًا. دَ حکم نه بهر دی. ليکن دَ ناستې خاص ځائے خلوت ته بے اجازته ورتلۀ جائز نۀ دی. چه چاته تکليف او نۀ رسی.

غرض دا چه هر وخت په هر کار کښې دا خيال ساتل ضروری دی. چه بل ته تکليف او نۀ رسی.

وَاٰخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ ۝ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ ۝ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ ۝



Scanned with CamScanner

# دعواتِ عبدیت اول جلد

## اووم وعظ

# الاخلاص

اوله برخه

له ارشاداتو دَ حکیم الامت

حضرت مولانا **اشرف علی تهانوی** رحمة الله علیه

پښتو ترجمه

له سیّد **تسنیم الحق کاکاخیل**

ناشران:- یونیورسټي بک ایجنسی

خیبر بازار پشاور

شهر

# خُلاصَه

حدیث مبارک دے. اِنَّ اللّٰهَ لَا یَنْظُرُ اِلٰی صُوَرِکُمْ وَ اَمْوَالِکُمْ وَلٰکِنْ یَّنْظُرُ اِلٰی نِیَّاتِکُمْ وَ اَعْمَالِکُمْ۔ (بیشکه الله تعالیٰ ستاسو شکلونو او مالونوته نۀ ګوري. لیکن ستاسو نیتونو او کارونو ته ګوري.)

په دے حدیث شریف کښے څلور څیزونه بیان شوی دی. دَ بنده شکل او مال او دَ بنده نیت او کار - په دے وعظ کښے صرف دَ وړنبو دوؤ څیزونو متعلق تفصیلی بیان شوے دے. کوم ته چه الله تعالیٰ نۀ ګوري. باقی دوه څیزونه بل وعظ کښے بیان شوی دی۔

دَدے وعظ خلاصه دادہ. چه مونږ دَ بنیادم ظاهری شکل و صُورت او بناؤست ته ګورو- که ظاهري شکل ئے ښۀ او جامه پیزار ئے صفا وی. نو قدر ئے کوو. که څۀ دَ کمال خاوند وی او که نۀ وی-او که ظاهری شکل ئے ښۀ نۀ وی- دَ غریبۍ -او ناداریٔ په وجه ئے ظاهری بناؤست نۀ وی. نو که لوئ عالِم یا لوئ بزرګ وِي هم مونږ ئے څۀ قدر نۀ کوو- حالانکه ظاهری شکل او مال دَ الله په نزد هیڅ دَ قدر شے نۀ دے. هغه خو دَ نیک عمل او صفا نیت قدر کوی. دَ ظاهری شکل چه څوک زیات خیال ساتی. هغه اکثر دَ باطنی کمال نه خالی وی- دَ ظاهری زینت خیال ساتل ناجائز نۀ دی. لیکن تر یو حدٔ- که دَ حد نه زیات شی- او خصوصًا چه دَ غیر مُسلم قومونو سره پکښے تَشَبُّه راشی. نو دا سے زینت ناروا دے- په دے ضمن کښے دَ تَشَبُّه دَ مسئلے پوره وضاحت شوے دے۔

دا وعظ حضرت تهانوی رحمۃ الله علیه دَ تهانه بهون په جامع مسجد کښے په وسط دَ جمادی الثانی ۱۳۲۹ھ کښے کړے دے- او مولوی عبید الله ګنګوهی قلمبند کړے دے ___

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ٥

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَ نَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَ مَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ وَنَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَ نَشْهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ۔

اَمَّا بَعْدُ۔ فقد قال النبیّ صلی اللہ علیہ وسلم اِنَّ اللّٰهَ لَا يَنْظُرُ اِلٰى صُوَرِكُمْ وَاَمْوَالِكُمْ وَلٰكِنْ يَّنْظُرُ اِلٰى نِيَّاتِكُمْ وَاَعْمَالِكُمْ۔

(اللہ تعالیٰ ستاسو شکلونو او مالونو ته نۀ ګوري. لیکن ستاسو نیتونو او کارونو ته ګوري۔)

په دے حدیث شریف کښې مونږ ته رسولِ کریم صلی اللہ علیہ وسلم هغه شے ښیلې دے چه دَ الله پاک په نظر دے او مخلوق ورته نۀ ګوري۔ او هغه شے ئے هم ښیلې دے. چه دَ مخلوق په نظر دے. لیکن اللہ تعالیٰ ورته نۀ ګوري۔ دلته خاص طور سره شکلونه او مالونه ذکر شوی دی. حالانکه غیرِ منظور څیزونه نور هم ډیر دی. ځکه چه رسول کریم صلی اللہ علیہ وسلم دَ هغه څیزونو نشان دهی کوی۔ دَ کومو چه مونږ ته ضرورت وی. او په کومو کښې چه خلق مبتلا وی۔ دَ کومو څیزونو چه ضرورت نۀ وی. یا ور کښې خلق مُبتلا نۀ وی۔ دَ هغې څیزونو دَ بیان څۀ ضرورت نۀ ګڼړی۔ لکه حضور صلی اللہ علیہ وسلم دا هیڅ رته نۀ دی فرمائیلی۔ چه غُل مۀ خوری متیازے مۀ څکئ. ځکه چه دَ دے څیزونو نه طبیعت خپله نفرت کوی. او دَ استعمال عادت ئے نشته. البته دا کیږی چه په بدن یا جامه اولګی۔ نو دَ هغې حکم بیان شوے دے چه دا څیزونه پلیت دی. بدن او جامه ترے ساتئ. او که چرته په اولګی. نو په اُو بوئے وینځئ چه بدن او جامه پاکه شی۔

دَ دے وجه دا ده. چه حضوٗر روحانی طبیب دے۔ نو دَ هغوئ تولے خبرے دا سے دی۔

لکه یو طبیب چه مریض ته دَ بدنی بیماریو علاج او پرهیز ښئی. پیغمبرانؑ دَ روحانی مرضونو دَ علاج دَ پاره راستولے شوی دی. نو هغوئ خلقوته دَ روحانی مرضونو علاج او پرهیز ښائی. طبیب مریض دَ هغه څیزونو نه منع کوی. دَ کوموچه موسم وی. عام مونږته شی او دے مرض کښے نقصان کوی. لکه دَ کچه آمونو موسم وی. نو طبیب به خپل مریض ته اووائی چه کچه آمونه اونهٔ خورے مرض به دِ زیات شی. لیکن که دَ کچه آمونو موسم نهٔ وی. نو طبیب به ورته پرهیز کښے کچه آم هرگز یاد نهٔ کړی. کنی دا مثال به ئے وی. لکه یو کم عقل نه جام ورک شوے وو. ټول ځایونه ئے ورپسے کتل دَ اوبو منگی کښے ئے هم اوکتو. چا ورته اووے. هلکه جام خو دَ منگی په خوله کښے نشی ننوتے. هغه ورته اووے. په دے زهٔ هم پوهیږم. خو هسے احتیاطًا مِ کولو.

دَ دے روحانی طبیب دَ مثال نه یوه بله خبره هم معلومیدے شی هغه دا. چه دَ قرآن او حدیث اصلی مذاق دا دے. چه دَ هغے روحانی مرضونو ذکر کوی. کوموکښے چه خلق واقعی مبتلا وی. او کوم روحانی مرضونه چه خلقو کښے موجود وی. لکه دَ طبیب او مریض په شان. دا مذاق ئے هرگز نهٔ دے. چه ټول بعید احتمالونه او ممکن شکونه شبهے رفع کړی.

لکه یو مدرس چه طالبانو ته درس ورکوی. نو دَ کتاب په عبارت چه څومره اعتراضونه ممکن وی. دَ هغے ټولو جوابونه ورکوی. بلکه کله کله پکښے دَ داسے باریکو شبهاتو جواب هم ورکړی. چه هغه شبهه دَ طالبانو په خیال کښے هُم نهٔ وی.

غرض دا چه قرآن او حدیث دَ روحانی طب کتابونه دی. دَ روحانی مرضونو علاج او پرهیز ئے ښیلے دے. او حضورؐ روحانی طبیب دے. قرآن او حدیث درسی کتابونه نهٔ دی. او نهٔ حضورؐ دَ مدرس په شان دے. چه دَ غیر ضروری خبرو بیان او دَ بعید و احتمالونو جواب ورکړی.

کوم خلق چه اول دَ منطق او فلسفے کتابونه اووائی. دَ هغوئ مذاق فلسفیانه شی. بیا قرآن او حدیث ته هُم په هغے نظر گوری. او هغه شان شکونه او شبهے پکښے راپیدا

کوی. بیا ورته دَ هغې جواب ورکول گران شي - نو پریشان شي. منطق فلسفې سره دَدوئ ذهن بدل شي. عقلي احتمالات په قرآن وحدیث کښې هم جاري کول غواړي حالانکه دَ شریعت نظر صِرف په واقعاتو وي. دَ هغې کارونو احکام بیانوي. کوم چه دَخلقو عادت وي. او واقع کیږي دَبعید عقلي احتمالونو خیال نه ساتي. کوم چه واقع نه وي. نو په شرعي احکامو هغه کسان بنه پوهیږي. څوک چه دَ عوامو دَ عادتونو نه خبروي - او روحاني امراض ورته معلوم وي. ځکه چه شریعت مونږ ته دَ هغې روحاني مرضونو علاج ښئ. کومو کښې چه خلق مبتلا وي.

دلته هم یو خاص مرض په گوته شوے دے. هغه دا چه خلقو یو دا سے پرنظر کښې اخستے دے. خیال ئې ساتي او قدر ئې کوي. دَ کوم چه الله تعالیٰ سره هیڅ قدر نشته. او خلقو هغه شے دَ نظره ویستے دے. او هیڅ خیال ئې نه ساتي. هیڅ قدر ئې نه کوي. کوم چه الله تعالیٰ ته منظور دے. او دَ کومو چه الله تعالیٰ قدر کوي. نو په دے باندے تنبیه ضروري وه چه خلق دَ خپل مرض علاج اوکړي.

او نن ما هم دَ وعظ دَپاره دا حدیث شریف په دے غرض خوښ کړو. چه موجوده زمانه کښې دا مرض ډیر عام شوے دے. دَحضورؐ زمانه خو دَ خیر او برکت زمانه وه نیکي ډیره او اخلاص عام وو. نو هغوئ دا ارشاد دَ آئنده وخت (یعنې دے زمانے) دَپاره فرمائیلے دے. ځکه چه هغوئ خو تر قیامته پورے دَهر روحاني مرض معالج وو. نو احادیث ټول په واقع کیدونکو کارونو پورے متعلق دي. تر قیامته پورے. یو روحاني مرض قولي یا فعلي دا سے نشته چه شریعت دَ هغې علاج نه وي ښیلے. او دَ هغې حکم ئې نه وي بیان کړے. ځکه حضورؐ فرمائیلي دي. اُوتِیتُ عِلْمَ الْاَوَّلِیْنَ وَالْاٰخِرِیْنَ. (ماته دَ ورنبو او روستو ټول علم راکړے شوے دے.) او فرمائي اَدَّبَنِیْ رَبِّیْ فَاَحْسَنَ تَادِیْبِیْ وَعَلَّمَنِیْ رَبِّیْ فَاَحْسَنَ تَعْلِیْمِیْ. (ماته خپل ربؐ تهذیب اوښیلو. نو بهترین تهذیب ئې راته اوښیلو. او ماته خپل ربؐ تعلیم راکړو. نو بهترین تعلیم ئې راکړو.) دَدے نه دَ شریعت وسعت هم معلوم شو. دَ اسلامي قانون نه علاوه بل دا سے

قانون نشته. چه ترقیامنه پورے دَ ټولو دا تلونکو واقعاتو احکام پکښې موجود وی. که څوک اووائی چه حضوؐر خو هُم په څنو خبرو کښې لَا اَدرِیْ .(څۀ نۀ یم خبر) ویلی دی. نو څنګه ورته ورستی ورپښې ټول علوم ورکړی شوی دی.

دَ دے جواب دا دے. چه دا دَ هغه وخت خبره ده. چه دَ اسلام تکمیل نۀ وُو شوے کله نه چه دَ اسلام دَ تکمیل آیت اَلْیَوْمَ اَکْمَلْتُ لَکُمْ دِیْنَکُمْ. نازل شوے دے او شریعت مکمل شوے دے. دَ هغے نه پس یو حکم هم غیر معلوم نۀ دے پاتے. او دَ معلومیدو مطلب دانۀ دے. چه خاص دَ هرے هرے خبرے حکم بیان شوے دے. بلکه مطلب ئې دا دے چه دا سے عامے قاعدے واضح شویدی. چه دَ هغونه دَ هرے خبرے حکم معلومیدے شی. لکه حضرت ابن مسعودؓ چه په بدن پوخ نقش و نګار جوړوونکو باندے لعنت اووے. نو یوے ښځے ورته اووے چه په قرآن شریف کښې خو دا حکم نشته. تو په څۀ دا فتویٰ ورکوے. هغۀ ورته اووے. که تا قرآن شریف په غور لوستے وے. نو دا حکم به دِ پکښې لیدلے وو. آیا تا دا آیت مبارک نۀ دے لوستے. مَآ اٰتَاکُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰکُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا .( دَ کوم کار چه درته رسولؐ دَ کولو حکم اوکړی. هغه کوئ. او دَ کوم نه چه مومنع کړی هغے نه منع شئ) او رسول الله صلی الله علیه وسلم په بدن پوخ نقش و نګار منع کړیدے. نو دا هم دَ الله حکم شو.

دغه شان نن صبا اخبارونو کښې لیکلے شی. چه قرآن شریف کښې دَ بریرے متعلق څۀ حکم نشته. دا مولیانو دَ ځانه جوړ کړیدے. دَ ابن مسعودؓ دَ دے قول نه دَ دوئ جواب هم معلوم شو. چه که قرآن کښې واضح حکم نشته. خو په حدیث کښې ئې واضح حکم شته حضوؐر فرمائیلی دی. قَصُّوا الشَّوَارِبَ وَاعْفُوا اللُّحٰی. (بریت واړۀ کوئ. او بریرے پریدئ) چه دَ رسول اللهؐ حکم دے. نو دا هم دَ قرآن حکم دے. مولاناؒ فرمائی. ؎

گفتۀ او گفتۀ الله بود گرچه از حلقومِ عَبْدُالله بود

(دَ رسول الله فرمان دَ الله فرمان دے. اګرچه دَ الله دَ بنده دَ خولے نه وتے وی.)

دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم شان خو دا دے. ؎

درپسِ آئینہ طوطی صفتم داشتہ اند آنچہ استاذِ ازل گفت بگو آن گویم

(د طوطی په شان ئې د آئینې شاته ساتلے یم. د ازل استاذ (الله) چه راته څه وائي. او وایه هغهٔ وایم) بله ضروری خبره دا هم معلومه شوه. چه هر کله د رسول الله ﷺ حکم د الله حکم دے نو اوس مونږ ته په خپل حالت غور کول پکار دی. چه د حق تعالیٰ د اوامرو سره څمونږ معامله څنګه ده - په تجربه معلومه شوی ده. چه مونږ خپلو کښې د یو بل د امر سره دوه قسمه سلوک کوو- د چا په حکم کښې تال مټول کوو- بلکه کله کله صفا انکار هم اوکړو او د چا حکم بے تپوسه منو. هیڅ غور پکښې نشو کولے. د مولانا نظامیؒ په خیال دا حال مووی. ؎ زبان تازه کردن باقرار تو نینگیختن عِلّت از کارِ تو

(د د ستا د تا بعداری اقرار مو دِ ستا په کارونو کښې عِلّت لټولو ته نهٔ پریدی.)

نو اوس غور پکار دے. چه د دے فرق وجه څهٔ ده. (چه د چا سره یو شان سلوک کیږی او د چا سره بل شان) نو په غور سره معلومیږی چه د فرق اصل وجه د حکم کوونکی عظمت دے. څمونږ په زړونو کښې چه د چا عظمت او احترام وی. د هغهٔ په حکم کښې خبرے نشو کولے. بے تپوسه ئې منو. هیڅ قسم سستی یا حیله حواله پکښې نهٔ کوو. او په زړونو کښې چه د چا عظمت نهٔ وی. د هغهٔ د حکم پروا هم نهٔ ساتو. عظمت داسے شے دے چه ژبه گونګه کړی. بلکه په زړهٔ کښې هُم څهٔ شک نشی راتلے. او که بل څوک وړه څهٔ شک اچوی. هغه هم منع کوی. چه د دا سے لوئ سړی حکم دے. په دے کښې به ضرور څهٔ حکمت وی. خو مونږ په نهٔ پوهیږو.

مثلاً که یو سړے د یو څو پیسو د لفافے په ځائے د یوے روپئ اشتهام واخلی. خط په اولیکی. د ډاک ټکټ په اونهٔ لګوی. دغه شان ډاک کښې واچوی. نو هغه به ضرور بے رنګه شی. حالانکه په لفافه د څو پیسو ټکټ لګی. او اشتهام په روپئ شوے دے. بالکل د عقل خلاف خبره ده. خو خلقو بے تپوسه منلی ده. هیڅوک په اعتراض نهٔ کوی. او نهٔ ئې په زړهٔ کښې څه شک راځی. دغه شان د دُنیاوی حاکمانو نور حکمونه هم بے تپوسه منلے شی. هیڅوک ئې دلیل نهٔ غواړی. او نهٔ پکښې فائدے لټوی.

او فرض کړه که څوک دَ اشتمام په دے خبره اعتراض اوکړی. نو بل به ورته اووائی. قانون دغه شان دے. بس په دے مجمل جواب به دَ هغهٔ تسلی اوشی. دا به نهٔ وائی. چه دا سے اَپوته قانون ولے جوړ شوے دے. دَ دے وجه بل څهٔ نشته. خوږ زړونو کښے دَ حاکمانو عظمت دے. ځکه ورته هر کار صحیح ښکاری۔

هر کله چه دا قاعده ده ۔ نو اوس زهٔ دے ته حیران یم ۔ چه دَ یو مجازی حاکم څمونږ غوندے فانی انسان حکم منلوته خو مونږ غاړه ایښی ده ۔ بے تپوسه ئے منو. دَ هیڅ حکم دلیل نهٔ غواړو ۔ حکمتونه او فائدے پکښے نهٔ لټوو ۔ لیکن دَ احکم الحاکمین او قادرِ مطلق حقیقی بادشاه په احکامو کښے حکمتونه او فائدے لټوو ۔ او وجه ئے معلومول غواړو چه دا حکم دا سے ولے شوے دے ؟ دا سے ولے نهٔ دے ؟ په دے کښے څهٔ حکمت دے ؟ څوک تپوس کوی چه دَ طاعون نه تیښته ولے منعه ده ۔ څوک دَ تشبُّهُ په مسئله کښے بحث کول غواړی ۔ بلکه اوس خو دَ مونځ روژے حج زکوٰة او میراث په مسئلو کښے هُم خپلے رائے ته دخل ورکولے شی ( نعوذ بالله )

دَدے بے ځایه تپوسونو نه صفا معلومیږی ۔ چه په زړونو کښے دَ شریعت دَ احکامو عظمت نشته ۔ دَ تپوس کوونکو نه زیاته حیرانتیا په جواب ورکوونکو ده ۔ چه دوئ هم ځان دَ تپوس کوونکو تابع کړے دے ۔ چه څوک ورنه دَ کوم حُکم عِلّت یا حکمت تپوسی. نو خامخا ورته څه ښائی ۔ که معلوم ورته نهٔ وی دَ ځانه څهٔ جوړ کړی. خو صفا ورته دا سے نهٔ وائی. چه هم دغه دَ الله قانون دے ۔ مونږ ته ئے حکمت نهٔ دے معلوم ۔ او نه ئے دَ حکمت معلومولو څهٔ ضرورت شته ۔ څنګه چه ورته په دُنیاوی قانون کښے ویلے شی ۔ ډیر افسوس دے چه دَ احکم الحاکمین دَ قانون عظمت او عزت دَ بنیادمو دَ قانون هومره هم نشته ۔ دَ تپوس کوونکی په زړهٔ کښے خو نشته نشته ۔ لیکن دَ جواب ورکوونکی په زړهٔ کښے هم نشته ځکه صفا جواب نهٔ ورکوی ۔ که دَ جواب ورکوونکی په زړهٔ کښے ئے عظمت وے. نو صفا به ئے ورته ویلی وو. چه دا دَ الله قانون دے ۔ غلے کینه. راز و نه مهٔ تپوسه ۔

هر کله چه دَ یو مجازی حاکم (چه څمونږ غوندے فانی انسان دے) دَ قانون په رازونو

اومصلحتونو مونږ عام خلق نشو پوهیدے۔ اونه ئے د معلومولو خواهش کوو۔ نو د حاکمِ حقیقی د قانون په اسرارو او حکمتونو څنګه پوهیدے شو؟ او ولے ور پسے شوی یو؟

هرکله چه یو عام انسان خپلو نوکرانو ته د خپلو ذاتی کارونو اسرار او رموز نه ښیئ او نه ئے نوکر د تپوس کولو جرأت کولے شی۔ نو حق تعالیٰ د دومره لوئی عظمت او شان سره خپل مخلوق او مملوک بنده ته ولے خپل اسرار اُوښئی۔ عارفِ شیرازی رح فرمائی۔

حدیثِ مطرب و مے گو زِ رازِ دهر کمتر جو　　که کس نکشود و نکشاید به حکمت این معمیٰ را

(د عشق و محبّت خبرے کوه۔ او د زمانے رازونه مهٔ لټوه۔ چه دا غوټه نه چا په حکمت پرانستی وه۔ او نه ئے پرانستے شی) نن صبا ډیر خلق د احکامو د عِلّتونو (سببونو) او حکمتونو (فائدو) لټولو پسے شوی دی۔ د ډیر سوچ نه پس چه د چا ذهن ته څهٔ حکمت راشی نو ډیر خوشحاله شی۔ او په ټوپونو سرشی. فَرِحُوْا بِمَا عِنْدَهُمْ مِّنَ الْعِلْمِ۔ (څهٔ لږ غوندے عِلم چه دوئ سره دے په هغے ډیر نیازیږی) حالانکه د دوئ علم د حقیقی اسرارو په مقابله کښے هیڅ هُم نهٔ دے۔

بحریست بحرِ عشق که هیچش کناره نیست　　آنجا جز اینکه جان بسپارند چاره نیست

(د عشق سمندر داسے سمندر دے چه هیڅ کناره ئے نشته۔ دلته بے د ځان سپارلو بل علاج نشته)

خپله وسیع النظر سائنسدانان دا اقرار کوی۔ چه مونږ د کائنات په وسیع سمندر کښے د یو څاڅکی برابر تحقیق ته هم نهٔ یو رسیدلی۔ هرکله چه د مخلوقاتو په اسرارو معلومولو کښے انسان بے وسه دے۔ نو د خالق اسرار به څنګه معلوم کړے شی۔

او د ډیر غور و فکر نه پس که د چا ذهن ته څهٔ حکمت راغلو۔ نو هغه هم منصوص خو نهٔ دے۔ طبعزاد۔ تخمینی او ظنّی دے۔ او س که څوک د دوئ جوړ کړے عِلّت باطل کړی نو چونکه دوئ دا عِلّت د حکم مدار ګرزولے دے۔ ضرور به د دے په وجه په دے شرعی حکم کښے هم شکوک پیدا کیږی۔ ځکه دا طبعزاد حکمتونه بیا نول بنهٔ نهٔ دی۔

دغه شان دا صاحبان د خپل ناقص عقل په ناقصو دلیلونو د ټول شریعت بُنیاد نړوی



Scanned with CamScanner

دَ کم عقل دوست نه هوښیار دشمن هم ښهٔ وی. دَ دا سے محقّقینو په برکت په اسلام اعتراضونه کیږی۔

نو جنابِ عالی! اسلام دَ ستا سو دَ دا سے همدردیٔ محتاج نهٔ دے۔ اسلام خپله روښانه نمر دے۔ ؎ آفتاب آمد دلیلِ آفتاب۔ دَ نمر دنړا خپله دَ نمر د اختو دلیل دے۔ بل دلیل ته ئے حاجت نشته۔

دَ شریعت احکامو تر دَ عِلّتونو او حکمتونو لټولو ضرورت نشته۔ څوک چه دے ته تپوس کوی صفا ورته وائی چه دا دَ الله حکم دے۔ حکمت به ئے هغهٔ ته معلوم وی۔ مونږ توے نهٔ یو خبر۔ لکه فرښتو چه ویلی وو۔ سُبْحٰنَكَ لَا عِلْمَ لَنَآ اِلَّا مَا عَلَّمْتَنَا اِنَّكَ اَنْتَ الْعَلِيْمُ الْحَكِيْمُ ۝ (یا الله ته پاک ئے مونږ ته هیڅ عِلم نشته بے دَ هغے نه چه تا را ښیلے دے. بیشکه ته په هرڅهٔ عالم دَ حکمت خاوند ئے) ظاهره ده چه څومره ناقص علم دَ فرښتو نه خوزیات نهٔ دے. چه هغوئ دَ خپلے لاعلمیٔ اقرار کوی او هرڅه الله ته سپاری. نو مونږ څوک یو چه په اسرارو کښے کوتے وهو.

دَ اصحابِ کرامو رض دا عادت وو. چه سره دَ دومره علم او فضل دَ کافرانو سره په مناظره کښے که کومه خبره به ورته معلومه نهٔ وه. صفا به ئے اُوویل. چه دَ خپل پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه به تپوس اوکړو. په دے کښے دَ احکامو عظمت دے.

یوه لطیفه را یاد ده شوه. یو آریه مناظر دا دعوه کوله. چه زهٔ دَ خپل مذهب هره خبره په عقلی دلیل ثابتولے شم. او مسلمانان دا سے نشی کولے. څو یو دوست جواب ورکړے وو. بس هم دَ دے نه ثابته شوه چه ستا سو مذهب مخلوق جوړ کړے دے. ځکه ئے نو د مخلوق اسرار معلومولے شی. که خالق جوړ کړے وے. نو مخلوق به ئے دَ اسرارو بیانولو نه عاجزه وو. نن صبا دا مرض عام دے. چه علم ئے هیڅ نهٔ وی او مناظرو ته تیار وی. کله دَ آریه سره او کله دَ عیسایانو او شیعه ؤ سره په مناظرو نښتے وی. بیا چه دَ هغوئ سوالونو کښے اُونښلی نو په عالمانو پسے گرځی چه دَ دے احکامو عِلّتونه او حکمتونه راته اوښئ. او هغوئ ته صفا دا نشی ویلے چه ما ته نهٔ دی معلوم. څومره دَ عالمانو نه تپوس اوکړئ په دے شرمیږئ. دین

ورته داسې آسان کار ښکاري. چه هر سړې په دې پوهیږي و دعوې دارډې. په نورو هنرونو کښې خو شرم نه ورځي. که اووائي چه په دې هنر نه پوهیږم؟ لیکن دین داسې شې دې چه هر سړې پکښې د اجتهاد دعوه کوي. او د لا علمۍ اقرار نشي کولے. د اسوارد په لټون پېښ کیدل. د دې ثبوت دې چه زړه کښې ئې د حق تعالیٰ عظمت نشته. د چا په زړه کښې چه د حق تعالیٰ عظمت وي د احکامو علتونه نه لټوي. بلکه داسې وسوسه ئې هم په زړه کښې نه راځي. د او وسوسه چه د عقیدې په درجه کښې وي. هسې خطره د یعنې د خیال په درجه کښې د عظمت منافي نه دی. (ځکه چه خیالات په اختیار کښې نه دی.)

د اصحابو په زړه کښې به هم داسې خیالات راتلو. چه د حضورﷺ په خدمت کښې ئې عرض اوکړو. (یا رسول اللهﷺ څمونږ په زړه کښې داسې خیالات ګرځي چه که تول او سوزو. ایرې ایرې شو. نو دا راته په هغې باندې د خولې خوزولو نه آسان ښکاري) حضورﷺ ورته اوفرمائیل. اَوَجَدْتُمُوْهُ فَذَاکَ عَیْنُ الْاِیْمَانِ. (واقعي د ستاسو د زړونو دا حال دې؟ دا خو عَیْنِ ایمان دے) او دا به ئې اوفرمائیل اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِیْ رَدَّ کَیْدَهٗ اِلَی الْوَسْوَسَةِ (د الله شکر دې چه د شیطان مکر په وسوسه پاتې شو.) عقیدې ته او نه رسید و (یعنې ئې څه اثر اونه کړو.)

په سالکانو هم کله کله داسې حالات راځي. په زړه کښې ئې داسې داسې خیالات راځي چه خود کشۍ ته تیار شي. او څنه جاهلان پکښې واقعي خود کشي اوکړي. لیکن څوک چه واقف دی (عالمان) صبر اوکړي.

او د دې وسوسو وجه دا ده. چه سالک د الله په لار کښې قدم کیږدي. نو شیطان ډیر خفه شي. او کوشش کوي چه په څه چل ورته نقصان اورسوي. او د دې لارې نه ئې وارد وي. اول خو د مونځ روژې قرآنُ خرابولو کوشش اوکړي چه دین ته ئې نقصان اورسي. چه هغې کښې کامیاب نشي. نو بیا بدني تکلیف ورکوي. زړه کښې ورته وسوسې اچوي نو پریشان او خفه شي. او دا خیال اوکړي چه ځانۍ ځا خو په ایمان کښې نقصان راغلو حالانکه په دې ایمان ته یو پوټې نقصان هم نشته. البته سالک پرېشان شي. دا هم په دې وجه چه سالک

یوه غلطي کوي. دَ هغهٔ دا خیال وي چه کوم دا خیالات ځما په قلب کښې پیدا کیږي. حالانکه قلب دَ دے وسوسو محل نهٔ دے. صِرف گذرگاه دے. (سړک دے. لاره) په دے دا نه چه څوک پوهه شي. هغه په وسوسو نهٔ پریشان کیږي. او هیڅ توجّه ورته نهٔ کوي. نو وسوسے خپله ختم شي. ځکه چه شیطان خو ورته دا دَ پریشان کولو دَ پاره را مخکښې کوي. او چه دے په پریشان کیږي نه. نو هغه ئے هم ور پسے پریدي. دا دَ وسوسو علمي علاج دے.

اوبل عملي علاج ئے دا دے چه کله زړهٔ کښې څهٔ وسوسه راشي. نو اعوذ بالله من الشیطن الرجیم ویل پکار دي. ځکه چه دا دَ شیطان کار دے. او اعوذ بالله بلکه مطلقِ ذکر سره شیطان تښتي. نو چه سالک ذکر ته زور ورکړي. او خپله ټوله توجّه دے خوا کړي. او ذهن په یو وخت کښې پوره توجّه دوؤ کارونو ته نشي ورکولے. نو وسوسے خپله ختم شي.

او بالفرض که په دے طریقه هم ختم نشي (چه سالک خپله پوره توجّه ذکر ته ورنهٔ کړے شي) او سالک پریشان کیدو باندے مجبور شي. نو دا هم یو قسم مجاهده ده. او په مجاهده اجر ورکولے شي. نو بیا هم په فائده کښې شو. خفګان ورته نهٔ دے پکار.

او څوک چه بس په دے فکر کښې وي چه وسوسے بالکل ختم شي. او عبادت او ذکر خوند راکړي. لکه څنګه چه نن صبا دَ اکثرو سالکانو دا حال دے. نو په دے پوهه شئ چه دا سړے ځان خوشالولو. او مزو او خوندونو اخستو دَ پاره ذکر کوي. دَ الله دَ رضا دَ پاره نهٔ کوي.

پس زبونِ وسوسه باشی دِلا گرِ طرب را بازدانی از بلا؛

(اے زړهٔ همیشه به دَ وسوسو نه مغلوب ئے. که ته دَ محبوب دَ طرفه خوشئ او تکلیف کښې څهٔ فرق کنړے. دَ دَ دوست دَ لاسه خو هر څهٔ خوږهٔ وي.)

گر مُرادت را مذاقِ شکراست بے مرادی نے مرادِ دلبراست

(که دَ مراد پوره کیدو خوند خوږ دے. نو آیا بے مرادي دَ محبوب دَ طرفه نهٔ ده؟)

هر کله چه مراد او نامرادي دواړه دَ محبوب دَ طرفه دي. نو په دواړو کښې فرق نهٔ دے پکار. په دواړو راضي کیدل پکار دي.

دَ وسوسو ختمولو بل علاج ذکر دے. کله چه وسوسے راځي نو ذکر ته زړهٔ ورکول پکار دي



Scanned with CamScanner

حدیث شریف دے۔ اِذَا ذُکِرَاللّٰہُ خَنَسَ وَاِذَا غَفَلَ وَسْوَسَ۔ (چه دَ اللّٰه ذکر کیږی شیطان تښتی او چه بنده غافل شی. شیطان ورته په زړهٔ کښې وسوسے اچوی) پوره دَ وسوسے عقلی سبب بیان شو۔ او په وسوسه راتلو کښې حکمت دا دے چه اللّٰه تعالیٰ دَ سالک امتحان اخلی. چه آیا دے عبادت دَ نفس دَ مزو او خوند اخستو دَ پاره کوی. که په پریشانئ او بے مزے حالت کښې هم خالص حُما دَ رضا دَ پاره عبادت ته جُوړیږی۔ او بل دا چه دے دَ وسوسے په وخت کوم خوا متوجّه کیږی. نو څُنے کسان خو داسے وخت کښې شیطان سره په جګړه شی (الله نه غافل شی) دا سړے عارف نهٔ دے. که عارف وے. نو دَ محبوب حقیقی نه به بل خوا نهٔ متوجه کیدو. (شیطان سره جنګ په ځائے به ئے ذکر ته زور ورکړے وو) لکه چه شیخ شیرازیؒ یوه قصه نقل کړے ده۔ ه

چه خوش گفت بہلول فرخنده خو چو بگذشت برعارفِ جنگجو:
گر این مُدعی دوست بشناختے به پیکارِ دشمن نه پرداختے

(نیک خویه بهلول څهٔ ښهٔ خبره اوکړه. کله چه ئے یو جنګیالی عارف تیریدو. او ئے وے ددے دَ معرفت دعویدار که خپل دوست پیژندلے (په رښتیا عارف وے) نو دَ دشمن سره به جنګ کښې به نهٔ وو مشغول۔ (خپل دوست ته به متوجه وو۔ (دے وخت کښې به ئے خپل ذکر کولو غافل به نهٔ وو۔)

نو دَ وسوسو نه پریشان کیدل نهٔ دی پکار. خپل کار کښې لګیا اوسئ. (ذکر ته زور ورکړئ وسوسے به خپله ختم شی) نن صبا سالکان به دے بلا اَخته دی. په مزو پسے ګرځی دا غواړی چه ذکر کښې وسوسے بالکل نهٔ راتلے۔ او ذکر ښهٔ خوند راکولے. دا دَ صادق طالب شان نهٔ دے. صادق هغه دے. چه مزه پکښې وی او که نهٔ وی۔ آرام وی او که تکلیف په هر حال کښې دَ مولا رضا غواړی. بل هیڅ نهٔ غواړی. مولانا رومؒ فرمائی ه

روزها گر رفت او را باک نیست تو بمان اے آنکه چون تو پاک نیست

(کیفیات او حالات که نهٔ وی هیڅ باک نشته۔ اے چه ستا په شان بل پاک ذات نشته۔ ستا محبت چه باقی وی دا کافی دے۔)

دَ سالکانو په اصطلاح کښې کیفیاتو او وارداتو ته روز هم ویلے شی. مولاناؒ فرمائی

که کیفیات او واردات نهٔ وی. هیڅ پروانشته - اے پاک ذاته چه ستا په شان پاک بل ذات نشته - چه ستا محبت باقی وی. دا کافی دے.) اصل مقصود خو ستا رضا ده. چه هغه فوت نشی. نو کیفیات او واردات که نهٔ وی هیڅ پروا نشته - نهٔ دِ وی. مقصد ستا رضا ده. سرمد څهٔ ښهٔ ویلی دی.

ع

سرمد گِله اختصار باید کرد    یک کار ازین دوکار باید کرد
یا تن برضائے دوست میباید کرد    یا قطعِ نظر از یار باید کرد

(اے سرمده خبره مختصره پکار ده. په دے دوو کارو کښې یو کار کول پکار دی.)
(یا خپل ځان دَ دوست رضا ته اوسپاره. یا دَ دوست تصور پریده.)

دَ یو رښتونی عاشق شان خو دا سے وی.

ع

زنده کنی عطائے تو    وربکشی فدائے تو
دل شده مبتلائے تو    هرچه کنی رضائے تو

(که ژوندے مې پریدے ستا مهربانی ده. او که وژنے مې درنه قربان یمه - زړهٔ مې ستا مینه کښې مبتلا دے څهٔ چه راسره کوے ستا خوښه ده (ستا په رضا ځما رضا ده))

نو الله چه سالک دَ پاره کوم حالت خوښ کړی. په هغې راضی کیدل پکاردی. ځکه چه الله تعالیٰ عالم الغیب والشهادة دے. هغهٔ دَ خپلو بندیانو په حال ښهٔ خبر دے. دَ څهٔ دَ پاره دَ تربیت هم دا طریقه مُفیده وی. چه هیشه ئے په انقباض او پریشانئ کښې ساتی. نو په هر حالت او هر کار کښې دَ محبوب دَ رضا طلب او دَ هغهٔ په رضا راضی کیدل پکاردی.

مثلاً که یو محبوب خپل عاشق ته اووائی بهوکینه او ما ته مهٔ گوره. نو که رښتونے عاشق وی - خو دَ محبوب خبرهٔ به اُومنی. او که خود غرضه او هوسناک وی نو نافرمانی به اوکړی او محبوب به خفه کړی — غرض دا چه په سالک مختلف حالات راځی. کله اطمینان او سکون وی. او کله پریشانی او انقباض وی. کله غیبت وی - دَ نسیان په معنیٰ نه. بلکه دَ عدمِ دلچسپئ او دَ ذوق و شوق دَ کمی په معنیٰ. او کله حضور او انبساط وی. دا ټول حالات محمود (بهتر) دی. ځکه چه دا په ظاهره غیبت په حقیقت کښې دَ حضور یو شکل دے. نو دَ محبوب رضا

په دے کښې هم ده. او دغه رضا مطلوب ده. په هر شکل کښې چه وی.

او که حضور اصطلاحی وی. لیکن رضا نۀ وی. نو دا په حقیقت کښې حضور نۀ دے. بلکه غیبت دے. غرض دا چه کله حضور وی دَ غیبت په رنګ کښې. او کله غیبت وی دَ حضور په رنګ کښې. کله بُعد وی دَ قُرب په شکل کښې. او کله قُرب وی دَ بُعد په شکل کښې.

دَدے مثال په دُنیاوی معاملو کښې داسے دے. لکه یو سړے دَ بادشاه نه لرے بل ځائے یا بل کلی کښې وی. خو بادشاه په یو اُوچته عُهده لګولے وی. خطابونه او انعامونۀ ورکړی وی. او وخت په وخت ورباندے نورے مهربانئ هُم کوی. ورنه خوشال وی. نو دا سړے اګرچه په ظاهره دَ بادشاه نه لرے دے. لیکن په حقیقت کښې قریب دے.

او یو بل سړے دے. چه څۀ نافرمانی ئے کړی ده. بادشاه ورته ډیر غصه دے. حکم ئے کړے دے چه ګرفتار ئے کړئ او ماته ئے راولئ. هغۀ ته سپاهیانو هتکړئ لګولی دی. حاضر کړے ئے دے. دَ بادشاه دَ تخت سره نزدے ولاړ دے. نو دا سړے په ظاهره بادشاه سره ډیر نزدو دے. لیکن حقیقت کښې لرے دے.

خلاصه دا چه په وسوسو پریشان کیدل نۀ دی پکار. دا دَ قُرب خلاف نۀ دی. او دا وسوسے هم په اصل کښې دَ قلب دننۀ دی. دَ قلب نه بهر دی. خو په قلب کښې ښکاری. لکه په آئینه باندے چه مچ کینی نو هغه دَ آئینے بهر وی. خو په آئینه کښې دننه ښکاری. دغه شان کوم زړۀ کښې چه دَ الله ذکر ننوتے وی. هغے کښې دَ وسوسے ګنجائش نۀ وی. دا ورکښے هسے دَ بهرنه دَ وسوسو عکس ښکاری. دَ مؤمن زړۀ دَ وسوسونه محفوظ وی. لکه یو شاعر ویلی دی. ؎ عَذْلُ الْعَوَاذِلِ حَوْلَ قَلْبِ التَّائِهِ وَهَوَى الْاَحِبَّةِ مِنْهُ فِيْ سَوْدَائِهٖ (دَ ملامت کوونکو ملامتیا دَ عاشق دَ زړۀ نه چارچاپیره وی. (بهر بهر وی) او دَ دوستانو مینه ئے دَ زړۀ په مینځ کښې محفوظه وی. (دا ملامته په څۀ اثر نشی کولے))

دغه شان وسوسے هم دَ ذاکر په زړۀ کښې نشی ننوتے. دا چه ښکاری دَ وسوسو عکس وی. (لکه آئینه کښې چه مچ ښکاری) یو بزرګ به فرمائیل. په وسوسو خوشحالیدل پکار دی ځکه چه دا دَ ایمان نښه ده. حضور فرمائیلی دی. ذَاكَ صَرِيْحُ الْاِيْمَانِ. (دا خو خرګند ایمان دے)

غل هلته کنه رکوی کوم ځائے چه مال وی. غل دَ خوښی کور کنه رنهٔ کوی. وسوسے صالحانو ته راځی. فاسقانو فاجرانو ته نهٔ راځی. او مصلحت په دے خوشحالیدو کښے دا دے چه دا وسوسے خو شیطان دَ ستا دَ خفګان او پریشانئ دَ پاره اچوی. چه ته پرے خوشال شے. نو دا به بندے شی ځکه چه شیطان خو تا خوشالوی نه. سبحان الله. څهٔ عجیبه علاج دے. دَ دا سے خبرونه دَ صوفیانو علمی کمال معلومیږی. چه دا حضرات دَ فلسفیانو نه ډیر اوچت دی. فلسفیان خو دَ موجود او محسوس څیزونو په حقیقت بحث کوی. او دا څهٔ ګران کار نهٔ دے. کوم شے چه څمونږ مخکښے موجود دے. دَ هغے تحقیق په هر شکل کیدے شی. کوم ځائے چه دَ معانیو بحث راشی. هلته فلسفیان ټکرے خوری. او په ګهو ودو سر شی. صوفیان او فقهاء دَ معانیو. یعنی دَ غیر محسوس څیزونو نه بحث کوی. دَ هغے اسباب او اسرار معلوموی. او صحیح نتیجے را اوباسی. او دا ډیر ګران کار دے.

غرض دا چه کومه وسوسه چه دَ عقیدے په درجه کښے نهٔ وی. او څهٔ عمل پرے و نشی (صرف دَ خیال په درجه کښے وی) هغه دَ عظمتِ حق خلاف نهٔ ده. او دَ عقیدے په درجه کښے وسوسه صرف په هغه زړهٔ کښے راتلے شی. کوم چه دَ عظمتِ حق نه خالی وی.

نو هر کله چه دے دواړو کښے دَ فرق سبب دَ حق تعالیٰ عظمت دے. نو دَ حق تعالیٰ او دَ هغهٔ دَ احکامو عظمت زړونو کښے پیدا کول پکار دی. چه خراب شکونه او شبهات ختم شی. او دَ الله تعالیٰ دَ احکامونه مراد صرف دَ قران احکام نهٔ دی. بلکه حدیث او فقهه هم دی. څنګه عظمت چه دَ قرآن دَ احکامو دے. دغه شان دَ رسول الله ﷺ دَ احکامو او دَ فقهے دَ احکامو هم ضروری دے. ځکه چه دَ رسول الله ﷺ احکام په حقیقت کښے دَ الله تعالیٰ احکام دی. وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوٰى إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُّوحٰى. دَ الله ارشاد دے. (رسول الله ﷺ دَ ځان نه څهٔ نهٔ وائی څهٔ چه وائی دَ وحی نه وائی. یعنی دَ الله په حکم وائی) او فقهه هم دَ دے قرآن او حدیث نه اخستی شوی ده. جزئیات دَ کلیاتو تابع وی. لکه مرکزی پارلیمنټ یو قانون پاس کړی. دَ ملک ټول عدالتونو ته ئے واستوی. او س که دَ ملک په یو لرے کوټ کښے څوک دَ دے قانون خلاف ورزی اوکړی. او عدالت سزا

ورکړی. نو دا څوک نشی ویلے چه په قانون کښے خود دے سړی نوم نهٔ وو.

دغه شان فقهاو دَ قرآن او حدیث نه یو عِلّتُ را اوباسی. دَ هغے نه یو قاعده کُلیه جوړه کړی. بیا چه کوم ځائے دَ هغے جزئیات مونتی شی. دغه حکم ورباندے حاوی شی. حُکه فقهاء وائی. اَلْقِیَاسُ مُظْهِرٌ لَا مُثْبِتٌ. (قیاس یو شرعی حکم ښکاره کندوی. پیدا شی حکم نهٔ لکوی) هر کله چه دا ثابته شوه چه دَ فقهاو ټول احکام اِلٰهی احکام دی. نو اوس پکښے چون چرا کول او حکمتونه ئے معلومول بے ادبی ده۔

البته یو طالبِ علم که تر ندَ فائدے اَخستو دَ پاره (یعنی دَ دے دَ جزئیاتو معلومولو دَ پاره) دَ عِلّتُ معلومولو کوشش کوی. نو خیر دے۔

لکه یو طبیب که مریض ته نسخه لیکی. او هغه ترے تپوس او کړی چه دا دارو دِ پکښے ولے اولیکل. نو هغه به ورته غصه شی او دَ مَطَب نه به ئے اوشړی. لیکن دَ هغهٔ یو شاګرد چه دا فن زده کوی. که هغه ترے دَ ځان پوهه کولو دَ پاره تپوس او کړی. نو حکیم صاحب به خوشاله شی. او په خوشالئی به ئے ورته فائده او ښئی۔

نو عوامو دَ پاره دَ احکامو اسرار او حکمتونه معلومول بے ادبی ده. بلکه څنه حالاتو کښے کُفر دے. افسوس دا دے. چه رسول الله صلی الله علیه وسلم خو مونږ ته احکامو رارسولو دَ پاره بے حسابه تکلیفونه برداشت کړی دی. او څومونږ په خیر خواهئی کښے ئے څهٔ کسر نهٔ دے پریښی. لیکن دَ روشن خیالئی دعویدار صاحبان نن دَ هغے دا قدر کوی. چه خپله رائے پکښے چلول غواړی. او وائی چه دا حکم دَ عقل خلاف دے. او دا حکم دَ نن زمانے دَ حالاتو سره مناسب نهٔ دے. وغیره۔

غرض دا چه دَ شریعت دَ احکامو سره دا سے سلوک پکار دے. لکه یو مریض چه دَ خپل مهربانه کامل حکیم دَ نسخے سره کوی. چه دَ هغهٔ به هره خبره بے تپوسه په خوشالئی عمل کوی او هر تجویز کښے ئے خپل خیر او بهتری ګڼړی. او احسان ئے منی. نو په دے حدیث شریف کښے هم مونږ ته حضور څومونږ دَ یو غټ مرض نشان دِهی کړی ده. او دا مرض به مونږ کښے نه صبا دے یو عاًاو په زیات دے. هغه مرض دا دے. چه کوم شی ته مونږ زوی ورکړے دے. هغه الله ته منظور

نهٔ دے. اوکوم شی ته چه الله کوری او هغهٔ ته منظور دے. هغه ته مونږ خیال نهٔ کوو. داخو (نعوذ بالله) څرګنده د الله سره مقابله شوه.

مونږ شپه ورځ په دے کوشش کښے لګیایو. چه څمونږ شکل صورت. څمونږ جامه پیزار څمونږ ډول ډال داسے وی چه د خلقو تر نظره ښهٔ راځی. کم و بیش هر سړے په دغم کښے ډوب دے. شپه ورځ ځان جوړولو کښے مشغول دے. زهٔ دا نهٔ وایم چه زینت ممنوع دے زینت مباح دے خو ترڅهٔ حده. د حد نه تجاوز کول. او هروخت په دے فکر کښے مشغول اوسیدل د الله نه غفلت پیدا کوی. او د تجاوز کولو حکم خو څرګند دے (مونږ ته شریعت په هر کار کښے د اعتدال حکم کوی) غرض دا چه زینت خپل مقصد ګرځول ښهٔ نهٔ دی. حدیث شریف کښے راغلی دی. نَهٰی رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ عَنِ التَّرَجُّلِ اِلَّا غِبًّا. (رسول الله صلی الله علیه وسلم په دریمه ورځ د ږیره منګو کولو نه علاوه منع کړی ده.) دا تجربه ده چه څوک چه شپه ورځ ځان جوړولو کښے مشغول وی. هغه د کمال نه خالی وی. ځکه چه د کمال خاوند ځان جوړولو ته اوزګار نهٔ وی.

غرض دا چه د حد نه زیات وخت زینت (ځان جوړولو کښے) لګول منع دی. اګرچه په مباح شکل وصورت کښے وی. او چه د مباح نه واوړی. ممنوع شکل اختیار کړی. لکه د غیر مسلم قومونو جامه او طرز خوښ کړی. د دیرے او د اسلامی وضع دشمن شی. د جائز او ناجائز نه علاوه اسلامی غیرت هم دا غواړی چه مونږ خپله اسلامی وضع محفوظ کړو. لکه نورو قومونو چه خپلے قومی وضع محفوظ کړی دی. او د نورو قومونو نه ئے ځان ممتاز او جُدا ساتلے دے. افسوس دے چه اوس دا غیرت هم لاړو. د مسلمان او غیر مسلم فرق په عمل او اخلاقو وو. د هغے خو مودے او شوے ختم شوے دے. صرف د ظاهری وضع شکل وصورت او جامے فرق پاتے وو. دا هم ختم شو. که څوک او وائی چه څمونږ د شناخت دپاره رومی ټوپئ کافی ده. نو اول خو دا ټوپئ پنجاب کښے هندوان هم پسروی. بل دا چه که کله ئے ټوپئ پسر نهٔ وی لکه نن صبا چه مغربی تعلیم یافته خلق سرتور ګرځی. نو بیا به ئے څنګه فرق پاتے شی. بیا خو به دا ضروری وی چه د مسلمان د هروخت ټوپئ پسر وی.

دے پورے راته یو واقعه را یاده شوه. ځما یو میلمهٔ راغلے وو. ما یو خپل ساده دوست ته اووئ چه دا میلمهٔ اوپیژنه. زهٔ ورته د کورهٔ ډوډئ را استوم ورپاندے ئے اوخوره بیا د کورهٔ ډوډئ راغله. نو هغهٔ اووے هغه میلمهٔ خو اوس چرته نهٔ ښکاری خدائے خبر چرته لاړو. ما ورته اووے. هغه خو دا دے مخامخ ناست دے. نو هغه وائی. وختی خو ئے ځادر پسر وو. اوس ئے ځادر نشته. ما ځکه خطا کړو. ما د ټوټے د پاره هغه میلمهٔ ته اووے. بیا همیشه ځادر پسر کرځه کنی نو بهٔ کرځے. ډوډئ به نهٔ مومے. نو آیا مسلمان به همیشه ډوډئ ټوپئ په سر کرځی؟

غرض دا چه ټوپئ څهٔ داسے خاصه نښه نهٔ ده. په خپل ذات کښے څهٔ داسے علامه پکار ده. چه هر وخت وی. نو هغه خو یو ږیره ده. او بل خاص قسم جامه ده. د دے دواړو علامو بغیر پوره امتیاز نشی کیدے. یواځی ږیره هم کافی نهٔ ده. ځکه چه د هلکانو ږیره نهٔ وی. او څنه غیر مسلم قومونه هم ږیره ساتی. نو چه ږیره او خاص قسم جامه دواړه وی هلته به پوره امتیاز راشی.

حاصل دا چه د غیرت تقاضا دا ده. چه مونږ اسلامی وضع محفوظه کړو. څنه خلق وائی د ږیرے ساتلو حکم قرآن شریف کښے نشته. نو مخکښے مونږ دا ثابته کړه چه د احادیثو احکام هم د الله احکام دی. ځکه چه د احادیثو د اطاعت حکم مونږ ته په قرآن کښے شوے دے نو په دے طریقه د احادیثو احکام ټول د قرآن احکام دی. خو نن صبا دا لیونتوب عام دے څوک وائی د قرآن نه دلیل پیش کړئ. څوک وائی حدیث نه دلیل پیش کړئ. افسوس دے مونږ خپل شرعی اُصول پرینښول. یاد لرئ د شریعت څلور اُصول دی. قرآن[1]. حدیث[2]. اجماع[3]. قیاس[4]. په دے څلورو دلیلونو کښے به هر یو دلیل چه کوم خبره ثابته شی. هغه د شریعت حکم دے. دا حق د چا نشته چه اووائی. صِرف د قرآن وحدیث نه دلیل راوړئ. د دے خو دا مطلب شو. چه دا نور دوه اُصول شرعی دلائل نهٔ دی.

د دے خو داسے مثال دے. لکه یو سړے په چا د څهٔ رقم دعوه اوکړی. او عدالت کښے ورپاندے ګواهان پیش کړی. خو مدعا علیه اووائی. زهٔ دا ګواهان نهٔ منم. که فلانی فلانی ګواهی اوکړه

نو هلته به ئې اومنم. عدالت به ترې تپوس اوکړی چه په دې ګواهانو ستا څه اعتراض دې. دروغجن دی. که ډله باز دی. که د کرائې ګواهان دی. وجه څه ده چه ته ئې نه منې. او هغه اووائی. په دې ګواهانو م اعتراض نشته. خوزه به دا دعوه هله منم چه فلانے فلانے ګواهی اوکړی. نو عدالت به د دۀ دا بکواس هډو کز اونۀ منی. او د هغۀ خلاف فیصله به ورکړی. ترڅو چه ئې په ګواهانو معقوله جرحه نۀ وی کړی.

نو هر کله چه د شریعت څلور دلیلونه منلی شوی دی. نو د یو حکم په ثبوت کښې چه څوک کوم دلیل پیش کړی. حکم ثابت شو. البته که د دے دلیل په صحت کښې د چا شک وی. نو د هغے صفائی کیدے شی. لیکن دا خبره غلطه ده. که څوک اووائی. بل دلیل نۀ منم. صرف د قرآن او حدیث دلیل راوړئ.

ډیر افسوس په جواب ورکوونکو دے. چه د هغوئ نه که څوک صرف د قرآن او حدیث دلیل غواړی. نو په دې فکر کښې پریوځی. چه خامخا ئې د قرآن او حدیث نه ثابته کړی. او چه کامیاب نشی نو پریشان شی. اصل خبره دا ده. چه په دے شرط د مسئلے جواب ورکول د اصولو خلاف دی. خو د جهالت زور دے. اصلی او صحیح جواب څوک نۀ خوښوی. او څوک چه د اصولو خلاف د دوئ په طبع جواب ورکړی. هغه وړته هوښیار او لوئې سړے ښکاری. د دے مرض د علاج د پاره د علمِ دین سخت ضرورت دے.

نو خبره دا وه. چه د زینت څنګه طریقے شریعت منع کړی دی. لیکن د اسلامی وضع دشمنان پکښې قسم قسم خبرے راوباسی. څنګه حضرات وائی مَنْ تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ. حدیث ضعیف دے. سبحان الله. بنۀ محققان دی د حدیث ضعف او قوت هم دوئ پیژنی.

خیر که دا حدیث ستاسو په خیال ضعیف وی. نو په دے معنیٰ خو نور احادیث هم ډیر دی هغه سره به څۀ کوئ. بلکه د تَشَبُّه ممنوع کیدو احادیث خو معنیً د تواتر درجے ته رسی. یو حدیث شریف دے. الله تعالیٰ لعنت فرمائی په هغه ښځو چه د سړو په شان شکل جوړوی. او په هغې سړو چه د ښځو په شان شکل جوړوی. نو د ښځو سره تَشَبُّه ناجائز ده. سړه د دے چه څومره او څومره د ښځو تر مینځه د اسلام شراکت دے. نو کوم ځائے چه د اسلامت شراکت هم نشته. د غیر

مسلمو سره تشبهٔ به څنګه جائز شی؟ کوم حضرات چه دَ تشبهٔ په مسئله کښې خبرې کوی. هغوئ نه څوک دیو سوال دے. که دائې پوره کړو. نو مونږ دا وعده کوو. چه بیا به په دے مسئله کښې خبرے نهٔ کوو.

6.45

هغوئ ته دا عرض دے. چه که په جامه بدلیدو شخصیت کښې څهٔ فرق نهٔ راځی. نو لږ غوندے دَ حجرے نه دِ کور ته لاړ شی. دَ بیګم صاحب دَ کمخواب جامے. بنارسی. لوپټه. او بنګړی وغیره کالی دِ واچوی. او حجره کښې دِ لږ ساعت دَ خپلو کشرانو. مشرانو. او همزولو سره مجلس کښې کینی. که دا سے ئې اوکړل. نو مونږ به په دے مسئله دَ بحث کولو نه توبه اوباسو. خو هیچرے ئې نشی کولے. آخر په دے کار کښې سواد دے نه چه دَ ښځو سره تشبیهه دَ نور څهٔ قباحت دے. نو افسوس دے. چه دَیو مسلمانے ښځې سره تشبیهه خو ورته دَ شرم کار ښکاری. لیکن دَ خدائے دَ دشمنانو سره تشبیهه باندے شرم نهٔ ورځی.

څه کسان تپوس کوی. که داټول کافران مسلمانان شی. او دَ هغے وطن خو دا جامه ده. بیا به هم دا جامه منعٔ وی؟ زهٔ وایم بیا به هم و تشبهٔ پاتے نشی. ځکه چه بیا به دا دَ کفارو وضعٔ نهٔ وی.

دا دَ زینت څه شعبے وے. چه شریعت کښې منعه دی. دا خو دَ خپل شکل صورت او زینت متعلق خبرے وے. اوس پاتے شو دَ بل شکل صورت ته کتل. چه ورته ګوری چه امیر دے که غریب. سپین دے که تور. جامه ئې ښه ده. که خرابه. او بیا ورسره هغه شان سلوک کوی. که دَ شکل صورت نه مالدار ښکاری. جامه پیزار ئې ښهٔ وی. نو قدر عزت ئې کوی. که دَ کمال نه بالکل خالی وی هم. او که ظاهری حالت ئې ښهٔ نهٔ وی. نو که ډیر دَ کمال خاوند وی خو څوک ئې تپوس هم نهٔ کوی.

زهٔ دا نهٔ وایم. چه دَ مالدارو قدر عزت ناروا دے. بلکه په دے کښې تفصیل دے دَ مالدار عزت که دَ ضرر دفع کولو دَ پاره وی. یا تالیفِ قلب دَ پاره وی. چه دین ته ئې مخه شی. نو جائز دے. لیکن که دَ دُنیاوی فائدے په غرض دَ مالدارو په در شل تندے سولوی. نو دا کار جائز نهٔ دے.

حاصل دا چه نن صبا په اَلنَّاسُ بِاللِّبَاسِ (بنده په جامه پیژندے شی) باندے عمل دے ځکه دَ عالمانو قدر نشته. چه هغه عاجز خو په کمزوری حالت کښے وی. جامه او ظاهری شان شوکت ئے ښه نهٔ وی دَ مال دَ کمی په وجه. نو دَ دُنیا دارو په نظر کښے ښهٔ نهٔ راځی. پسمانده او تاریک خیال ورته ښکاری. قسم په خدائے که دے دُنیا دارو دَ دین خوند اوڅکلو. نو بیا به په دُنیا او دُنیا دارو توکا نړی هم اونهٔ توکی. او دا حال به ئے شی۔ ؎

همه شهر پُر زخوبان منم وخیالِ ماهے
چه کنم که چشم بدخونه کند به کس نگاهے

(ټول ښار دَ خوبانو نه ډک دے. لیکن زهٔ هم دَ هغے خپل محبوب په تصوّر کښے ډوب یم. څهٔ اوکړم چه دا بدخویه سترګے م بل هیچا ته نهٔ ګوری۔)

او دغه وجه ده. چه دیندار عالمان دُنیا او دُنیا دارو ته ګوری هم نه. او نهٔ ورته په خپل کمزوری حالت دَ مال په کمی څهٔ ارمان ورځی. او نهٔ په دے افسوس کوی چه مونږ دا سے علم ولے کولو چه دَ دُنیا نه ئے او ویستو. خو شرط دا دے چه دیندار ئے خوند ورکړے وی. غرض دا چه دیندارهٔ عالمان نهٔ په مال پسے ارمان کوی. او نهٔ دَ مال ګټلو کوشش کوی۔

بلکه مونږ خو دا سے کسان ډیر او لیدل چه دُنیاوی علم کښے لګیا وو. او س هغه علم پریدی او دینی علم حاصلوی. او ډیر دا سے دی چه دُنیاوی عِلم ئے کړے دے. په غټو غټو عهدو لګیدلی دی. او او س په دینی عِلم پسے ارمان کوی. چه افسوس که دَ دے په ځائے مو دینی عِلم کړے وے۔

یو لطیفه را یاد ه شوه. یو طالب انګریزی پریښوه. دینی علم ئے شروع کړو. چا ترینه پوښ اوکړو چه انګریزی دِ ولے پریښوه. هغهٔ ورته اووے. زهٔ دا غواړم چه دَ سړیتوب جامه واغوندم هغهٔ ورته اووے. ولے ترا و سه دَ سړیتوب په جامه کښے نهٔ وے؟ هغهٔ ورته اووے نه. ځکه چه الله تعالیٰ فرمائی وَلِبَاسُ التَّقْوٰی ذٰلِکَ خَیْرٌ - (او دَ تقوی جامه بهتره جامه ده) نو دَ تقوی نه بغیر دَ سړیتوب جامه نشی حاصلیدے۔

نو دَ دنیا نه دین ته راتلهٔ. او دَ دین نه یو کس هم دُنیا ته نهٔ تلل آیا دَ دین دَ اوچتے مرتبے او دَ دنیا دَ ذِلّت دلیل نهٔ دے؟ لیکن دَ چا چه مذاق خراب شوے وی. هغه دینی حالت ته دَ کمزورئ او پستئ او دُنیا ته دَ اوچت والی حالت وائی. ظاهری شان شوکت ته ګوری. او دَ حقیقت نه

سترګې پټوی. غریب سړے که ډیر باکماله وی هیڅ خیال ئې نۀ ساتی. او سړه دَدے بیا دَ همدردئ دعوې هم کوی. ډیر افسوس دے. تاسو اوګورئ. چه رسول کریم صلے الله علیه وسلّم به دَ غریبانو څومره خیال ساتلو. او څومره مهربانی به ئې ورباندے کوله.

حضرت زاهر رضؓ یو صحابی وو. چرته بانډه کښے اُوسیدو. کله کله به مدینے منورے ته دَ حضورؐ ملاقات ته راغلو. نو دَ بانډے څۀ شے به ئې دَ حضورؐ په خدمت کښے پیش کړو. حضورؐ به ورته دَ ښار څۀ شے په تحفه کښے ورکړو. او فرمائیل به ئې. زاهر زمونږ بانډه دے او مونږ دَ هغۀ ښاریو. یوه ورځ حضرت زاهر رضؓ په بازار کښے روان وو. حضورؐ هم په هغۀ لار تللو. دَ شا نه ئې په غیږ کښے اونیوو. (سترګې ئې ورته نږدے پټې کړې. لکه نن صبا چه خلق کوی. په دے خو تکلیف رسی او زړۀ تنګیږی) حضرت زاهر رضؓ اوو. خو ئې پرے رم ده. خو چه شا ته ئې اوکتل. حضورؐ ئې اولیدو. نو بیا خو ئې ورپورے نور هم ځان جُخت کړو. چه داسے ورځ به بیا چرته وی؟ حضورؐ دَ توقے دَ پاره غږ اوکړو. څوک شته چه دا غُلام واخلی. هغۀ اووے. زۀ خو کم قیمته یم په ما څوک څۀ کوی. حضورؐ ورته اوفرمائیل. الله تعالیٰ سره خو کم قیمته نۀ ئې.

اوګورئ. حضورؐ خپلو غریبانو اصحابو سره څومره مینه کوله. دَ هغوئ دَ خوشالولو دَ پاره ئې ورسره توقه هم کوله.

ما دَ یورپ یو بادشاه په خوب کښے لیدلے وو. راته ئې وے چه ما دَ محمّد صلے الله علیه وسلم په رسالت کښے یو شک دے. چه هغۀ به دَ خپلو اصحابو سره خندا توقه کوله. دا دَ وقار خلاف ده. او رسالت سره وقار ضروری دے. ما جواب ورکړو. چه مطلق توقه دَ وقار خلاف نۀ ده. دَ وقار خلاف هغه توقه ده چه څۀ خاص فائده پکښے نۀ وی. دَ حضورؐ په توقه کښے دا مصلحت وو. چه هغوئ ته الله تعالیٰ دومره ډیر رُعب ورکړے وو چه ډیر بهادر سړی به هم ورسره به اول ملاقات کښے دَ هیبته خبرے نشوے کولے. لکه څنګه چه په حدیثونو کښے راځی. (حضورؐ چه به په ورنی ځل چا اولیدو نو هیبت به پرے راغلو بیا به ئې ورسره محبت پیدا شو) نو حضورؐ که دَ خپلو اصحابو سره بے تکلفی نۀ کولے. نو اصحابو

به ترے د رُعب په وجه د څۀ خبرے تپوس نشو کولے. نو د تعلیم او تعلّمُ سلسله به تر ډیره حده بنده شوی وه. نو حضورؐ به ورسره بے تکلفی په دے غرض کوله. چه اصحاب د هرے خبرے تپوس په ډاډه زړهٔ اوکړے شی. او د حضورؐ د صحبت نه پوره پوره فائده واخلی.

بیا توقیر په درے قسمه ده. یو ۱ هغه چه د بل سپکاوے وی پکښے. د دے نه خو حضورؐ پاک وو. بل ۲ هغه چه چا ته په تکلیف رسی. دا سے توقه هم حضورؐ نۀ ده کړی. دریم ۳ هغه. چه نۀ پکښے د چا سپکاوے وی. نۀ پکښے چا ته تکلیف رسول وی. نۀ پکښے دروغ او د حق خلاف څۀ خبره وی. د حضورؐ توقیر به د دے قسمه وه. لکه احادیثو نه چه ظاهره ده.

غرض دا چه حضورؐ به غریبا نو سره ډیره مینه کوله. نن صبا هم ډیر خلق د قومی همدردئ دعوید اردی. لیکن حالت ئے دا دے. چه د قوم سره ئے هیڅ مناسبت نشته. د بنار نه بهر به بنګلو کښے اوسی. ښۀ خوراکونه خوری. او په آرام پراتۀ وی. او غریبا ن رونړه ئے په ښار کښے نهر بربنډ په مُصیبت کښے ګیر وی. او دوئ ئے تپوس هم نۀ کوی. نه ئے د تکلیف نه ځان خبروی. دا ښه همدردی ده. که د قوم د فائدے څۀ کار کوی هم نو د امیرانو د فائدے کار کوی. غریب ته ئے هیڅ فائده نۀ وی. نو دے ته خو قومی همدردی نشی ویلے. ځکه چه قوم د مجموعے نوم دے. او په مجموعه کښے د اکثرو اعتبار وی. او اکثریت د غریبانو دے. امیران خو به پکښے چرته په شمار څو کسه وی. نو قوم د غریبانو نوم شو. او د قوم همدردی معنیٰ شوه. د غریبانو همدردی. نو دوئ به د غریبانو سره څۀ همدردی اوکړی. دوئ سره خو غریبی او افلاس د جُرمونو په فهرست کښے لیکلے شوی دی. البته قومی همدردی مونږ ته شریعت ښیلی ده. او ګورئ حدیث شریف دے.

اَلْمُسْلِمُوْنَ كَجَسَدٍ وَاحِدٍ. اِذَا اشْتَكٰى عُضْوٌ وَعٰى لَهٗ سَائِرُ الْجَسَدِ. او کما قال (ټول مسلمانان خپلو کښے د یو بدن په شان دی. بدن کښے که یو اندام په تکلیف وی. نو ټول بدن ورسره بے آرامه وی) د دے حدیث شریف ترجمه شیخ شیرازیؒ په دے اشعارو کښے کړی ده. ـــه

بنی آدم اعضائے یکدیگر اند — که در آفرینش زیک جوهر اند

چو عضوے بدرد آورد روزگار — دگر عضوها را نماند قرار

(بنیادم د یو بدن د اندامونو په شان دی. ځکه چه ټول د یو ذات نه پیدا شوی دی)

(دَ بدن یو اندام ته که تکلیف اورسی. نور اندامونه ئے هُم بے قراره شی.)

افلاس به جُرم هلهٔ وی. که دَ بندهٔ دَ بے تدبیرئ نتیجه وی. داخو خالصً دَ الله تعالیٰ دَ طرفه دے. الله فرمائی. اَللهُ یَبۡسُطُ الرِّزۡقَ لِمَنۡ یَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِهٖ وَیَقۡدِرُ ط (الله تعالیٰ په خپلو بندیانو کښے چا ته چه اوغواړی رزق فراخه کړی. او چا ته چه اوغواړی تنګ ئے کړی.)

او په دے کښے دَ الله تعالیٰ حکمتونه دی. څوک چه په افلاس او غریبئ کښے مبتلا وی. هغوئ دَ پاره په دے کښے خیر دے. او څوک چه مالداری هغوئ ته په دے کښے خیر دے. هیڅوک دِ بل سپک نهٔ ګنړی. الله تعالیٰ دَ خپلو بندیانو په حال ښهٔ خبر دے.

قاضی ثناء الله پانی پتیؒ په خپل تفسیر کښے یو حدیثِ قدسی نقل کړیدے. دیر مُسلمانان داسے دی. چه دَ هغوئ ایمان دَ غریبئ په برکت باقی دے. که مالدار شول نو دومره سرکشه او نافرمانه به شی چه کُفر ته به اُورسی. او دیر مسلمانان داسے دی چه ایمان ئے دَ مالدارئ په برکت محفوظ دے. که غریبی پِه راغله کُفر ته به اووځی. حاصل دا چه څوک الله تعالیٰ په کوم حالت کښے ساتلی دی. هغوئ دَ پاره هم دا حالت بهتر دے. په دے ورته شکر ویستل او راضی کیدل پکار دی. چا څهٔ ښهٔ ویلی دی.

خاکسارانِ جهان را به حقارت منگر ؛ تو چه دانی که درین گرد سوارے باشد

(په دُنیا کښے غریبانو او خوارو پرونه په سپک نظر مهٔ ګوره. ته څهٔ خبر ئے که په دے ګردو نو کښے سوروی.) یعنی ممکنه ده چه دا خوار څوک صاحبِ حال بزرګ وی.

خلاصه دا چه ننَ صبا دَ همدردئ چغے دیرے وهلے شی. لیکن په رښتیا همدردان دیر کم دی. رښتونے همدردی هغه سړے کیدے شی. څوک چه دَ حضورؐ په حقه تابعداروی. ځکه چه دَ همدردئ داسے اُصول به هیچا نهٔ وی ښیلی. ترڅو چه حضورؐ خاروو سره هم دَ همدردئ حکم کړے دے. او رښتونی تابعدارو په دے عمل کړے دے.

دَ حضرت سیّد احمد رفاعی رحمة الله علیه قصّه ده. چه یوه ورځ په لار تللو. یو پِش سپے ئے اولید و. چه ټول ځان ئے په ګرولوګرو لو زخمی کړے وو. هرچا ورته کرکه کوله. نور و سپو هم ځان سره نهٔ پریښو لو. دَ هغهٔ په رحم راغلو کوره ته ئے راوستو. په خپلو لاسو ئے ښوُلو. دارو به ئے



Scanned with CamScanner

په پوره کول. او خدمت به ئې کولو تر هغې چه جوړ شو۔

دغه شان دَ بایزید بسطامیؒ قصه ده. چه دَ وفات نه پس چا په خوب کښې اولیدهٔ. تپوس ئې ترې اوکړو. چه الله تعالیٰ درسره څنګه چل اوکړو. هغهٔ ورته اووے ځما په اعمالو کښې یو کار دَ الله تعالیٰ ډیر خوښ شوے وو. دَ هغې په برکت ئې اوبخښلم. هغه کار دا وو. چه یوه ورځ په لاره تلم. یخ زمے وو. په لار کښې مِ دَ پیشو بچے اولیدو چه دَ یخنۍ نه رپیدهٔ. ما را واخستو. ځان سره مِ بړستن کښې پټ کړو چه ګرم شی. دَ دے رحم په برکت الله تعالیٰ په ما رحم اوکړو.

دغه شان دَ شاه ولی الله محدث دهلویؒ دَ والد شاه عبدالرحیم صاحبؒ یو واقعه ده یو ځل په لار تللو یو کوتره ئې اولیدهٔ چه سخته یخنۍ کښې په خټو کښې پروت دے. دَ یخنۍ نه رپیږی. او په بد حال دے. هغهٔ را واخستو. حمام ته ئې یوړو. په ګرمو اوبو ئې صفا کړو. خټې ترې لاړې. په ګرم ځائے کښې ئې کینولو. په آرام شو. بیا څهٔ موده پس چرته تللو په دا سے پوله روان وو چه دواړه طرف ته ئې خټې وے. پوله دومره نرۍ وه چه یو کس به ایله په خوارۍ تلے شو. اتفاقاً په دغه پوله دَ هغې مخې ته یو سپے را روان وو. چه نزدے شو دواړه اودریدو چه دَ اوریدو لار نهٔ وه. شاه صاحبؒ سپی ته اووے ته کوز شه چه زهٔ واوړم. دَ کشف په ذریعه ورته معلوم شوه. چه سپی اووے. دَ دے زمانے درویشانو اختیار (خپل ځان ته په بل ترجیح ورکول) غوره کړی دی. پخوانو درویشانو به ایثار کولو. (بل ته په خپل ځان ترجیح ورکول) شاه صاحبؒ ورته اووے. دا سے نهٔ ده. زهٔ مکلّف یم. که جامے یا بدن مِ پلیت شی بے وینځلو به مونځ نشم کولے. او صفا کولو کښې ئې تکلیف دے. او ته مکلّف نهٔ ئې که په خټو شے ځهٔ کار دِ نهٔ خرابیږی. هغهٔ ورته اووے شاه صاحب دا خو ربښتیا ده. لیکن که ته کوز شوے او جامے دِ په خټو شوے. نو په یو کوزه اوبو به پاکے شی. او که زهٔ کوز شوم. او ته په پوله تیر شوے. نو په زړهٔ به دِ دا سے پلیتی اولګی. چه په اوو دریابونو به پاک نشی. اوس ستا خوښه ده. چه څنګه وائې. شاه صاحب باندے حال راغلو. لاندے کوز شو. او سپے په پوله تیر شو۔

بیا ورته الهام اوشو. اے عبدالرحیم څهٔ خبر شوے چه دا څهٔ واقعه وه؟

خبره دا وه چه دَ دے په یو هم جنس (سپی) باندے تا یو ځل احسان کړے وو. مونږ دا نهٔ غوښتل.

چه دَ ستا دَ احسان قرض پهٔ پاتے شی. نو دَ هغې په بدل کښې مو دَ هغهٔ دَ یو هم جنس په خوله دومره عظیم عِلم درکړو. سبحان الله۔

دَ بزرګانو هم عجیبه شان دے. دَ الله تعالیٰ دَ طرفه پهٔ څنګه څنګه ازمینښتونه کیږی۔ نوصاحبانو! همدردی داشے دَ کومه چه دے بزرګانو کښې وه. کوم چه تاسو بدنامولی. چه سخت ګیر او مُتَعَصِّبْ دی. په معمولی خبره خفه کیږی. سمه خبره داده. چه تاسو تهٔ تعصُّب معنیٰ نهٔ درځی. کومه غُصه چه دَ دین په خاطروی. هغه تعصُّب نهٔ دے. غیرت او حَمِیَّتْ دے. تعصُّب هغه دے چه دَ ناحقے په حمایت کښې دَ ډلے پرے یا خاندان په مرسته کښې وی. نو خوک چه دوئ ته مُتَعَصِّبْ وائی. هغوئ خودِ اول دا ثابته کړی. چه دَ کوم کار په حمایت کښې چه دوئ ته غصه ورغلی ده. هغه کار ناحق وو.

ما یو ورځ یو روشن خیاله ته اووے. که یو سړے چا ته اووائی چه ما اوریدلی دی چه ته حرامی ئے. او ستا مور ډمه وه. چکله کښې ناسته وه. نو هغهٔ ته به غصه ورځی که نه سمدستی به په دا پاندے کړی. چه هنٔه تا ځما هتک اوکړو. که په قلاره به ئے په دلائلو پوهه کوی. چه ستا خیال غلط دے. ځما مور کور ناسته وه. او دا ئے نکاح نامه ده. وغیره وغیره. نو اوس دے ته به تعصُّب وائے که غیرت؟ څنګه چه خوک دَ مور په هتک غصه کیږی دغه شان دَ دین عاشقانو ته چه دَ دین په عزت ئے خپل عزت او سرومال قربان وی. دَ دین په هتک غصه ورځی. دَ هغوئ مخکښې چه خوک دَ دین توهین اوکړی. بیا خاص چه په بد تهذیبئ پیغور او پیچموزو وی نو هغوئ ته غصه ورشی. او چا ته چه په داسے خبره غصه نهٔ ورځی. هغه دیندار نهٔ دے. بے غیرته دے. دا غصه دَ رحم او شفقت خلاف نهٔ ده. بزرګان خو ډیر نرم زړی او مهربانه وی.

یو بزرګ خپل مُرید ته نصیحت کولو. ورته ئے وے. که چا تکلیف درکړو. نو مهٔ ترے بدل اخله. او مهٔ ورته صبر کوه. بدل ترے ځکه مهٔ اخله چه ستا دوی مُسلمان ته به هم دغه شان تکلیف اورسی. (او مسلمان ته تکلیف رسول جائز نهٔ دی) او صبر ورته ځکه مهٔ کوه. چه ستا صبر به ئے او وهی. څهٔ آفت به په راشی. هغهٔ ورته اووے. چه بیا چه بدل

هم نهٔ اخلم. او صبر هم نهٔ کوم نو څهٔ اوکړم. ما ته خو بل چل نهٔ راځي. پیړوړ ته اووے. څهٔ بد رد ورته اووایه. دَ زړهٔ بړاس اوباسه. سبحان الله. اصل همدردي داده (چه چا تکلیف ورکړے وی) هغه هم په څهٔ چل دَ تکلیف نه بچ کړي)

دَ یو بل بزرګ واقعه ده. چه یو ځل ئے په بازار کښے خوارهٔ واخستو. او مال کښے ئے غوټه کړو. کور ته ئے ډیر لرے وو. چه کورته ئے غوټه پرانسته. په خوږو کښے یو میږے راغلے وو. ډیر پریشان شو. چه دا میږے غریب بے کوره شو. په تکلیف به شی. میږے ئے راواخستو. هم هغه دوکان ته واپس لاړو. میږے ئے هلته پریښو. چه خپلے سوړے ته لاړ شی.

البته په رحم کولو او همدردئ کښے هم اعتدال پکار دے. ښاروے حلالول بے رحمی نهٔ ده. داخو دَ الله تعالیٰ په حکم کیږی. (ځکه چه دَ ټولو ځیزونو خالق او حقیقی مالک دَے الله تعالیٰ مونږ ته دَ ښاروی حلالولو اجازت راکړے دے. دَ داسے همدردئ حکم مونږ ته نشته. داسے همدردی که څوک کوی. نو الله تعالیٰ به ورنه ناراضه شی. غوا. میښه. ګډه. بیزه دَ الله دَ حکم مخکښے هیڅ شے هم نهٔ دے. که مونږ دَ ښاروی حلالولو نه انکار اوکړو. نو دا دَ الله تعالیٰ دَ حکم منلو نه انکار دے.

مولانا دَدے په مثال کښے یو قصه لیکلی ده. چه سلطانِ محمود یو ځل دَ ازمینت دَ پاره یوه ډیره قیمتی مرغلره خپل وزیراعظم ته ورکړه. چه دا ماته کړه. هغهٔ ورته اووے. جنابِ عالی داخو ډیره نایابه مرغلره ده. بله به داسے پیدا نشی. بیائے دَ دربار په نورو امیرانو او وزیرانو ټولو عُذر پیش کړو. آخر کښے دَ ایاز وار راغلو. هغهٔ کانړے راواخستو سمدستی ئے ماته کړه بادشاه ورته په قهر اووے. دا دِ څهٔ اوکړو ؟ وے صاحب غلطی رانه اوشوه. معاف مِ کړه وزیرانو بیا ایاز ملامته کولو. چه دومره قیمتی مرغلره دِ ولے ماته کړه. هغه ورته اووے. ما مرغلره ماته کړه. او تاسو دَ بادشاه حکم مات کړو. دَ بادشاه حکم دَ مرغلرے نه زیات قیمتی دے. مولاناؒ لیکی.

نقضِ امر از کسرِ دُر دشوار تر لاجرم بشتم بکسرِ دُر کمر

(دَ حکم نافرمانی دَ مرغلرے ماتولو نه ګرانه وه. مجبورًا دَ هغهٔ په حکم مرغلرے ماتولو ته تیار شوم.)

نو جناب والا! څُمونږ خو دا همت نشته. چه د الله تعالیٰ حکم دے. اِذْبَحُوْا بَقَرَةً ط
(د غوا قربانی اوکړئ) او مونږ اووایو دا خو بے رحمی ده. مونږ غوا نشو حلالولے. بل دا چه
که مونږ د رحمدلۍ په وجه څاروی حلالول پریږدو. نو د دے مطلب خو دا شوچه (نعوذ بالله)
مونږ د الله تعالیٰ نه زیات رحم کوونکی یو. حالانکه د الله تعالیٰ تمام صِفات کامل اواکمل دی
او د ممکناتو ټول صفات د هغهٔ د صفاتو سوری دی. الله تعالیٰ فرمائی. اَلزَّانِيَةُ وَالزَّانِيْ
فَاجْلِدُوْا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِائَةَ جَلْدَةٍ وَّلَا تَاْخُذْكُمْ بِهِمَا رَأْفَةٌ فِيْ دِيْنِ اللّٰهِ ط
(زنا کار سړی او زنا کاره ښځه هر یو سل سل دُرے اووهئ. او د الله په دین کښے په دوئ رحم
مهٔ کوئ) یعنی که تاسو مؤمنان ئی. نو د الله دا حکم جاری کړئ. او د رحم په وجه ترے منع
کیږئ مه. مولانا فرمائی.

چوں طمع خواہد زمن سلطانِ دین خاک بر فرقِ قناعت بعد ازین

(کله چه د دین بادشاه زما نه طمع غواړی. نو د دے نه پس د قناعت په سر خاورے اچوم)
مونږ ته خو د حکم تابعداری پکار ده. چه څنګه حکم کوی هغه کار به کوو. (خپل عقل به پکښے نه چلوو)
درحقیقت دلته بے رحمی نشته. په دے کښے د بنیادمو ډیرے فائدے دی. که د رحم په وجه ترے
منع شو. نو د بنیادمو ډیرے فائدے به فوت شی. په دے کښے یو دا نۍ مخلوق په انسان باندے
چه اکرم المخلوقات دے قربان شوے دے. او په حلالولو کښے چه په ظاهره څاروی ته کوم تکلیف
رسی. دا د طبعی مرګ د تکلیف نه ډیر کم دے. (څُمونږ د دے خبرونه د څارووحلالولو مسئله
صفا شوه. چه دا بے رحمی نهٔ ده. (لکه څنګه قومونه چه په مسلمانانو د بے رحمۍ الزام لګوی)
تردے پورے خو د همدردۍ حقیقت بیان شو. د کوم نه چه دا د همدردۍ دعویدار خبر هم نهٔ دی.
څوک چه خپل ظاهری شکل و شباهت بنائسته کولو کښے مشغول دی. او غریبانو ته د بے سرو
سامانۍ په وجه سپک ګوری. د ظاهری شکل صورت بیان ختم شو. اوس مال واخلئ.
په دے زمانه کښے اکثر خلق مال جمع کول د خپل ژوند اصلی مقصد ګڼړی. حالانکه دوئ
ته سوچ پکار دے. چه قارون سره څومره ډیر مال وو. او د الله د محبوب حضرت محمد مصطفیٰ
صلی الله علیه وسلم سره هیڅ نهٔ وو. که مال واقعی څهٔ د عزت شے وے. او د الله خوښ وے. نو

خبره به اَپوته وه (یعنی حضور سره به مال ډیر وو - او قارون به خالی وو) لیکن اوس خلق مال دَعزت او کمال شے گڼړی. او دین هم ورپسے بربا دوی۔

یو دَ اسلام دعویدار به سود اخستو۔ چا ورته اووے. ته خوځانته عالم هُم وائے. بیا سُود څنګه اخلے چه قطعی حرام دے. هغهٔ ورته اووے. غلے کینه. دا وخت دَ حلالو او حرامونهٔ دے. اوس مسلمانانو ته دَ مال ډیر ضرورت دے. هر څنګه چه په لاس ورځی. خو مال را غونډول پکار دی۔

زهٔ دغه صاحب او دَ دهٔ مرګرو ټولو ته دا وایم. تاسو چه دا دعوه کوئ. چه په هره طریقه مال جمع کول ضروری دی. نو پکار ده چه غلا او ډاکے هم شروع کړئ. څنګه چه دَ شریعت حکم ما تو ئ. دَحکومت قانون هم مات کړئ. بیا دَ ځان تماشه اوکړئ. دا خو به دَ تهذیب یو دعویدار هم اونهٔ منی. نو خپله دَ دوئ دَ قول نه ثابته شوه. چه دا دعوه کلیه نهٔ ده. (یعنی دَ مال جمع کولو څه طریقے تر ے نه دَ جیلخانے دَ ویرے مستثنیٰ دی.) نو افسوس دے چه دَ مجازی حاکم قانون خو دَ جیل دَ ویرے نشئ ما تو لے. او دَ احکم الحاکمین قانون ما تول درته آسان ښکاری؟

څه خلق دا بهانه کوی. چه مونږ خو مال دَ دین دَ ترقئ دَ پاره جمع کوو. که مال را سره نهٔ وی. نو دَ دین ډیر کارونه را نه پاتے کیږی. لیکن دا خبره به ئے مونږ هلهٔ منلے وے. که مونږ لیدے چه دَ دنیا دَ ترقئ سره سره دَ دین په ترقئ کښے هم کوشش کوی. لیکن مونږ خو دا صفا وینو. چه څومره ئے مال زیاتیږی. دومره ئے دینداری کمیږی۔

سوچ اوکړئ. دا مال مو هیڅ پکار نهٔ راځی. په آخرت کښے نهٔ پکاریدل خو څرګند دی. په دُنیا کښے مو هم نهٔ پکاریږی. مونږ وینو چه دَ دُنیادارو ټول عُمر په افسوس او په ارمان کښے تیر شی. کوم دُنیا پرست چه مری. نو تپوس ترے اوکړئ. چه دَ مال جمع کولو متعلق اوس هم ستا هغه خیال دے. که بدل شوے دے. زهٔ قسمیه وایم. چه ضرور به ئے خیال بدل شوے وی. ځکه چه اوس چه دے کوم بازار ته روان دے. هلته دا پیسه نهٔ لګی



Scanned with CamScanner

اوکوم پیسه چه هلته لری هغه دَ سره نشته. ځکه چه هغه کارونه خودهٔ ته
بے فائدے ښکاریدو. هلته خو هغه پیسه چلیږی. کوم چه اوس تاسو ته کوټه ښکاری
په حقیقت کښے اصل کره هم هغه ده. تاسو ته چه کومے کره ښکاریږی. په حقیقت کښے دا
کوټه دی. لیکن داکره کوټه به هلهٔ معلومیږی چه هغے دُنیا ته ورشئ. ؎

فَسَوْفَ تَرٰی اِذَا انْکَشَفَ الْغُبَارُ     اَفَرَسٌ تَحْتَ رِجْلِکَ اَمْ حِمَارٌ

(چه گرد لرے شی او نظر اولگی. نو خبر به شے چه ته په اس سورئے که په خر)
یعنی دَ مرگ نه پس به دِرته کره کوټه اوښئے بد معلوم شی. اوس خو دَ خوب غوندے
قصه ده. چه سترگے دِ اوغړیږی (یعنی دَدے دُنیا ژوند ختم شی. اودَ آخرت ژوند
شروع شی) نو پته به درته اولگی. چه مونږ خو سخت خساره کښے یو.

وائی چه یو سړی به همیشه په بستره کښے متیازے کولے. ښځے به ورته وے
چه کم بخته په تا څهٔ چل شوے دے. چه په لوئی ځان هره شپه بستره کښے متیازے کوے
هغهٔ به ورته وے. چه په خوب کښے مِ شیطان سیل ته بوځی. چه متیازے راشی. نو ښځ
مزیدار اوچت ځائے راته اوښئی چه دلته ئے اوکړه. زهٔ هلته اوکړم. خوچه سحر راپاځم. هغه
مِ په بستره کښے کړی وی. ښځے ورته اووے. شیطان خو دَ پیریانو بادشاه دے. ډیر
طاقت ئے دے. چه ستا داسے دوست دے. (چه هره شپه دِ سیل ته بوزی) نو مونږ ډیر
غریبان یو. ورته اووایه چه څهٔ مال درکړی. چه ورځ مو ښهٔ شی. هغه ورته اووے ډیره ښه
ده. بله شپه چه بیا ورته خوب کښے شیطان راغلو. نو دَ مال خبره ئے ورسره اوکړه.
هغهٔ ورته اووے. مالونه ډیر. څومره چه دِ خوښ وی. تا ما ته مخکښے ولے نهٔ وے. راځه
چه خپلے خزانے ته دِ بوزم غټ پنډ ترے را اوتړه. چه نیستی دِ غوځه شی. په سیل ئے
روان کړو. یو ځائے ته ئے بوتلو. دَ روپو یو غټ پنډ ئے ورته په سَر کړو. پنډ ډیر
دروند وو. دومره زور ئے ورکړو. چه دَ متیازو سره ورته غُل هم لاړل. سحر چه
راپاڅیدو. نو روپئی خو نهٔ وے. البته بستره کښے متیازو سره غُل هم پراته وو.

په ظاهره خو دا قصه دَ خندا ده. لیکن دَدے نه یو نتیجه را اوځی. یعنی دَدے دُنیا

مثال بالکل دَخوب پہ شان دے. او دَ دنیا پرستو مثال دَ دغے خوب لیدونکی دے. دُنیا کندکی ده. خو مونږ ته ئے پته نهٔ لګی. چه دَ غفلت دَ خوب نه بیدار شو. مرګ نه پس موسترګے اوغړیږی. نو پته به اولګی چه مال نشته. او کندکی یعنی ګناه ئے موجوده ده. هغه وخت به ارمان کوو. چه مونږ خو سخت دهوکه شو. مونږ ته چه لعل جواهر ښکاریدل. هغه خوګټے وے. شیخ شیرازیؒ فرمائی ؎

حالِ دُنیا سر بسر پرسیدم از فرزانهٔ گفت یا خوابیست یا بادیست یا افسانهٔ

باز گفتم حالِ آنکس گو که دل در وے بست گفت یا غولیست یا دیویست یا دیوانهٔ

(دَ یو هوښیار نه مې دَ دنیا دحال تپوس اوکړو. ماته ئے اووے. یا خوب دے. یا هوا ده. یا قصئ ده. ما ورته اووے چاچه ورپورے زړهٔ اوتړلو دَ هغهٔ حال ما ته اووایه. ماته ئے اووے یا بلا ده. یا دیو دے. یا لیونے دے.)

حُسنہ خلق وائی. مُلیان نورو خلقوته دَ دُنیا ترک کولو ترغیب ورکوی. او خپله مال جمع کوی. مونږ به هلهٔ منلے چه دوئ خپله هم دُنیا ترک کړی وے. که چا څهٔ ورکولے چه هغه ئے هُم نهٔ اخستے. جواب ئے دادے. چه مونږ هغه مال ته بد وایو. کوم چه دَ دین نه غفلت راولی. او دَ هغے دُنیا داروبد وایو. چاچه مال جمع کول دَ خپل ژوند مقصد ګرځولے دے. یعنی څوک چه دَ دُنیا پسے شوی دی. چه دَ جائز ناجائز او حرام وحلال خیال نهٔ ساتی. خو مال را جمع کوی. ؎

مباد دلِ آن فرو مایه شاد که از بهرِ دُنیا دهد دین بباد

(هغه کم بخت دِ هیچرے خوشحال نشی. څوک چه دُنیا دَ پاره دین برباد وی.)

په قدر دَ حاجت مال یا لوازمات خو چرغفلت نهٔ راولی. بد نهٔ دے. بلکه په قدر دَ حاجت مال پیدا کول. خو فرض دی.

حضرت مُلا جامیؒ دَ پیر په تلاش کښے ګرځیدو. خواجه عبید الله احرارؒ ته اورسیدو. هلته دیر شان شوکت وو. دَ دنیا هر نعمت موجود وو. زړهٔ کښے بنیپما نه شو. چه دا خو په دُنیا داروا ورپیدم. په جوش کښے ئے دا مصرعه اووے. ؎

نه مرد است آنکه دُنیا دوست دارد

(چه دُنیا ئے خوښه وی هغه سړے کامل نۀ دے) په ډیر افسوس خفه زړهٔ جماعت ته لاړو ستړے ستومان وو. خوب ورغے. خوب وینی چه دَ حشر میدان دے. دَ قیامت ورځ ده. دَ الله په دربار کښے خلق حاضر دی. حساب کیږی. دے هم یو قرضداری دَ مرئی نه نیولے دے. سخت پریشان دے چه ځان تری څنګه خلاص کړم. په دے کښے څۀ ګوری چه یو طرف نه خواجه عبیدالله احرارؒ دَیوے درنے ډلے سره په شان شوکت کښے راروان دی. فرمائی چه دا درویش مو ولے پریشان کړے دے. ما چه دلته کومه خزانه جمع کړی ده. دے قرضدارئ ته خپل حق دَ هغے نه ورکړئ. او درویش پریږدئ. جامی صاحبؒ چه دَ قرضداری نه خلاص شو. نو دَ خوبه راویښ شو. سترګے ئے اُوغړیدے څۀ ګوری چه خواجه عُبید الله احرارؒ هم په هغه شان شوکت کښے جماعت ته راروان دی. جامی صاحبؒ زر راپاځیدو په ښپوئے پریوتو. چه ما نه ګستاخی شوی ده. معاف مِ کړئ. او بیعت مِ کړئ. هغهٔ ورته اُووے. نو هغه مصرعه نیمګړی ده پوره کول غواړی. تۀ ئے بیا اُووایه. جامی صاحبؒ ورته اُووے صاحبه بیوقوفی رانه شوی ده. بس دے ختم شوه. اوس مِ معاف کړئ. خواجه صاحب ورته اُووے. زۀ ئے اوریدل غواړم. چه پوره ئے کړو. جامی صاحبؒ ورته مصرعه واوروله چه.

نه مرد است آنکه دُنیا دوست دارد ؛ خواجه ورته اُووے مصرعه دِ صحی ده. خو نیمګړی ده بله داو دَ سره کړه. چه پوره شی. اګر دارد برائے دوست دارد (یعنی هغه سړے کامل نۀ دے چه دُنیا ئے خوښه وی. خو که ورسره وی نو چه دَ محبوبِ حقیقی دَ پاره وی) یعنی چه دا مال دَ الله دَ رضا دَ پاره دَ شریعت مطابق خرچ کوی. په دینی کارونو کښے ئے لګوی. دَ غریبانو امداد کوی. وغیره سبحان الله داسے مال دُنیا نۀ ده بلکه دین دے. دَ مال مثال دَ اوبو دے او زړهٔ کشتئ ده. او بۀ چه دَ کشتئ دَ لاندے وی نو کشتئ دریاب څه سپکه ګرځی. او که دَ کشتئ دننه راشی. نو کشتئ ډوبه کړی. دَ غه شان که لاس کښے مال وی. خو چه زړهٔ کښے مال سره محبت نۀ وی. نو داسے مال دینی کارونو کښے لګی. او دَ آخرت توښه کیږی. او که په زړهٔ کښے دَ مال محبت ننوتو. نو دَ دین تباهی ده

شعر

آب در کشتی هلاکِ کشتی است ؛ آب اندر زیر کشتی پُشتی است ؛

مال را اګر بهر این باشی حَمُولُ ؛ نِعْمَ مَالُُ صَالِحُُ ګفته رسولؐ ؛

(او بهٔ که کشتئ کښے راننوځی نو کشتئ ډوبوی. او که دَ کشتئ دَ لاندے وی نو امداد ورکوی.)

(مال کہ څوک دینی کارونو کښې لګوی نو دَ هغهٔ په حق کښې دَ رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم ارشاد دے۔ دَ نیک سړی دَ پاره پاک مال ښهٔ شے دے۔ نِعْمَ مَالٌ صَالِحٌ لِرَجُلٍ صَالِحٍ حدیث شریف دَے)

نو په قدر دَ حاجت مال خو ډیر ضروری دے کہ نهٔ وی بنده پریشان شی۔ او دا سے حال ئے شی۔

شب چو عقدِ نماز بر بندم ۔۔ چه خورد بامداد فرزندم

(دَ شپې چه زهٔ دَ مانځهٔ نیت تړلو۔ نو زړهٔ کښې مې دا خیالات ګرځیدل چه صبا به مې بچی څهٔ خوری)

نو یو فارسی وان دَ دے معنیٰ داسے کړی ده چه بجائے تکبیر تحریمه ے ګویم چه خورد بامداد فرزندم

(یعنی دَ پریشانئ په وجه مې دا حالت دے۔ چه هر وخت راسره دا غم وی۔ چه صبا به مې بچی څهٔ خوری)

نو چه دَ شپې مې مانځهٔ ته نیت تړلو۔ بے خیالئ کښې مې دَ تکبیر تحریمه په ځائے دا او وے چه صبا به مې بچی څهٔ خوری) واقعی دا معنیٰ لطیفه ده۔ او مبالغه پکښې زیاته ده۔

نو په قدر دَ حاجت په جائز و طریقو مال پیدا کول منع نهٔ دی۔ بلکه ضروری دی۔ خبرے خو په هغه مال کښې دی۔ چه دَ ضرورت نه زیات وی۔ دَ اللہ نه غفلت راولی۔ او دَ اللہ غریبان بندیان ئے ترنظره سپک راشی۔

دے پسے دَ حدیث شریف ټکړه ده۔ وَلٰكِنْ يَّنْظُرُ اِلٰى اَعْمَالِكُمْ وَنِيَّاتِكُمْ۔

(یعنی اللہ تعالیٰ ستاسو شکلونو او مالونو ته نهٔ ګوری۔ هغه خو ستاسو عملونو او نیتونو ته ګوری) نو بکار ده۔ چه مونږ خپل عملونه سم کړو۔ او نیتونه صفا کړو۔

الحمد للہ دَ حدیث شریف دَ دوؤ اجزاؤ شکلونو او مالونو بیان په قدر دَ ضرورت اوشو۔ انشاء اللہ باقی دواړه اجزاء۔ عملونه او نیتونه به بیا څهٔ وخت اوشی۔

اوس دُعا اوکړئ۔ چه اللہ تعالیٰ مونږ ټولو ته دَ نیک عمل توفیق راکړی۔ او دَ دُنیا مینه ځمونږ دَ زړونو نه اوباسی۔

وصلی اللہ تعالیٰ علیٰ خیرِ خلقه محمدٍ وآله واصحابه اجمعین ۰

برحمتک یاارحم الراحمین ۰

دعواتِ عبدیت اول جلد
آتم وعظ

# الاخلاص

دویمه برخه

21-7-2016
6

له ارشاداتو دَ حکیم الاُمّت
حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله علیه

پښتو ترجُمه
له سیّد تسنیم الحق کاکاخیل

ناشران:- یونیورسټی بُک ایجنسی
خیبر بازار پشاور
شهر

# خلاصه

یو حدیث شریف دے. اِنَّ اللّٰهَ لَا یَنْظُرُ اِلٰی صُوَرِکُمْ وَاَمْوَالِکُمْ وَلٰکِنْ یَّنْظُرُ اِلٰی اَعْمَالِکُمْ وَنِیَّاتِکُمْ۔ (بیشک اللّٰه تعالیٰ ستاسو شکلونو او مالونو ته نۀ گوری. لیکن ستاسو عملونو او نیتونو ته گوری) دے حدیث شریف کښے څلور څیزونه بیان شوی دی. شکلونه ۱ - او مالونه ۲ - عملونه ۳ او نیتونه ۴. دَ دې نه دوو څیزونو بیان دے نه مخکښے وعظ کښے شوے دے. په دې وعظ کښے دَ ورستو دوو څیزونو. عمل او نیت بیان دے. خلاصه ئے داده. چه موجوده زمانه کښے دا مرض عام دے. چه مونږ دُنیا ته زور ورکړے دے. دَ ظاهري ډول ډال او ساز و سامان ښائسته کولو او مال ډیرولو کوشش کښے لگیا یو. دَ کوم نه چه حضورؐ په صُورت او مال سره تعبیر کړے دے او اصل څیز کوم چه آخرت کښے دَ کامیابئ ذریعه ده. یعنی دین. دَ کوم نه چه حضورؐ په عمل او نیت سره تعبیر کړے دے. هغه مو بالکل هیر کړے دے. عام دُنیا دار خو په دې مرض کښے څرگند گیر دی. لیکن څوک چه ځانته دیندار وائی. هغوئ کښے هم دا مرض شته. دَ مالدار دُنیا دار چه څومره قدر کوی. دَ غریب دیندار هغه هومره قدر نۀ کوی. مثلاً که ملاقات ته ورسره یو دُنیا دار مالدار راشی چه نۀ ئے علم وی نۀ عمل. لیکن په حسب نسب اوچت وی. او مال ورسره ډیر وی. او یو غریب دیندار راشی. چه اعلیٰ درجه صالح متقی او پرهیزگار وی۔ لیکن ظاهري حالت ئے دَ غریبئ په وجه ښۀ نۀ وی. حسب نسب ئے هم اوچت نۀ وی. او ظاهري علم کښے هم مشهور نۀ وی. نو زۀ قسمیه وایم چه دَ دیندارئ دعویدار چه دَ دې مالدار څومره قدر عزت کوی. دَ دې غریب به هغسے هرگز او نۀ کړی. په حدیث شریف کښے عمل سره نیت هم ذکر شوے دے. حالانکه عمل سره خپله نیت راتلو. ځکه چه عمل اختیاری کار ته وئیلے شی او اختیاری کار بے نیته او بے ارادے نۀ کیږی. لیکن نیت جُدا بیان شو. چه دا خبره ښه واضحه شی چه دَ نیت دَ صفائئ نه بغیر اعمال بے کاره دی. په عمل کښے دَ اخلاص ضرورت دے. یعنی نیک عمل خالص دَ الله دَ رضا دَ پاره کولو نیت ډیر ضروری دے. دې وعظ کښے دَ اخلاص حقیقت او دَ ریا حقیقت او دَ اخلاص اقسام تفصیل سره بیان شوی دی - دا وعظ حضرت تهانویؒ دَ تهانه بهونؒ په جامع مسجد کښے یعنی خپله خانقاه کښے دیره زیرِ تربیت عالمانو سالکانو ته په ۲۵ رجمادی الثانی سنه ۱۳۲۹ھ کښے کړے دے. او مولوی عبد الله گنگوهی قلمبند کړے دے - (ت)



Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ نَحْمَدُہٗ وَنَسْتَعِیْنُہٗ وَنَسْتَغْفِرُہٗ وَنُؤْمِنُ بِہٖ وَنَتَوَکَّلُ عَلَیْہِ وَنَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَیِّاٰتِ اَعْمَالِنَا مَنْ یَّھْدِہِ اللّٰہُ فَلَا مُضِلَّ لَہٗ وَمَنْ یُّضْلِلْہُ فَلَا ھَادِیَ لَہٗ ۔ وَنَشْھَدُ اَنْ لَّآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ وَحْدَہٗ لَا شَرِیْکَ لَہٗ. وَنَشْھَدُ اَنَّ سَیِّدَنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُہٗ وَرَسُوْلُہٗ ـ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَعَلٰی اٰلِہٖ وَاَصْحَابِہٖ وَبَارَکَ وَسَلَّمَ ۔

اما بعد - فقد قال النبی صلی اللہ علیہ وسلم - اِنَّ اللّٰہَ لَا یَنْظُرُ اِلٰی صُوَرِکُمْ وَاَمْوَالِکُمْ وَلٰکِنْ یَّنْظُرُ اِلٰی اَعْمَالِکُمْ وَنِیَّاتِکُمْ - (اللہ تعالیٰ ستاسو شکلونو اومالونو ته نهٔ ګوری. لیکن ستاسو عملونو او نیتونو ته ګوری.)

دَ دے حدیث شریف دَ ورنبو دوو جزونو بیان په تیره جُمعه په تفصیل سره تیر شوے دے. دَ وعدے مُطابق دَ ورستو دوو جزونو بیان به نن کیږی. دَ وعظ دپاره دَ دے حدیث شریف غوره کولو سبب ہم په مخکښے بیان کښے واضح کړے دے. چه هره زمانه کښے خلق په مختلفو روحانی مرضونو کښے ګیر دی. په دے زمانه کښے دا مرض عام دے. چه مونږ ټولو زور دُنیا ته ورکړیدے (دَ ظاهری دَ ول دال ښائسته کولو او مال جمع کولو کوشش کښے لګیا یو) دَ کوم نه چه حضورﷺ په دے حدیث مبارک کښے په صُورت او مال سره تعبیر کړے دے. او کوم اصل څیز چه آخرت کښے دَ کامیابئ ذریعه ده. یعنی دین. دَ کوم نه چه تعبیر په عمل او نیت سره شوے دے. هغے ته هډو خیال نهٔ کوو. عام دُنیا دارخو په دے مرض کښے څرګند ګیر دی. لیکن څوک چه ځانته دیندار وائی په هغو کښے هم دا مرض شته دے. دَ مالدارو چه څومره قدر، عزت کوی. دَ یو غریب دیندار هغه هومره قدر نهٔ کوی. مثلاً که ورسره ملاقات ته یو مالدار دُنیا دار راشی. او یو غریب دیندار. چه ظاهری وجاهت ئے هیڅ نه وی. نه ئے دَ پیرئ او بزرګئ شهرت وی. او نهٔ درسی عالم وی. بلکه په قدر دَ ضرورت عِلم ئے بے کتاب لوستو دَ عالمانو په صحبت کښے حاصل کړے وی. لکه اکثر اصحابِ کرام رضی اللہ عنهم چه وو. په دے باره کښے حضورﷺ خپله فرمائیلی دی. نَحْنُ اُمَّۃٌ اُمِّیَّۃٌ لَا نَکْتُبُ وَلَا نَحْسِبُ. (مونږ نالوستی خلق یو. نهٔ لیک دا ځی. او نهٔ حساب) څکه چه لیکل او لوستل

مقصود بالذات نۀ دی ۔ او نۀ د حضورؐ په زمانه کښے دا خاص ضرورت کنړلے شو ۔ اصحابؓ ته الله تعالیٰ د ایمان نور ورکړے وو ۔ بے لوستو ئے د حضورؐ په صحبت کښے ضروری دینی علم حاصل کړے وو ۔ د خیر القرون نه پس نۀ هغه حافظے پاتے شوے ۔ نۀ هغه دینداری پاتے شوه ۔ نو د علومو مرتب کولو ۔ او په خاص طریقه درس او تدریس د علومو د حفاظت دپاره ضروری شو ۔ چه په غلطو دعوو دین خراب نشی ۔

غرض داچه فرض کړئ دا غریب دیندار مشهور درسی عالم هم نۀ دے ۔ چه د علم په وجه ئے څۀ وقعت وی ۔ ظاهری حالت ئے هم خراب دے ۔ جامے ئے شلید لی او کم قیمته دی ۔ حسب نسب ئے هم اوچت نۀ دے ۔ بلکه د هغے قوم نۀ دے چه خلق ئے کم درجه گنړی ۔ لیکن اعلیٰ درجه صالح او متقی دے ۔ دینداری کښے ډیر اوچت دے ۔ خو ظاهری حالت ئے خراب دے ۔ هیڅ شان شوکت ئے نشته ۔ او بل سړے مالدار دے ۔ ظاهری شان شوکت ئے اوچت دے ۔ نسب ئے هم اوچت دے ۔ خو دینی حالت ئے خراب دے ۔ نۀ ئے زهد و تقویٰ شته ۔ نۀ علم و عمل ۔ نو که دا دواړه کسان بله پسے د دینداری دے دعویدار سره ملاقات تۀ راشی ۔ نو زۀ قسمیه وایم ۔ بل څوک نه خپل ځان یادوم چه کوم قدر عزت چه د دے دنیادار کیږی ۔ هغۀ به د دے غریب دیندار هرگز نۀ کیږی ۔

حقه داده ۔ چه ځمونږ نفسونه دنیا ته زیات مایل دی ۔ ظاهری شان شوکت ته گورو ۔ هغه د مال په ذریعه حاصل شوے وی ۔ که د دین په ذریعه ۔ په بزرگانو کښے به هم د هغے بزرگ عزت کوو ۔ چه لښ انته کسانا ورسره وی ۔ د دا سے سړی په عزت کولو چا ته شرم نۀ ورځی ۔ دا هم د نفس یو پټ مکر دے ۔ په ظاهره خو دا عزت د نیکئ په وجه کیږی ۔ لیکن د نفس پټه شرارت پکښے داده ۔ چه د دا سے سړی خدمت او تعظیم دے دپاره کوی چه خلقو په نظر کښے ښۀ راشی ۔ نو دا سے عزت اصل کښے د خپل نفس دپاره کیږی ۔ چه نفس په خوشحالیږی ۔ څۀ انکساری پکښے نۀ راځی ۔

که زمونږ په اُستاذانو کښے یو اُستاذ ډیر مشهور وی ۔ او بل دومره مشهور نۀ وی نو مونږ به خپل نسبت هغے مشهور عالِم ته کوو ۔ (چه زۀ د فلانی شاگرد یم) او د هغے غیر مشهور

اُستاذ په نوم اخستو به شرمیږو. ځکه بزرګانو لیکلی دی. چه رِیا دَ ټولو اخلاقی بیماریو نه په آخر کښې دَ زړهٔ نه اُوځي.

البتهٔ دَ دُنیادارو دا عزت دَ دنیا دَ پاره نۀ وی. بلکه ځان دَ هغهٔ دَ شرُنه بچ کولو دَ پاره وی. یا دَ هغهٔ دین تۀ راوړلو په نیت وی. او په زړهٔ کښې دَ غریب سپکاوے نۀ وی. نو بیا خیر دے څهٔ نقصان ئې نشته. لیکن حقیقت دا دے. چه څومره دینداری بس دَ ظاهری شکل وصورت دینداری ده. حقیقی دینداری ډیره کمه ده. خپله الله تعالیٰ فرمائی. وَقَلِيلٌ مِّنْ عِبَادِيَ الشَّكُورُ (او ځما په بندیانو کښې شکرګذار ډیر کم دی) اکثر خلق په رَسم پرستئ اِسم پرستئ او ظاهر پرستئ کښې مُبتلا دی. او دا ټوله دُنیاداری ده. او دَ دُنیا متعلق حضُور فرمائی. لَوْ كَانَتِ الدُّنْيَا تَزِنُ عِنْدَ اللّٰهِ جَنَاحَ بَعُوْضَةٍ مَا سَقٰى مِنْهَا كَافِرًا شَرْبَةً. (که دَ دنیا قدر الله سره دَ ماشی دَ وزر هومره وے. نو کافر تۀ به ئې یو ګوټ اوبهٔ هم نۀ وے ورکړی.)

حاصل دا چه قدر عزّت که دَ حسب نسب په وجه. که دَ مال دولت په وجه. او که دَ علم په وجه وی. (خو دَ علم په حیثیت نه. بلکه دَ علم په وجه دَ دنیاوی وقار او شان په حیثیت) دا ټول دُنیاداری ده. او دَ دے نه په حدیث شریف کښې په صُورت او مال سره تعبیر شوے دے.

نو شکل وصورت تۀ کتل نۀ دی پکار. بلکه صرف دینداری تۀ کتل پکار دی. دَ کوم نه چه په عمل او نیت سره تعبیر شوے دے. یعنی که دَ چا قدر عزت کوئ. نو صِرف دَ دین په وجه ئې قدر پکار دے. دلته حضُور دَ دین په ځائے دوه لفظه راوړی دی. عمل او نیت. دَ دے نه دا معلومه شوه. چه دَ دین مدار په عمل دے. په بل هیڅ شی نۀ دے.

لکه نن صبا چه خلق په دے فخر کوی چه مونږ دَ فلانی پیر مُریدان یو. مونږ دَ فلانی بزرګ اولاد یو. مونږ تۀ دَ ډیر عمل ضرورت نشته. دَ دے مشرانو په برکت به مونږ خدائے پاک معاف کړی. هم دَ دے خیال دَ تردید دَ پاره الله تعالیٰ فرمائی. تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُم مَّا كَسَبْتُمْ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿ (دا خلق وو چه تیر شو دَ هغوئ دَ پاره دَ هغوئ عملونه دی. او تاسو دَ پاره ستاسو عملونه دی. او تاسو نه به دَ هغوئ دَ عملونو تپوس نۀ کیږی.) البته بزرګانو سره نسبت کښې برکت شته. خو په دے

شرط چه دَ خپل عمل ذخیره هم ورسره وی ۔ که خپل اعمال ئې بنه نهٔ وی ۔ یائې په عقیده کښې خرابی وی ۔ نو تش تعلق ئې هیڅ نهٔ پکاریږی ۔

دَ برکت مثال دَ چټنئ او مُربې دے ۔ او دَ اعمالو مثال دَ غذا دے ۔ کوم چه بدن ته طاقت ورکوی ۔ مُربه او چټنی خوراک هضمولو کښې امداد کوی ۔ که روټئ ورسره نهٔ وی میلمهٔ ته په دسترخوان تش مُربه او چټنی کیدے نو کار په نهٔ کیږی ۔

دغه شان مثال بزرګانو او پیغمبرانو ته دَ نسبت هُم دے ۔ چه دَ دے په وجه اعمالو کښې برکت راځی ۔ (یعنی په لږ محنت اوچت مقام حاصلولے شی) لیکن تش نسبت یا ندے خلاصے نشته ۔ رسول الله صلے الله علیه وسلم خپلے نیاز بینے لور حضرت فاطمه بی بی ته فرمائی

یَا فَاطِمَةُ اَنْقِذِیْ نَفْسَکِ مِنَ النَّارِ فَاِنِّیْ لَا اُغْنِیْ عَنْکِ مِنَ اللّٰهِ شَیْئًا ط ۔

(اے فاطمه خپل ځان (په نیک عمل) دَ اور نه خلاص کړه ۔ دَ الله په مقابله کښې زهٔ ستا هیڅ امداد نشم کولے) یعنی که دَ نیک عمل ذخیره ورسره نهٔ وی ۔ نو زهٔ دِ دَ اور نه نشم بچ کولے ۔ داور کښې نشته چه دَ نیک عمل سره دَ مرتبے دَ ترقئ سبب هُم نهٔ ګرځی ۔ ځکه چه دَ نیک عمل سره دَ بزرګانو نسبت دَ ترقئ باعث کیدل منصوص دی ۔ الله تعالیٰ فرمائی

وَالَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَاتَّبَعَتْهُمْ ذُرِّیَّتُهُمْ بِاِیْمَانٍ اَلْحَقْنَا بِهِمْ ذُرِّیَّتَهُمْ وَمَا اَلَتْنٰهُمْ مِّنْ عَمَلِهِمْ مِّنْ شَیْءٍ ط (او چا چه ایمان راوړو ۔ او دَ دوئ اولاد هُم ایمان سره دَ دوئ اتباع اوکړه ۔ مونږ به دا اولاد دوئ سره یوځائے کړو ۔ او دَ دوئ دعمل نه به څهٔ شے نهٔ کموو) مطلب دا چه که دَ اولاد نیک اعمال ئې دَ دومره او چتے درجے نهٔ وی څومره چه ئې دَ مشرانو وو ۔ لیکن وی ایماندار ۔ (عقیده ئې خرابه نهٔ وی ۔ او دَ عمل څهٔ قدرے ذخیره هم ورسره وی) نو مونږ به ئې دَ مشرانو سره یوځائے کړو ۔ او دَ هغوئ په درجو کښې به څهٔ کمے نهٔ راولو ۔ (دَ یوځائے کولو دوه طریقے کیدے شوے ۔ یو دا چه مشران ئې ورته راکوز کړے وے ۔ او بل دا چه کشران ئې ورخیژولے وے ۔ نو الله تعالیٰ فرمائی ۔ چه هغوئ به ورته نهٔ راکوزوم ۔ یعنی دوئ ته به خپل فضل دَ لږ عمل ډیر اجر ورکړم ۔ او دَ هغوئ اُوچت مقام ته به ئې اُوخیژوم ۔ مترجم) نو دَ الحاق نه څوک انکار نشی کیدے (چه منصوص دے)



Scanned with CamScanner

لیکن په دے څه دلیل نشته چه بے عمله تش نسبت به الحاق دَ پاره کافی شی. بلکه خپله
آیت کښے ورسره دَ ایمان شرط لګیدلے دے. او په ورستئ جمله مَا اَلَتْنٰهُمْ الخ. باندے غور
کولو نه معلومیږی. چه ضروری عمل هم شرط دے. او مونږ به ئے دَ مشرانو دَ عمل نه
څه نه کموونه صفا معلومیږی. چه دَ درجو اصل مدار په عمل دے. او ظاهره ده
چه بُنیادی شے ضرور پکار وی. هسے درجو کښے زیاتے په لږ عمل هم راتلے شی.
نو خپله دَ آیت نه معلومه شوه. چه دَ مشرانو سره به هغه یو ځائے کیږی. چه ایمان
ورسره وی. یعنی عقیده ئے صحیح وی. او دَ نیک عمل ضروری بنیادی ذخیره ورسره وی.
نن صبا پیرانو دَ خپل شهرت دَ پاره موریدانو ته زړه کښے داکینولی ده. چه تاسو
نه دَ ډیر عمل ضرورت نشته. ځمونږ اعمال تاسو دَ پاره کافی دی.
افسوس دے چه طریقه (پیری موریدی) خو دَ نفس دَ اصلاح دَ پاره او په نیک عمل
کښے دَ ډیر کوشش دَ پاره وه. چه شاید خپله دَ عمل پوره توفیق اونشی. دَ پیر دَ وینا
دَ اثر په برکت زیات عمل اوکړے شی. او دَ نفس تزکیه اوشی. لیکن اوس خلقو
طریقه دَ بے کارئ ذریعه اوګرزوله.
دغه شان دَ یو مکار پیر قصه مشهوره ده. چه یو کلی ته لاړو. ډیر کمزورے
وو. مورید ترے تپوس اوکړو. چه دومره کمزورے ولے شوے. هغه ورته اووے کمبختو
ما خو ځان تاسو دَ پاره تباه کړو. او تاسو هډو خبر نه ئی. تاسو مونځونه نه کوئ. زه
تاسو دَ پاره مونځونه کوم. تاسو روژے نه نیسئ. زه ستاسو برخه روژے نیسم.
دَ دے ټولو دَ پاره دا چه په پُل صراط به هم تاسو دَ پاره تیریږم. چه دَ ویښته
نه نرے او توره نه تیره دے.
مورید ئے ډیر خوشال شو. زړه کښے ئے اووے چه پیر صاحب مونږ دَ پاره
دومره محنت کوی خو کار اوشو. (بے خوارئ به جنت ته لاړ شم) په دے خوشالئ کښے ئے پیر
صاحب ته اووے. چه هغه دَ شولو پټے رم در اُوبخلو. پیر صاحب سوچ اوکړو چه سمدستی
په قبضه پکار ده. هسے نه چه بیا ستوما نه شی. مورید ته ئے اووے. راځئ چه هغه پټے اوګورو

مورید خو په اخلاص ورکړے وو. ورسره روان شو. دواړه تلو په لار کښے یو نرۍ پوله راغله دواړه طرف ته ورته دَ شولوپټی دَ اوبو ډک وو. پوله نرۍ هم وه. او نمناکه سنوېدانږې هم وه. او پیر صاحب کمزورے وو. بنیه ئے اوښویده. ختو کښے راپریوتو. ورپاخه موریډ یوځو لتے ورکړے. چه تهٔ په دے دومره غټه پوله نشی تلے. نو په پُل صراط به څنګه تیرېشے پوئے شوم. چه دروغژن ئے. بس دے پټے نهٔ درکوم.

نو نن صبا پیرانو موریدان بے غمه کړی دی. چه تاسو ته دَ ډیر کړاؤ ضرورت نشته. ستاسو چه څهٔ خوښه وی هغه کوئ. مونږ تاسو دَ پاره کوشش کوو.

په دے حدیث شریف کښے دَدے باطل خیال تردید شوے دے. چه دَ دین په ځائے دَعمل لفظ راوړے شویدے. اګرچه دَعمل سره هم نیت راتلو. لیکن نیت جُدا بیان شو. دے دَپاره چه دا خبره ښهٔ واضحه شی. چه اعمال دَ نیت دَ صفائی نه بغیر بے کاره دی.

او په دے دوو ټکو دَ دوو ډلو اصلاح اوشوه. دَعمل په ټکی خو دَ ډیرو عوامو. ځکه چه عوام اکثر دَ دنیا لانجو کښے بوخت وی. عمل ته ئے ډیر کم خیال وی. لیکن دَ بد نیتیٔ او رِیا وغیره نه پاک وی. څوک ئے زبرګان نهٔ ګنړی. نو دَ ریا خیال ئے زړهٔ کښے نهٔ راځی. (څهٔ لږ ډیر عمل چه کوی خالص دَ الله دَ رضا دَپاره ئے کوی) (یعنی عمل که ئے کم وی. خو اخلاص پکښے ډیر وی) او دَ نیت په ټکی دَ اکثرو خواصو اصلاح اوشوه. چه ځان دیندار ګنړی او په ظاهره دَ اسلامی شعائرو پابندی کوی. لیکن دَ اخلاص نه خالی وی. نو دینداری ئے هسے په ظاهره دینداری ده خو دَ دین روح پکښے نشته. په داسے کسانو کښے دَ ریا مرض ډیر زیات وی. نو دَ نیت په ټکی ئے اخلاص طرف ته متوجه کړل. مطلب دا چه کوم شرعی کارونه (مونځ. روژه. زکوٰة. حج.) چه تاسو کوئ اګرچه نفس دا اعمال هم دَ فائدے نه خالی نهٔ دی. او په نسبت دَ هغه سړی چه هیڅ نهٔ کوی. ډیر ښهٔ دی لیکن اصل مقصود چه دَ الله رضا ده. هغه حاصلیدے شی چه دَعمل سره اخلاص هم وی.

دَدے مثال داسے دے. لکه دوه کسان دَ بادشاه ملاقات ته روان وی. یو کس ځان سره تُحفه یوسی. لیکن دَ بادشاه دَ شان مناسب قیمتی او بهتره نهٔ وی. او بل تش لاس لاړ شی. نو چا چه تحفه وړی وی. هغهٔ نه دومره ګله خوبه نهٔ وی. څومره چه دَ دے بل نه کیږی چه تش لاس

لاړ دے. خودومره به ورته ضرور ویلے شی چه تحفه دِ څما دَ شان مناسب نۀ ده. نو دَ هغے بل نه خو بنۀ شو. لیکن اصل مقصد چه دَ باد شاه خوشالی وه. حاصل نۀ شو تُحفه ئے بے کاره لاړه.

دغه شان عبادت نه هم اصل مقصد دَ الله رضا ده. اوکوم عبادت سره چه څۀ فاسد غرض مرکرے وی. او نیت کښے اخلاص نۀ وی. په هغے هم دَ الله رضا نۀ حاصلیږی. نو بے کاره لاړو.

اکثر عالمان اوعابدان زاهدان که دَ خپل حالت په غور سره جائزه واخلی. نو دَ خپلو اعمالو سره به ضرور څۀ نفسانی غرض ګډ اووینی. لکه نفل مونځ. تلاوت. ذکر. تهجد. اونور داسے اعمال کوم چه دَ پټ کولو قابل وی. څمونږ زړۀ داغواړی. چه خلق په خبر شوے. اوڅمونږ زهد اوعبادت مشهور شوے. مثلاً که څوک دَ شپے تهجدو ته په داسے وخت کښے پاڅی. چه هیڅوک ئے اونۀ وینی. تهجد اوکړی اوغلے اُوډۀ شی نو په دے حالت کښے او په هغه حالت کښے چه څوک ئے په تهجدو اووینی ډیر فرق وی. په اظهار ئے زړۀ خوشالیږی. اوکه چالیدلے نۀ وی نو زړۀ ئے داغواړی چه په څۀ طریقه ترے خلق خبر شوے. چه داسړے تهجد ګذار اوسحرخیزدے. اودے ته ئے غوږ ایخے وی چه څمادَ عبادت خبرے څوک کوی که نه. که څوک ئے ذکرنۀ کوی. نو خفه شی. چه خواری م بے ځایه لاړه. دغه حال څمونږ دَ نورو اعمالو هم دے.

په دے پوهه شئ چه په نیک عمل لیدو باندے زړۀ خوشالیدل درے قسمه دی. یو طبعی خوشالی ده. چه الحمدلله یو مسلمان په نیک کار اولیدم. داخو داسے ده لکه چه خوندناک خوراک طبیعت خوشالیږی. دا طبعی تقاضا ده. چه په بنۀ څیز زړۀ خوشالیږی. داغیر اختیاری شے دے. دَ بنده په وس کښے نۀ دے. اوملامته په هم نۀ دے.

څۀ مخلصان دلته خطا کیږی. چه په دے طبعی خوشالئ او ریا کښے فرق نشی کولے دَدے هم اصلاح کول غواړی. شپه ورځ په دے غم کښے وی. چه فلانی وخت کښے چه فلانی سړی په مانځۀ اولیدم. نوزړۀ خوشال شوم. داخو ئے نه ریا اوشوه. اوعبادت م بے کاره

لاړو۔ په دے نۀ پوهیږی چه دا ریا نۀ ده طبعی فعل دے۔ او غیر اختیاری دے۔ دَ اخلاص خلاف نۀ دے۔ دَ داسے غمونو انجام داوی۔ چه شیطان ئے په دے دهوکه کښے واچوی چه ستا عبادت کښے اخلاص نشته۔ نو بے فائدے دے۔ آخر نا اُمیده شی او کار پریدی۔ او که کار پرے نۀ دی نو په اخلاص کښے کوشش خو پریدی۔ او کله ورته دا نقصان اورسی۔ چه په خپل شیخ بدګمانه شی۔ چه کامل نۀ دے۔ که کامل وے نوزۀ به په اخلاص کښے کامیاب شوے وم۔ او کله ئے دا خیال راشی چه پیر راته پوره توجّه نۀ کوی دا هم کفرانِ نعمت دے۔ څوک چه په اخلاص ستا تربیت او اصلاح کوی۔ او شپه ورځ دَ ستا دَ بهترئ خیال ساتی۔ هغه که ستا دَ دے خیالاتو نه خبر شی۔ نو ضرور به ئے زړۀ خفه شی۔ او نتیجه به ئے داوی چه دا نعمت به درنه سلب شی۔ دا په اخلاص کښے غلو ده او دَ یو حاصل شوی نعمت بے قدری ده۔

یو سړے په هاتهی سور روان وو۔ یو فقیر تر ئے اووے۔ بابا دَ ترقئ دُعا راته اوکړه۔ هغۀ ورته اووے۔ په هاتهی خو سور ئے نور څۀ غواړے۔ آسمان ته ختړے څۀ۔ غرض دا چه الله تعالیٰ دَ اخلاص نعمت درکړے دے۔ دَ دے قدر پکار دے۔ او شکریه اداکول غواړی۔ ناشکری نۀ ده پکار۔

حاصل دا چه طبعی خوشالی ریا ګنړل غلطی ده۔ په دے بنۀ پوهه شئ۔ چه ریا اختیاری کار دے۔ او دَ ریا وسوسه غیر اختیاری ده۔ دا ریا نۀ ده۔ لکه دَ کفر وسوسه چه کفر نۀ دے۔ خپله اصحابو رضی ته به وسوسے راتلے۔ نو دَ ریا وسوسه ریا نۀ ده۔ دا هم دَ شیطان دُهوکه ده۔ په دے طریقه شیطان سالک بد دِله کوی او دَ کاره ئے اوباسی۔

نو دا قاعده کلیه یاده لرئ چه غیر اختیاری کار باندے ګرفت نشته۔ په دے قاعده یاد ساتلو به مو ډیر مشکلات حل شی۔ شیخ شیرازی رح فرمائی۔ ؎

درطریقت هرچه پیش سالک آید خیر اوست　　برصراطِ مستقیم اے دِل کسے ګمراه نیست

(په طریقت کښے چه سالِک ته څۀ پیښیږی دَ هغۀ فائده ده۔ په نیغه لار کښے هیڅوک نۀ خطا کیږی)

دَ پیش آید مطلب دا دے۔ چه کوم حالت چه بے اختیاره راشی۔ هغه بهتر دے۔ اختیاری



Scanned with CamScanner

کارخوپیش آورد وی۔ (یعنی راوستے شی۔ راځی نه) نو په دے گرفت هم کیږی۔ په غیر اختیاری گرفت نشته۔

(۲) دوئیم قسم خوشالی دا ده۔ چه بل خوک ئے په یو نیک کار اووینی۔ نو په دے خوشال شی۔ چه شاید ځما په لیدو به دے هم دا نیک کار شروع کړی۔ نو ځما به هم پکښے ثواب اوشی۔ دا خوشالی هُم بده نه ده۔ خو دلته کښے مبتدی کله کله دهوکه خوری۔ اصل کښے خو ئے نفس په دے خوشال شی چه خلق م په نیک کار اووینی نو عزت به م زیات شی خلقوته به ښه سړے ښکاره شم۔ لیکن دے ورته داچل جوړ کړی۔ چه زهٔ داکار ځکه کوم چه نور خلق هم ځما په تقلید کښے دا کار شروع کړی۔

دَ مبتدی دَ حال مناسب دا ده۔ چه څو مره ترے کیدے شی نیکی دِ پټه کوی۔ قصداً دِ ئے اظهار نهٔ کوی۔ البته څوک چه کمال ته رسیدلے وی۔ او نفس ئے فنا کړے وی۔ هغه که دَ نیک عمل اظهار په دے نیت کوی۔ چه نور خلق ئے ځما په تقلید کښے شروع کړی۔ نو جائز دی۔ بلکه دَ ثواب کار دے۔ په دے وجه مشرانو ویلی دی۔ رِیَاءُ الشَّیْخِ خَیْرٌ مِّنْ اِخْلَاصِ الْمُرِیْدِ۔ (دَ شیخ اظهار دَ مرید دَ اخلاص نه بهتر دے) دلته دَ ریا مطلب صرف اظهار دے۔ لفظ په خپله لغوی معنیٰ دے۔ اصطلاحی معنیٰ ئے نهٔ ده مُراد۔ یعنی دَ شیخ په اظهار مُریدانو ته فائده رسی چه دَ هغهٔ تقلید کوی۔ نو دَ هغهٔ اظهار دَ مرید دَ اخلاص نه ځکه ښهٔ شو۔ چه نورو خلقو ته ترے فائده رسی۔ او دَ مرید دَ اخلاص فائده دَ هغهٔ ذاتی شے دے۔ نو په دے غرض چه نورو ته ترے فائده رسی۔ په اظهار خوشالیدل عبادت دے۔ ریا نهٔ ده۔

(۳) دریم قسم خوشالی دا ده۔ چه بنده په دے خوشال شی۔ چه نور خلق ځما دَ نیکئ نه خبر شی۔ نو نیک نامی به م اوشی۔ عزت به م زیات شی۔ او مریدان به م دیر شی۔ نو دا ریا ده۔ دیر بد کار دے۔ په احادیثو کښے پرِ سخت وعید راغلے دے۔ په حدیث شریف کښے راغلی دی۔ چه دَ قیامت په ورځ به یو شهید راوستے شی۔ الله تعالیٰ به ورته اووائی ما درته دا دا نعمتونه درکړی وو۔ تا دَ هغے څهٔ شکریه ادا کړی ده۔ هغهٔ به ورته

هغه به ورته

اووائی. ما ستا په لار کښې جهاد کړے دے. او خپل سر مې قربان کړے دے. ارشاد به اوشی ځه! دَ رضا دَ پاره دِ سر نهٔ دے ورکړے. دے دَ پاره جنګیدے چه خلق درته بهادر اووائی نو خلقو درته بهادر اووے. ستا غرض پوره شو. دلته دِ څهٔ اجر نشته. حکم به اوشی چه پرمخ ئے دوزخ ته راکاږئ. دغه شان به دا شهید دوزخ ته واستولے شی. بیا به یو عالم او یو سخی راوستے شی. دغه شان خبرے به ور سره اوشی. دَ دوئ دواړو په عمل کښې به هم دَ شهرت خوښولو نقصان را اوویستے شی. او دوزخ ته به واستولے شی. اوګورئ. جهاد. علم. سخاوت درے بهترین عملونه دی. او ریا داسے خراب شے دے. چه دا بهترین عملونه ئے برباد کړل.

اوس یو عجیبه خبره واورئ. کله کله بنده دَ الله سره هم ریا کوی. تاسو به حیران شئ چه الله سره ریا څهٔ مطلب؟ نو غرض دا دے چه الله سره ریا داسے کیږی. چه دَ څنه کسانو دا عادت وی چه دَ خلقو مخکښې خو مونځ ډیر په قلاره قلاره کوی اوږد قرأت اوږده رکوع او سجده کوی. لیکن ځانته خلوت کښې زر زر مونځ کوی. بیا په زړهٔ کښې اوشرمیږی. چه افسوس دے. زهٔ دَ خلقو مخکښې خو اوږد مونځ کوم او ځانته مخصوص کوم. الله خو مې دواړه ځایه وینی. هغه به څهٔ وائی چه دا ولے؟ نو بیا په خلوت کښې هم اوږد مونځ شروع کړی. دے دَ پاره نه چه په خلوت کښې اوږد مونځ ئے مقصود وی. بلکه دے دَ پاره چه دَ خلوت نه بهر هم اوږد مونځ اوکړے شی. نو اصل مقصود خو ئے خلقو ته خپله زړګی ښکاره کول دی. خو دَ الله مخکښې الزام نه بچ کیدو دَ پاره خلوت کښې هم اوږد مونځ شروع کړی. دا دَ الله سره ریا ده. او کله کله نیت سم نهٔ وی. هسے فرضی نیت اوکړی. چه دَ الله دَ ګرفت نه بچ شی.

لکه یو مُلا صاحب په سفری وان وی. اسباب ئے تړلے وی. ټکټ دَ پاره ئے سړے استولے وی. دلته دَ مانځهٔ وخت شی. مقتدیان ورته اووائی. دَ سفر نیت پریږده. دَ اقامت نیت اوکړه چه مونږ ته خلور رکعتی مونځ پوره راکړے. نو دے هغه وخت دَ امامتی دَ پاره هسے

فرضی دَ اقامت نیت اوکړی. په رښتیا ئے دَ پاتے کیدو اراده نۀ وی.

غرض دا چه دَ ریا بحث ډیر اوږد دے. او دَ زړهٔ نه ئے ویستل ډیر گران دی. لیکن دانۀ ده. چه دا مرض لا علاج دے. هډو ختمیدے نشی. نه یقیناً ختمیدے شی خو ډیره خواری. سخت علاج او سخت پرهیز غواړی. او څوک چه ئے په علاج کښے لگیا وی. خپل وَس کوی. بیا هم ورته په زړهٔ کښے دَ ریا شک راشی. نو خفه کیږی دِ نه. ځکه چه دے په واجبو پوره کولو کښے لگیا دے. خپل وس کوی. او دَ دے نه زیات باندے پړنۀ دے. الله تعالیٰ فرمائی. فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ - (دَ الله نه ویریږئ څومره چه در نه کیدے شی) او په بل مقام کښے فرمائی. یٰٓاَیُّهَا الَّذِیْنَ اٰمَنُوا اتَّقُوا اللّٰهَ حَقَّ تُقٰتِهٖ - (اے ایماندارو. الله نه او ویریږئ څنګه چه دَ ویریدو حق دے) په ظاهره دے دواړو آیتونو کښے تعارض دے. او دَ مشرانو نه داسے منقول دی. چه دا آیت منسوخ دے دړنبے آیت ئے ناسخ دے. او نسخ هلۀ منلے شی چه دواړو آیتونو کښے تعارض وی. نو دَ مشرانو دَ دے قول نه دَ تعارض تائید کیږی. مگر په حقیقت کښے دلته تعارض نشته ځکه چه دا ورستے آیت دَ سلوک منتهیٰ ده. ځکه چه دَ سلوک اصل مقصد تقویٰ حاصلول دی. او وړنبے آیت دَ سلوک ابتداده. چه مبتدی سالک روس و منتهیٰ ته دَ رسیدو کوشش کوی.

دَ دے دواړو مثال داسے دے. لکه څوک چا ته اووائی. دَ دے کوټے چهت ته اوخیژه هغه وارخطا شی. چه دومره اوچتے کوټے ته څنګه اوخیژم. ته ورته اووائے. وارخطا کیږه مه. دا دی پوړئ شته په یو یو پوړئ خیژه. بره به اُورسے.

یا لکه یو حکیم دَ تبے مریض ته غټه پوټۍ دارو ورکړی. چه دا اوخوره تبه به دِ لاړه شی. هغه وارخطا شی چه دا دومره پنډ دارو به څنګه خورم. حکیم تسلی ورکړی چه سحر ما ښام ترے لږ لږ خوره. څو ورځے کښے به دارو هم خلاص شی او تبه به هم لاړه شی. دغه شان دَ حق تعالیٰ دا حکم هم دے. چه تاسو په قدر دَ طاقت دَ تقویٰ کوشش کوئ. تر دے چه پوره تقویٰ حاصله کړئ. نو په دے دواړو آیتونو کښے تعارض نشته. او مشرانو

نه چه نسخ نقل شوے دے. هغه اصطلاحی نسخ نهٔ دے. بلکه دَ هغوئ په عرف کښے به مطلقِ اختلاف ته نسخ ویلے شو. اګر چه دَ اجمال او تفصیل فرق به پکښے وو. نو دلته دَ دواړو آیتونو یو ځائے کولو نه صفا معلومیږی. چه څوک دَ اصلاح کوشش کښے لګیاوی. هغوئ ته خطره نهٔ ده پکار. په هغو څهٔ ملامته نشته. په مَا اسْتَطَعْتُمْ کښے لګیادی. انشاء الله یوه ورځ به حَقَّ تُقَاتِهٖ ته اُورسی. البته څوک دَ علاج نه غافل نه دی. او ورځ په ورځ ئے مرض زیاتیږی هغوئ ملامته دی.

بهرحال مونږ. ته په خپلو نیتونو کښے اخلاص پیدا کول ضروری دی. چه دَ دین په حقیقت پوهه شو. نن صبا اکثر خلق دَ دے خیال نهٔ ساتی. څوک چه ځان دیندار ګنړی. هغوئ هُم په ښو کارونو کولو کښے او خرابو کارونو نه ځان. بچ کولو کښے دَ وَضع او رسم و رواج خیال ساتی. څنګه نیک کارونه چه پریښول ئے دَ شان خلاف ګنړلے شی. هغے کښے خو سخته پابندی کوی. لکه مونځ هیچرے نهٔ قضا کوی. لیکن کوم نیک کارونه چه ترک ئے خلافِ شان نشی ګنړلے. لکه حقوق العباد. دَ هغو هیڅ خیال نهٔ ساتی. مونږ غیبت خو کوو. ځکه چه په دے په نیک نامئ کښے څهٔ فرق نهٔ راځی. لیکن شراب نهٔ څکو. دَ خدائے دَ ویرے نه. بلکه په دے وجه چه خلق ورته بد ګوری. بد نامی پرې کیږی. که دَ خدائے دَ ویرے او حُرمت په وجه مو پریښوے. نو غیبت به موهم نهٔ کولو. ځکه چه دواړه یو شان حرام دی. دغه شان جواری نهٔ کوو. غلا نهٔ کوو. ځکه چه دا ټول دَ بے عِزّتئ کارونه دی. دَ وَضع خلاف دی. دَ خاندان بد نامی پرې کیږی. لیکن رشوت اخلو. ځکه چه پلار نیکهٔ موا خستے دَ رونړه تربوران موئے اخلی. مونږ ئے هم اخلو. څهٔ شرم را ته نهٔ ښکاری. دَ خانی نښه دَه بدنامی پرې نهٔ کیږی. دَ ګانړے آمدن خورو. لیکن سُود نهٔ اخلو. ځکه چه سپک کار دے. سُود خوړ ته خلق چه په سپک نظر ګوری. او ګانړے خو دَ خانئ نښے دے. ټول خاندان ئے کوی. څهٔ سپک کار نهٔ دے.

غرض دا چه کوم بد کارونه چه عُرفِ عام کښے بد ګنړلے شی. عام مسلمان ورته سپک ګوری بدنامی پرې کیږی. دَ هغے نه خو ځان ساتو. لیکن کوم بد کارونه چه عام رسم و رواج ګرزیدلے دے.



Scanned with CamScanner

په سپک نظر ورته څوک نۀ ګوری. هغۀ نه پرهیز نۀ کوو. او دآیت اَفَتُؤْمِنُوْنَ بِبَعْضِ الْكِتٰبِ وَتَكْفُرُوْنَ بِبَعْضٍ ط. (آیا تاسو د کتاب څۀ حکمونه منئ. او د څۀ نه انکار کوئ) پوره پوره مصداق یو. سره د دے بیا هم د بزرګئ. پاکئ. او دینداری دعویداریو نوجنابِ عالی! دا د دینداری ظاهری شکل دے. حقیقی دینداری نۀ ده. د بادام پوستکے بیل شے دے. او مغزۀ بیل شے دے. دغه شان د سړی شکل بیل شے دے. او حقیقی سړیتوب جُدا شے دے.

گر به صورت آدمی انسان بودے — احمد و بوجهل هم یکسان بودے
این که مے بینی خلافِ آدم اند — نیستند آدم غلافِ آدم اند

(که سړے په شکل سړے کیدے. نو حضرت محمد ﷺ او ابوجهل به یوشان وو.) (دا په ظاهره د سړی شکل چه تۀ وینې. چه د سړیتوب خلاف کارونه کوی. دا په حقیقت کښے سړی نۀ دی. هسے د سړو شکلونه دی.)

دغه حال څمونږ د عملونو دے. چه په ظاهره د نیکئ کارونه کوو. خو صِرف ظاهری شکل ئے وی. حقیقی روح (اخلاص) پکښے نۀ وی. تش بے مغزه پوستکی وی. ع

خواجه پندارد که دارد حاصلے — حاصلِ خواجه بجز پندار نیست

(د صاحب دا ګمان دے چه څۀ حاصل لری. (څۀ نیکی ورسره شته) لیکن بے د دے ګمان نه ورسره نور هیڅ نشته. (ځکه چه اعمال ئے د اخلاص نه خالی دی. نو بیرِنشت حساب دی.)

د اعمالو دے ظاهری شکل ته چه ګوری نو هر سړے په خپل ځائے ځانته څۀ وائی. څوک ځانته پرهیزګار وائی. څوک ذاکر. څوک عالِم. څوک حافظ. او څوک بل څۀ. خو چه باطن ته ئے ګوری. نو دا حال ئے وی. ع

ازبرون چون گورِ کافر پرُحُلَل — واندرون قهرِ خدائے عَزَّوجل
ازبرون طعنه زنی بر بایزید — وز درونت ننگ میدارد یزید

(د باهرنه د کافر د قبر په شان ښائسته وی. او دننه د خدائے په قهر کښے ګیر وی.)

په ظاهره خو دَ بایزید بسطامیؒ نه هم ډیر زیات پرهیزګار ښکاری. خو چه باطن ته ئې ګورے. نو یزید هُم ترے آمان غواړی.

اصل خبره داده. چه مونږ کښې حِسُ نشته. که بصیرت وے. نو لید لی به مووے. چه څومونږ هرنیک کار سره نفسانی خواهش ګډ دے. یوکار مو هم خالص دَ الله دَرضا دَپاره نیشته والله. څومونږ نیتونه داسے دی. چه که دَ قیامت په ورځ دَ سزانه بچ شو. هم غنیمت دے. تقرب چرته دے؟ او درجے چرته دی؟

نیتونه خو دَ پخوانو بزرګانو وو. چه هرکار کښې ئې اخلاص. تقوی او بے نفسی وه.

دَ حضرت حاتم اصمؒ قصه ده. چه یو سړی څۀ شکرانه ورکوله. هغۀ ورته عُذر اوکړو. ځکه چه دا مال ورته مشتبه ښکاره شو. صفا حلال آمدنی نه وه. اګرچه فتوی داده. چه څو پورے ئې یقینی حُرمت معلوم نۀ وی. نو اخستل ئې جائز دی. لیکن تقوی داده چه مشتبه مال نه هم ځان اُوساتی. خو په داسے موقعه شرعی حکم دا دے. چه که دَبل سړی زړۀ خفه کیږی. یا دَ هغۀ رسوائی کیږی. نو دَ تقوی حفاظت جائز نه دے. په فتوی عمل پکار دے. دَبل مُسلمان عزت ساتل ضروری دی.

لیکن څومونږ حالت دادے. که غټ مال وی. نو که دَ مشتبه نه ورا خواوی. هم انکار ورته نۀ کوو. څۀ جواز ورته جوړوو. او که لږ شے وی. نو بیا که دَبل زړۀ چوی هُم ئې دَ اخستو نه صفا انکار کوو. که څۀ معمولی شبهه وی پکښې هم دَبل دَ زړۀ نه دَ خپلے ظاهری تقوی حفاظت زیات ضروری ګڼړو.

نو حضرت حاتمؒ اول خو انکار اوکړو. خو چه هغه سړی ډیر اصرار اوکړو نو بیا ئې واخستو که څومونږ دَ خولے نه یو ځل نا اووتو. نو بیا ئې هیچرے نۀ اَوکوو. ځکه چه شان په خرابیږی. دَ حضرت حاتمؒ نه چا تپوس اوکړو. چه اول دِ انکار ولے اوکړو. او بیا دِ قبول ولے کړه. هغۀ ورته اووے. نۀ اخستل دَ تقوی خلاف وو. ځکه چه په اخستو کښې ئې ځما بے عزتی او دَ هغۀ عزت وو. او په نۀ اخستو کښې ئې ځما عزت او دَ هغۀ بے عزتی وه. نو ما خپل عزت دَ هغۀ په عزت قربان کړو. په ځان مِ داغ اولګولو. او دَ هغۀ عزت مِ بچ کړو. سُبحان الله. اخلاص دا وی

دَ دین په حقیقت دا خلق پوهیدل. څمونږ خو ظاهری شکل هُم صحیح نهٔ دی دَ حقیقت خیال چرته دے ؟

داحال څمونږ دَ هغه دیندارو دے چه ځانته بزرګان وائی۔ نو دَ عوامو به څهٔ اووایو. بلکه زهٔ خو دا وایم چه دَ عوامو نیت په اکثرو کارونو کښے دَ خواصو نه صفا وی. ځکه چه په اُوږدو اُوږدو مونځونو او اُوږدو اُوږدو تسبیحو او ډیر ذکر۔ دَ خواصو عزت او شان زیاتیږی. نو په دے کښے ریا هم راځی. یو عام سړے که اُوږد مونځ اوکړی او که مختصر. دَ هغهٔ تپوس څوک کوی ؟ نو هغه به څهٔ ریا اوکړی. او څهٔ به چاته ځان اوښیٔ۔ البته په عوامو کښے یو کمے دے. چه دَ عمل په وخت کښے اکثر ذهن خالی وی. نهٔ ئے څهٔ ښهٔ غرض په زړهٔ کښے وی. او نهٔ څهٔ بد. لیکن په عادت او په دے اجمالی عقیدهٔ چه دَ الله حکم دے نیک کار کوی. خو دا دَ ښهٔ یا بد نه خالی ذهن هم په اخلاص کښے شمار دے.

او په دے وخت کښے م ذهن ته یو خیال راغلو چه دَ اخلاص مطلب دا ګڼړلے شی. چه کار په وخت کښے دا تصور وی چه دا کار خالص دَ الله دَ رضا دَ پاره کوم. او س کتل دا پکار دی چه آیا په دے معنیٰ اخلاص چرته شته هم که نه ؟ مونږ چه غور اوکړو. نو په دے معنیٰ اخلاص عوامو کښے څهٔ چه خواصو کښے هم نشته۔ اول اوس ټولو دَ جُمعے مونځ کړے دے. دَ هیچا په زړهٔ کښے هم دا تصور نهٔ وو. چه دا مونځ خالصً الله دَ رضا دَ پاره کوم. زیات نه زیات دا تصور وی چه دا یو نیک کار دے. او دَ الله حکم دے۔

نو که دَ اخلاص دا معنیٰ وی "چه دَ کار کولو په وخت کښے دَ الله دَ رضا قصد کول" خو په دے معنیٰ دَ هیچا نیت خالص نهٔ دے. او دُنیا کښے یو مخلص هم نشته. ځکه چه اکثر حالاتو کښے رضائے حق نه چه هیڅ خاص غرض په زړهٔ کښے نهٔ وی. په دے وجه خو په دے مشهورهٔ عقلی مسئله کښے هم څما شک پیدا شو۔ مشهوره ده. چه دَ (افعالِ اختیاریو صدور مسبوق بالغایت وی) (یعنی څوک چه دَ یو اختیاری کار اراده کوی. نو دَ هغے نه مخکښے ئے ضرور دَ هغے دَ څهٔ نتیجے تصور په ذهن کښے وی.) ځکه چه اکثر څهٔ خاص غرض په ذهن کښے نهٔ وی۔ او هغهٔ یو اختیاری کار کوی. وضاحت ئے دا دے چه مونږ که دَ چا نه نا څاپی تپوس اوکړو

چه دا کار دِ ولے اوکړو. نو سمدستی ئے څۀ فائدۀ نشی بیانولے. دا بیله خبره ده چه څۀ سُوچ نه پس ورته څۀ وجه جوړه کړی. که دَ مخکښې نه ئے په ذهن کښې څۀ فائده وی. نو سمدستی به ئے ویلی وو. یا مثلاً مونږ ته په څۀ خبره غصه راشی. وهل ټکول اوکړو. که څوک رانه تپوس اوکړی چه دا ولے؟ نو سمدستی به ورته اووایو. ځکه چه دۀ دا سے غلط کار اوکړو. نو وجه مخکښې نه په ذهن کښې وه. لیکن دوه وخته خوراک چه کوو. که څوک رانه تپوس اوکړی. چه دَ خوراک خوړو کښې دِ څۀ فائده سوچ کړی وه. نو سمدستی څۀ معقول جواب نه شو ورکولے. ځکه چه مخکښې نه مو څۀ سوچ نۀ وو کړے. (خوراک مو په عادت خوړو.)

البته که څوک اووائی چه اجمالی طور دَ فائدے تصوّر وی. (چه خوراک بدن ته طاقت ورکوی) نو خیر وی به. لیکن تفصیلی تصوّر هرګز نۀ وی. نو که دَ نیت دا معنیٰ واخستے شی. چه دَ هغه کار کولو دِ پوره تصوّر په وخت دَ الله دَ رضا وی. نو دَ ډیرو مسلمانانو نیک عملونه به بیکاره شی. ځکه چه دا تفصیلی تصوّر دَ هیچا هم نۀ وی. (البته دا اجمالی تصوّر وی چه په نیک کار الله رضا کیږی)

اوس درته زۀ دَ نیت صحیح مطلب بښیم. دَ نیت معنیٰ ده. قصد او اراده. یعنی په خپله اراده یو کار کول. لکه دَ اَوُدس کولو دوه طریقے دی. یو خو دا چه بندۀ دَ اَوُدس په اراده مخ لاس اووینځی. او په سر مسح اوکړی. اوبل دا چه دَ ګرمئی په وجه تالاب یا نهر کښې غوپه اوخوری. او دَ هغے په ضمن کښې دا اندامونه هم اووینځلے شی. دَ کوموچه په اودس کښې وینځل ضروری دی. نو دَ امام شافعیؒ په مذهب دا اودس نۀ کیږی. یعنی په دے پاکئ مونځ نشی کولے. ځکه چه دَ هغۀ په مذهب اودس دَ پاره نیت فرض دے. او دَ دۀ نیت دَ اودس نۀ وو. نو دَ نیت دا مطلب دے په خپله اراده یو کار کول.

اوس نیت په دریے قسمه دے. یو دا چه یو سړے یو نیک کار کوی. په خپله اراده خو ئے ورکښې دَ ښۀ غرض تصور وی نۀ دَ بد غرض. (خو صرف په دے خیال ئے کوی. چه یو نیک کار دے. او دَ شریعت حکم دے) دویم چه یو نیک کار په خپله اراده کوی. او دَ یو ښۀ غرض په قصد ئے کوی. لکه مونځ کوی په دے غرض چه الله رانه راضی شی. دریم چه یو نیک کار کوی په خپله اراده خو دَ یو خراب غرض په قصد. لکه مونځ کوی په دے غرض چه خلق م اووینی. او



Scanned with CamScanner

بنهٔ سړے رانه اوواﺋی. معتقد م شی. نو په دے درے واړو کښے ناکاره دا آخری شکل دے. (ریاده) باقی دواړه په اخلاص کښے راځی. ځکه چه دَ دیا مطلب دا دے. چه مخلوق ته ځان ښهٔ ښکاره کولو دَ پاره نیک کار کول.

نو دَ دے خلاف په دوه طریقے کیدے شی. یو خو دا چه دَ نیک کار کولو په وخت ذهن کښے هیڅ تصور نهٔ وی. صرف اجمالاً دا تصور وی. چه دا یو نیک کار دے. او دَ شریعت حکم دے. او دَ شریعت حکم پوره کولو باندے الله راضی کیږی) او بل دا چه مخلوق ته ځان نیک ښکاره کولو په ځائے ئے دا قصد وی. چه دا کار دَ خالق دَ رضا دَ پاره کوم.

عامه قاعده دا ده. چه دَ مُقَیّدْ ارتفاع په دوه طریقے کیږی. یو خو چه هډو هیڅ قید پکښے نهٔ وی. بل چه دَ دے قید خلاف قید پکښے موجود وی. نو پورتنی درے قسمه نیتونو کښے آخری شکل دَ ریا دے. او باقی دواړه قسمه دَ اخلاص دی. لیکن په دے دواړو کښے اول قسم (یعنی چه هیڅ تصور پکښے نهٔ وی) دَ اخلاص کمزوری درجه ده. او دویم قسم (یعنی چه دَ خالق دَ رضا تصور پکښے وی.) دَ اخلاص اعلیٰ درجه ده.

خلاصه دا چه څوک دا وائی چه څو پورے دَ کار کولو په وخت کښے دَ خالق دَ رضا قصد نهٔ وی. دا اخلاص نهٔ دے. دا خبره غلطه ده. چه دَ خراب غرض قصد پکښے نهٔ وی دا هم اخلاص دے. اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ. په دے تقریر دا ثابته شوه چه دا دُنیا دَ مخلصانو نه خالی نهٔ ده که اعلیٰ درجه اخلاص نهٔ وی. نو دویمه درجه خو ډیر دی.

شاید تاسو ته ځما دَ دے تقریر په ابتدا او انتها کښے تعارض ښکاره شی. په اول کښے دا شکایت وو چه اخلاص ختم شو. عوام وخواص ټول دَ نیت په فساد کښے مبتلا دی. دَ تقریر دَ آخر نه دا معلومیږی چه ابتلا عامه نهٔ ده. بلکه مخلصان ډیر دی. په ظاهره خو تعارض ښکاری. لیکن حقیقت کښے تعارض نشته. ځکه چه ځما دَ تقریر حاصل دوه خبرے دی. یو دا چه په عملونو کښے خراب قصد شریک شوے دے. لکه حُبِّ جاه او حُبِّ مال. او مخلوق خوشالول. نو دَ چا په زړهٔ کښے چه دا مرضونه وی. هغوئ دِ بیدار شی. او دَ خپلو مرضونو علاج دِ شروع کړی. دویمه خبره دا وه. چه دَ چا زړهٔ کښے چه دا مرضونه نشته. یا شته. خو علاج ئے

شروع کړے دے ۔ دَ اصلاح کوشش کوی ۔ نو هغوئ ملامته نهٔ دی ۔ په فَاتَّقُوا اللّٰهَ مَا اسْتَطَعْتُمْ کښې لګیا دی ۔

او ډیر کسان داسې دی ۔ چه مرض پکښې شته ۔ خو هغوئ ئې علاج نه غافله دی ۔ نو دَ تقریر په ابتدا کښې ما دا خبره کوله چه اکثریت دَ دنیا په مرض کښې مُبتلا دی ۔ خو دَ علاج فکرئې نهٔ کوی ۔ او دَ تقریر په آخر کښې م دا اووے ۔ چه دَ چا په زړهٔ کښې چه دویمه درجه اخلاص شته ۔ هغوئ نه دَ اخلاص نفی نهٔ ده پکار ۔ باقی چا چه ځان دَ علاج دَ پاره یو روحانی معالج (شیخ) ته حواله کړے دے ۔ هغوئ دِ نهٔ پریشان کیږی ۔ هغوئ ته دا ویلے شی ۔

کوئے نا اُمیدی مرو اُمید ہاست سوئے تاریکی مرو خورشید ہاست

(نا اُمیده کیږه مه ۔ ډیر اُمیدونه دی ۔ تیرو طرف ته مهٔ ځهٔ ۔ ډیرے رنړاګانے دی ۔) چا چه کار شروع کړے دے ۔ کوشش دِ جاری اوساتی ۔ انشاءالله کامیاب به شی ۔

اندرین ره مے خراش و مے تراش تا دمِ آخر دمے غافل مباش

(دَ سلوک په لاره کښې همیشه دَ خپلے اصلاح فکر کوه ۔ تر آخره وخته پورے یو ساعت مهٔ غافل کیږه ۔)

البته دَ علاج شروع کولو دَ پاره دوه شرطونه دی ۔ اول ضروری علمِ دین حاصلول ۔ چه په خراب غرض او ښهٔ غرض کښې فرق اوکړے شی ۔ او دَ کار کولو نه مخکښې سوچ کولے شی ۔ او دَ ځان سره حساب کولے شی ۔ چه په دے کار کښې ځما څهٔ غرض دے ۔ محمود دے ۔ که مذموم ۔ (یعنی ښهٔ غرض دے (دَ الله دَ رضا دَ پاره ئې کوم) که خراب غرض دے ۔ (یعنی دَ نفس یا مخلوق خوشالولو دَ پاره ئې کوم ۔) دویم شرط دا دے ۔ چه ځان یو کامل روحانی طبیب (یعنی مرشدِ کامل) ته حواله کړی ۔ او وخت په وخت ئې دَ خپل حاله خبروی ۔ دَ هغهٔ په تجویز (پوهه شی او که پوهه نشی ۔) عمل کوی ۔ ځکه چه کله کله شیخ داسې حکم ورکړی چه په ظاهره

بنهٔ نهٔ بښکاری۔ لکه ورته اووائی ډیر تلاوت او ډیر نفلونه مهٔ کوه۔ دَ شپې بنهٔ خوب کوه۔ البته کهنته یا یوه نیمه کهنته دَ شپې عبادت ته دا یاځه۔ نو په ظاهره دا حکم عقل کښې نهٔ راځی۔ لیکن عمل په پکار دے۔ ځکه چه ویلی شوی دی۔

به مَے سجاده رنگین کُن گرت پیرِ مغان گوید
که سالک بے خبر نبود زِ راه ورسمِ منزلها ؛

دَ دے شعر مطلب دا نهٔ دے۔ چه دَ پیر په حکم دومره شراب اُوڅکه چه مصلی په هم اولړه۔ هرځائے کښې حقیقی معنیٰ مراد نهٔ وی۔ بلکه څهٔ اشاره کنایه وی۔

دلته مطلب دادے۔ چه که پیر درته داسے مباح کار اووائی۔ چه په ظاهره دَ سلوک خلاف ښکاری۔ نو هغه سپک مهٔ گڼره۔ او انکار ترے مهٔ کوه۔ ځکه چه شیخ ته دَ سلوک دَ لارے لوړے ژورے ښے معلوے دی۔ تجربه کار دے۔ په دے کښې به ضرور فائده وی۔

په حقیقی معنیٰ پورے یو **لطیفه** را یاده شوه۔ وائی چه یو ځائے کښې دوه کسان په جګړه شو۔ دَ هغے یو کس یو دوست راغلو هغهٔ دَ لاسونو نه کلک اونیوو۔ چه خوزیدے نشو۔ نو هغے بل او ټکولو۔ خلقو ورته اووے۔ چه هلکه دا دِ څهٔ اوکړو۔ خپل مرګرے دِ ورته اونیولو؛ نو هغهٔ ورته اووے۔ ماخو دَ شیخ سعدی" په خبره عمل کړے دے۔ سعدی صاحبؒ ویلی دی۔

دوست آن باشد که گیرد دستِ دوست
در پریشان حالی و درماندگی ؛

(دوست هغه دے۔ چه په تنګسیا او پریشانئ کښې دَ دوست لاس اونیسی۔) نو دے جاهل دَ دستګیرئ په حقیقی معنیٰ یعنی لاس نیولو عمل اوکړو

---

حالانکه دا یو عامه محاوره ده۔ امداد کول۔

دغه شان نن صبا اکثر جاهلان دَ سلوک دَ اصطلاحاتونه دَ ناواقفیت په وجه دَ حافظ صاحب دَ اشعارو غلط معنا کانے کوی. دَ مے او رِندانه حقیقی معنیٰ واخلی. حالانکه خپله دَ حافظ صاحب په دے شعر کښے که څوک غور اوکړی نو ور پسے جُمله. که سالک بے خبر نبود - دَ دے دلیل دے. چه هغه به دَ شریعت خلاف حکم نهٔ ورکوی۔

دَ دے شعر خلاصه مطلب دا دے. چه دَ تربیت دوه طریقے دی. یو جذب او بل سلوک۔ جذب دا دے چه سالک بانده دَ ذکر او فکر په ذریعه دَ محبت غلبه پیدا کړی. نو بیا ورباندے دَ زهد او مجاهدے اعمال کم کړی۔ دَ محبت په ذریعه ئے مقصود ته اورسوی ـ دَ سلوک طریقه دا ده چه سالک په زیات تلاوت او ډیرو نفلونو کښے مشغول کړی۔ او په دے طریقه ئے مقصود ته اورسوی۔ دَ حافظ صاحب مطلب دا دے. که یو سړی ځانته دَ سلوک لاره خوښه کړی وی او شیخ هغهٔ دَ پاره دَ جذب طریقه خوښه کړی۔ او دَ محبت په ذریعه ئے مقصود ته رسول غواړی۔ نو دهٔ ته دَ شیخ اتباع پکار ده۔ دَ مے د شرابونه مراد دے عشق و محبت) یعنی اے سالکه خپله رائے ته دخل مهٔ ورکوه۔ شیخ تا نه زیات تجربه کار دے. ستا دَ پاره به دا طریقه زیاته موزونه وی. بل ځائے فرمائی۔ ؎

فکرِ خود ورائے خود در عالمِ رندی نیست

کفر ہست درین مذهب خود بینی و خودرائی

(دَ سلوک په لار کښے دَ خپلے رائی او خپل فکر څهٔ دخل نشته. په دے مذهب کښے خپل فکر او خپله رائے چلول کُفر دے. (په هر کار کښے به دَ شیخ اتباع کوے۔)

دَ شیخ دَ کامل تابعدارئ دَ پاره په شیخ کامل اعتماد ضروری دے. په دے زمانه کښے اعتماد ډیر کم شوے دے. (هر سړے خپله رائے اهم گنړی) که شیخ ورته څهٔ اسان کار تجویز کړی. نو دا گمان کوی چه ځما په حال پوره توجه نهٔ کوی. هسے تسلی راکوی. په دے بنهٔ پوهه شئ. چه په کوم طبیب چه دَ چا اعتماد نهٔ وی. دَ هغهٔ

دارو هرګز فائده نشی ورکولے. په طبیب اعتماد ډیرضروری دے. اوکه شفا کښے تاخیر راشی. نو وارخطائی نه ده پکار- انشاءالله خدائے پاک به ضرور شفا ورکړی۔

روحانی علاج هم د جسمانی علاج په شان دے- طبیب د مریض طبیعت ته ګوری د هغې مناسب نسخه ورته لیکی. او روی و د طبیعت د برداشت مناسب ورته نسخے بدلوی. تر هغې چه مرض ئے د ګونو نه اووځی- اوخدائے پاک کامله شفا ورکړی- روحانی طبیب هم د مریض طبیعت ته ګوری. د هغې مناسب ورته د اصلاح د پاره نُسخه تجویز کوی. او د طبیعت د برداشت په مناسب ورته نسخے بدلوی. سالک ته پریشان کیدل نه دی پکار. او په شیخ پوره اعتماد پکار دے. شیخ خو د حال په ژبه وائی.

شعر

من غمِ تو میخورم تو غم مخور

بر تو من مشفق ترام از صد پدر

(ته فکرمه کوه- زه د ستا د اصلاح په فکر کښے لګیا یم- زه په تا باندے د پلار نه سل چنده زیات مهربانه یم۔)

حاصل دا چه د شیخ تابعداری او وفاداری ډیره ضروری ده. او خپله رائی او خپل خیال ته دخل ورکول بنه نه دی. چه کار کښے لګیائے. نو انشاءالله یوه ورځ به ضرور کامیاب شے. پریشان کیږه مه-

یوسړی به ماته خپل حالت لیکلو- او ډیره پریشانی به ئے ښکاره کوله- مابه برابر تسلّی ورکوله چه ستا حالت ښه دے. پریشان کیږه مه- خو د هغه تسلّی نه کیده-

آخر کښے چه ما ورته اولیکل- "ماته ستا د تسلّی څه ضرورت نشته- ځما تسلّی ده چه ستا حالت ښه دے." د دے نه پس ئے تسلّی اوشوه. مطلب دا دے. چه دومره بے فکری هم نه ده پکار- چه هډو د اصلاح خیال ئے نه وی-

او دومره فکرمندی هم ښه نهٔ ده۔ چه په هیڅ ئې تسلّی نهٔ کیږی۔ چه ځان دِ مُرشد ته حواله کړو۔ نو اوس نوی بے فکره شه۔ صِرف دَ هغهٔ دَ احکامو انتظار کوه۔ او دَ هغهٔ په تجویزنو عمل کوه۔ یوه ورځ به ضرور مقصود ته اورسے۔

ه

یوسف گم گشته باز آید بکنعان غم مخور
کلبۂ احزان شود روزے گلستان غم مخور

(ورک یوسف به بیا خپل کور کنعان ته راشی۔ دا دَ غمونو جونګړه به یوځل بیا باغ و بهار شی غم مکوه۔)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ دَ حدیث شریف دَ څلورو وارو اجزاؤ بیان پوره تفصیل سره اوشو۔ اوس دُعا اوکړئ چه الله تعالیٰ مونږ ته دَ نیک عمل او اخلاص توفیق راکړی۔ آمین

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ
وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ ۝
آمین



دعواتِ عبدیت اول جلد

نہم وعظ

# اِصلاحُ النّسآءِ

یکم اگست 2016

## دَ ښځو اصلاح

له ارشاداتو دَ حکیم الامت

حضرت مولانا اشرف علی تھانوی رحمۃ اللہ علیه

پښتو ترجمه

له سیّد تسنیم الحق (کاکاخیل)

ناشران:- یونیورسٹی بک ایجنسی

خیبر بازار پشاور

شهر

## خُلاصَه

رسول کریم صلی الله علیه وسلم په یو موقع ښځوته وعظ نصیحت کولو. او ئې فرمایل يَا مَعْشَرَ النِّسَاءِ تَصَدَّقْنَ فَإِنِّي رَأَيْتُكُنَّ أَكْثَرَ أَهْلِ النَّارِ فَقُلْنَ فَبِمَ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيرَ مَا رَأَيْتُ مِنْ نَاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِينٍ أَذْهَبَ لِلُبِّ الرَّجُلِ الْحَازِمِ مِنْ إِحْدَاكُنَّ. قُلْنَ وَمَا نُقْصَانُ دِينِنَا وَعَقْلِنَا يَا رَسُولَ اللهِ. قَالَ أَلَيْسَ شَهَادَةُ الْمَرْأَةِ مِثْلَ نِصْفِ شَهَادَةِ الرَّجُلِ قُلْنَ بَلَى. قَالَ فَذَالِكَ مِنْ نُقْصَانِ عَقْلِهَا. قَالَ أَلَيْسَ إِذَا حَاضَتْ لَمْ تُصَلِّ وَلَمْ تَصُمْ. قُلْنَ بَلَى. قَالَ فَذَالِكَ مِنْ نُقْصَانِ دِينِهَا. متفق علیه - (اے ښځو تاسو ته پکار دی چه خیرات ډیر کوئی (چه د خیرات په برکت مو الله تعالیٰ د اور نه بچ کړی) ما لیدلی دی چه دوزخ کښے د ښځو اکثریت دے. (یعنی د سړو په نسبت ورکښے ښځے زیاتے دی) ښځو عرض اوکړو د اپه څه یا رسول الله ﷺ. حضور ﷺ او فرمائیل دا ځکه چه ښځے لعنت ډیر وائی. او د خاوندانو ناشکری کوی. ما د تاسو زیات چه عقل او دین مو ناقص دے. د هوښیار سړی عقل سلب کوونکے بل څوک نه دے لیدلے. ښځو عرض اوکړو څمونږ دین او عقل په څه ناقص دی. حضور ﷺ او فرمائیل. آیا د ښځے گواهی د سړی د نیمے برابر نه ده. هغوی عرض اوکړو. بیشکه ده. بیا ئے او فرمائیل آیا داسے نه ده چه ښځے د حیض په ورځو کښے نه مونځ کولے شی. نه روژه نیوے شی. (هره میاشت ترے کم از کم اوه ورځے مونځونه او روژے قضا کیږی.) دا ئے د دین نقصان دے.

په دے حدیث شریف کښے حضور ﷺ د ښځو پنځه کمزورئ نبیلی دی. دوه فطری دی. اصلاح ئے نشی کیدے. د عقل نقصان. او د دین نقصان. او درے اختیاری دی. که کوشش اوکړی نو اصلاح ئے کولے شی. یو لعنت ملامت ډیر کول. بل د خاوندانو نافرمانی کول. بل سړی خطا کول. (په رسم و رواج یا نورو غلطو کارونو ئے مجبورول وغیره.) او دا درے واړه داسے بنیادی خرابئ دی. چه د دے نه نورے ډیرے خرابئ پیدا کیږی او خصوصاً د دوئ دے درے کمزوری خو ډیر خاندانونه تباه کړل. د ټبروی خوابنی او اندرورے جنګونه جګړے. ډیر خاندانونه بے اتفاقه ټکړے ټکړے کړی. په مقدمو او جنګونو جګړو ئے اخته کړی او تباه و برباد شی. د دے درے واړو اصلاح ډیره ضروری ده. په آخر کښے حضرت تهانوی د دے د اصلاح طریقه تفصیل سره بیان کړی ده -

دا وعظ حضرت تهانوی په کاندهله نوم ښار کښے ښځو ته کړے دے. د وعظ په مجلس کښے څه سړی هم وو. خو اکثریت د ښځو وو. او د وعظ مخاطبے ښځے وے. دا وعظ په ۲۰ رجادی الثانی ۱۳۲۹ھ کښے شوے دے. او مولوی عبد الله گنگوهی قلمبند کړے دے. (ت)



Scanned with CamScanner

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ . وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ ـ وَنَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَنَشْهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ـ

اما بعد - فقد قال النبی صلی اللہ علیہ وسلم يَا مَعْشَرَ النِّسَآءِ تَصَدَّقْنَ فَاِنِّيْ رَاَيْتُكُنَّ اَكْثَرَ اَهْلِ النَّارِ ـ فَقُلْنَ وَبِمَ يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ ـ قَالَ تُكْثِرْنَ اللَّعْنَ وَتَكْفُرْنَ الْعَشِيْرَ ـ مَا رَاَيْتُ مِنْ نَّاقِصَاتِ عَقْلٍ وَدِيْنٍ اَذْهَبَ لِلُبِّ الرَّجُلِ الْحَازِمِ مِنْ اِحْدَاكُنَّ ـ قُلْنَ وَمَا نُقْصَانُ دِيْنِنَا وَعَقْلِنَا يَا رَسُوْلَ اللّٰهِ قَالَ اَلَيْسَ شَهَادَةُ الْمَرْءَةِ مِثْلَ نِصْفِ شَهَادَةِ الرَّجُلِ قُلْنَ بَلٰى ـ قَالَ فَذَالِكَ مِنْ نُقْصَانِ عَقْلِهَا ـ قَالَ اَلَيْسَ اِذَا حَاضَتْ لَمْ تُصَلِّ وَلَمْ تَصُمْ ـ قُلْنَ بَلٰى ـ قَالَ فَذَالِكَ مِنْ نُقْصَانِ دِيْنِهَا ـ متفق علیه ـ

(دحدیث شریف ترجمه داده ـ چه رسول کریم صلی الله علیه وسلم ښځوته نصیحت کولو) او ئې فرمائیل ـ اے ښځو تاسو خیرات اوکړئ ـ ځکه چه ما لیدلی دی چه په دوزخ کښې ښځې ډیرے دی ـ ښځو عرض اوکړو چه دا په څه وجه یا رسول الله ـ حضور اوفرمائیل ـ دا ځکه چه تاسو لعنت ډیر وائی ـ او د خاوندانو ناشکری کوئ ما د تاسو نه زیات چه عقل مو هم ناقص دے او دین هم ـ د هوښیار سړی عقل سلب کوونکے بل شے نه دے لیدلے ـ ښځو عرض اوکړو ـ یا رسول الله ـ ځمونږ عقل او دین کښې څه نقصان دے ـ هغوئ اوفرمائیل ـ ایا د ښځې ګواهی د سړی د نیمې برابر نه ده ؟ هغوئ عرض اوکړو ـ بے شکه ده ـ حضور اوفرمائیل ـ دا د عقل دکمی په وجه ـ (دا مو د عقل نقصان دے) بیائې اوفرمائیل ـ ایا دا سے ده چه ښځې د حیض په ورځو کښې نه مونځ کولے شی ـ او نه روژه نیولے شی ؟ هغوئ عرض اوکړو ـ بیشکه



Scanned with CamScanner

داسے دہ. حضورؐ اوفرمائیل د داموِ دَ دین نقصان دے)

ما په دے موقع داحدیث شریف چه مخاطبے پکښے ښځے دی. اودے مجلس کښے سړی هم شته ځکه خوښ کړو. چه ښځوته دَ وعظ اوریدو موقع کمه په لاس ورځی. نو دوئ بالکل ناخبره دی. او په قسم قسم خرابیو کښے مبتلا دی. اودغه خرابی دَ ښځوڼه وړه کښے او وړونه سړو کښے خوریږی. دَ ښځو په اصلاح دَ ټول کور اصلاح کیږی. په دے اعتبار دامضمون عام شو. نو ښځے دواړه پکښے شریک شو. اوهسے هم ډیرے خرابئ نرواوښځو دواړو کښے مشترکے دی. البته په دے موقع غرض زیات ښځوته اورول دی. په دے وجهِ وعظ دَ پاره داحدیث مبارک خوښ کړو.

په دے کښے دَ ښځو پنځه خرابئ بیان شوی دی. دوه غیراختیاری دی. او درے اختیاری دی. دَ عقل اودین کمے غیراختیاری شے دے. لعنت ډیر ویل. دَ خاوندانو ناشکری کول. او دَ سړو دَ عقل سلب کول. (یعنی سړی دَ شریعت خلاف رواجی کارونو باندے مجبوره کول) ✓

دَ عقل اودین دَ کمی وجه بیانولو کښے حضورؐ دَ پوره حقیقت ښیلو په ځائے علامے بیان کړے. ځکه چه مخاطب ناپوهه وو. په حقیقت ورته پوهیدل ګران وو. اوکوم ځائے چه مخاطب ناپوهه وی. دَ هغهٔ دَ پوهے مناسب جواب ورته پکار وی. مثلاً یوعام سړے که تپوس اوکړی چه اُور څهٔ ته وائی. نو دَ هغهٔ دَ پاره دا جواب کافی دے. چه لوږے ترے خیژی او سوزول کوی هغه اور دے. دَ اُور پوره حقیقت باندے هغه نشی پوهیدے. دغه شان رسول الله صلی الله علیه وسلم هُم ښځوته دَ عقل دَ کمی یو علامه اوښیله. چه دَ دوؤ ښځو ګواهی دَ یو سړی برابر دهٔ او دَ دین دَ کمی ئے ورته دا علامه اوښیله چه ښځو نه هره میاشت کښے څو ورځے مونځ روژه پاتے کیږی. په هغه زمانه کښے دَ حق تابعداری په طبیعتونو کښے عامه وه. نو دا جواب ورته کافی وو. ن ن صبا رنګ بدل دے. دَ تابعدارئ په ځائے نافرمانی ده.

اوس به دا سوال کیږی. چه شریعت کښے دَ یو سړی ګواهی دَ دوو ښځو برابر ولے دهٔ؟ نو دَدے جواب دادے. چه قرآن او حدیث دَ فن کتابونه نهٔ دی. چه جامع مانع تعریف پکښے اوشی. داخو دَ روحانی طب کتابونه دی. دَ مریض دَ حالت مناسب خبره کوی. یو مهربان

او کامل طبیب دَ هر مریض سره دَ هغهٔ دَ حالت مناسب —— خبره کوی. نو په دے وجه دَ قرآن او حدیث په مطلب هغه څوک نشٔ پوهیدی چه دَ شانِ نزول نه ئے واقف وی. ځکه چه دَ شانِ نزول نه داپته لګی چه دا حکم په کومه موقع او څنګه حالت کښے راغلے وو. دَ هغے حالت تقاضا او خصوصیات څهٔ وو. او په دغه وجه دَ قرآن شریف په تفسیر کښے مونږ اصحابو ته محتاج یو. ډیر فرق دے په هغے سړی کښے چه طبیب سره دَ نسخے لیکلو په وخت موجود وی. او په هغه سړی کښے چه ډیره مُدّه پس هغه نُسخه او وینی. ورپسی سړی هغه مریض لیدلے وی. دَ هغهٔ عُمر. مزاج او حالت ورته معلوم وی. نو هغه دَ نسخے په اجزاؤ دَ هغے په وزن او تناسب چه څنګه پوهیږی. دا بل سړے په هغسے نشی پوهیدے. په دے وجه دَ قرآن مجید او حدیث شریف په تفسیر کښے دَ متقدّمینو قول زیات معتبر دے.

حاصل دا چه قرآن شریف او احادیثو ته دَ فن دَیو کتاب په نظر نهٔ دی کتل پکار چه تعریف جامع مانع نهٔ وی. یا ور کښے احترازی قیدونه پوره نهٔ وی. نو کتاب ناقص ګڼړلے شی. په دے وجه ځما دا خیال دے. چه قرآن و حدیث هغه وخت لوستل پکار دی. چه ذهن دَ منطق او فلسفے نه متأثر شوے نهٔ وی.

بهرحال هغه وخت کښے دَ دین و عقل کمی ښکاره کولو دَ پاره دا علامے کافی وے که نن کافی نهٔ دی. نو الحمد لله پوره حقیقت واضح کوونکی ئے موجود دی.

نو اختیاری نقائص دے دَ پاره بیان شو چه دَ خپل کمی نه خبر شی. او علاج ئے اوکړی. او غیر اختیاری نقائص دے دَ پاره بیان شو. چه خپل کمے ورته معلوم وی. نو ډیره لوئی او کبر به نهٔ کوی. په ښځو کښے دَ لوئی او کبر مرض عام دے، که څهٔ معمولی غوندے کمال پکښے وی نو ځان ډیر اوچت ګڼړی. دَ دے وجه هم بے علمی او ناپوهی ده. ځان ته لوئے عالم هغه سړے وائی چه هیڅ نهٔ وی. څوک چه واقعی لوئے وی دَ هغهٔ نظر دَ کمال په آخری درجو وی. او هغے ته رسیدے نشی. نو دَ لوئی او کمال دعوه هم نشی کولے. لوئی خو صِرف هغه ذات سره ښائی چه دَ کمال دَ آخری درجو جامع دے. هر صفت ئے دَ کمال آخری

حد ته رسیدلے دے. هغه صرف ذات دَ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْکَ لَهٗ دے. ځکه مُتَکَبِّرْ دَ هغهٔ کمالی نوم دے. دَدے معنیٰ دا ده چه هغه ځان دَ ټولو نه لوئے گنړی. نو اوس تاسو سوچ اوکړئ. چه الله تعالیٰ په واقعه کښے دَ هر چا نه لوئے دے کنه. نو که هغهٔ خپله ځان لوئی نهٔ گنړلے. نو دا به ئے جهل او لا علمی وه او دا نُقص دے. او الله تعالیٰ دَ هر نقص نه پاک دے. بس نو دَ الله کمال دا دے چه ځان لوئے گنړی. او دَ بندهٔ کمال دا دے. چه ځان وړوکے گنړی. بنده که ځان لوئے اوگنړی نو دا نُقص دے او ناپوهی ده کمال نهٔ دے. حدیثِ قدسی دے. اَلْکِبْرِیَآءُ رِدَائِیْ وَالْعَظْمَةُ اِزَارِیْ فَمَنْ نَازَعَنِیْ فِیْهِمَا قَصَمْتُهٗ. (الله تعالیٰ فرمائی عظمت او کبر ځما خاص صفتونه دی لکه لنګ او څادر چه دَ بنیادم خاصه جامه ده. نو څوک چه ما سره په دے صفاتو کښے ځان شریک گنړی. خټے به ئے مات کړم.) دَدے نه صفا معلومه شوه. چه عظمت او کبر دَ الله تعالیٰ خاص صفتونه دی. او دَ بندهٔ کمال ځان عاجز او کمزورے گنړل دی. دَ چا په زړهٔ کښے چه دَ الله تعالیٰ عظمت کینی. هغه ځان هیڅ شے نهٔ گنړی. څوک چه دَ رستم او دَ حاتم سخاوت تذکوری. ځانته قوی او سخی نشی ویلے. دَ چا په نظر کښے چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم عِلم دے. هغه ځانته عالِم نشی ویلے. نن صبا دا لیونتوب عام دے. چه دَ خَهٔ لږ غوندے کمال خاوند شی. نو ځان ورته ډیر لوئے سړے ښکاری. په ښځو کښے خو دا مرض ډیر زیات دے. که لږ غوندے دَ مونځ روژے پابندی اوکړی. نو ځان ورته رابعه بصریه نه زیات ښکاری او بل سپک. دا ځکه چه تربیت ئے نهٔ وی شوے. صرف دَ کتابونو نه ئے دین زده کړے وی.

دَدے مثال دا سے دے. لکه څوک خپله دَ طب کتابونه گوری. نسخے ترے زده کړی بیا مریضانو ته دوایانے ورکوی. نو دَ فائدے په ځائے پکښے دَ نقصان خطره زیاته وی. څو پورے چه ئے دَ پوهه حکیم سره مطب کښے وخت نهٔ وی تیر کړے.

چونکه دَ ښځو اخلاقی تربیت نهٔ وی شوے. چا کامل مُربی ته رجوع نشی کولے په خپله چه څهٔ پوهیږی هغه کوی. نو ځان ورته با کماله او لوئے ښکاره شی.



Scanned with CamScanner

یوه جینۍ دَ مونځ روژے پابنده وه. اتفاق سره داسے هلک ته واده شوه. چه هغه آزادخیال وو. دَ مونځ روژے پابندی ئے نهٔ کوله. نو دے جینۍ به ډیر افسوس کولو چه زهٔ ډیره بدقسمته یم په داسے سړی واوړیدم. حالانکه هغه کم عقله پردے نهٔ پوهیده چه که دا دَ مونځ روژے پابندی کوی نو خپله فائده ئے ده. په بل چا ئے څهٔ احسان دے؟ اوکه هغه ئے پابندی نهٔ کوی نو خپل تاوان ئے دے. دے ته ئے څهٔ نقصان دے. یو بنده که څهٔ بیمارئ دَپاره داروخکی. نو آیا هغه په دے فخر کولے شی چه زهٔ ډیر ښهٔ سړے یم. دارو څکم. دغه حال دَ عبادت هم دے. که څوک ئے کوی نو خپله غاړه خلاصه وی. خپله فائده ئے ده په بل چا ئے څه احسان نشته. او عبادت ته چه حقوق الله ویلے شی نو دَ هغے مطلب دا نهٔ دے چه کونے په دے الله ته څهٔ فائده رسی. یا دَ هغه حق پِه خلاصیږی. بنده ته خو دا کتل پکار دی چه په مونږ دَ الله تعالیٰ څومره احسانونه دی. او مونږ ته ئے څومره نعمتونه راکړی دی. که دَ الله تعالیٰ نعمتونو او احسانونو ته اوکتے شی. نو څمونږ عبادت دَ هغے په مقابله کښے هیڅ شے هم نهٔ دے. اوکوم ځائے چه دَ فرشتو ولیانو او پیغمبرانو دَ عبادت ډیری پرانتهٔ دی. هلته څمونږ دا بے اخلاصه تش دَ نوم عبادت. دَ لعلو او جواهرو په ډیرو کښے دَ ټیکرو په مثال دے. په حقیقت کښے دا خو دَ الله تعالیٰ غټ احسان دے. چه څمونږ عبادت قبلوی.

دَ دے مثال داسے دے. لکه یو ناپوهه خادم دَ خپل مخدوم خدمت بے دَ هغهٔ دَ ضرورت نه هُم دَ هغهٔ دَ طبیعت موافق اونهٔ کړی. بلکه په داسے طریقه ئے اوکړی. چه هغهٔ ته دَ آرام په ځائے تکلیف اورسوی. خو هغه دَ خپل خوش اخلاقئ په وجه غلے پاتے شی. دا تکلیف برداشت کړی. او خادم ته څهٔ اونهٔ وائی. نو دا خادم دَ خپلے ناپوهئ په وجه زړهٔ کښے وائی چه ما لوئے کار اوکړو. دَ صاحب ډیر خدمت مِ اوکړو. صاحب به رانه ډیر خوشاله شوے وی. لیکن حقیقت دا دے چه لوئے کار خو هغه مخدوم اوکړو. چه داسے بے جوړه خدمت ئے قبول کړو.

اوکورئ. دا عقلی او شرعی قاعده ده. چه دَ کامل او ناقص مجموعه ناقص وی. او دَ



Scanned with CamScanner

پاک او ناپاک مجموعه ناپاک وی. نو څوونږ مونځ چه دَ وسوسو خطراتو او خلافِ سُنت او خلافِ خشوع کارونو نه ډک وی. نو دا مونځ کامل څنګه شو.

په دغه بِنا خو حدیث شریف کښې راغلی دی. چه حضورؐ یو مونځ ګُذار او لیدو چه تعدِیلِ ارکان ئې نهٔ کولو. (یعنی دَ رکوع نه نیغ نهٔ اُودریدو قومه ئې نهٔ کوله. او دوارو سجدو مینځ کښې نیغ نهٔ کیناستو. جلسه ئې نهٔ کوله) حضورؐ ورته اُوفرمائیل. صَلِّ فَاِنَّکَ لَمْ تُصَلِّ (مونځ بیا اوکړه. مونځ دِ نهٔ دے کړے) دَ دے حدیث شریف په آخر کښې دی. چه حضورؐ هغهٔ ته دَ مانځهٔ پوره چل او ښیلو. چه دَ رکوع نه نیغ اُودریږه. او دَ دوؤ سجدو ترمینځهٔ سَم کینه (دے ته تعدیل ویلے شی) بیا ئې اوفرمائیل. په تعدیل کښې چه څومره کمے وی دغه هومره به مانځهٔ کښې هُم کمے وی. دَ دے جُملے په وجه فقهاؤ دا مسئله معلومه کړی ده. چه که تعدیل څوک اُونهٔ کړی نو مونځ ئې کیږی خو ناقص. کنی په ظاهره خو دَ حدیث شریف نه دا معلومیږی چه مونځ ئې بالکل نهٔ کیږی. (ځکه چه حضورؐ په هغه سړی دَ درے ځله مونځ بیا بیا ګرزولے وو) دا خالص دَ الله رحمت دے. چه څوونږ دا ناقص عبادت. عبادت ګڼړلے شی. نو په داسے عبادت خوشالیدل او فخر کول غټ جهالت دے. دَ دے فخر او کبر منشا ناپوهی ده. نو څومره چه دَ عقل او علم کمے وی. دومره دَ کبر او غرور مرض زیات وی. چنانچه دَ سړو په نسبت په ښځو کښې دَ فخر او غرور مرض زیات دے.

غرض دا چه خپل غیر اختیاری نقص باندے که ئې نظر وی او خیال ئې ساتی. نو دَ فخر او غرور مرض کښې کمے راتلے شی. مخکښې بیان شوی دی چه دلته دَ ښځو دوه غیرِ اختیاری نقصا ... نه ښیلی شوی دی. یو دَ عقل نقصان. او بل دَ دین نقصان. دَ عقل کمے خو ئې حضورؐ په دے واضح کړو. چه دَ دوو ښځو ګواهی دَ یو سړی برابر ده. دے نه معلومه شوه چه دَ ښځو عقل کم دے. نن صبا څوک دا سوال کولے شی. چه دَ دوو ښځو ګواهی دَ یو سړی برابر ولے ده؟ مساوی ولے نهٔ دی؟

نو دَ دے اصلی جواب خو دا دے. چه دَ الله تعالیٰ دا حکم دے. او هغه خپل بندیان ښهٔ پیژنی. څهٔ حکمت به پکښې ضرور وی. جواب خو ئې دا کافی دے. لیکن مونږ احسانی دا وایو. چه دَ



Scanned with CamScanner

ښځو فطرتاً پیدائشی کمزوری ده. ټول طاقتونه او جسمانی اندامونه ئې د سړو په مقابله کښې کمزوری دی. او دا څرګنده خبره ده. دلیل ته ئې حاجت نشته. او چه ټول خِلقت ئې کمزوری وی. نو حافظه به ئې هم کمزورې وی. او د ګواهۍ مدار په حافظه دے. ځکه د دوو ښځو ګواهی د یو سړی برابر ده. او حافظه د عقل مددګاره ده. نو چه حافظه کمزورې شوه عقل ئې هم کمزورے شو.

پاتے شو دا سوال چه الله تعالیٰ ښځے دا سے کمزورې ولے پیدا کړی دی. نو د دے جواب دا دے. چه په دے کښې د تمدّن حفاظت دے. تر څو پورے چه د یو بل تابع او محتاج نۀ وی تمدّن محفوظ نشی پاتے کیدے. دوه مساوی د یو بل تابع کیدے نشی. (په دے وجه نارینه هم ټول د یو طاقت او یو شان عقل خاوندان نۀ دی پیدا شوی. چه یو بل ته محتاج وی او د دُنیا نظام چلیږی) الله تعالیٰ فرمائی. اَلرِّجَالُ قَوّٰامُوْنَ عَلَی النِّسَآءِ (سړی په ښځو سرداران دی) او د دے وجه مخکښے بیانیږی بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلٰی بَعْضٍ (ځکه چه الله تعالیٰ ځنې مخلوق ته په نورو فضیلت ورکړے دے) نو سړی متبوع دی او ښځے تابع. سړی حاکمان دی او ښځے محکوم) او چا چه د دے عکس کار کړے دے. ښځے ئې متبوع کړی دی او سړی تابع د هغے نقصان واضح دے. نن صبا د اَلرِّجَالُ قَوّٰامُوْنَ عَلَی النِّسَآءِ معنیٰ کیږی. سړی د ښځو خادمان دی. د قَوّٰام معنیٰ خادم کوی د سردار په ځائے۔ سُبْحَانَ اللّٰهِ. څۀ عجیبه تفسیر دے. د دے مفسّر صاحب نۀ د ښوک ټپوس او کړی. چه بیا نو د بِمَا فَضَّلَ اللّٰهُ بَعْضَهُمْ عَلٰی بَعْضٍ څۀ معنیٰ ده. که هغه دا جرأت او کړی. او اووائی چه دلته هم د بَعْضُهُمْ نه مراد ښځے دی. یعنی ښځو ته فضیلت ورکړے شوے دے په سړو. ځکه ئې سړی خادمان دی. نو خیر د یو ساعت د پاره به ئې اُومنو. خو لږه مهربانی به او کړی. د دریم ټکړے معنیٰ به هم او کړی. مخکښے دا ځی وَبِمَا اَنْفَقُوْا مِنْ اَمْوَالِهِمْ. (د فضیلت په وجه هم سړے سردار دے. او په دے وجه هم چه سړی خپل مالونه خرچ کوی. د ښځو ټول اخراجات برداشت کوی او مهر هم ورکوی) دلته خو یقیناً ضمیر رجال ته راجع دے. ځکه چه مال سړی لګوی. نو آیا د فَضَّلَ اللّٰهُ هغه تفسیر سراسر



Scanned with CamScanner

غلط او دَ قرآن تحریف نهٔ دے ؟ که دا معنیٰ ئے وے. نو دَ قَوّٰامُوْنَ عَلَی النِّسَآءِ په ځائے به قَوّٰامُوْنَ لِلنِّسَآءِ وو. ځکه چه عَلٰی دَ تسلط دَ پاره راځی. او لام دَ فائدے دَ پاره ده۔

خلاصه دا چه سړی دَ ښځونه پیدائشی افضل دی. لکه چه بل ځائے کښے ارشاد دے: اَفَمَنْ یُّنَشَّؤُا فِی الْحِلْیَةِ وَ هُوَ فِی الْخِصَامِ غَیْرُ مُبِیْنٍ ۝ مشرکانو به فرښتو ته دَ الله لونړه وے. په دے آیت مبارک کښے دَ دے هغوئی دَ دے غلطے عقیدے رد په دے طریقه شوے دے. چه فرمائی. آیا تاسو دَ داسے کمزوری مخلوق نسبت الله ته کوئی. کوم چه هیشه دَ کالو او سنګار په فکر کښے پرورش موندی. او دَ مقابلے په وخت کښے ئے دَ بیان طاقت کمزورے دے. (دلائل بنهٔ نهٔ شی ورکولے) واقعی دَ ښځو دا دوه کمزورئ ښکاره کیږی دی. شپه ورځ دَ ځان جوړولو او کالو جامو په غم کښے اخته وی. دَ خپل ژوند مقصود ئے هم دا ګنړلے دے ذهن ئے دَ دے نه اخوا پرواز نشی کولے. دَ بحث او مناظرے په وخت کښے هسے اخوا دیخوا خبرے خو ډیرے کوی. لیکن دلائلو کښے ئے طاقت بالکل نهٔ وی.

ښځے دِ دا نهٔ وائی چه دا دَ کالو او جامو عادت خورا کښے مور پلار پیدا کړے دے. ځمونږ طبعی میلان نهٔ دے. دا غلطه ده. که مور پلار ورته کالی بالکل وانهٔ چوی هُم دَ جینکو فطری خواهش داوی. په تجربه دا ثابته ده. او دَ بل خبر متعلق که څوک دا او وائی چه بحث کښے ځکه کمزوری دی. چه تعلیم ئے کم وی او تربیت ئے نهٔ وی شوے. که تعلیم و تربیت ئے شوے وے. نو داسے به نهٔ وے. دا هم غلطه ده. ځکه چه تعلیم یافته ښځے هُم اکثر تقریرونه په سړو لیکی.

دا حکمتونه خو مونږ احسانی بیان کړل. جواب دا کافی وو. چه دَ الله حکم دے څهٔ حکمت به ورکښے ضرور وی. مونږ ته ئے دَ معلومولو څهٔ ضرورت نشته. مونږ ته خو حکم منل او عمل کول پکار دی. په داسے فضول خبرو وخت بربادول بے فائدے دی. مونږ ته په دے بحث کښے څهٔ خیر دے. چه فلانے کامل ولے دے. او فلانے ناقص ولے دے مونږ ته خو دَ دے په نتیجه او احکامو دَ عمل ضرورت دے۔



Scanned with CamScanner

دَدے تقریر نه معلومه شوه. د ښځو د عقل کمه پیدائشی او غیراختیاری دے. او دغه شان دینی نقصان ئے هم پیدائشی او غیراختیاری دے. (یعنی میاشت کښے څو ورځے مونځ روژه ترک کول ئے ظاهره ده. چه غیراختیاری دی) البته درے نقصانه ورکښے اختیاری دی - چه که کوشش اوکړی نو لرے کولے ئے شی - د خاوندانو ناشکری کول. لعنت ویل - او سړے خطا کول. (دپه غلطو کارونو ئے مجبورکول) چونکه دا درے واړه کارونه اختیاری دی - نو دے ته د نقصان په ځائے شر ویل مناسب دی -

حاصل دا چه ښځو کښے دوه نقصانه فطری دی - او درے شرارتونه اختیاری دی. نو د دے دوو خو فکر بے فائدے دے. ځکه چه دا فطری دی. لرے کیدے نشی. بلکه د دے ارمان کول هم منع دی.

حدیث شریف کښے راځی - چه اُمّ المؤمنین حضرت سلمه رضی الله عنها چه کله د سړو فضائل واوریدل - نو اوئے فرمائیل. یَا لَیْتَنَا کُنَّا رِجَالاً - ارمان دے که مونږ سړی وے یعنی مونږ به هم دا درجے حاصلے کړی وے. په دے بانده دا آیت مبارک نازل شو. وَلَا تَتَمَنَّوْا مَا فَضَّلَ اللّٰهُ بِهٖ بَعْضَکُمْ عَلٰی بَعْضٍ ط (او تاسو تمنا مه کوئ د هغه شی چه الله تعالیٰ پکښے ځنو کسانو ته په ځنے نورو فضیلت ورکړے دے) یعنی خلقی فضیلت. مخکښے ارشاد دے لِلرِّجَالِ نَصِیْبٌ مِّمَّا اکْتَسَبُوْا وَ لِلنِّسَآءِ نَصِیْبٌ مِّمَّا اکْتَسَبْنَ ط (د سړو دپاره حصه ده د هغے اعمالونه کوم چه دوئ کوی. او د ښځو دپاره حصه ده د هغے اعمالونه کوم چه دوئ کوی) یعنی فطری فضیلت پسے ارمان مه کوئ. په عمل کښے کوشش اوکړئ کوم فضیلت چه په عمل حاصلیږی. هغے کښے سړی او ښځے یوشان دی. نو په عمل کښے کوشش اوکړئ چه د سړو سره مساوی درجه حاصله کړئ.

په دے کښے دا شک کیدے شی چه اووائی که مونږ ډیر کوشش اوکړو. بیا هم ناقصے به یُو. هغه نقصان خو نشی پوره کیدے. نو د دے په جواب کښے ارشاد دے. وَاسْئَلُوا اللّٰهَ مِنْ فَضْلِهٖ - (او د الله نه د هغهٔ د فضل سوال کوئ) مطلب دا چه نیکئ کښے کوشش کوئ او الله نه د فضل سوال کوئ. چه د الله فضل درباندے اوشی. نو د سړو نه زیاتیدے هم شی -

الله تعالیٰ به د ډیر عمل توفیق درکړی. یا به د اخلاص په برکت د لږ عمل ډیر ثواب درکړی.)

غرض دا چه کوم غیر اختیاری نقص دے د هغې غم فضول دے. او کوم چه اختیاری نقص دے. کوم ته چه مونږ شرارت اووے. د هغې اصلاح ضروری ده. هغه کل درے خبرے دی. ډیر لعن طعن کول. یو بل پسے بد رد ویل. او د خاوندانو ناشکری کول. او هوښیار سړے تیر ویستل. مونږ وینو چه د ښځو سحر نه تر ماښامه دا کار دے. چه چا سره ئے ورانه وی. توله ورځ به د هغوئ غیبت کوی. او که د چا سره ئے جوړه وی هم هغې به ښیرے آزار کوی. توله ورځ به په نسه خبره کوریږی. خپل اولاد ته هم په معمولی خبره ښیرے آزار کوی. خپل ځان ته هم کوی. هر څیز ته کوی. د ملامتے قابل شے وی که نه وی. ښیادم ته څاروو ته هر شی ته لګیا وی ښیرے آزار کوی.

یا دلرئ. ځنې وخت د قبلیدو وی. هغه آزار ئے اولږی. او بیا ښیپیمانه وی.

(حضرت تهانوی فرمائی) ځمونږ په محلت کښے یو سړے کوزن وهلے دے. د کټه پاخیدے نشی په وړوکوالی کښے ورته چرته په خځه ورانی د مور د خولے نه ختی دی." وئی ته د کټه پا مه څې". بس هغه ښیرې په لګیدلی ده. اوس د کټه پاخیدے نشی. نو هم هغه مورئے په تکلیف ده اوس ورته ژاړی.

د خاوند ناشکری هم د ښځو غټ مرض دے. که هر څومره ورکوے هغه لږ دی. خوشالیږی هیڅرے نه. مولوی عبد الرب صاحب واعظ دهلی واله به وے. ښځو سره هر څومره جامے که وی. چه تپوس ترے اوکړے وائی به ځما خوارے سره څه دی. یو څو چړے. که هر څومره پیزاروند ورسره وی چه تپوس اوکړے وائی به څه دی خو دوه څلور چیترے. که کورئے د لونبو ډک وی. وائی به څه دی خو دوه درے کودری.

یوے ښځے خپله وے ځمونږ حال خو د دوزخ دے. چه ورته او وئیلے شو هَلِ امْتَلَأْتِ (آیا ډک شوے ئے؟) نو هغه وائی هَلْ مِنْ مَّزِيْدٍ. (نور شته څه؟)

یو مرض ئے بل هم دے چه هغه هم د ناشکرئ یو شاخ دے. یو شے ئے پکار وی که نه.

بنډ وی که خراب. خو چه خوښ ئې شي نو اخلي ئې ضرور. او وائي کور کښې چه شے وي پکار راځي. دا ناشکري څکه ده. چه د خاوند مال برباد ول دي. خپل مال بے ځایه لګول هم ناشکري ده. بلکه ارشاد دے. إِنَّ الْمُبَذِّرِيْنَ كَانُوْا إِخْوَانَ الشَّيَاطِيْنِ ط وَكَانَ الشَّيْطَانُ لِرَبِّهٖ كَفُوْرًا ۝ (بے شکه بے ځایه خرچ کوونکي د شیطانانو رونړه دي. او شیطان د خپل رب ناشکره دے) او چه مال ئې خپل هم نه وي د خاوند ئې وي. او بے ځایه خرچ کولے شي. نو د الله د ناشکرۍ سره سره د خاوند ناشکري هم شوه د بله ګناه شوه. نو مسلمان ته خو د بے ځایه خرچ نه ځان ډیر بچ کول پکار دي. (د شیطان رور کیدل به څوک خوښ کړي) او بے ضرورته شے اخستل یقیناً بے ځایه خرچ دے. حدیث شریف دے. نَهٰى رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ إِضَاعَةِ الْمَالِ. (رسول الله صلی الله علیه وسلم د مال برباد ولو نه یعني بے ځایه خرچ کولو نه مونږ منع کړي یو) نن صبا په اکثرو کورونو کښې او خاص په مالدارو کورونو کښې ډیر اسراف کیږي. دا سے لوښي اخلي چه قیمت ئې ډیر وي. او مضبوطیا ئې هیڅ هم نه وي. او د ضرورت نه زیات اخلي. ډیر کورونو کښې دومره لوښي وي چه په کال کښې ئې هم د استعمال ضرورت نه راځي. بلکه ټول عمر کښې هم چرته استعمال نشي. په جامو کښې هم ډیرا سراف کیږي. ډیرے ګرانے او ډیرے باریکے کپړے اخلي چه د اسراف نه علاوه شریعت کښې د هغے استعمال هم منع دے. حدیث شریف دے. لَعَنَ اللّٰهُ الْكَاسِيَاتِ الْعَارِيَاتِ. (د الله لعنت دے په داسے ښځو چه جامے ئې اغوستي وي او وي بربنډے) (یعني داسے نرۍ جامے وي چه بدن پکښې ښکاري. مترجم) نرۍ جامه چه زړه شي نو د هیڅ کار نه شي او غټه جامه که زړه شي هم د چا غریب پکار راشي.

د دے ټول مصیبت وجه دا ده. چه هره ښځه دا غواړي. چه ځما د جوړے په شان د بل چا جوړه نه وے. ځما د کالي په شان د بل چا کالے نه وے. خپل حیثیت او د خاوند آمدن ته نه ګوري. او په کالو جامو او د کور په هر څیز کښې په فخر لوټي او سیالئ لګیا وي. بل ته ښیلو او په بل د زیاتید کوشش کښے لګیا وي. دا خو د روزانه کار خبره وه. که چرته ښادي وي نو بیا خو ئې تپوس مه کوه. چه څه کار کوي د نمائش د پاره او د ناموس د پاره ئې کوي.

ځنې ښځې وائي چه مونږ اوس رواجونه پریښي دي. بیشکه کوم دَ شرک او بدعت رواجونه ېونږه تو تکې چه دَ جهالت په وجه وے. هغه اکثرو کورونو پریښي دي. لیکن کوم رواجونه چه دَ نوم ناموس او کبر لوئي دي. هغه دَ مخکښې نه اوس زیات شوي دي. پخواني ساده خلق وو. دومره بے ځایه خرڅونه او دَ نوم ناموس کارونه ئې نهٔ کول. اوس خو تش په خوراک کښې دومره اسراف کیږي چه څهٔ حد ئې نشته. په بناد یو کښې پلاؤ زردے بیلے وی. حلوا فرنئ بیلے. آچارونه چټنئ او څو څو ترکارئ بیلے وی. او اکثر برباد شی. یو څو څیزونه پکښې او خوړے شی. نور ضائع شی.

په جامو کښې چه کوم زیاتے کیږي. هغه خو دَ بیان نه بهر دے. ناوی سره په داج کښې دَ زرګونو روپو جامے لاړے شی. اکثر ورستے او برباد ے شی. ترمرګه ئې دَا غوستو وار رانشی. دَ داج دَ جامونه علاوه هلک او دَ هلک خپلو خپلوانو ته ډیرے جوړے کیږي او اکثر دَ هغوئ خوښه هم نشی څهٔ عیب پکښې را او باسی او دَ جنګ و خفګان بنیاد جوړ شی. تاوان ئې برباد لاړ شی. او زړهٔ بد اوے ئې زیاتی کیږه شی.

دَ دے دَ پاڅه هم یا دا دعوے کوي. چه مونږ رواجونه پریښي دي. ځنې خلق وائي مونږ خو دَ داج نمائش (دَ جنج خلقو ته داج ښیل) بند کړے دے. که په دے وخت ئې او نهٔ کړی نو څهٔ. په کلی کښې خو چه په کالونو دَا سامان راجمع شوے وی. نو وار په وار ټولو خپلوانو ته بلکه دَ هلک دَ طرفه چه څوک په میلمستیا چرته راغلی وی. ټولو ته څو څو ځله ښیلے شوے وی. او ښهٔ شهرت ئې شوے وی. دَ راوړو په وخت کښې هُم خلق خبرولے شی. چه نن دَ فلانی ځائے نه جوړو راوړو پسے بندیان لاړ دی. نن دَ فلانی ځائے نه لوښی راځی. وغیره. دغه شان موقع په موقع شهرت به ورکولے شی.

او بیا دَ وادهٔ په ورځ دَ هلک کور کښې دَ جینئ دَ پلار دَ کور سامان ټولو ته ښیلے شی او دَ ډولئ سره په دے غرض استولے شی چه شهرت ئې او شی. که صرف جینئ ته خیر رسول او نوے کور آبادول غرض وے. نو په کټه کښې دَ سامان استولو څهٔ ضرورت دو؟ اکثر پکښې څهٔ ورک شی او څهٔ مات ګوډ شی. بیا چه چرته جینئ پلار کره راغلے وے. نو په قلاره

به ئې چه ځه زړه غوښتو ورکړی وو. دَ هغې فائده بر هم شوی وه. او دَ ریا نه به هم بچ وو. لیکن دا سے څوک چرته کوی. بیا خو نوم ناموس نه کیږی. او اصل غرض خو ئې دغه وی.

دریم شر هوښیار سړے تیر ویستل دی. مونږ اکثر وینو. چه ښځې دَ خپل مطلب خبره ځه دا سے په چَلْ وَلْ اوکړی چه که ډیر هوښیار سړے وی. هُم به خطا شی. دَ ښځو په ژبه کښې قدرتی ځه دا سے تاثیر دے چه سړے به خطا کیږی. سمه خبره دا ده. چه مکر او چالاکئ کښې ښځے په سړو زیاتے دی. چالاکی بیل شے دے. او عقل بیل شے دے. شیطان ډیر چالاک او مکار وو. خو عقل پکښې نهٔ وو. نو خطا شو. چه حکم ورته او شو. آدم علیه السلام ته سجده اوکړه. نو انکار ئې اوکړو. او ئې وے زهٔ دَ هغهٔ نه بهتریم نو سجده ورته څنګه اوکړم او ئې وے. خَلَقْتَنِیْ مِنْ نَّارٍ وَّ خَلَقْتَهٗ مِنْ طِیْنٍ ۵ (زهٔ دِ دَ اُور نه پیدا کړے یم. او هغه دَ خټے نه) لوئی ئې اوکړه او دا سوچ ئې اونهٔ کړو چه دا دَ الله حکم دے. ضرور به پکښې څهٔ حکمت وی. او دا حکمت خو ئې څرګند وو. چه فرمائیلی وو. اِنِّیْ جَاعِلٌ فِی الْاَرْضِ خَلِیْفَةً (زهٔ په زمکه کښې یو خپل نائب جوړوونکے یم) او دا طریقه ده چه بادشاه چه یو جانشین په تخت کینوی. نو خلق ورته نذرانے او تحفے ورکوی. او کومه طریقه چه ئې بادشاه سره کوله. هغه ئې اوس دَ نائب سره کوی. ځکه چه دلته حکم اوشو. چه ما ته مو سجده کوله. اوس ځما نائب ته سجده اوکړئ. البته دا فرق دے. چه الله تعالیٰ ته چه کومه سجده کیده هغه دَ عبادت وه. او آدم علیه السّلام ته چه کومه سجده کیده. دا دَ تعظیم او دَ خلافت دَ مبارکئ سجده وه. شیطان په دومره غټه خبره پوئے نشو. نو معلومه شوه. چه عقل پکښې نشته. البته چالاک او مکار ډیر دے.

په چالاکئ پورے دا ته دَ یو اُستاذ قصه رایاده شوه. چا ورته پتاسے راوړی دی. هغهٔ دَ خاورے په لوښه کښې واچولے. سړئ وربا ندے په خټه لیو کړو. چه واړه ئې رانه اونهٔ خوری. ډیرو ورته صلاح اوکړه. چه ځهٔ دا سے چل پکار دے. چه مونږ پتاسے اوخورو. او اُستاذ صاحب خبر نشی. په ښبنکوری ئې لوښه کښے اوبهٔ واچولے. پتاسے اُوبهٔ شوے. شربت ورو اوڅکلو. او دَ لوښے سَرْ هغه شان بند وو. اُستاذ ترے خبر نشو. نو اوس څوک دا نشی ویلے

چه دا واړه ډیر هوښیار وو۔ بلکه وائی چه ډیر چالاک او شریران وو۔ ځکه چه عقل تقاضا خو دا وه چه د اُستاذ خدمت ئے کولے۔ هغهٔ ته ئے ځیزونه راوړے۔ دا نه چه د هغهٔ نقصان ئے کولے۔

په لُغت کښے د عقل معنیٰ ده تړل۔ عقل هغه دے چه بندهٔ د خرابو کارونو نه بند کړی۔ منع ئے کړی۔ شا دو هم عجیبه عجیبه حرکتونه کوی۔ خو دا څوک نهٔ وائی چه ډیره هوښیاره ده۔ بلکه وائی چه ډیره شریره او مکاره ده۔

غرض دا چه عقل بیل شے دے۔ چالاکی او مکاری بیل شے دے۔ عقل محمود دے۔ او چالاکی مذموم۔ دا څهٔ کمال نهٔ دے۔ چه بل ته نقصان اورسولے شی۔ او دا هم کمال نهٔ دے چه ځان د نقصان نه بچ نهٔ کړے شی۔ بلکه بے عقلی ده۔ حدیث شریف دے لَا یُلْدَغُ الْمُؤْمِنُ مِنْ جُحْرٍ وَاحِدٍ مَرَّتَيْنِ۔ (مسلمان د یو سوړے نه دوه ځله نشی چیچلے۔) یعنی مسلمان ته چه یو ځائے کښے څهٔ نقصان اورسی نو بیا د هغے نه ځان ساتی۔ یعنی چه یو سړے ورسره یو ځل څهٔ چلکی اوکړی۔ نو په هغهٔ بیا اعتبار نهٔ کوی ځان ترے ساتی۔ نو معلومه شوه چه مسلمان به دومره بیدار ضروروی چه ځان د نقصان نه بچ کړے شی۔ ځکه دین ته فائده همیشه د عاقلانو نه رسیدلی ده۔ پیغمبران او د دین مشران چه څومره تیر شوی دی۔ ټول ډیر عاقلان وو۔ تاسو به دانهٔ وی اوریدلی چه یو پیغمبر هم چرته ناپوهه او بے عقله تیر شوے دے۔ البته مکر او چالاکی پکښے نهٔ وه۔ عقل او حکمت ئے اعلیٰ درجه وو۔ ځکه ورته الله تعالیٰ خپل خلیفه ویلے دے۔

نو په ښځو کښے چالاکی او مکر خو ډیر دے۔ عقل پکښے نشته۔ او د دے مکر په وجه هوښیار سړے خطا کړی۔ ځانته تنهائی کښے ورته داسے داسے خبرے جوړے کړی۔ چه سړے ځان ته را واړوی۔ او د مور پلار نه او خپلو خپلوانو نه ئے زړهٔ بد کړی۔

ښځه چه واده شی نو اول کوشش ئے داوی۔ چه سړے د مور پلار نه جدا کړی۔ دا څهٔ ظلم دے۔ کومے مور چه ورباندے د خپل زړهٔ وینے څکولی وی۔ په خوارو او تکلیفونو ئے لوئے کړے وی۔ خپل ځان ئے په تکلیف کړے وی۔ او بچی ته ئے آرام رسولے وی۔ او کوم پلار چه په سرو میږونو خواری مزدوری کړی وی۔ سفرے ئے کړی وی او دا بچی ئے لوئے کړے وی۔ آیا د هغوئی دِ دومره

کړائۍ او محنت بدل له دا دی چه دَ زړهٔ خوښې توړے جُدا کړے شی۔

چه دا منترنے او چلیږی. خاوند دَ مور پلار نه جُدا کړی. نو بیا هم که هغه دَ مور پلار سره څهٔ امداد کوی. څهٔ شے وَس ورکوی. نو دَ هغې نه ئې هم منع کوی. او ورته وائی چه کیه دِ په مور پلار رخوروے. نو زهٔ څهٔ نه ناسته یم. وغیره وغیره۔

دَ مور پلار، رونړو خویانډو۔ او دَ بلې ښځې اولاد که ئے وی. دَ دے ټولو نه ئې په ځاړوله زړهٔ بدے او ویزاره کړی. شپه ورځ په دے فکر کښې وی. چه څما او څما دَ اولاد نه بغیر دَ بل چا سرهٔ خوږه خبره قدرے هم اونهٔ کړی. هم دَ دے ښځو په برکت ډیرے ټبرے خپلو کښې بے اتفاقه او په جنګ جګړو او مقدمو آخته شوی دی. په سړو کښې هم دا کمزوری ده چه دَ ښځو خبرے اوری۔ او عمل پرِ کوی۔

اوخپله ښځو کښې دَ دے ناشکرئ او سړو خطا کولو دوه وجهے دی. یو[1] خو دَ ښځو دا غلط خیال دے چه مونږ هم دَ سړو سرهٔ برابر یو څهٔ کمے ورنه نهٔ یو. او دَ مساوات دے خیال په دوئ غلبه کړی ده چه په خبرو کښې په سړو ځان زیاتول غواړی. خاوند چه ورته څهٔ وائی. دے ورته جواب تیار ساتلے وی. معقول وی که نا معقوله. خو جواب ضرور ورکوی. یوه خبره بے جوابه نهٔ پریږدی نو دا دَ کُفْرَانِ عَشِیْر۔ یعنی دَ سړو دَ ناشکرئ موقع اکثر دَ دے مساوات دَ دعوے په وجه پیدا کیږی.

اوس زهٔ دَ هغې صاحبانو نه یو تپوس کوم. ځوک چه دَ ښځې خاوند په حقونو کښې دَ مساوات دعویدار دی. چه آیا ستا خپله بیګم صاحبه که تا سره دَ مساوات سلوک اوکړی۔ او دَ هرے خبرے جواب تهٔ درته اُودریږی۔ نو ربښتیا وایه. ستا به څهٔ حال وی. آیا په دے صورتِ حال به خفه نهٔ ئے؟ ضرور به خفه ئے۔ ځکه چه هر سړے دا غواړی چه څما اهل و عیال دِ څما تابعدار وی۔ او خاص دا دَ نوی فیشن عاشقان خو دَ ښځو عام حقونه هُم نهٔ اداکوی. کوم چه اسلام ښځو ته ورکړی دی۔

اوس زهٔ ښځو ته خطاب کوم۔ اے بیبیانو تاسو سړو سره برابرے نهٔ ئئ۔ دا غلطیا[1] پریږدئ۔ اوکورئ. تاسو الله تعالیٰ په هر کار کښې دَ سړو نه روستو ساتلی ئی۔ دَ ښځو امامتی جائز



Scanned with CamScanner

نهٔ دہ. په میراث. شهادت. آمارت. ولایت ټولو کښې دَ سړونه کمے ساتلی شوی ئی. نو بیا دَ برا برئ کوشش ولے کوئی. دَ امام ابوحنیفهؒ په مسلک که ښځه دَ امامتیٔ مانځهٔ کښې سړو سره په صف کښې یوشان برابر اُودریږی. نو دَ خوا کښې ولاړ سړی مونځ نهٔ کیږی. چه عبادت کښې دَ زیات عقل ضرورت نشته هغے کښې هُم مساوی نهٔ ئی. نو دَ عقل او طاقت کارونو کښې به څنګه مساوی شی.

تاسو به سړو سره څنګه مساوی شئ. چه حدیث شریف کښې راغلی دی. حضور صلی الله علیه وسلم فرمائی. که ما دَ الله نه غیر بل چا دَ پاره دَ سجدے اجازت ورکولے. نو ښځو ته به م وئیلی وو. چه خپلو خاوند انو ته سجده کوئی. اوکورئ. دائے نهٔ دی فرمائیلی چه ونیځے ته به م حکم کړے وو. چه خپل مالک ته سجده کوئی. نو دَ دے حدیث مبارک په موجب ښځے ته دَ خپل خاوند دَ دے نه زیاته تابعداری پکار ده. څومره چه وینځه دَ خپل مالک کوی. لیکن تاسو خو خپل خاوند ته سر ټیټول شرم ګڼرئ. دَ خاوند تابعداری درته دَ دین کار نهٔ ښکاری. که دَ چا ډیر دَ دینداریٔ شوق وی. نو تسبیح به راواخلی. ذکر به ډیر اوکړی. لیکن دَ خاوند ادب به نهٔ کوی. زهٔ درته وایم دَ وظیفو درجه ډیره روستو ده. ډیر ثواب په هغه کار کښې دے. کوم چه دَ نفس خلاف وی. دَ دین په کارونو کښې چه خلقو وظیفے ډیرے خوښے کړی دی. نو په دے کښې هم دَ نفس یو پټ مکر دے. او هغه دا. چه په وظیفو ئے خلق نیکه او دینداره اوګڼری نو قدر او عزت ئے کوی. او نفس په دے خوشالیږی. او دَ خاوند تابعداری څوک دَ دین کار نهٔ ګڼری. نو دَ نیکیٔ شهرت ئے نهٔ کیږی. او دا دَ نفس خلاف کار دے. نو نفس په خفه کیږی. ځکه ترے خلق مخ اړوی.

نو یو خرابے خو دَ مساوات خیال دے. او دویم خرابے حسد دے. دا مرض په ښځو کښې ډیر زیات دے. په وړو وړو خبرو حسد کوی. مثلاً دا چه دَ مور پلار یا رونړو خویاندو سره امداد ولے کوی. که دوئ نهٔ وے. نو دا شے به هم ځما وو.

لیکن اے ښځو زهٔ په دے خبره ستاسو تعریف کوم. چه په تقدیر باندے ستاسو عقیده دَ سړونه مضبوطه ده. سړی خو پکښے ډیر شکونه کوی. او دَ عالمانو سره ډیر بحثونه کوی. لیکن ښځے

ور کښې شک نهٔ کوی. غاړه ئے وړته ایښی ده. لیکن زهٔ داوایم چه په دا موقعه ستاسو هغه دَ تقدیر عقیدهٔ چرته لاړه شی. په دے ښے پوهه شئ. چه کوم شے ستاسو په قسمت کښې وی. هغه بل څوک نشی تلے. اوکوم چه دَ بل چا قسمت کښې وی هغه تاسو نشئ اخستے. نو بیا په یوبل حسد ولے کوئ؟ اوهُم دَ دے حسد په وجه هیشه دَ بنو جنګ وی. لیکن دَ دے اقرار هیڅوک هم نهٔ کوی. شل خبرے به نوزے دا اوباسی. کله به وائی فلانئ کښې دا عیب دے. زهٔ دَ فلانئ نه په څهٔ کمه یم چه ما ته خاوند سپک اوکنل وغیره.

(حضرتؒ تهانویؒ فرمائی) څمونږ په بانډو کښې خاص طورسره دَ شرافت دعوه ډیره زیاته ده. دَ بل کلی سړے یا ښځه که هرڅومره دَاوچتے کورنئ وی. دوئ دَ ځان برابر نهٔ ګڼړی اوځان خو به دے کښې هم شک دَے. چه آیا مونږ چه دَ شرافت کومه دعوه کوو. دا صحیح هُم ده که نه۔ ځکه چه څومره شیخ زادګان چه دی (یعنی دَ دے کورنئ دَ خلفائے راشدینو اولاد) تو لڅوک ځانته صدیقی وائی. څوک فاروقی. څوک عثمانی۔ څوک علوی۔ اوڅوک انصاری. (یاد لرئ. حضرت تهانویؒ خپله فاروقی دے. مترجم) آیا دَ دے څلورو پنځو اصحابو نه علاوه دَ نورو اصحابو اولاد بالکل نهٔ وو؟ هیڅ هم دا او نهٔ وے. چه مونږ دَ حضرتؓ بلال حبشیؓ یا دَ حضرتؓ مقداد ابن اسودؓ اولادیو. تول خپل نسب مشهورو اصحابو ته رسوی. دَ چا سره چه خپلے نسب نامے نشته. خو څرګنده ده چه صِرف زبانی خبره ده. څهٔ اعتماد پرِ نشته. او چا سره چه نسب نامے شته هم بره نیکونو کښې ئے ډیر ګړبړ دی. پوخ یقین پرِ نشی کیدے.

څمونږ دَ تهانه بهون اکثر شیخ زادګان فاروقیان مشهور دی. لیکن تاریخی حیثیت سره پکښې شک شته. څمونږ بره نیکونو کښې ابراهیم ابن ادهم راځی. او دَ هغهٔ متعلق ډیر اختلاف دے. څوک وړته فاروقی. څوک عجلی. څوک تمیمی وائی. اوڅوک وړته زیدی سید وائی. دَ دے دومره اختلاف نه پس بیا څمونږ څهٔ حق دے چه اووایو فلانے قوم مونږ نه کم دے.

یاد لرئ. دَ قیامت په ورځ به دَ نسب تپوس نهٔ کیږی. صِرف دا تپوس به کیږی. مَا ذَا کَسَبْتَ. آخرت دَ پاره دِ څه کټه کړی ده؟ څومره نیکئ دِ جمعه کړی دی؟ او څومره بنیادم چه دی. آخری سَرْ دَ ټولو آدم علیه السّلام ته رسی. بیا زهٔ په دے نهٔ پوهیږم چه خلق خپل نسبت

حضرت آدم علیه السّلام ته ولے نهٔ کوی؟ - حقیقت خو دا دے چه مونږ ټول د یو نیکهٔ اولاد یو. ټول بنیادم یو برابر دی. که څوک اووائی - هغه ډیر لوے دے. نو دو نیکهٔ ته نسبت کیږی نوزهٔ وایم چه بیا د ټولونه نزدے څیز ته نسبت ولے نهٔ کیږی. چه ټول د یو شان ناپاکه اوبونه پیدادی. نو بیا ټول بنیادم یو شان شو. کم زیات پکښے نشته.

د یو بزرګ مخکښے یو سړے ډیر په کبر کښے ایغ بیغ تیر شو. هغهٔ ورته نصیحت اوکړو دومره غرورمهٔ کوه بنهٔ کارنهٔ دے. هغهٔ ورته اووے. ته ما پیژنے؟ څوک یم؟ هغے بزرګ جواب ورکړو. ډیر ډیر ښهٔ پیژنم. اَوَّلُکَ نُطْفَةٌ قَذِرَةٌ، وَاٰخِرُکَ جِیْفَةٌ مَذِرَةٌ۔ وَمَا بَیْنَ ذٰلِکَ تَحْمِلُ الْعَذِرَةَ - (بنیاد دِ ناپاکه نُطفه ده. او آخر انجام دِ بدبوئے مردار ده. او ترڈا مینځه ګندګی ګرځوے. (یعنی د ګندګئ نه ډکه خیټه ګرځے) حالت دِ دادے. دا دومره فخر او غروری په څهٔ کوے؟

د دے دا مطلب نهٔ دے. چه نسبی شرافت بالکل هیڅ شے نهٔ دے. واقعی په آخرت کښے خو هیڅ شے نهٔ دے. صرف خپل عمل بکار رائحی. لیکن دُنیا کښے بے کاره نهٔ دے. شریعت اهمیت ورکړے دے که په دُنیا کښے هم بے کاره وے. نو شریعت به د غیر کفو سره نکاح منع کړی نهٔ وه. او داقانون به نهٔ وو مقرر. اَلْاَئِمَّةُ مِنْ قُرَیْشٍ. (سرداران به د قریشو نه وی) د دے احکامونه صفا معلومیږی. چه شریعت د نسبی شرافت خیال ساتلے دے. او په دے کښے د تمدن حفاظت دے که ټول سره مساوی وے. نو هیچا به د بل خبره نهٔ منله. او هیچا به د بل کار نهٔ کولو. نو د دُنیا کارنشو چلیدے. نهٔ به نائی وو. نهٔ به دهوبی وو. نه به ترکانړ لوهار وو. او نهٔ به چا نوکرمونږ. د کم وزیات په دے فرق باندے د دنیا کار روان دے. اَلْاَئِمَّةُ مِنْ قُرَیْشٍ. حکم هُم د انتظامی مصلحت د پاره دے. الله تعالیٰ قریشو ته فضیلت ورکړے دے. چه سردار قریش وی. نو خلقو ته به د هغهٔ په حکم منلو شرم نهٔ ورځی. د بل چا حکم به د ڈا د زړهٔ نه نهٔ منی نو اختلاف به پیدا کیږی. او جګړے به جوړیږی. بله دا قاعدہ ده. چه ښهٔ د خپل خاندانی څیز ډیر حفاظت کوی. چه سردار قریش وی نو هغه به د دین حفاظت ښهٔ کوی. یو به د وجه چه د دے کورنئ شے دے. بل په د وجه چه خپله به ئے د دین سره تعلق زیات وی. نو معلومه شوه چه په نسبی

شرافت کښې دُنیاوی فائده شته. خالص بے کاره شے نه دے. لیکن کبر او غرور دربانده نه دے پکار. اوس خلق په نسبی شرافت فخر کوی او نور مسلمانان ورته دَځان نه کم ښکاری. نو په سپک نظر ورته گوری. لیکن نور قومونه په بله طریقه کبر کوی. چه دوئ ځان دَاوچتو نسبو سره برابر گڼړی. او دَ هغوئ زیاتے نه منی. دا هم غلط کار دے. الله تعالیٰ چه کوم فرق ساتلے دے هغه هیڅوک نشی ورکولے. غرض دا چه په نسبی شرافت کبر او غرور هم بدکار دے کوم چه نن صبا عام دے. خاص طور سره په ښځو کښې خو ډیر زیات دے. او دَ مرتبے لحاظ نه ساتل هم بدکار دے. کوم چه په نورو قومونو کښې عام دے.

ما داوے. چه څومره دَ ښځو خویونه او عادتونه ډیر خراب دی. دَ اصلاح ورته ډیر ضرورت دے. لیکن یاد لرئ. دَ اخلاقو سمولونه بغیر دَ وظیفو هیڅ فائده نشته. حدیث شریف کښې دی. چه رسول الله صلے الله علیه وسلم ته چا عرض اوکړو. فلانئ ښځه ډیره عبادت کوی. (ډیر نفلونه کوی او ډیرے نفلی روژے نیسی) خو دَ گاونډیانو سره ئے سلوک ښه نه دے. گاونډیان ترے تنگ دی. حضورؐ او فرمائیل. هِیَ فِی النَّارِ. (هغه دوزخی ده) بیا چا عرض اوکړو. څومره محله کښې فلانئ ښځه ډیر عبادت خونه کوی (یعنی نفلی مونځونه ډیر نه کوی او نفلی روژے ډیرے نه نیسی) لیکن گاونډیانو سره ئے سلوک ډیر ښه دے. گاونډیان ترے ډیر خوشاله دی. حضورؐ او فرمائیل هِیَ فِی الْجَنَّةِ (هغه جنتی ده) لیکن نن صبا ښځے بزرگی په تسبیو او وظیفو کښې گڼړی. دَ اخلاقو دَ اصلاح هیڅ خیال نه ساتی. او نه ئے دَ دین کار گڼړی. حالانکه دَ دین په کارونو کښې که یو کار هم کم وی. نو دَ دین نقصان دے. لیکن نن صبا چه څنگه دَ نورو څیزونو سَت او جوهر او خلاصه داویستے شو. دغه شان دوئ دین هم خلاصه کړے دے. چا صِرف مونځ روژه دین گڼړلے دے. معاملات. او اخلاق ئے پریښی دی. او چا صِرف اخلاق راخستی دی. عبادات او عقاید ئے پریښی دی اگرچه دَ اخلاقو دَ دعویدارو هم اخلاق دُرست نه دی. لیکن که صِرف اخلاق ئے درست شی هم بے کاره دی. یوه ډله داسے ده. چه عقائد عبادات او معاملات ئے ښه دی. خو هغوئ په خپله نیکئ فخر کوی. او نور خلق ورته سپک ښکاری. نو په دوئ کښې دَ اخلاقو

کړے دے. څومره ښځو عقیدے او عبادت. یعنی مونځ روژه او وظیفے نیولی دی. خو اخلاق ئے پرېښی دی. سره له ترمابنامه په غیبت لګیا وی. لعنت. ملامت. کبر. غرور. او نورو یا کښې مُبتلا وی. او بیائے هم دا خیال دے. چه مونږ نیکانے. او بزرګانے یو. بزرګئ د پاره د اخلاقو اصلاح ډیره ضروری ده.

دغه شان اکثر سړی هم د اخلاقو اصلاح ته ډیر اهمیت نهٔ ورکوی. دا که لوړے کول ضروری دی. بلکه په څند حیثیتونو خو اخلاقو ته د اعمالونه زیاته توجه پکار ده. ځکه چه که په اعمالو کښې کمے وی. د هغې نقصان صِرف خپل ځان ته دے. او که اخلاق خراب وی. نو د هغې نقصان بل ته هم رسی. او دا حق العبد دے.

افسوس دے. چه مونځ روژه ترک کول او دغه شان نور کبائر ګناه ګنړلے شی. او د بچ کیدو کوشش ترے کولے شی. لیکن غیبت. دروغ. حسد. حرص. د ګاونډیانو سره او د ندرور خوابنې وغیره سره جنګ جګړه. او نورے داسے اخلاقی کمزورئ هډو ګناه نشی ګنړلے.

## خلاصه

د ټول وعظ خلاصه دا ده. چه په حدیث شریف کښې درے شرونه بیانې شوی دی. او دا درے واړه داسے دی چه باقی ټول شرونه د دے سره تعلق لري څنه خو د دے نه پیدا کیږی. او د څنو نه دا پیدا کیږی.

(۱) د کُفرانِ عشیر (د خاوند نافرمانی) منشا حرص او طمعه ده.

(۲) او د اِکثارِ لعن نه غیبت پیدا کیږی.

(۳) او د اِذهَابِ لُبِّ رَجُلٍ حَازِمٍ (هوښیار سړے تیرویستل) نه بے اتفاقی جنګ جګړے او د خاندان ورانے جوړیږی.

داشان که غور اوشی. د نورو شرونو تعلق هم ورسره معلومیدے شی. نو د دے

درے وارو اصلاح ډیره ضروری ده۔
اوس ئې د اصلاح طریقه په غور سره واورئ۔ او په دے تقریر ختموم۔ د دے د اصلاح طریقه د علم و عمل نه مرکبه ده۔ او علم ئې دا نړ دے۔ چه تاسو د قرآن شریف ترجمه یا د سورت یوسف تفسیر اوګورئ۔ یا نور نامه او وفات نامه اووائی۔ بلکه داسے کتابونه کتل پکار دی۔ کوموکښې چه د باطنی مرضونو او د اخلاقو د خرابئ بیان وی۔ دا خو علم شو۔ (په دے به ورته پته اولګی چه کوم کوم اخلاق خراب دی۔ هغه پریښودل پکار دی۔ او کوم ښه دی هغه اختیارول غواړی)
او عمل یو دادے۔ چه اول خپله ژبه قبضه کښے کړئ۔ ښځې فضول خبرے او غیبت ډیر کوی۔ څوک درته ښه وائی که بد۔ جواب مه ورکوئ۔ چه ژبه قبضه شی نو د فساد جړے به د زړه نه هم ختم شی۔ ځکه چه د کوم قوت چه استعمال نه کیږی۔ د هغے امراض خپله روره کمزوری شی۔ او آخر ختم شی۔
دویم دا چه یو وخت داسے مقرر کړئ چه په هغے کښے به دے سوچ کوئ۔ چه دُنیا یاتے ده مرګ دا روان دے۔ بیا د مرګ نه پس چه به کوم حالات پیښیږی۔ په هغے سوچ کوئ۔ قبر کښے د منکر نکیر سوال جواب۔ بیا د قیامت په ورځ د قبرنه پورته کیدل۔ د حساب د پاره د الله تعالیٰ په دربار کښے اودریدل۔ په پلِ صراط تیریدل۔ (جنت ته رسیدل۔ یا دوزخ کښے پریوتل) په دے ټولو خبرو چه هره ورځ غور کوئ۔ نو د دُنیا سره او جاه و مال سره محبت۔ تکبر او حرص او د دے نه پیدا کیدونکی نور مرضونه۔ حسد۔ بغض۔ او غیبت وغیره ټول به روره ختم شی۔ (او د آخرت ښه کولو د پاره د نیک عمل فکر به پیدا شی)
نو د اخلاقو د اصلاح د پاره دوه څیزونه ضروری شو۔ یو علم یعنی ښه اخلاق او خراب اخلاق پیژندل۔ دے د پاره د قرآن شریف نه پس داسے کتابونه لوستل پکار دی۔ کوموکښے چه د فقهی مسئلو سره سره د قلبی مرضونو لکه کبر حسد وغیره بیان هم وی۔ کم از کم "بهشتی زیور" لس واړه حصے کتل پکار دی

ژوبیم عمل دَ هغې دوه حصې دی۔

(۱) یو ژبه قابو کول۔

(۲) بل دَ مرګ مراقبه کول۔

لیکن دَ طوطی پشان تشو الفاظو لوستو څۀ فائده نشته۔ دَ چا بښۀ عالم نه ئې سبق سبق اووائی۔ او په مطلب ئې ځان پوهه کړئ. که خپل کوړ کښې داسې عالمه نۀ وی۔ نو خپلو سړوته اووائی۔ چه دَ چا ښۀ عالمه نه ئې وائی. او بیا هغه سبق په کور کښې تاسو ته ښائی۔

لیکن لوستونه پس ئې بیا په المارئ کښې مۀ کیدئ۔ خپله ئې هم په یو مقرر وخت کښې بیا بیا ګورئ۔ او نورو ته ئې هم ښائی۔ زۀ تاسو سره داوعده کوم چه په دې طریقه به ډیر زر ستاسو اصلاح اوشی۔ دَ دې نه زیات دَ بیا ضرورت نشته۔ ماشاءاللہ۔ تاسو خپله ښې پوهه ئې۔

خو دا یاد لرئ۔ دَ ټولو خرابیو اصل بُنیاد غفلت او بې فکری ده۔ که مونږ په هر کار کښې دا خیال ساتل شروع کړو۔ چه آیا دا کار په شریعت کښې جائز دے که ناجائز۔ نو انشاءاللہ په لږو ورځو کښې به اصلاح اوشی۔ صرف دَ غفلت نه بیداریدل او دَ علاج فِکر پکار دے۔

اوس دُعا اوکړئ۔ چه اللہ تعالیٰ مونږ ټول دَ غفلت نه بیدار کړی. دَ نیک عمل او اخلاص توفیق داکړی۔ آمین۔

وَصَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهٖ سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ ۝

بِرَحْمَتِكَ يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ ۝

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

دعواتِ عبدیت اول جلد

لسم وعظ

# ذمُّ الھویٰ

( دَ نفسانی خواھشاتو دَ اتباع بدی )

( لہ ارشاداتو دَ حکیمُ الاُمّتؒ )

حضرت مولانا اشرف علی تھانوی رحمت اللہ علیہ

پښتو ترجمہ

لہ سیّد تسنیم الحق (کاکاخیل)

ناشران:- یونیورسٹی بک ایجنسی

خیبر بازار پشاور

شہر

## خلاصه

دَ قرآنِ کریم ارشاد دے۔ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوٰى فَيُضِلَّكَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ط (دَ نفسانی خواهش اتباع مهٔ کوه دا بره دَ الله دَ لارے نه بے لارے کړی) دَ اتباعِ هوٰی مطلب دے دَ خپل زړهٔ په خواهش عمل کول او دَ شریعت دَ حکم خیال نهٔ ساتل۔) دَ انسان دوه دشمنان دی نفس او شیطان. غټ دُشمن خو ئے شیطان دے۔ چه دَ الله په دربار کښے ئے اِعلان کړے دے " زهٔ به دَ آدمؑ اولاد گمراه کوم " لیکن هغهٔ خپل کار دَ نفس په ذریعه اوباسی. بنده تر هغه کار نهٔ شی نهٔ شی ښائسته کړی چه زړهٔ پرے خوشالیږی او دَ شریعت دَ حکم خلاف وی۔ یعنی هغه کار وته ورته ښائسته کړی چه شیطان پرے خوشالیږی. او الله پرے ناراضه کیږی. نفس ډیر مکار دے ډیر چلونه ورځی۔ عالمان په بل رنګ تیر باسی۔ عوام په بل رنګ. نیکان او صُوفیان په بل رنګ۔ نو هر چاته پکار دی چه په هر کار کښے دا سوچ کوی چه په دے کښے دَ شریعت تابعداری څومره ده. او دَ نفس خواهش پکښے څومره دے. نو صِرف دَ شریعت تابعداری پکار ده۔ او دَ نفس خواهش ترک کول ضروری دی۔ دَ نفس دَ خواهش کهٔ عام طور په درے قسمونه وی (۱) دَ عقیدے متعلق لکه یو کار په شریعت کښے ضروری نه وی. مثلاً مستحب یا مباح وی۔ او بنده ئے دَ نفس دَ خواهش په وجه ضروری او دَ شریعت حکم اوګنړی. دے ته بدعت ویلے شی (۲) دَ عمل متعلق۔ یعنی یو نیک کار دَ څهٔ غلط غرض دَپاره کول. لکه خلقو کښے دَ نیکئ دَ شهرت او قدر عزت زیاتولو په غرض ډیر نفلونه یا ذکر کول وغیره دے ته ریا ویلے شی۔ (۳) دَ تکوینی کارونو متعلق بے باکه خبرے کول. لکه یو ځوان سړے مړشی. نو دا اویل چه ډیر بے وخته مړشو۔ ځوان ځلمے وو په دُنیا کښے ئے یا هیڅ نهٔ وو لیدلی۔ واړه واړه بچی ئے بے اسرے پاتے شو۔ وغیره وغیره۔ دا ډیره ګستاخی او بے ادبی ده۔ دَ دے مطلب خو دا شو چه ګویا دَ الله په دربار کښے بے انتظامی ده. دَ چا دَ مصلحت څه خیال نشی ساتلے۔ (یا نعوذ بالله) بے رحمی ده دا غریب ئے بے وخته او وژلو۔ دا سے خبرونه ځان ساتل ډیر ضروری دی۔ الله تعالیٰ حکیم دے هیڅ یو کار ئے دَ حکمت او فائدے نه خالی نهٔ دے. او الله تعالیٰ رحیم دے. په خپلو بندیانو دَ مور پلار نه زیات مهربان دے۔ دَ اتباعِ هوٰی نه دَ بچ کیدو دوه طریقے دی۔ (۱) په هر کار کښے دَ شریعت دَ حکم خیال ساتل۔ (۲) او دَ اهل الله سره تعلق ساتل۔ به دے طریقهٔ ځان دَ نفس و شیطان دَ مکرونو نه بچ کړے شئ۔

دا وعظ حضرت تهانویؒ دَ تهانه بهون په جامع مسجد یعنی خپله خانقاه کښے دَ اصلاح دَپاره دِیره عالمانو سالکانو ته په شعبان ۱۳۲۹ھ کښے کړے دے۔ او مولوی عبد الله ګنګوهی قلمبند کړے دے۔ (ت)

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ نَحْمَدُهٗ وَنَسْتَعِيْنُهٗ وَنَسْتَغْفِرُهٗ وَنُؤْمِنُ بِهٖ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْهِ وَنَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنْ شُرُوْرِ اَنْفُسِنَا وَمِنْ سَيِّئَاتِ اَعْمَالِنَا مَنْ يَّهْدِهِ اللّٰهُ فَلَا مُضِلَّ لَهٗ وَمَنْ يُّضْلِلْهُ فَلَا هَادِيَ لَهٗ۔ وَنَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ۔ وَنَشْهَدُ اَنَّ سَيِّدَنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ ط۔

امابعد - فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم ط بسم الله الرحمٰن الرحيم ط

قال الله تبارک وتعالیٰ. يَادَاوٗدُ اِنَّا جَعَلْنٰكَ خَلِيْفَةً فِي الْاَرْضِ فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوٰى فَيُضِلَّكَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ ؕ اِنَّ الَّذِيْنَ يَضِلُّوْنَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيْدٌۢ بِمَا نَسُوْا يَوْمَ الْحِسَابِ ۞

(اے داوٗد بیشکه مونږ ته په زمکه کښے خپل نائب کړے. نو ته دَ خلقو ترمینځه په حق فیصلے کوه۔ او دَ نفسانی خواهشاتو اتباع مه کوه۔ دا به تا دَ الله دَ لارے نه بے لارے کړی. بیشکه څوک چه دَ الله دَ لارے نه خطا شو۔ هغوئ دَ پاره سخت عذاب دے. ځکه چه دوئ دَ حساب ورځ هیره کړه۔)

په دے آیت مبارک کښے خطاب اګرچه داؤد علیه السَّلام ته دے. لیکن مضمون ئے عام دے. په هغهٔ پورے خاص نهٔ دے. بلکه هغهٔ ته خطاب سره دَ دے مضمون په معنیٰ کښے نور هم تاکید راغلو. چه مشرانو ته دَ یو کار حکم اوشی. او سره دَ هغوئ دَ لوئے مرتبے په یو کار زورند ورکړے شی. نو کشرانو ته خو ضروری هغه حکم ډیر په سختئ سره متوجه شی. لکه طبیب که یو دوغ جوړ تکړه سړی ته او وائی چه دا شے مهٔ خوره نقصان به درکړی. نو یو کمزوری مریض ته خو به هغه شے ډیر بد وی۔

دلته داؤد علیه السَّلام ته خطاب دے. چه هغه سره دَ نبوت دَ اوچتے مرتبے په دے مامور دے

نوعام مسلمانان خو به خامخا د دے حکم پابند وی. او هغه حکم دا دے. چه د نفسانی خواهشاتو تابعداری مه کوئ.

په دے آیت مبارک کښے د اتباع هوی بدی بیان شوی ده. (یعنی د خپل زړهٔ په خواهش عمل کول منع دے) بلکه په هر کار کښے د شریعت د حکم اتباع ضروری ده.) او ظاهره ده چه داؤد علیه السلام پیغمبر دے. او صاحبِ کتاب پیغمبر دے. (د الله کتاب زبور شریف دد بانده نازل شوے دے) او پیغمبران ټول معصوم دی. (د گناهونو نه پاک دی) او د هغوئ ټول مَلَکَاتُ محمود. او ټول جذبات پاک وی. او نفسونه ئے مُهَذَّب وی. سره د دے بیاهم د خپل زړهٔ د خواهش د منلو نه منع شوی دی. حالانکه د هغوئ زړهٔ پاک وی. نو د هغوئ د زړهٔ خواهش هم پاک وی. ظلمانی او گنده خواهش بر هو گزنه وی. نو مونږ چه د سرنه ترښپو پورے گند کښے لړلی یو. نفسونه مو غیر مُهَذَّب دی. نو څومونږ د نفس خواهش به هم گنده وی. که د هغے اتباع مو اوکړه خوتباه وبرباد به شو. (اَللّٰهُمَّ احْفَظْنَا مِنْهُ. (یا الله نهٔ مو ترے او ساتے)

د دے وعظ د پاره د دے مضمون خوښولو وجه داده. چه د بیان قابل هغه مضمون وی. د کوم چه زیات ضرورت وی. نو هسے خو مونږ ته هر وخت د هر شرعی حکم اوریدو ضرورت دے. لیکن د وخت او د خلقو د حالاتو په مناسب څه احکام څه وخت کښے په څه اعتبار د نورو نه زیات ضروری شی.

لکه یو طبیب چه مریض ته پرهیز ښئ. که د کچه آمونو موسم نهٔ وی او هغه ورته اووائی کچه آمونه مه خوره. نو دا خبره اگر چه طبی لحاظ سره ضروری او صحیح ده - لیکن په دے وخت کښے چه کچه آم نشته. یو زیاتی اد بے ضرورته خبره ده. البته که د کچه امونو موسم وی. نو بیا ضروری ده. دغه شان د ناصح حق هم دا دے. چه کوم وخت کوم مرض ډیر وی د هغے د اصلاح متعلق بیان اوکړی. او که په یو وخت کښے گنړ مرضونه وی. نو چه کوم یو کښے ډیر خراب او ډیرا هم وی د هغے بیان ورپسے کړی. او پوره تفصیل سره د ټولو احکامو بیان په هغه وخت کښے ضروری وی. چه مخاطب یو طالب علم وی. او په دے فن کښے مهارت حاصلول غواړی.



Scanned with CamScanner

لکه یو طالب علم هدایه وائی. او کتاب الحج ته د ربیع الثانی په میاشت کښې اورسی. نو هغهٔ ته به اُستاذ دا نهٔ وائی چه اوس د حج ورځې نهٔ دی. د دے ضرورت نشته. ذی الحجه کښې به پکار یږی. او هغه هم هغه چا ته چه حج ته روان وی. ځکه چه دے خوفن زده کوی. په خلاف د واعظ چه هغه به وختی ضرورت ته ګوری ځکه چه مخاطبین ئے په څهٔ خاص فن کښې مهارت حاصلول نهٔ غواړی. صِرف خپله اصلاح کول غواړی.

نو په دے قاعدهٔ زهٔ همیشه وعظ د پاره هغه مضمون خوښوم. د کوم چه هغه وخت کښې زیات ضرورت وی. په دے وخت کښې ما ته دا خیال راغلو چه نن صبا چه کوم مرضونه عام دی. په هغو کښې یو اتباعِ هوٰی ده. کوم چه د ټولو مرضونو جرړه ده. په دے مرض کښې عوام او خواص یعنی جاهلان او عالمان بلکه اخصّ الخواص. یعنی صاحبِ ارشاد صوفیان هم مبتلا دی. مونږ که خپل ګریوان کښې اوګورو نو والله دا حقیقت دے. چه مونږ کښې د شریعت تابعداری ډیره کمه ښکاری. اکثر د نفس تابعداری کوو. او ورنګ د شریعت د تابعدارئ ورکوو. ځکه چه کوم کار کښې چه مونږ د شریعت دلیل پیش کوو. اکثر د هغے محرک ځمونږ نفس وی. دا مرض په عوامو کښې په یو رنګ ښکاری او عالمانو کښې په بل رنګ کښې.

په عوامو کښې چه کوم دینداردی هغوئ د دین په رنګ کښې د خپل نفس تابعداری کوی. مثلاً مولویصاحب ته به اووائی. دا سے مسئله دا ته اوګوره. چه دا کار کښې په څهٔ طریقه جائز شی. خپل حالت خونهٔ بدلوی. د شریعت قانون په خپل خواهش پسے بدلول غواړی. دا کوشش به کوی. چه په څهٔ طریقه مولویصاحب یا ندے دا سے روایت راوباسی. چه د دهٔ خواهش پوره شی.

څو ورځے کیږی ما ته یو سړے راغلے وو. چه د رضاعی (پیو شریک) رور خور سره نکاح شوی ده. مخکښې نه څوک خبر نهٔ وو. د نکاح نه پس پته اولګیده. چه دوئ خوسره شریک پئ شکلی دی. اوس به څهٔ چل کیږی. ما ورته اووے دواړه جُدا کړئ. دا ښځه دِ پریږدی. بله څهٔ طریقه ئے نشته. سړی چه دا واوریده. سوچ یوړو. وے چه دا خو ډیره بدنامی موسی ده. ښځه څنګه پریږدی. افسوس صد افسوس. د الله د رسول د احکامو سره د مُسلمان دا سلوک. چه فرمائش

کیږی مونږ دَ پاره مسئله پیدا کړه. ماورته اووے. دا خو ډیره دَ ښیک نامئ خبره ده. خلق بہ وائی چہ ډیر ښهٔ خلق دی. په غلطئ یو کار شوے وو. چه خبر شو. حق خبره ئے اومنله. بد نامُوسی خواوس ده. چه خلق به وائی. رور خور سره یو ځائے شوی دی دا خو ھسے دَ ھغهٔ دَ پوهه کولو دَ پاره خبره وه. اصل جواب خونئے دا دے. کہ بدنامی کیږی نو اُو دِ شی. دَ خدائے رسول دَ حکم په مقابله کښے بد نامی څهٔ وی؟ څُمونږ مشران که داسے دَ بد نامئ نه ویریدلے وے. نو نن به په دُنیا کښے یو مسلمان هم نهٔ وو. اوګوری. څُمونږ مشرانو اسلام دَ پاره څومره سختئ تیرے کړی دی. او څومره بد نامئ ئے په سَرُ اخستی دی. چا چه په باطل دین پریښو اسلام ته به راتلو. نو خپلو خپلوانو به ملامته کولو. چه ولے دَ پلار نیکهٔ دین پریدے. ځکه چه دَ هغوئ په خیال هغه زوړ دین حق وو.

(حضرت تهانویؒ فرمائی) زهٔ یو ځل سوته نومے بانړے ته لاړ وم. هلته یو بوډا هندو وو. ډیر صفا سوتره به او ښیدو. دَ شپے به هم وختی پا ښیدو. خپل رام رام وظیفه به ئے کوله. ماورته اووے مُسلمان شه دچه داخواری دِ په ځائے شی. اوس خو ھسے کړا ڈکوے) هغهٔ راته اووے. خپلوانو سره به صلاح اوکړم. بیا ئے روستو خبر راکړو. چه خپلوانو راته اووے. په دے آخر عُمر کښے ولے خپل ایمان خرابوے. (یعنی خپلوانوٗئے خپل مذهب حق بنکاریدو. نو دا بوډا ئے دَ اسلام قبلولو نه منع کړو.) ؎

گر از بسیط زمین عقل منهدم گردد بخود گمان نبرد هیچ کس که نادانم

(که دَ ټولے دُنیا نه عقل ورک شی هم هیڅوک به په ځان دَ بے وقوف گُمان اُو نکړی.)

نو ما هغه سړی ته دا اووے. که ټول دَ ستا پشان وے. او په حق منلو کښے دَ بدنامئ نه ویریدے. نو نن به په دُنیا کښے یو مسلمان هم نهٔ وو.

دَ مسلمان شان خو دا پکار دے ؎

نه سازد عشق را کنج سلامت خوشا رسوائی ئے کوئے ملامت

(عشق سره دَ سلامتیا کوټ نهٔ جوړیږی. عاشق خو دَ ملامتے او رسوائی په کوڅه کښے خوشالیږی)

بلکه دَ حق طلبګار ته خو ملامته خوند ورکوی. او په ملامته کښے یو عجیبه نکته داده چه په دے کښے دَ دین پوخ والے راځی. بے ملامتے او بے مقابلے دین کمزورے کمزورے او کچه کچه وی. چه دَ هر طرف نه په دَ ملامتے باران وی. نو بنده ته ضد غوندے ورشی. او په خپله خبره کلک شی. او په هغه کار کښے پوخ شی.

لکه چا په وادهٔ کښے رواجی کارونه اونهٔ کړل. او خلقو ملامته کړو. نو هغه بیا په رواجی کارونو پریښنوو کښے نور هم کلک شی.

دے نه معلومه شوه. چه الله تعالیٰ هیڅ شے هم بے فائدے نهٔ دے پیدا کړے. آفاقی شے وی. که انفسی. (یعنی دَ انسان دَ وجود نه بهر شے وی. که دننه) مثلاً ضد چه په ظاهره یو خراب خوئی ښکاری. خو دلته مُفید شو. دغه شان نور خومره فطری خویونه چه دی خُنه ور کښے په ظاهره خراب ښکاری لیکن ټولو کښے فائده شته.

حضرت حاجی امداد الله رحمة الله علیه به فرمائیل. چه کنجوسی او بُزدلی خراب خویونه دی. خو دا قطعی بے فائدے نهٔ دی. فائده ترے اخستے شی. چه صحیح استعمال شی. مثلاً یو دوست چاته راغلو. چه دَ سلو روپو امداد زاسره اوکړه بیا دئ کښے په ډمان راولم. دا سے وخت کښے کنجوسی ښه ده چه امداد ورسره او نهٔ کړی. دغه شان غصه هم خراب خوئی دے. خو چه مصرف ئے بدل شی نو ښه کار ترے اخستے شی. مثلاً اول زور تربور ته غُصه کیدے. او س درته په نفس شیطان او دَ خدائے په دشمنانو غُصه درځی. دَ شریعت خِلاف کار درباندے بد لګی.

غرض دا چه دَ اصلاح او تزکیئے نه پس خویونه بدلیږی نه. خویونه هُم هغه وی خو دَ استعمال ځائے ئے بدل شی.

دغه شان په بنیادم کښے یو طبعی خوئے ضد دے. دا هم که په صحیح ځائے کښے استعمال شی نو مفید دے. لکه مخکښے مثال چه بیان شوے دے. او که غلط ځائے کښے استعمال شی. نو سړے دوزخ ته غورزوی.

لکه په عربو کښے یو مشهور سړے دَ ضد په وجه اسلام راوړونه منع شو. خپله ئے

رسول اکرم صلی اللہ علیہ وسلم تہ وئیلی وو. زهٔ دِ پیژنم چہ تۀ په حقه ئې. ما به
ایمان راوړے وو. خو دَ قریشو ښځے به را پسے خبرے کوی. چه دَ دوزخ نه او ویرید و.
په بهادرئ کښے بہ یم فرق راشی. دَ خبرو دَ ویرے ئې ایمان رانۀ وړو. نو هم دَ شان
دَ کفر په حالت کښے مړ شو. په دے باندے دا آیت نازل شو. اِنَّكَ لَا تَهۡدِيۡ مَنۡ
اَحۡبَبۡتَ وَ لٰكِنَّ اللّٰهَ يَهۡدِيۡ مَنۡ يَّشَآءُ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ۝ دا ئے حبیبه تۀ
هدایت نشی کولے هغه چا ته چه ستا خوښ وی. لیکن اللہ هدایت کوی چا ته چه او غواړی)
د دا مشهور سړے دَ حضورؐ محبوب ترهٔ حضرت ابوطالب وو. (مترجم) حضور ډیر کوشش
کولو چه ایمان راوړی. لیکن دَ هغهٔ په تقدیر کښے نۀ وو.) نو ضد دا سے ناکاره شے
دے. لیکن که په حقه خبره ئې څوک ملامته کوی. او دے دَ ضد په وجه په هغه
حقه خبره نور هم کلک شی. نو دا ضد مُفید دے.

بهر حال دَ اللہ نیکو بندیانو همیشه ملامته په سرا خستی ده. او دَ نفس
دَ تابعدارئ په ځائے ئې دَ حق تابعداری خوښه کړی ده. نو دَ دے دوړه خبرو نه
دا خو واضحه شوه. چه دَ نفسانی خواهشاتو تابعداری بد کار دے.

باتے شوه دا خبره چه دَ دے معیار څۀ دے. کومه خبره دَ نفس اتباع ده. او
کومه دَ شریعت. نو دَ دے معیار دَ وحی نه بغیر بل شے نشی کیدے. فطرت کافی
نۀ دے. لکه چه معلومه شوه. چه پیغمبران هم دَ نفس دَ اتباع نه منع شوی دی.
حالانکه دَ هغوئ نفوس ډیر کامل او پاک وو. او عقل ئې هم معیار نشی کیدے.
ځکه چه عُقول مختلف دی. دَ چا عقل به معیار کړځولے شی؟ که عوام پریدو. دَ
فلسفیانو عقل واخلو. نو خپله هغوئ کښے هم ډیر اختلاف دے. او بله دا چه په عقل
باندے هم طبیعت او رسم و رواج غلبه کوی. لکه چه مونږ وینو چه ډیر ځله دَ رسم و
رواج په وجه ډیر هوښیاران بلکه لوئے لوئے عالمان هم دَ حماقت کار ونه کوی.
دلته یو رواج دے. چه نائی چا ته دَ بنائی دَ نیتے خبر راوړی. نو نائی ته دَ ډوډئ
سره په دسترخوان یو جوړه او نسل روپئ کیدی. هغه ترے یو دوه روپئ واخلی.



Scanned with CamScanner

نورے واپس کړی. نو لوته دا معلومه ده. چه دومره غټ رقم څوک نائی ته نذر ورکوی خو نه پوهیږم چه دے کینبو کښے نے څه خیر دے. زیا خو هم پکښے نه کیږی. ځکه چه زیا خو یل ته بښیلو دَ پاره وی. او دلته خو ټول خلق خبر دی. چه دا ئے نائی ته ورکوی نه. نو هیچا ورو په شان لوبے اویو فضول کار دے. لیکن ډیر هوښیاران چه نورو ته عقل ښئی. په دے مرض کښے مُبتلا دی.

نو معلومه شوه. چه رواج په عقل غالب دے. نو عقل معیار نشی کیدے. بیشکه وحی دَ غلطیونه پاکه ده. نو ثابته شوه. چه صرف وحی دَ اتباع قابله ده. لیکن په دے شرط چه خپله دَ وحی په مطلب اَخستو کښے دَ نفسانی خواهشاتو په وجه څه تصرف نه وی شوے لکه نن صبا چه اکثر عالمان او غیرعالمان اتباع خو کوی دَ خپل نفس. لیکن شریعت ئے دَ هغے دَ پاره پرده کړی ده. دا خومره غټه دهوکه ده. په دے باندے دَ خلقو دَ اعتراض نه خو بچ شی. لیکن خالق تعالیٰ خو دَ زړونو په حال خبر دے. هغه نه به څنګه بچ شی. ے

۱ خلق راگیرم که بفریبی تمام در غلط اندازی تا هر خاص وعام

۲ کارها باخلق آری جُمله راست باخدا تزویر و حیله کے رواست

۳ کار با او راست باید ساختن رأیتِ اخلاص وصدق افراشتن

۱ (دا ئم او منله چه ټول خلق به دهوکه کړے. عام وخاص به ټول خطا کړے.

۲ خلقو سره به خپل کارونه ټول صفا کړے. لیکن الله سره دهوکه او چل وَل کله چلیږی.

۳ خپله معامله الله سره صفا ساتل پکار دی. دَ اخلاص او صدق نشان اوچتول پکار دی.)

یعنی نیک نامی او بد نامی په ځائے پریده. صِرف الله سره خپله معامله صفا ساته. دَ حق اتباع کوه. څوک درته ښه وائی که بد. دَ خلقو هیڅ پروا مه کوه - ے

عاشقِ بدنام کو پروائے ننگ ونام کیا جو کہ خود ناکام ہوا اس کو کسی سے کام کیا

(بدنام عاشق دَ نوم ناموس څه پروا لری. څوک چه خپله نامراد وی دَ هغه په چا څه کار دے.)

حضرت حاجی امداد الله صاحب رحمة الله علیه به فرمائیل. عاشق ته ناکام او نامُراد په دے معنیٰ ویلے شی. چه عاشق دَ وصل په یو مرتبه صبر نه کوی. هر وخت نوره ترقی غواړی.

کوے اوچتے مرتبے ته چه رسی. شوق ئے نور هم زیاتیږی. دَ نورے اوچتے مرتبے کوشش کوی. ځان ورته کامیاب نهٔ ښکاری. هیشه دَ نورو اوچتو مرتبو په کوشش کښے لګیا وی.

البته دَچا دَ محبوب ښائست چه ختمیدونکے وی. (یعنی مجازی محبوب) دَ هغهٔ مرادونه هم ختمیدے شی. او دَ محبوبِ حقیقی ښائست چه غیر متناهی (نهٔ ختمیدونکے) دے. هلته نهٔ ښائست ختمیږی. نهٔ دَ وصال طلب. څومره چه ځکښےځی شوق ئے نور هم زیاتیږی. او ځان ورته ناکام ښکاری. او دغه حالت ئے وی کوم چه شیخ شیرازیؒ فرمائی. ؎

دِل آرام دربر و دِل آرام جو لب از تشنگی خشک و برلبِ جُو
نه گویم که برآب قادر نیند که برساحلِ نیل مُستسقی اند

(محبوب ئے په ترخ کښے دے. او دَ محبوب په تلاش کښے دے. دَ سیند په غاړه ئے دَ تندے نه شونډے اوچے دی.)

(زهٔ دا نهٔ وایم. چه اُوبهٔ ځکلے نشی. خو دَ استسقا دَ مریض په شان ئے دَ دریاب په غاړه هم تنده نهٔ ماتیږی.)

غرض دا چه رښتونے عاشق دَ بدنامئ نه نهٔ ویریږی. حافظ صاحبؒ فرمائی. ؎

گرچه بدنامی ست نزدِ عاقِلان ما نمے خواهیم ننگ و نام را

(اګرچه عاشقی دَ هوښیارانو په خیال کښے بدنامی ده خو څونږ نوم ناموسی نهٔ دے پکار.)

څوک چه دَ بدنامئ نه ویریږی. هغه رښتونے عاشق نهٔ دے. هوسناک دے. نن صبا حالت دا دے. چه دَ شریعت په حکم به هله عمل کیږی. چه نهٔ دَ خپل خواهش خلاف وی. نهٔ دَ رواج. او نهٔ پکښے څهٔ دُنیاوی تاوان وی. او بیا دعوٰه کوی دَ دینداری.

وَ جَائِزَةٌ دَعْوَى الْمَحَبَّةِ فِي الْهَوٰى
وَلٰكِنْ لَّا يَخْفٰى كَلَامُ الْمُنَافِقِ ؎

(په عِشق کښے دَ مینے دعوه جائزه ده. لیکن دَ منافق خبره نهٔ پټیږی)

نو هغه سائل صاحب (چه په غلطئ دَ رضاعی رور خور نکاح شوی وه) دَ فتوٰی پټوس تهٔ راغلے وو) ماته ئے اووے. دا سے څهٔ مسئله اولټوه. چه دا نکاح جائز شی. ما ورته اووے

لیونے شوے څنګه؟ زه څوک یم جائزکوونکے او ناجائزکوونکے. که زه ورته جائز او ووایم هم څوپورے چه شرعي دلیل نه وي. ځما په خوله نه جائز کیږي.

دا خو هغه خبره شوه. لکه مولانا یعقوب صاحبؒ ته یو سړے راغلے وو. چه د یو هلک او جینۍ ترمینځه داسے رشته ده. یعني پیو کښے شریک دي. د دوئ نکاح کیږي که نه. مولانا صاحب ورته اوفرمائیل نه. نو هغه سړي اووے. مونږ خوئے نکاح تړلې وه اوشوه. شاید هغه د نه کیدو مطلب دا اخستے وو. چه ژبه به ئے بنده شي. ایجاب قبول به نشي کولے. ځکه ئے اووے چه مونږ خوئے کړې وه اوشوه.

دغه شان دے سائل هُم اووئے چه د رضاعي رور خور د نکاح جائزکولو د پاره راته مسئله پیدا کړه. چه ما ورته صفا جواب ورکړو. نو بیا د تاویل په فکر کښے شو. راته ئے اووے چه پئ سره څکلي وو لیکن لږ غوندے. شاید چه د دے عقلمند دا خیال وو. چه که ډیرئے څکلے وے نو حرامیده به او که لږئے څکلي وي نو خیرده. ما ورته اووے. که یو ځاڅکے ئے څکلے وي هم سره نکاح نه کیږي. بیائے اووے. څه لږئے چه څکلي وو. هغه ئے هم قے کړي وو. خیټه کښے ئے پاتے نه وو. ما ورته اووے. روره چه پئ ئے د حلقه تیرشو. نو حُرمت ثابت شو. بیا د قي سره ئے حُرمت نه دے قے کړے. هغه د واپس کیدو شے نه دے. چه د دے ځائے نه نا اُمیده شو. نو د هلی ته لاړو. هلته ئے د اهلِ حدیثو د یو عالم سره خبره اوکړه. د اهلِ حدیثو او د امام شافعيؒ په مسلک چه د پنځو کوټونه ئے کم څکلي وي. نو حُرمت نه ثابتیږي.

بیا هغه سائل سوال داسے جوړ کړو. یو هلک د جینۍ سره د پنځو کوټونه کم پئ څکلي دي. آیا د دوئ نکاح جائز ده که نه؟ هغوئ ورته جواب اولیکلو جائز ده. بس دے خوشال شو چه کار اوشو. اوس هغه روی خور دغه شان په نکاح کښے پاتے شو.

نو اوس تاسو اوګورئ. چه په دے مسئله کښے سائل د خپل نفس څومره پیروي اوکړه. د هغه د تفصیلي خبرو او بیا بیا سوال بدلولو نه به تاسو ته معلوم

شوی وی. چه خامخا ئے جواز د پاره خبره جوړوله. اوس هم دا امید نهٔ دے چه امام
شافعیؒ په مسلک به هم دا نکاح واقعی جائز شوی وی. ځکه چه اول خو د دے نه څوک
خبر نهٔ وو. چه دوئ سره پئ څکلی دی. ځکه خوئے نکاح کوله. نو بیا داچا اوشمیرل
چه د پنځو کو تو نه ئے کم څکلی وو. بل داچه دا سړے د مخکښے نه حنفی وو. داعقیده ئے
نهٔ وه. په کوم چه ئے اوس عمل اوکړو. که د مخکښے نه شافعی وے. بیا هیڅ پروانهٔ وه.
یائے د دے واقعے نه مخکښے د خپل تحقیق په بنا حنفی مذهب ترک کړے وے. شافعی شوے
وے. بیا هم څهٔ حرج نهٔ وو. لیکن اوس خوئے خالص د خپل غرض د پاره شافعی
مذهب خوښ کړو. دا خالص د نفس اتباع ده.

دغه شان اکثر خلق د میراث په مسئله کښے کوری. که خپله ئے پکښے حصه رسی. نو
د فرائضو. یعنی په شرعی طریقه د میراث تقسیمولو تپوس کوی. او که برخه ئے پکښے نهٔ رسی
نو بیائے تپوس هم نهٔ کوی. بلکه څنه خو اول تپوس اوکړی چه ځما پکښے څهٔ رسی او که نه.
او څنه په دے طمعه د میراث مسئله دا اوباسی. چه ځما به هم پکښے څهٔ اورسی. خو چه
اوئے نهٔ رسی نو خفه شی. فتوی د مفتی سره پریدی. او د هغهٔ فیس هم ورنکړی.
دغه شان لاړ شی. دائے په زړهٔ کښے نهٔ راځی چه دهٔ په خواری کړی ده خفه به شی
یو سړے ما ته راغلو. د میراث یو مسئله ئے معلوموله. چه ځما برخه پکښے څومره ده؟ ما ورته
اووے دومره. نو هغه ورته کمه ښکاره شوه. وے چه داولے؟ ځما برخه په څهٔ کمه شوه؟ ما
ورته اووے د فلانی وارث په وجه ستا حصه کمه شوه. که دا وارث نهٔ وے. نو ستا دومره
حصه رسیده. نو ورته ئے اووے. دا سړے په وارثانو کښے مهٔ لیکه. او نورے
برخے ما اوباسه.

اکثر د میراث مسئله هغه سړے تپوسی چه قبضه کښے ئے څهٔ نهٔ وی. او څوک قبضه
کول غواړی. د مړی مال چه د چا قبضه کښے وی. نو هغه ئے هډو تپوس نهٔ کوی.
چه بیا به راته نور وارثان برخے غواړی. غرض دا چه د څهٔ قبضه کولو د پاره د
مسئلے تپوس کیږی. څهٔ ورکولو د پاره ئے هیڅوک تپوس نهٔ کوی.

ماته په یتول عمر کښې صرف یو سړے داسے راغلے دے. چه غټ رئیس وو. په ټول جائیداد ئې قبضه وه. هغه دَ مسئلے تپوس په دے غرض کړے وو. چه دَ شریعت موافق جائیداد په ټولو وارثانو پوره پوره تقسیم کړی. دَ کورکاؤل په علاقه کښې اوسیدو. چه ځما خبره به ترے هیره وه. بیا بیا به ئې دَ هغې تپوس کولو. څو څو ځله راغلو. بنه پوره تحقیق ئې اوکړو دَ هغه نه علاوه څوک چه راځی. ځه قبضه کولو دَ پاره راځی. ورکولو دَ پاره یو هم نهٔ راځی.

یو ځل یو سړے راغلے وو. تپوس ئې کولو. چه ځما خور مړه ده. هغه سُنی وه. او خاوند ئې شیعه وو. آیا دَ هغې په ترکه کښې به ئې دَ خاوند برخه وی که نه. دَ هغې اولاد نهٔ وو. ما ورته اووے ترکه کښې ئې نیمه دَ خاوند کیږی. مال ئې ډیر وو. او دے رود ئې دا غوښته چه په ټول مال قبضه اوکړی. خاوند ته ئې هیڅ ورنکړی. دَ چا نه ئې اوریدلی وو. چه شیعه کافر دے. نو په دے چل ئې هغه دَ میراث نه محروم کولو.

ماته ئې اووے. چه شیعه خو کافر دے. دَ هغهٔ سره ئې نکاح کله جائز وه. چه میراث به ئې اوړسی. ما ورته اووے ته دَ خدائے نه نهٔ ویریږے چه دَ بل حق وهے. او که دَ خدائے نه نهٔ ویریږے نو غیرت هم در کښې نشته؟ چه دَ مال دَ پاره دا ثابتوے چه خور دِ ټول ژوند دے سړی سره بے نکاح تیر کړے دے. ما ورے بل دا ته دا اووایه چه دَ نکاح په وخت تا دا تپوس ولے نهٔ کولو چه دَ شیعه سره دَ سنی نکاح جائز ده که نهٔ؟ او دویم دا چه کټمال ئې دَ خاوند په قبضه کښې دے. او دا خاوند ئې مړوے. او میراث ئې دَ ستا خور ته پاتے کیږے. او دَ هغې نه دَ ستا په قبضه کښې راتلے. نو بیا به دِ هم دا ویلی وو چه نکاح ئې جائز نهٔ وه. دَ دے خور دِ میراث کښې برخه نشته. بیا خو به دِ برخه قبضه کولو پسے پوره زور لګولے وو ـــ ما سره دا سے ډیر سوالونه راځی چه وائی دَ خبرے ته دَ جواز څهٔ چل جوړ کړه.

اوس اوس یو سړے راغلے وو. خپلے ښځے ته ئې درے طلاقه ورکړی وو. دا کوشش ئې کولو چه په څهٔ چل دَ حلالے نه بچ شی. او دغه ښځه ورسره پاتے شی. دا خو دَ عوامو حال دے. چه په هره خبره کښې دَ خپل نفس اتباع کوی. تر دے چه عالمانو ته هم دا فرمائش کوی. چه دَ شریعت مسئلے ځمونږ دَ خواهش موافق جوړه کړئ. پاتے شو عالمان. نو دَ هغوئ څو

بل چا تہ ځۀ حاجت نشته. دَ فقهې کتابونه ورسره پراته وی چه څنګه ئې طبیعت
منی هغه شان مسئله پکښې را پیدا کړی. زۀ دا نۀ وایم چه ټول عالمان داسې دی. خو کوم
چه حُبّ مال او حُبّ جاه کښې مبتلا وی. هغوئ دغه شان کوی. او دَ داسې عالمانو دَ فتوې
هم څۀ اعتبار نشته. دَ دُنیا په حرص او محبت کښې ګمراهی هم دغه شان مولیان
خوره وی.

بد گهر را علم و فن آموختن   دادنِ تیغ است بدستِ راهزن

(نااهل ته علم و هنر ښیل. دَ غلُ په لاس کښې توره ورکول دی.)

پخوا چه دا رواج وو. چه هر چا ته دَ عالم او مقتدا کیدو اجازت نۀ وو. په دې کښې
غټه مصلحت دا وو. چه نااهله به دَ نفس اتباع کوی. غلطې فتوې به ورکوی. لیکن هغه
کښې دا کمے وو چه انتخاب ئې غلط وو. هغوئ دَ خاصو خاصو قومونو انتخاب کړے وو
چه دے قومونو ته دَ علمِ دِین حاصلولو اجازت شته. او نورو قومونو ته نشته. دَ انتخا
دا معیار غلط دے. دَ انتخاب معیار په قوم نه. په اشخاصو پکار دے. چه استاذان ئې دَ تعلیم
په دوران کښې دا اندازه اولګوی. چه په چا دَ دُنیا حرص غالب دے. او په چا نۀ دے. په چا چه دَ
دُنیا حرص غالب وی. هغۀ ته دَ اعلیٰ تعلیم اجازت نۀ دی ورکول پکار. او په چا کښې چه دَ
دُنیا حرص کم وی هغه دِ اعلیٰ تعلیم اوکړی. او دَ قوم مُقتدا (قاضی یا مُفتی) دِ شی.
په بغداد کښې یوه لویه مدرسه وه. "مدرسه نظامیه". دَ دے مدرسے نه لوئ لوئ عالمان
وُتی دی. لکه امام غزالیؒ. او شیخ سعدیؒ. وغیره. دَ دے مدرسے جوړولو وجه دا وه. چه په هغه زمانه
کښې دَ حکومت غټې غټې عهدې به دَ عالمانو سره وې. نو دَ چا پلار چه به قاضی یا مفتی وو. دَ
هغۀ خوئ به هم بیا دَ دے عهدے دعویدار وو. لیاقت به پکښې وو که نه. نو بادشاه دَ وزیرانو
په صلاح یوه مدرسه جوړه کړه. چه دَ دے مدرسے فارغ عالمانو ته به سرکاری عُهدے ورکولے شی
چه نالائقه کسان په غټو عُهدو را نشی.
په کومه ورځ چه دَ دے مدرسے بُنیاد کیښودې شو. په هغه ورځ دَ بُخارا عالمان ټول خفه
وو. چه تر اوسه خلقو علمِ دین دَ الله دَ رضا دَ پاره کولو. او س به ئې دَ دُنیا دَ پاره کوی. خو بیا

هم دَ دے مدرسے نه ډیر غټ غټ عالمان راوتي دي. دا سے عالمان چه ټول مسلمانان په فخر کولے شي. دا سے عالمان چه په دُنیا کښے ئے مثال نشي موندے.

یوه ورځ بادشاه په بدله جامه کښے خپله دَ دے مدرسے معائنے ته راغلو. اوبیا پټ ئے دَ ازمیښت دَ پاره دَ طالبانو خیالات معلومول شروع کړو. دا ئے معلومول چه دوی علمِ دین په څهٔ غرض کوی. نیتونه ئے څهٔ دی؟

یو طالب نه ئے تپوس اوکړو. چه تهٔ دلته سبق ولے وائے. هغهٔ ورته اووے څما پلار قاضی دے. چه زهٔ عالم شم نوزهٔ به هم قاضی شم. بل نه ئے تپوس اوکړو. هغهٔ ورته اووے، څما پلار مُفتی دے. چه زهٔ به عالم شم. نو زهٔ به هم مُفتی شم. غرض دا چه دَ چا نه ئے تپوس کولو څهٔ دُنیاوی غرض به ئے ورته بنیلو. بادشاه ډیر خفه شو. چه افسوس دے. دینی عِلم دَ دُنیا دَ پاره کیږی. په زرګونو روپئ بے ځایه لګی. زړه ګښے ئے اووے. چه دا مدرسه بندول پکار دی.

امام غزالیؒ چرته یو کوټ کښے ناست وو. کتاب ئے کتو. ظاهری حالت ئے ډیر دَ غریبئ او کمزورتیا وو. (په طالبئ کښے ئے یا څهٔ خاص شهرت نهٔ وو شوے) بادشاه دَ هغهٔ نه هم تپوس اوکړو. چه تهٔ تعلیم ولے کوے. هغهٔ ورته اووے. په عقلی او نقلی دلیلونو دا ثابته ده. چه څموږ یو حقیقی مالک شته. کوم چه دَ آسمانونو او زمکے او تمام مخلوق مالک دے. او دَ مالک اطاعت او مالک راضی کول ضروری دی. چه هغه په څهٔ راضی کیږی هغه کار کول. او چه په څهٔ ناراضه کیږی هغے نه ځح کیدل پکار دی. زهٔ سبق په دے غرض وایم. چه دَ خپل مالک مرضیات او نا مرضیات معلوم کړم. یعنی چه هغه په څهٔ خوشالیږی او په څهٔ ناراضه کیږی. دے معلوملو دَ پاره دَ علمِ دین ضرورت دے بادشاه په دے جواب ډیر خوشال شو. هغهٔ ته ئے حال اووے. چه زهٔ بادشاه یم. دَ مدرسے حال معلوملو دَ پاره راغلے وم، او دَ دے دَ بندولو نیت مے کړے وو. (ځکه چه اکثر طالبان پکښے علم دَ دنیا دَ پاره کوی) خو ستا په وجه مے دا اراده پریښوه. نو عِلم په دے غرض پکار دے کوم چه امام غزالیؒ بادشاه ته بیان کړو. (یعنی دَ دے دَ پاره

چه دَ الله تعالیٰ مرضیات او نامرضیات معلوم شي) او دَ چا غرض چه دُنیا ګټل او دَ مال محبّت وي. دَ داسے عِلم نه چا ته فائده نهٔ رسي.

پخوا به اُستاذانو کتل چه کوم طالب علم دَ دُنیا دارو سره کیني پاځي. او کوم ورسره تعلّق نهٔ ساتي. نو کوم چه به دُنیا دارو سره تعلّق ساتلو هغه به ئې دَ درس نه خارج کړو. ځکه چه دُنیا دارو سره تعلق کښے سوا دَ دُنیا نه نوره څهٔ فائده ده؟ څوک چه دُنیا دارو سره تعلق ساتي معلومه شوه چه دَ دنیا حریص دے. دَ امیرانو په دربار کښے چه کوم عالمان وي. حقه خبره نشي کولے دَ هغوئ تائید کوي په حقه وي که ناحقه. چه صاحب به خفه شي. او کوم عالم چه امیرانو سره تعلق نهٔ ساتي. هغه ورته په مخامخ حقه خبره کولے شي. هغه که دَ امیرانو په مجلس کښے کیني نو دا دَ هغهٔ دَ پاره مجاهده او دَ ثواب کار دے.

یو سړی دَ یو مشهور بزرګ دَ ملاقات دَ پاره لوئے سفر اوکړو. دَ ډیر لرے نه دَ هغهٔ مُلاقات ته راغلو. هلته خبر شو. چه هغه خو دَ بادشاه ملاقات ته لاړ دے. ډیر خفه شو. چه ما ورپسے دومره مزلے اوکړے. او هغه دُنیا دار اوختو. واپس تلو. چه سپاهیانو اولیدو ورباندے ئې دَ غیر ملکي جاسوس شک راغلو. ګرفتار ئې کړو. او دَ بادشاه دربار ته ئې بوتلو. هغه بزرګ هلته ناست وو. بادشاه ته ئې اووے دا جاسوس نهٔ دے ځما میلمهٔ دے. نو بادشاه آزاد کړو. هغه بزرګ هم ورسره راروان شو. په لاره ئې ورته اووے. زهٔ دغسے کارونو دَ پاره دَ بادشاه دربار ته ځم. نو دَ هم ورسره څهٔ تعلق نشته. داسے به په سلو کښے یو هم په مشکله پیدا کیږي.

—— ځمونږ او دَ امیرانو مثال خو دَ چړے او خټکي دے. په لرے والي کښے ئې بهتري ده. که چړه په خټکي پریوته. هم خټکے ماتیږي. او که خټکے په چړے ورپریوتو هم خټکے ماتیږي. امیران که مونږ او بلي او که مونږ خپله ورشو. امیرانو سره تلو راتلو کښے په بندهٔ اَثر ضرور کیږي. دَ امیرانو سره تلهٔ راتلهٔ او اَثر نهٔ قبلول دَ ډیر مضبوطو سړی کار دے.

لکه ابوالحسن نوری رحمة الله علیه چه وو. دَ هغهٔ واقعه ده چه یو ورځ دَ دجله دریاب په غاړه روان وو. یو ځائے کښے ئې اولیدو چه دَ کشتۍ نه چاټۍ کوزیږي. تپوس ئې اوکړو چه دے کښے څهٔ دي. ماڼرګي ورته اووے. دے کښے شراب دي دَ خلیفه محل ته ځي. شیخ ته غُصه

ورغله. دَمانړکی نه ئے کوتک واخستو. په چاتو ماتولو ئے شروع اوکړه. نهه چاټی ئے ماتے کړے. او یوه ئے پرېښوه.

شراب خاص دَخلیفه وو. نو دَ شیخ چالان براهِ راست خلیفه ته پیش شو. خلیفه معتضد بالله ډیر رعب داب کښې دربار کولو. دَاو سپینے خول ... به ئے په سَر وو. زغره به ئے اَچولی وه. دروند گُرز به ئے په لاس کښې نیولے وو. او دَاو سپینے په کرسئ به ناست وو. یعنی دَ هغے زمانے پوره فوجی وردئ او اسلحه بند به هروخت تیار ناست وو. ډیر دروند او هیبتناک آواز ئے وو. شیخ چه ورمخامخ شو. ډیر په قهر ئے ورباندے چغه کړه. دا دِ څه اوکړو؟ شیخ ورته اووے ما چه څه کړی تا ته معلوم دی. دَ تپوس ئے څه فائده نشته. خلیفه چه دا دلیرانه جواب واورید و. نور هُم غصه شو. ورته ئے اووے. ته څوک مُحتَسِب خونه ئے. شیخ ورته اووے. زهٔ محتسب یم. خلیفه ورته اووے چا محتسب کړے ئے؟ مطلب ئے دا وو. چه خلیفه خو زهٔ یم ما نه ئے محتسب کړے نو چا محتسب کړے. شیخ ورته اووے. چا چه ته خلیفه کړے ئے. هغهٔ زهٔ محتسب کړے یم. او ورسره ئے دا آیت مبارک تلاوت کړو. یَا بُنَیَّ اَقِمِ الصَّلٰوۃَ وَاْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ وَانْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَاصْبِرْ عَلٰى مَا اَصَابَكَ ط (اے بچیه مونځ قائم کړه. دَ نیکئ حکم کوه. او دَ بدئ نه خلق منع کوه. او په دے کښې چه څه تکلیف در رسی. په هغے صبر کوه) خلیفه چه دا زړورے خبرے واوریدے نو ورته ئے اووے. زه تا ته رِ دَ نن نه محتسب کړے. لیکن یوه خبره را ته اُوښیه. چه نهه چاټئ دِ ماتے کړے. نو یوه دِ ولے پرېښوه شیخ ورته اووے ما چه نهه چاټئ ماتے کړے. نو نفس را ته اووے اے ابوالحسن تا خو دِ غټ کار اوکړو دَ خلیفه نه او نهٔ ویریدے او دَ هغهٔ شراب دِ تل کړل. په دغه وخت ما لاس او نیوو چه دا دومره کار خو رِم دَ الله دَ رضا دَپاره کړے وو. او س که دا بله ماتوم نو دا به دَ نفس دَپاره وی. نو دا م پرېښوه.

دغه شان یو واقعه دَ حضرت علی کرم الله وجهه هم ده. چه یو کافر ئے راغورزولے وَو په سینه ورته ناست وو. وژلو ئے. چه هغهٔ ورته په مخ تو کے واچولے. حضرت علی رض په هغه ساعت دَ سینے نه پاخیدو. او ئے نه وژلو. هغهٔ ورته تپوس اوکړو چه ولے دِ پرېښوم. زهٔ خو دِ په قبضه کښې



Scanned with CamScanner

راغلے دم. او دوئ بے ادبی رم هُم اوکړه. حضرت علیؓ ورته اووے، اول خوم دَ الله دَرضا دَپاره وژلے. خو چه تا را باندے توکے واچولے نو ماته غصه راغله. نفس راته اووے داګستاخ خو زر ختم کړه. چه دَ نفس خواهش ورسره ګډ شو. نو اوس ستا وژل خالص دَ الله دَرضا دَپاره نهٔ وو. ځکه رم پریښودے. دے خبرے دَ هغه کافر په زړهٔ اثر اوکړو. کلمه ئے اووے او په هغه ساعت مسلمان شو.

دا واقعه رم دَ نیت دَ صفائی په مناسبت بیان کړه. او دَ نورې واقعه رم دَ حق ګوئی دَپاره کوله. حاصل دا چه عالم که دَ امر بالمعروف او نهی عن المنکر دَپاره امیرانو سره ورځی نو خیر دے. څهٔ نقصان ئے نشته. او که دوئ همّت پکښے نهٔ وی. په مخ ورته حقه خبره نشی کولے. بلکه دَ هغوئ دَ هرے حقے او ناحقے تائید کوی. نو بیا دَ امیرانو دَ مجلس نه ځان ساتل ضروری دی. په حدیث شریف کښے راغلی دی. اَلْعُلَمَاءُ اُمَنَاءُ الدِّيْنِ مَا لَمْ يُخَالِطُوا الْاُمَرَاءَ فَاِذَا خَالَطُوا الْاُمَرَاءَ فَهُمْ لُصُوْصُ الدِّيْنِ. (عالمان دَ دین حفاظت کوونکی دی څو پورے چه امیرانو سره خلط نشی. او چه دَ امیرانو سره خلط شی. نو بیا دَ دین غلهٔ شی)

لکه دَ لربو ورځو واقعه ده. دَ یوے ښځے دَ یو سړی سره اشنائی وه. دا ئے غوښته. چه په څهٔ چل دَ خپل خاوند نه ځان آزاد کړی. او دے اشنا سره نکاح اوکړی. نو یو دَ دین ډاکو مُلا ورته دا چل اوښیلو. چه څهٔ کُفری الفاظ اووایه نکاح به دِ ماته شی. بیا توبه اوباسه او کلمه اووایه مُسلمانه به شے. خاوند نه به آزاده شے او اشنا سره به دِ نکاح جائز شی. (نعوذ بالله) داسے ظالمانو علم او عالمان بدنام کړی دی.

غرض دا چه په عالمانو کښے دَ اتباع هوٰی مرض په بل رنګ څرګند یږی. او په عوامو کښے په بل رنګ کښے وی. په عالمانو کښے بیا کوم چه ډیر پرهیزګار کسان دی. هغوئ کښے هم دَ اتباعِ هوٰی مرض شته. خو هغوئ نهٔ دَ مال طلبګار وی. نهٔ دَ جاه. نو هغوئ کښے دا مرض ډیر پټ او په بله طریقه وی.

مثلاً په تربیت کښے دَ غصے په وجه چا سره بے ځایه سختی اوکړی. بیا د رد ورته او وائی نو بیا ئے نفس دا تاویل اوکړی چه دا سختی خو دَ اصلاح دَپاره وه. په دے څهٔ ګرفت نشته

ستانیت صفا وو. لیکن دا تاویل هلهٔ صحیح کیدۓ شی. چه دَ سختیٔ کولو نه مخکښې ئې هم داخیال په زړهٔ کښې وی. او واقعی هم دغه دَ تربیت جذبه ئې دَ سختیٔ محرکه وی. لیکن په هغه وخت کښې خوئې بې دَ غصې نه بل څهٔ په زړهٔ کښې نهٔ وو. چه دَ زړهٔ براس ئې اوویستو. نو اوس په فرصت کښې ئې دا تاویل جوړ کړو. او کله کله ځان صفا کولو دَ پارهٔ دَ خلقو مجلس کښې اوهم وائی. ډیره سختی راند اوشوه. خو څهٔ اوکړو. بې سختیٔ تربیت نهٔ کیږی. مجبوری وه.

دا په دے غرض وائی. چه دَ معتقدانو په زړونو کښې شک پاتې نشی. او دا خیال اوکړی چه صاحب خو ډیر سپین زړے او متواضع دے. اوګوروئ څنګه ئې دَ خپلې غلطیٔ اقرار اوکړو. بیا ورته معتقدین هم دَ خوشالولو دَ پاره اووائی. حضرت تا سوچه څهٔ کوئ ځمونږ دَ فائدے دَ پاره ئې کوئ. تا سو ته ئې څهٔ خیر دے؟ غرض دا چه معتقدین ورته نور هم دماغ خراب کړی. اسمان ته ئې اوخیژوی. مولانا فرمائی. ؎

(۱) تن قفس شکل است آنما خارجان — از فریبِ داخلان و خارجان
(۲) اینش گوید نے منم همرازِ تو — آنش گوید نے منم انبازِ تو
(۳) اوچو بیند خلق را سرمستِ خویش — از تکبر مے رود از دستِ خویش

(۱) بدن دَ پنجرے په شان دے. لیکن دَ روح دَ پاره اغزے دے. دَ خپلو اندرونی او خارجی حالاتو دَ مکر په وجه (۲) یو ورته وائی. زهٔ دِ همرازیم. او بل ورته وائی زهٔ درسره په غم درد کښې شریک یم. (۳) دا بنده عاجز چه خلق خپل عاشقان اووینی. نو دَ ډیره کبره نه ئې ځان ورک شی.

دا سے خلقو ته پکار دی. چه دَ کار کولو نه مخکښې دا سوچ اوکړی چه دا کار چه مونږ کوو په دے کښې دَ نفس اتباع څومره ده. او دَ شریعت اتباع څومره ده. نو دَ نفس خواهش پکښې پریښول پکار دی. او دَ شریعت په حکم عمل پکار دے. مثلاً یو مالدار سړے ئې ملاقات ته راغلو. او دَ هغهٔ قدر عزت اوشو. نو نفس ورته اووائی. په دے کښې څهٔ نقصان نشته. شریعت هم مونږ ته دَ قوم دَ مشرانو دَ عزت کولو هدایت کړے دے. که دا سے اونشی نو دِل شکنی به ئې اوشی. او دَ مسلمان دِل شکنی گناه ده۔

حدیث شریف کښې راغلی دی. اِذَا جَاءَکُمْ کَرِیْمُ الْقَوْمِ فَاکْرِمُوْهُ. (تاسو سره چه دَ قوم مشر راشی عزت ئې کوئ) درحقیقت دا خبره فی نفسه صحیح ده. لیکن کتل داپکار دی. چه آیا مونږ ئې هم عزت په دے غرض کړے دے. یعنی دَ شریعت په حکم. که خپل څۀ ذاتی غرض پکښې وو. نو که غور اوکړے شی. دا وجه ئې بالکل نۀ وی. بر هغه وخت ئې په زړۀ کښې داخیال هم نۀ وی. دا وجهے ورته روستو جوړولے شی.

غرض دا چه نفس ته ډیر چلونه ورځی. فاسقان په یو رنګ کښې تیر باسی. او نیکان په بل رنګ کښې. طالبانو او عالمانو ته بل څۀ ورمخکښې کوی. او درویشانو ته بل څۀ. مولانا[7] فرمائی ـــــ ے

۱ صد هزاران دام و دانه است اے خدا ما چو مرغانِ حریص و بے نوا

۲ دم بدم پابستۀ دامِ توایم هریکے گر بازو سیمرغے شویم

۳ مے رهانی هر دمے مارا و باز سوئے دامے میروم اے بے نیاز

۱ (اے خدایه په لکونو دامونه او دانے پرتے دی. او زمونږ حال دَ وږو او حرصناکو مرغانو په شان دے)

۲ هروخت په یو نوی دام کښې نښلو. که مونږ هر یو باز او سیمرغ ولے نشو.

۳ اے بے نیازه بادشاه دا ستا مهربانی ده چه هروخت مو دَ دے دامونه خلاصوے. لیکن مونږ بیا سمدستی بل دام ته ورمنډه کړو.)

لیکن دا ضروری خبره ده. چه څوک کار کوی اودَ اخلاص کوشش کوی. هغوئ ته په غلطئ تنبیه کیږی. لیکن مشکل دا دے چه ډیر کسان دَ تنبیه نه پس هم هغې کار سمولو باندے شروع کیږی. نفس ورته وائی بیا به داسے نۀ کوم. خو اوس په دے کښې اصلاح کول دَ مصلحت خلاف دی. لیکن خبره دا ده چه څوک په څرګنده دَ خپلے غلطئ اقرار اوکړی. نو آئنده دَپاره ئې دَ عمل توفیق کیږی. او څوک چه داسے او نکړی توفیق ئې کیږی. بیا په بله موقع هم دَ هغې غلطئ اصلاح نشی کولے. دا دَ تجربے خبره ده.

او یو دهوکه بله کیږی. هغه دا چه که څۀ کمے زیاتے ترے اوشی. نو نفس ورته وائی ستا په زړۀ کښې دَ ذکر په وجه لطافت پیدا شوے دے. ستا وجدان صحیح شوے دے. ته غلط کار

نشے کولے۔ دا کار بہ ہم دغہ شان صحیح وی۔ نو فی نفسہ دا خبرہ صحیح دہ۔ دَمومن پہ زړۂ کښے دَتقویٰ پہ وجہ نور پیدا کیږی۔ چہ ھغہ ئے دَ غلطیو نہ بچ کوی۔ حدیث شریف کښے راځی اِتَّقُوْا فِرَاسَۃَ الْمُؤْمِنِ فَاِنَّہٗ یَنْظُرُ بِنُوْرِ اللّٰہِ ۔ (دَمؤمن دَفراست نہ ویریږئ ځکہ چہ ھغہ دَ اللہ پہ نور ځیز وینی) یعنی اللہ ئے امداد کوی۔ او دَغلطیٔ نہ ئے بچ کوی۔

ما اوریدلی دی۔ چہ حاجی امداد اللہ صاحبؒ تہ پہ مکہ معظمہ کښے یو سړے راغلو۔ چہ زۂ مدینے منورے تہ ځمہ۔ پہ کوم لار لاړشم۔ (پہ دغہ ورځو کښے لارے خطرناکے وے۔ قافلے بہ لوټ کیدے۔ مترجم) ھغۂ تہ ئے اووے دَ ینبوع پہ لار لاړشہ بیا بل سړی دغہ شان تپوس اوکړو ھغۂ تہ ئے اووے پہ شاھی سړک لاړشہ۔ خو کوم سړی تہ چہ ئے دَ ینبوع لار ښیلی وہ۔ ھغہ ہم پہ ځۂ وجہ شاھی سړک باندے لاړو۔ دَحاجی صاحب پہ مشورہ ئے عمل اونکړے شو۔ نو ھغۂ تہ پہ لار کښے ډیر تکلیف اورسیدو۔ بد دیانتو سرہ ئے مقابلہ راغلہ او ډیر پہ تکلیف شو۔ لیکن کوم سړی تہ چہ ئے دا لار ښیلی وہ۔ ھغہ ہم پہ دے لار ښۂ پہ آرام لاړو۔ ھیڅ تکلیف ورتہ اونۂ رسیدو۔ روستو بیا چا دَحاجی صاحب نہ تپوس اوکړو چہ پہ دے کښے څۂ حکمت وو۔ چہ یو کس تہ مو یو لار اوښیلہ او بل کس تہ مو بلہ لار اوښیلہ تہ ھغوی اوفرمائیل۔ زۂ دَ حکمتونو نہ یم خبر خو ھغۂ چہ تپوس اوکړو۔ ځما زړۂ تہ دغہ لار راغلہ۔ لو مہ چہ م ورتہ اوښیلہ۔ او چہ بل سړی تپوس اوکړو۔ نو زړۂ تہ م دا بلہ لار راغلہ۔ نو ھغۂ تہ م ھغہ لار اوښیلہ۔ واقعی دَ دا سے کسانو نہ غلطی ډیرہ کمہ کیږی۔ قدرت ئے رھنمائی کوی۔

پہ دے پورے یو بلہ قصہ را یادہ شوہ ــــ یو بزرگ تہ څو کسان راغلو عرض ئے اوکړو مونږ پہ سفر روانیږو اجازت راکړہ او دُعا راتہ اوکړہ۔ او څۂ نصیحت راتہ اوکړہ۔ ھغہ بزرگ ورتہ اوفرمائیل۔ چہ پہ لار کښے دَ ھاتھی غوښہ مۂ خورئ۔ ھغوئ عرض اوکړو۔ مونږ خو دَ دے څۂ اِرادہ نشتہ۔ دا مو څنګہ اووے۔ ھغۂ ورتہ اووے دَخولے نہ م دا اووتل۔ اللہ بہ خبر وی چہ ولے؟ ھغہ سړی رخصت شو۔ چہ تہ ترے

لار خطا شوه په یو ځنګل ورغلو دَ لوږے تندے نه بے درکه شو. په یو ځائے کښے دَ هاتهی بچے اولیدو. صلاح ئے اوکړه چه دا بچے به را اونیسو حلال به ئے کړو. غوښه به ئے وریته کړو. او ځانونه به ښه ماړه کړو. بیا به مخکښے سفر ته تازه شو. ټولو صلاح اوکړه خو یو کس منع کړل. چه دَ حضرت نصیحت موهیر کړو. هغه درته ویلی وو. چه دَ هاتهی غوښه مه خورئ. خو هغوئ لوږے په سر اخستی وو. او ئے وے هیڅ پروا نشته. بته مه خوره. مونږ خو ئے خورو. غرض دا چه هغه یو سړی غوښه اونه خوړه. نورو پرے ځانونه ښه ماړه کړو. ستړی خو وو. چه ماړه شو په هغه ځائے اوغزیدو او اوده شو. کوم چه اوږے وو. هغه ته خوب نه ورتلو. ویښ ناست وو. څه ساعت پس دَ هاتهیانو یوه رمه راغله. مخکښے دَ دغه بچی مور هم وه. هغه خپل بچی پسے ګرځیده. دغه ځائے ته راغله. کوم ځائے چه دا مسافر اوده وو. دَ یوه خوله ئے بوئ کړه. دَ غوښے بوئے ورغلو. جوړه په یوه ښپه ئے ورته ښپه کیښوه بله ښپه ئے ترے په خړتم کښے راښکله او په مینځ ئے نیم کړو. دغه شان ئے نور هم ختم کړل. کوم یو کس چه غوښه نه وه خوړلی. هغه ئے دوغونډے په خړتم کښے را اوچت کړو. په شا ئے سور کړو. لرے ئے یوے میوه دارے ونے ته اودرولو. ونه دَ مزیدارے خوږے میوے نه ډکه وه. ځان ئے پرے ښه موړ کړو. بیا ئے بوتلو. کوم ځائے چه ترے لار خطا شوی وه. صحی لاره کښے ئے پریښو. نو هغه خپل منزلِ مقصود ته اورسیدو. او نور ځنګل کښے مړه پاتے شو. دَ الله تعالیٰ دَ دوستانو دا شان وی.

شعر

گفتهٔ او گفتهٔ الله بود گر چه از حلقومِ عبدالله بود

( دَ هغهٔ وینا دَ الله وینا وی. اګر چه دَ الله دَ بنده دَ خولے نه وتی وی)

لیکن خبره دا ده. چه آیا واقعی نه هم په هغه کسانو کښے ئے. چه زړه ئے دَ الله په نور روښانه وی. که هسے نفس دهوکه درکوی.

شعر

(اے ځوانه ته چه پیاده دَ سور مقابله کوے. بیدارا وسه سر به سلامت یو نه سے)

۱ چون تو یوسفؑ نیستی یعقوبؑ باش   ہمچو او با گریہ و آشوب باش
۲ ناز را روئے بباید ہمچو ورد   چون نداری گِردِ بدخوئی مگرد
۳ زشت باشد روئے نازیبا و ناز   عیب باشد چشم نابینا و باز

۱ (ته چه د یوسف په شان محبوب نه ئے. نو د یعقوبؑ په شان عاشق شه. ژړا زاری او درد پیدا کړه.
۲ د دنیا ز د پاره د ګلاب په شان ښائسته مخ پکار دے. چه ښائست نه لرے نو هسے بدخوئی مه کوه.
۳ ر د بد شکلو سړو نازښه نه ښکاری. لکه ړنده ستر ګه چه بکه ؤ ډیره بده ښکاری.)

نو خوک چه کامل نه وی. هغه دِ ځان د کاملانو په شان نه ګنړی. د خپل نفس خواهش د کاملانو په وجدان او فراست قیاس کول سخته غلطی ده. مونږ له پکار دی چه هر وخت په خپل ځان بدګمانه اوسو. که څه وخت راته د نفس خواهش کمزورے ښکاره شی. هم غافل کیدل نه دی پکار. د اُوده مار په شان تر ے ځان ساتل پکار دی.

واقعی چه یو سړے غره ته لاړ وو. هلته ئے یوه اژدها اولیده. چه د یخنی نه کوکله پرته وه. ده په د مړے خیال اوکړو. تماشے د پاره ئے په کیړی کښے کلی ته راوړه. په هغے چه د نمر شغلے اولګیدے. را بیداره شوه. خلقو د هیبته منډے کړے په یو بل ورپریوتل. ډیر پکښے د لْ شو. دغه حال د نفس هم دے چه څه سامان ورسره نه وی نو کمزورے شی. او غلے پروت وی. مولانا فرمائی.

نفس اژدر است او کے مُرده است   از غمِ بے آلتی افسرده است

(نفس اژدها ده مړه کله دے؟ خود بے سامانئ په غم کښے مړاوے دے.)

ځمونږ خلقو دا حال دے. چه څو ورځے ذکر شغل اوکړو. تهجد وته پاڅو. نو په ځان مو د کامل ګُمان اوشی. او په نفس اعتبار اوکړو. چه اوس خو په قبضه کښے راغلو حالانکه نفس که هر څومره مهذب شی. بیا هم په اعتبار نه دے پکار. همیشه په بدګمانی پکار ده. او په هر کار کښے اول دا سوچ پکار دے. چه چرته د نفس خواهش خو پکښے ګډ نه دے؟ کله کله نفس خپل خواهش د اخلاص په رنګ کښے هُم پوره کوی.

حضرت مولانا گنگوهیؒ یو سړی ته دَ ذکر تلقین کولو. نو هغهٔ ورته اوؤ. حضرت دَ ذکرِ خفی اجازت راکړه. ځکه چه په جهر کښې ریا راځی. حضرتؒ ورته اوفرمائیل. سبحان الله په خفی کښې به ریا نهٔ راځی. چه تا سر ټیټ ښکته ښوولے وی. سالک دِ په ټیټ کړے وی. خلق به وائی خدائے خبر صاحب دَ عرش و کرسی په سیر کښې غرق دے. او که دَ کوم مقام سیر کوی. په ذکرِ جهر کښې خوبے دَ دے نه بل خیال نشی کولے. چه دَ الله نوم اخلی. او دا خلقو ته بده خبره نهٔ ده.

۱ نو په دې کښې دَ نفس یو شرارت خو دا شو. چه وړه ریائے پریښوده. غټه ریا ته ئے کوټے کړے.

۲ بل شرارت پکښې دا دے. چه که په جهر ذکر کوی. چه کله او دهٔ پاتے شی. خلق ئے ذکر وانهٔ وری نو راز به ئے فاش شی. ټوله محله به خبر شی. چه بیگا صاحب ذکر ته نهٔ دے پا څیدلے. په خفی ذکر کښې دا پته چا ته نهٔ لګی. که اُوده پاتے شی څوک ترے نهٔ خبریږی. خلق به وائی نو رکله هم پټ ذکر کوی. نن به هم پا څیدلے وی ځپل کار به ئے پوره کړے وی. نو راز ئے نهٔ ښکاره کیږی.

دَ یو بزرګ قول دے. نفس غټه بلا ده. ډیر چلونه ورځی. البته که مطمئن شی. صرف دَ خیر خواهش کوی نو ډیره ښهٔ ده. خو اعتبار په بیا هم نهٔ دے پکار. اکثر ئے څه پټ چل جوړ کړے وی.

وائی چه یو بزرګ په خلوت کښې ناست وو. ذکر ئے کولو. چه ناڅاپه دَ کافرانو او مسلمانانو غزا جوړه شوه. نو دے بزرګ ته نفس اووے. خلوت نه را اوزه جهاد ته لاړ شه. چه دَ شهادت لویه مرتبه دِ نصیب شی. هغه سوچ اوکړو. چه نن را ته نفس دا ښهٔ خبره څنګه اوکړه. هسے نه چه دے کښې ئے هم څه چل وی. دَ ډیر غور نه پس ورته معلومه شوه. چه نفس دا تجویز په دے خیال پیش کړے دے. چه دا سړے شپه ورځ ما کړوی. هر وخت را باندے دَ شریعت دَ پابندئ پیټی پورته کوی. ارام ته مې نهٔ پریږدی. په شهادت کښې به په یو ځل دَ دے ټولو غمونو نه خلاص شم. چه دا مکر ئے ورته معلوم



Scanned with CamScanner

شه. نو نفس ته ئې جواب ورکړو. چه دَ دے غم نه دِ خلاصے نشته. میدانِ جنګ ته حاجت نشته. زهٔ به دِ هم په دِ خلوت کښې شهید کړم.

په څنه کسانو چې فرض نهٔ وی. خو دَ چې شوق ئې ډیر وی. په دے کښې هُم دَ نفس دا مکروی چه دَ یو نفلی کار دَ پاره ورنه ډیر فرض کارونه قضا کړی. (نو دَ ثواب پر ځائې عذاب اوګټی) په نفلی حج روان وی. او په سفر کښې ورنه فرض مونځونه قضا شی. دَ ملګرو سره جنګ جګړے اوکړی. یا بدرد اووائی. (دَ حج په سفر کښې دا دواړه کاره حرام دی) نو دَ نفلو ثواب ګټلو په ځائې دَ حرامو په عذاب کښې مُبتلاشی.) ډیر خو په دے خیال ځی. چه خلق را ته حاجی صاحب اووائی. او عزت مِ زیات شی. دَ داسے خلقو دَ پاره مسعود صاحب ویلی دی.

شعر

اے قوم بحج رفته کجائید کجائید  معشوق درینجاست بیائید بیائید

(اے دنفلی) حج ته روانو خلقو تاسو چرته ځئ چرته ئې. راځئ راځئ معشوق خو دلته دے.)

یعنی که ستاسو غرض دَ محبوبِ حقیقی رضا حاصلول وی. نو هغه خو دلته په خپل وطن کښې هُم حاصلیدے شی. تاسو باندے حج فرض نهٔ دے. او دَ نفلی کار دَ پاره درنه فرض او واجب پاتے کیږی. نو دے کښې خیر څهٔ شو. غرض دا چې نفس و شیطان هر چا ته دَ هغهٔ دَ ذوق مُطابق دهوکه ورکوی.

لږے ورځے کیږی. ما ته یو مولویصاحب راغلے وو. هغهٔ ته نفس ویلی وو. چه په درس تنخواه اخستل پریده. خالص دَ الله دَ رضا دَ پاره مُفت درس ورکوه. دَ تنخواه په درس کښې اخلاص نهٔ پاتے کیږی. ما ورته اووے. چه دا دَ شیطان فریب دے. تهٔ دَ دین کار کښې لګیا ئې. شیطان دِ په څهٔ چل دَ دے کار نه پاتے کوی. دَ دینداری په رنګ کښې ئې درته چل جوړ کړے دے. که هسے ئې درته ویلے وے چه درس پریده. نو تا به نهٔ وو پریښے. نو دا چل ئې درته جوړ کړو. چه دَ تنخواه په درس کښې اخلاص نهٔ وی. اوس خو دَ تنخواه په وجه پابندی کیږی. چه نوکری ختم شی. بے تنخواه درس شی. نو روز وبه پابندی کمیږی. او آخر به درس ختم شی. او شیطان به په خپل مکر کښې کامیاب

شی. او ستا چه دا خیال دے چه تنخواه سره اخلاص نهٔ پاتے کیږی. نو دا راته او وایه چه اوس دِے مدرسه کښے چه تهٔ خومره تنخواه اخلے که بل ځائے کښے څوک دَ دے نه زیاته درکوی. نو دا ځائے به پریږدے؟ هغهٔ او وے نه. تنخواه پیسے خو بل ځائے ته نهٔ ځم. ما ورته او وے. بس معلومه شوه. چه ستا غرض دُنیا نهٔ ده. درس دَ تنخواه دَ پاره نهٔ ورکوے. درس خالص دَ دین خدمت دَ پاره ورکوے. او تنخواه دَ گذارے دَ پاره اخلے چه په دے تنخواه دِ گذاره کیږی نو زیاتے پیسے نهٔ غواړے. نو اوس خو نوکری هرگز مهٔ پریږده بلکه ځما خو دا خیال دے. چه عالم که مالداروی تنخواه اخستو ته ئے حاجت نهٔ وی. هم ورته تنخواه اخستل پکاردی. او که خامخا ځان مستغنی گنړی. نو هغه تنخواه دِ بیا دَ مدرسے په چنده کښے ورکوی. یا دِ غریبانو طالبانو ته ورکوی. خو اخلی دِ ئے ضرور چه کار پابندئ سره کولے شی. بے تنخواه پابندی گران ده.

ځمونږ فقهاوُ لیکلی دی. (اللّٰه تعالیٰ دِ جزائے خیر ورکړی) که قاضی غټ امیر وی. تنخواه ته ئے ضرورت نهٔ وی. بیا هُم تنخواه اخستل پکاردی. ځکه چه کیدے شی. څهٔ مُدهٔ پس بل غریب قاضی په دے ځائے کینی. نو دَ هغهٔ دَ پاره به بیا تنخواه جاری کول گران شی. سبحان اللّٰه. دا حضرات څومره حقیقت شناس وو. دا ټول دَ اخلاص او تقوی برکت دے. مولانا فرمائی. ؎

بینی اندر خود علومِ انبیاء     بے کتاب و بے معین و اوستاد

عِلم چون برتن زنی مارے بود     علم چون بردل زنی یارے بود

(۱) دَ تقوی په وجه به دَ پیغمبرانو په شان علوم په زړهٔ کښے بے کتابه. بے مددگاره او بے استاذه خپله پیدا کیږی.

(۲) علم چه په زړهٔ اثر اوکړی خلوص وخشیت پیدا کړی. نو وصول الی اللّٰه کښے به ستا مددگار وی. او که علم دَ تن پروری دَ پاره ذریعه کړے (دُنیا پکښے) نو دا به ستا دَ پاره وبال شی. آخرت به دِ خراب شی.

دَ فقهاوُ دَ خلوص دا حال وو. چه دَ هدایه مُصنّف چه هِدایه لیکله. نو دَ کتاب ترختمولو

ئے روزے نیوے. ځانته بیټهک کښے ناست وو- چا ته ئے د روزے حال نه وے. کور کښے ئے هم نه وو ویلی. کورنه به خادم ورته روټئ راوړه. نو هغه به ئے چا مسافر ته ورکړه. خدائے خبر څو کاله کښے به ئے دا غټ کتاب لیکلے وی. دا دومره موده ئے روژے نیوے او څوک ترے خبر نه وو. شاید چه چرته خاص دوستانو سره ئے کتاب ختمولو نه پس د الله ﷻ دا احسانا د ذکر په طور (تحدیث بالنعمة) ذکر کړے وی. ځکه مونږ ته دا روایت را اورسیدو-

نو د داسے مخلصانو تقویٰ دارو دا تحقیق دے چه په درس او قضا تنخواه اخستل پکار دی- په دے کښے ډیرے فائدے دی. لیکن نفس څنه وخت کښے دا فائدے بربادول غواړی. ځکه د تنخواه نه اخستو مشوره ورکوی.

غرض دا چه شیطان هر چا ته د هغهٔ د مذاق په رنګ کښے دهوکه ورکوی. او فقیه محقق نه شیطان ځکه ویریږی- چه هغه ئے د مکرونو نه خبر دی. او چلونه ئے ورته معلوم وی. نو د مکر جال ورته ورانوی. حدیث شریف دے. فَقِيهٌ وَاحِدٌ اَشَدُّ عَلَى الشَّيْطَانِ مِنْ اَلْفِ عَابِدٍ- (یو پوهه عالم په شیطان باندے د زرو عابدانو نه زیات دروند دے.)

نو ذاکران خو په دے طریقه اتباع هوٰی کښے آخته کوی. چه د ذوق و شوق وجد و محویت وغیره کیفیاتو محبت ورته په زړهٔ کښے کینوی. او د دے طلبګار ئے کړی.

یا دلرئ. د ذکر نه اصل مقصود قُرْبِ حَق دے. او په کوم عمل کښے چه مجاهده څومره زیاته وی دومره پکښے قُرب زیات وی. نفس خپل ځان د مشقت نه بچ کولو د پاره د ذوق و شوق حیله جوړه کړی- په شوق کښے بیا په عبادت کښے مشقت نهٔ وی. عبادت ورته آسان شی. او خوند ورکوی. البته د ذوق و شوق هم یو وخت دے. په هغه وخت کښے ورته حقیقی مُربی (الله) خپله دا کیفیت ورکړی. چه ئے وخت نهٔ وی راغلے تر هغے ئے غم کول فضول دی. ځو تجویزنه د حقیقی مُربی تجویز یقیناً بهتر دے.

د دے مثال داسے دے. لکه یو پوهه حکیم یو مریض ته خمیرهٔ ګاوُزبان عنبری د سرو په ورق کښے نغښتی تجویز کړی. او بل مریض ته د املتاس پیاله اولیکی- او هغه مریض دا شکایت اوکړی. چه دا څنګه حکیم دے هغهٔ ته ئے داسے مزیدار دارو ورکړل. او ما ته ئے داسے بے خونده. نو تول

خاق به ور پورے اوخاندی. چه داکم عقل دومره نۀ پوهیږی. دَ مریض دَ املتاسو پیالے څکلی دی. فاسدهٔ ماده ئے ختمه شوی ده. نواوس ئے مُفرّح دارو اولیکل. او دَ ستا معدهٔ یا دَ فاسدے مادے نه دِکه ده. چه داصفا شوی نۀ وی. مفرح دارو څنګه ورکړی. دَهغهٔ دَ پاره هغه مناسب وو. او ستا دَ پاره دامناسب دی. طبیب خودَ مریض حال ته ګوری. دَ هغے مناسب دارو ورکوی.

دغه شان یو مبتدی سالک که دَ کیفیاتو حرص کوی او ځان دَ منتهی سره سمول غواړی دچا چه اصلاح شوی وی. سختے ئے تیرے کړی وی. نو دا بے وقوفی ده. دَ عاشق شان خو دا دے چه په هرحال کښے راضی وی. لکه چه ویلی شوی دی.

خوشا وقتِ شوریدگان غمش ؛ اگر ریش بینند وگر مرهمش ؛

گدایان از بادشاهی نفور ؛ با امیدش اندر گدائی صبور

(۱) هغه په غم کښے دَ پریشانو خلقو څهٔ ښۀ حالت دے. که زخم وینی او که دَ هغے مرهم وینی. په دواړه حالتو کښے خوشال وی.

(۲) داسے فقیران دَ بادشاهئ نه نفرت کوی. دَهغهٔ دَ وصال په طمع په فقیرئ صابره وی؛

دمادم شراب الم درکشند ؛ وگر تلخ بینند دم درکشند

(دَ بادَبُ دَ غم شراب څکی. که تارخهٔ په لګی نو ساه بند کړی. (خاموشئ سره ئے برداشت کړی. فریاد نهٔ کوی.) حضرت سرمد فرمائی

سرمد گله اختصار میباید کرد ؛ یک کار ازین دوکار میباید کرد

یا تن برضائے دوست میباید داد ؛ یا قطعِ نظر از دوست میباید کرد

(۱) سرمده ګیله مختصر یکار ده. په دوؤ کارو کښے یو کار کول غواړی.

(۲) یا خو ځان دَ محبوب رضا ته حواله کړه. او یا ورسره تعلق ختم کړه. زړهٔ ترے صبر کړه)

عاشقی چیست بگو بندهٔ جانان بودن ؛ دل بدستِ دگرے دادن وحیران بودن

(عاشقی څهٔ وی خو دَ محبوب غلام جوړیدل- زړهٔ دَ بل په لاس کښے ورکول او خپله حیران اُودریدل-)

سوئے زلفش نظر کردن وروئش دیدن — گاه کافر شدن وگاه مسلمان بودن

(دَ محبوب زلفو او دَ هغهٔ مخ ته کتل (یعنی تجلیاتو کښې ډوبیدل) کله مسلمانیدل او کله کافر کیدل (یعنی کله دَ بسط حالت دَ تجلیاتو فراوانی. او کله دَ قبض حالت (تجلیات کمیدل) دلته دَ مسلمانئ نه مراد بسط دے. او دَ کفر نه مراد قبض دے. یعنی سالک باندے دا دواړه حالتونه راځی. او برداشت کول غواړی. دَ رسول کریم صلی الله علیه وسلم نه زیات محبوب دَ رب څوک دے. په هغوئ مسلسل درے کاله دَ قبض حالت وو. (وحی بند شوی وه.) یوځل ئے دَ غرهٔ نه ځان رغړولو اراده کړی وه. ځکه چه

ذوقے چنان ندارد بے دوست زندگانی — بے دوست زندگانی ذوقے چنان ندارد

(بے دوسته دَ ژوند څهٔ خوند نشته - بے دوسته دَ ژوند څه خوند نشته)

خو الله تعالیٰ بچ کړو. نو کړ قبض دَ بعد حالت وے. نو په رسول الله صلی الله علیه وسلم بر هیچرے نهٔ وو راغلے. ځکه چه هغه درب محبوب دے. او چه دَ بعد حالت نهٔ دے نو بیا په څوک ولے پریشان کیږی.

امام غزالیؒ چه دَ مدرسے نظامیے نه فارغ شو. نو دَ علم او ذهانت ډیر شهرت ئے اوشو. درے ۳۰۰ سوه عالمان بر په جلب کښے گرځیدل. څهٔ موده ئے ډیره په شان شوکت کښے تیره کړه. بیا پر دَ خدا طلبئ جذبه غالبه شوه. دا اراده ئے اوکړه. چه دا هرڅهٔ پریدم او خلوت کښے کینم. ټول تعلقات ئے ختم کړل. او دَ قدس په صحرا کښے معتکف شو. سخته مجاهده او ریاضتونه ئے اوکړل. مسلسل لس کاله دَ قبض په حالت کښے وو. دَ کم خوراکئ او ډیر ریاضت په وجه وچ هډوکی پاتے شوے وو. ډیر کمزورے شو او مرګ ته نزدے شو. نو خلقو ورته دَ علاج دَپاره یو عیسائی حکیم راوستو. هغهٔ چه ئے نبض اوکتو، نو ورته ئے اووے. دَ دهٔ څهٔ بدنی بیماری نشته. دَ عشق مرض ئے دے. او عشق ئے هم دَ مخلوق سره نهٔ دے. دَ خالق سره دے. ترڅو چه واصل شوے نهٔ وی جوړیدے نشی

قَدْ لَسَعَتْ حَيَّةُ الْهَوٰى كَبِدِيْ — فَلَا طَبِيْبَ لَهَا وَلَا رَاقِ

إِلَّا الْحَبِيْبَ الَّذِيْ شَغَفْتُ بِهٖ — فَعِنْدَهٗ رُقْيَتِيْ وَتِرْيَاقِيْ

(۱) زړهٔ دَعشق اژدها په زړهٔ چیچلے یم. نو دَ دے دَپاره نهٔ طبیب شته. او نهٔ دم کر-
(۲) بے دَهغې محبوبؒ چه زهٔ پرعاشق یم. هم دَهغهٔ سرهٔ ځما دَمرض دم دے. او دَهغهٔ سرهٔ ئے علاج دے)

امام غزالیؒ چه دَ طبیب خبرے واوریدے. نو یو چغه ئے اووهله. او بے هوش شو. غرض دا چه دَ ډیرو مجاهدو. ریاضتونو او تکلیفونو برداشت کولو نه پس کمالؒ اورسیدو. او بیا چه بغداد ته راغلو نو په بل شان کښے راغلو. امیرانو. طالبانو. او عالمانو ته به ئے دَ هغوئ روحانی بیماری په ګوته کولے. او دَ هغې علاج به ئے ورته ښیلو په دے خبرو ورسره دَ ډیرو عالمانو بدی شوه. دَکفر فتوے ئے په اولګولے. او دَهغهٔ کتاب "اِحْیَاءُالْعُلُوْمُ" (چه دَ روحانی مرضونو دَ شناخت او علاج دَپارهِ بهترین کتاب دے) ئے اوسوزولو.

(حضرت تهانویؒ فرمائی) الحمد لله دَ امامِ غزالیؒ په شان دا امتحان پرما هم تیر شوے دے. خلقو را باندے دَکفر فتوه لګولی ده. او ځما کتاب "بهشتی زیور" ئے سوزولے دے.

غرض دا چه دَ چا دَپاره په ذوق شوق (انوارو او تجلیاتو) یعنی بسط کښے مصلحت وی. او دَ چا دَپاره په سوزو دردو تنګسیا. یعنی دَ قبض حالت کښے مصلحت وی. په دے الله ښهٔ پوهیږی. چه دَ چا دَپاره په څهٔ کښے بهتری ده. هغه خپل بندیانٔ ډیر ښهٔ پیژنی. نو تاسو دَقبض و بسط خیالات پریدئ. خپل کار کښے لګیا اوسئ. انشاء الله یوه ورځ به کامیاب شئ.

خلاصه دا چه دَ مختلفو طبقو دَپاره دَهوٰی (نفسانی خواهش) مختلف اقسام دی. خو غټ غټ قسمونه ئے دا درے دی. (۱) دَعلومو متعلق هوٰی. (۲) دَ اعمالو متعلق هوٰی. (۳) دَ تکوینی کارونو متعلق هوٰی.

دَعلومو متعلق هوا. یعنی نفسانی خواهش چه دے. دَ هغې نوم بدعت دے. یعنی یو داسے کار چه دینی نهٔ وی. دینی کار ګنړل او دَ ثواب په طمع ئے کول. بدعات خو ډیر دی. لیکن دَ شبِ برات (دَ شبقدر دَمیاشتے پنځلسمه شپه) متعلق

کومه چه نزدے راتلونکی ده. دَیو څو بدعاتو تفصیل کوم.

په شبِ برات کښے دوه قسمه بدعتونه کیږی. یو علمی. او بل عملی. علمی خو دا لکه دَ شبِ برات په شپه دَ حلوا خیرات ضروری گنړل. او دَدے دَ پاره مختلف روایات جوړ شوی دی. څوک خو وائی. چه دَ رسول الله صلی الله علیه وسلم غاښ مبارک شهید شوے وو. نو حلوه ئے خوړلی وه. څوک وائی په دے شپه حضرت حمزه رضی شهید شوے وو. نو رسول الله صلے الله علیه وسلم ورپسے دَ حلوا خیرات کړے وو. حالانکه دا دواړه واقعے دَ اُحد دَ غزا دی. او دا غزا دَ واړهٔ اختر میاشت کښے شوی وه. او شبِ برات دَ شبقدر (شعبان) میاشت کښے راځی. نو دا روایات خو ئے دَ عقل او نقل دواړو خلاف دی. څوک وائی په دے شپه دَ مړو ارواح راځی (چه چا ورپسے دَ حلوا خیرات نهٔ وی کړے نو سبیږے ورته او کړی او خفه زهیر واپس لاړشی) نو دا دَ ارواحو راتلل یا خو به په لیدو ثابتیږی یا په وحی. ظاهره ده ارواح څوک لید لے نشی. او دَ وحی نه هم نهٔ ده ثابته. (قرآن شریف او احادیثو کښے ئے څهٔ ذکر نشته) بلکه دَ وحی نه دَ دے خلاف ثابتیږی. الله تعالیٰ فرمائی. وَمِنْ وَّرَآئِهِمْ بَرْزَخٌ اِلٰی یَوْمِ یُبْعَثُوْنَ ۝ (یعنی دَ ارواحو او دَ دے دنیا ترمینځه یو پرده ده دَ قیامت تر ورځے پورے. چه دے خواته راتلو ته ئے نهٔ پریدی.)

البته دَ خرقِ عادت په طور که چا ته خاص اجازت او شی. نو دا بیله خبره ده. لکه شهیدان دَ کرامت په طور راتلے شی. لیکن کرامت دائمی او اختیاری شے نهٔ دے. او کوم شے چه اختیاری دے. هغه کرامت نهٔ دے. هغے ته تصرّف ویلے شی. کرامت خو دا دے چه الله تعالیٰ دَ خپل یو دوست (ولی) عزت په یو خلاف عادت کار باندے ښکاره کړی. او ډیر ځله هغه صاحبِ کرامت ترے خپله هم نهٔ وی خبر.

لکه دَ یو بزرګ قصه ده. چه یو بادشاه چا دَ هغهٔ نه بدګمانه کړے وو. دَ بارته ئے را اوبللو چه بادشاه به ترے څه تپوس کولو. هغهٔ به هم هغه تپوس دَ بادشاه نه کولو چه بادشاه تنګ شو نو آوازئے اوکړو. څوک شته؟ (مطلب ئے دا وو څوک جلادو غیره چه دهٔ ته سزا ورکړی.) هغه بزرګ هم آواز اوکړو څوک شته؟ ناڅاپه دَ آواز سره دَ دربار دَ یو

کوټ نه یو زمرے په غرنبار را اووتو. بادشاه او ټول درباریان په ډیر هیبت اُوتښتیدل ورسره هغه بزرګ هم منډے کړے. (ځکه چه هغه هم نۀ ووخبر چه دا زمرے څنګه په آواز الله تعالیٰ را پیدا کړو) لکه څنګه چه حضرت موسیٰ علیه السّلام ته حکم اوشو چه همسا اوغورځوه چه هغۀ همسا اوغورزوله. اژدها ترے جوړه شوله. نو موسیٰ علیه السلام ترے په شا شو. که دا دَ هغۀ اختیاری کار وے. نو نه به په شا کیدو.

غرض دا چه کرامت اختیاری شے نۀ دے. او دَروح اختیاری تصرّف په دلائلو ثابت نۀ دے. او بے دلیله ئې منل جائز نۀ دی. ځکه چه الله تعالیٰ فرمائی. وَلَا تَقۡفُ مَا لَيۡسَ لَكَ بِهٖ عِلۡمٌ ط (کومه خبره چه درته یقینی معلومه نۀ وی په هغے عمل مۀ کوه) دَ عوامو دا عقیده ده چه په دے شپه ځوک مړو پسے خیرات اونکړی. نو مړی خفه واپس شی. او ورته ښیرے اوکړی.

یاد لرئ. مړی پسے خیرات کول نفلی کار دے. څۀ فرض واجب نۀ دے او په نفلی کار پریښو ځوک ملامته کول او ورته ښیرے کول ناجائز او ګناه ده. دَ دے نه خو دا لازمه شوه. چه مړی هم ګناه کوی. حالانکه دَ مرګ نه پس انسان ګناه نشی کولے. ځکه چه دَ وخت کښے ورته هر څۀ منکشف شی. دَ هر کار حقیقت ورته معلوم شی.

غرض دا چه دا ټولے بے اصله خبرے دی. (څۀ ثبوت ئې نشته) دَ شبِ برات متعلق احادیثو نه صِرف درے خبرے معلومیږی.

(۱) په دے شپه مقبرے ته تلل او مړو ته دَ مغفرت دعا غوښتل او دَ څۀ قدرے تلاوت ثواب ورته بخښل. لیکن هغه هم په ډلو ډلو دَ میلے په شان نه بلکه ځان ځان ته څۀ وخت اوځنکه چه چا ته سهولت وی. دَ احادیثو نه خو صِرف دا ثابته ده. لیکن دَ دے غرض چونکه مړو ته ثواب رسول دی. نو په دے باندے دَ عبادت نورے طریقے هم قیاس کولے شو. دَ تلاوت نه علاوه که ورته ځوک دَ مالی عبادت (یعنی څۀ خیر خیرات) ثواب بخښل غواړی. نو کیدے شی. نو که دَ حلوا دَ قید نه بغیر ځوک په غریبانو څۀ اوخوری او مړو ته ئې ثواب اوبخښی. نو څۀ حرج ئې نشته.



Scanned with CamScanner

(۲) دویم دا چه په دے شپه عبادت زیات کول پکار دی -

(۳) په پنځلسم شعبان روژه نیول پکار دی. د دے نه علاوه نور ټول خرافات دی. په کومه زمانه کښے چه دا رواجونه شروع کیدل، ممکنه ده هغه وخت کښے ورکښے څهٔ خاصه فائده وه لیکن اوس خو دا رواجونه خلقو په ځان فرض کړی دی. او د شریعت حکم ئے ګڼړی. نو که څهٔ مصلحت پکښے وو، هم اوس ئے د فساد په وجه پریښول ضروری دی.

ځکه چه د فقهاؤ دا اصول دی" کوم کارونه چه شرعاً ضروری نهٔ وی، او خلق ئے ضروری اوګڼړی. نو د عقیدے د فساد په وجه د داسے کارونو پریښول واجب شی.

نو په دے زمانه کښے که هغه بزرګان موجود وے چا چه د څهٔ وقتی مصلحت په وجه دا رواج جاری کړے وو. د موجوده خرابیو په وجه به هغوئ خپله هم د دے د ترک کولو حکم کړے وو.

لکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کښے ښځے جمات ته مانځه ته راتلے. روستو بیا اصحابو چه اولیدل چه اوس حالات بدل دی. نو منعه ئے کړے. دغه شان که موږ هم د مشرانو دا رواجونه پریږدو. نو څهٔ حرج دے. د عالمانو دا کار دے چه د وخت حالت او د زمانے رنګ ته ګوری. او دا قسم کارونه کوم چه په شریعت کښے ضروری نهٔ وی. د حالت مطابق ئے بدلوی. البته په ضروری احکامو کښے تبدیلی نشی کیدے.

د دے قسم احکامو مثال داسے دے. لکه د بقراط حکیم د زمانے نسخے که نن صبا یو حکیم استعمال کړی، نو هغه به مریض ته د فائدے په ځائے نقصان ورکړی. هوښیار طبیب داسے نسخه تجویز کوی. کومه چه د مریض د مزاج او د هغه ملک د آب و هوا سره موافق وی-

البته اصولِ علاج هم هغه دی. کوم چه مشرانو مقرر کړی دی.

حاصل دا چه په دے شپه خامخا د حلوا خیرات او آتشبازی وغیره خرافات دی. د دے نه علاوه څهٔ خلق په دے شپه د مسورو دال هم ضروری ګڼړی. نهٔ پوهیږم چه د مسورو د دال او حلوا سره څهٔ مناسبت دے؟

دَ ځنه خلقو دا عقیده هم ده. چه په دے کال کښې چه څوک مړی شوی دی - دَ هغوئ ارواح دَ نورو ارواحانو سره ترهغه نهٔ یوځائے کیږی ترڅو چه ورپسے دَ شبِ برات حلوا نهٔ وی خیرات شوی. اودے ترے عرفه نوم ایښے دے. دا ټول دَ جاهلانو دَ امامانو ایجاد دے دائے ځانته دَ آمدنئ ذریعه جوړه کړی ده. دا امامان دومره حریصان دی. چه دَ آمدنئ دَپاره دَ جائز او ناجائز هیڅ خیال نهٔ ساتی. دَ دوئ په بدنیتئ او حرص پورے یو لطیفه مشهور ده.

وائی چه دَ یو ډم نه چا تپوس اوکړو. چه ټولو کښې ښه فرقه دَ چا ده. او ټولو کښے خرابه فرقه دَ چا ده. ډم ورته اووے. ټولو کښے ښه فرقه ځمونږ ده چه همیشه دَ ښادئ سوال کوو چه چرته ښادی جوړه شی ځمونږ هم څوک تپوس اوکړی - او دَ آمدنئ څهٔ ذریعه جوړه شی. او ټولو کښے خرابه فرقه دَ جاهلانو امامان دی. چه همیشه دَ غم سوال کوی. چه محله کښے څوک مالدار مړ شی او په سخات خیرات کښے ورته غټه برخه ورکړے شی. او کم از کم خلویښت ورځے ئے دَ روټئ درک اولګی. واقعی دَ دے ډلے دَ حرص دا حال دے. چرته چه مالدار سړے ناجوړه شی. نو دَ زړهٔ نه به ورته هیڅ کله دَ صحت دعا ونکړی. وائی به که مړ شی. ښه به دی چه سخات خیرات کښے څهٔ په لاس راشی.

واقعی دا دَ مړو دَ شپے حلوا او دَ ګړیتے کچړے هم دَے نیار خورو ایجاد کړے دے دَ فاتحے او ثواب بخښلو دَپاره ئے دا سے طریقے ایجاد کړی دی. چه دَ دوئ دَ حاضرئ نه بغیر ئے څوک نشی کولے. دَ فاتحے دَپاره خوراک او اوبهٔ مخے ته کیښول او دَ سورتِ بقرے آخری آیتونه ورباندے دَم کول ئے ضروری کړی دی. او دا آیتونه عوامو ته یاد نهٔ وی. نو ضرور ورته امام صاحب راغواړی. او چه حاضر شی نو برخه ئے هم غټه اوشی.

ځکه خوزهٔ وایم چه کوم ځائے کښے په دے بدعاتو بندولو خلق پریشان کیږی - نو هغوئ ته دا ویل پکار دی. چه خیر دے دَ فاتحے خپل دستور کوئ. خو امامانو ته پکښے غټه برخه مهٔ ورکوئ. دَ الله دَپاره دِ ورباندے فاتحه وائی. ټول څیز به فقیرانو ویشئ بیا او ګورئ هم دوئ به مو دَ دے بدعاتو نه منع کړی. ځکه چه څهٔ خیر خو به ئے پکښے وی نه. هسے به دَ فاتحے دَپاره رابشکلے شی. په دے طریقه به دا بدعات خپله ختم شی.

(او صفا سوتره د الله د رضا د پاره خیرات به پاتې شي خو مره چه د چا وَس کیږي)

د نفساني خواهشاتو (هوی) دویم قسم دَ عمل متعلق دے. (دا اول دَ عقیدے متعلق وو ـ چه غیر ضروري کار ته ضروري گنړلو.) یعنی څهٔ کار دَ څهٔ غلط غرض دَ پاره کول. مثلاً دَ جاه (یعنی خلقو کښې نیک مشهوریدو او قدر عزت زیاتیدو د پاره.) یو نیک کار کول.

---

دَ نفساني خواهشاتو (هوی) دریم قسم دَ تکویني احکامو متعلق دے. احکام په دوه قسمه دي یو تشریعي. لکه مونځ. روژه. زکوٰة وغیره. دویم تکویني. لکه باران کیدل نهٔ کیدل. یا څوک مالدار کیدل او څوک غریب کیدل وغیره. دے متعلق کوم نفساني خواهشات چه دي هغې ته د دائے نوم کیښودل زیات مناسب دی. اگرچه د رائے لفظ عام دے. لیکن د بدعت وغیره په نسبت دلته د الفظ زیات مناسب دے دا چه په تکویني کارونو کښې هم خلق دَ خپل خواهش مطابق خیالات اظهار کوي. لکه خلق وائي. څکال باران او نهٔ شو. فصلونه تباه شو. وغیره وغیره. دَ ادب خبره داوه. چه استغفار ئې کړے وے. چه دا څونږ دَ نافرمانیو نتیجه ده. چه توبه اوباسو. او دَ الله نه معافي اوغواړو. نو دا خو ترے نهٔ کیږي. خو فریادونه به کوي. چه باران او نهٔ شو. قحطي به راشي وغیره. دوئ نه تپوس پکار دے. چه دا خبرے چا ته او روئ خلقو ته او روئ ئې بے فائدے دی. ځکه چه په دے کښې دَ چا وَس نشته. الله تعالیٰ خو عالم الغیب دے. هغه خپله په هر څهٔ خبر دے. هغهٔ ته او روئ هم مقصود نهٔ دی. نو پس هسے یو اعتراض شو. او (نعوذ بالله) الله تعالیٰ ته مشوره ورکول شو. چه دَ باران ضرورت دے. دا خو مره سخته بے ادبي ده. دَ الله تعالیٰ دَ حاکمیت مطلقه تقاضا خو دا ده. چه چا ته اجازت دَ هغهٔ په دربار کښې سوال هم نهٔ شو کولے. دعا ئې هم نشوے غوښتے. بے اجازته ټربه خوزول هم نهٔ وو پکار. دَ اعتراض او مشورے ورکولو گنجائش چرته دے؟ دَ هغهٔ خو دا شان دے.

هست سلطاني مسلم اورا  نیست کس را زهرهٔ چون و چرا

(دَ هغهٔ بادشاهي منلې شوي ده. دَ هغهٔ مخکښې دَ هیچا دَ چون و چرا طاقت نشته)

خپله فرمائی:- قُلْ فَمَنْ يَّمْلِكُ مِنَ اللّٰهِ شَيْـًٔا اِنْ اَرَادَ اَنْ يُّهْلِكَ عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ وَاُمَّهٗ وَمَنْ فِي الْاَرْضِ جَمِيْعًا وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ط (اووایه دَچا څهٔ اختیار دے د الله مخکښے-که هغه عیسیٰ ابن مریم او دَ هغهٔ مور او دَ دنیا ټول مخلوق هلاکول اوغواړی- آسمانونه او زمکه او دَ دے دواړو تر مینځهٔ چه څهٔ دی، دَ دے ټولو بادشاهی خالصه دَ الله ده۔)

ځنه خلق دومره بے باکه وی که یو ځوان بنده مړشی- نو دوئی وائی دَ دهٔ عمر خو دَ مرګ نهٔ وَو ډیر بے وخته مړ شو- که څهٔ موده نور ژوندے پاتے وے- نو ښه به وه بل ورته او وائی- دَ خدائے په کارونو کښے څوک څهٔ ویلے شی- دا خبره خو په خپل ځائے صحیح ده- لیکن دَ دے جاهل مطلب خو دا دے- چه کار واقعی بے موقع اوشو- دا سړے یا دَ مرګ نهٔ وو- خو (نعوذ بالله) الله زورور دے- څوک څهٔ ویلے نشی- ګویا دَ الله په دربار کښے تیارهٔ او بے انتظامی ده- دَ چا مصلحت ته نهٔ ګوری- دا غریب ځوان ځلے وو- یا ئے دَ مرګ ورځے نهٔ وے- بے وخته ئے مړ کړو- (بلکه پښتانهٔ خو ورسره دا هُم او وائی- دَ الله زړهٔ نشته چه پرچا اُوسوزی- مترجم) یا دلری- دا ډیرهٔ بے ادبی او ګستاخئ خبرے دی- الله تعالیٰ حکیم دے هغه هر څهٔ چه کوی عینِ حکمت او مصلحت وی

"هرچه آن خسرو کند شیرین بود"

هغه حقیقی بادشاه دے- چه څهٔ کوی هغے کښے خیر دے-

یو بزرګ په یو ځنګل کښے خلوت نشین وو- یوه ورځ ښهٔ باران اوشو- نو هغهٔ دَ ډیرے خوشالئ نداوو دے- سبحان الله- څنګه ښهٔ په موقع باران اوشو- دَ غیبو آواز اوشو- "او بے ادبه بے موقع ام کله کړے وو؟"

اُوګورئ- دَ بزرګانو خو په داسے تعریف هم ګرفت کیږی- په کوم کښے چه دَ بے ادبئ څهٔ وهم نهٔ وی- "مقربان را بیش بود حیرانی"

(څوک چه ورته ډیر نزدے وی هغه ډیر پریشان وی- چه چرته دا نه بے ادبی اونشی-)

لیکن مونږ غافل خلق شپه ورځ سختے بے ادبئ کوو- او هیڅ خیال نهٔ ساتو- غرض دا چه

دَ الله تعالیٰ دَ حکمت او حکومت خو دا تقاضا وه چه مونږ بے اجازته دُعا هم نشوے غوښتے لیکن څمونږ دَ فطری کمزورئ په وجه الله تعالیٰ په مونږ داعظیم رحم وکرم کړیدے. چه هر وخت دَ دعا اجازت دے. هیڅ پابندی نشته. بیا دَ دے غنے مهربانئ تکمیل ئے په دے کړے دے. چه واقعات ئے راند پټ ساتلی دی. دَ غیبو علم ئے نه دے راکړے. که خبرو ے چه تقدیر دا سے دے صبا به دا کار کیږی. نو بیا به مو دُعا هم نشوه غوښتے. ځکه چه دَ قضا سره دَ مقابلے شکل وو مثلاً که داکشف راتر کیدے. چه تر دے وخته به باران نۀ کیږی بیا به او شی نو دعا به مو نشوه غوښتے. او دَ الله سره دَ همکلامئ دَ شرف نه به محروم پاتے وو. دَ دے نه معلومه شوه چه دَ تکوینی احکامو کشف نۀ کیدل هم دَ الله تعالیٰ رحمت دے. البته دَ شرعی احکامو معلومیدل رحمت دے.

حاصل دا چه مونږ ته دَ دعا اجازت دَ الله تعالیٰ عظیم رحمت دے. او غټه مهربانی ده. دَ مجازی حاکمانو سره خبرو دَ پاره خلق څومره کوشش کوی. او څومره مالونه لګوی. او دَ مجازی محبوب سره خبرو دَ پاره خو هر څۀ قربانوی. او بیا هم کامیابی نۀ مومی. لیکن دا حکم الحاکمین په دربار کښے درخواست پیش کولو دَ پاره هیڅ پابندی نیشتنا. او حقیقی محبوب سره دَ خبرو کولو عام اجازت دے. نه ئے څۀ فیس شته. نۀ په دَ وخت یا ژبے څۀ پابندی شتنا. دَ شپے دَ ورځے په رڼا کښے په تیارۀ کښے. څۀ وخت چه دَ چا څۀ ضرورت وی. په هوه ژبه کښے هر وخت خپل درخواست پیش کولے شی. او دَ خپل ضرورت دَ پاره دُعا غوښتے شی. او دَ خپل حقیقی محبوب سره دَ همکلامئ خوند اخستے شی. بیا مجازی حاکم او مجازی محبوب خو په ډیرو خبرو خفه کیږی سړے رتی چه څۀ غوږونه راته خوړے لیکن حقیقی محبوب په ډیرو سوالونو خفه کیږی نه. بلکه خوشالیږی. حدیث شریف دے. إِنَّ اللهَ يُحِبُّ الْمُلِحِّيْنَ فِي الدُّعَاءِ. (بیشکه دَ الله تعالیٰ هغه کسان خوښ دی چه په دعا کښے ډیره زاری او ډیر اصرار کوی.) نو دُعا یو عظیم نعمت دے. او دَ محبوب حقیقی سره دَ همکلامئ شرف حاصلول دی. مولانا فرمائی.

از دُعا نبود مرادِ عاشقان    جز سخن گفتن بآن شیرین زبان

(د عاشقانو مطلب په دعا کښې. خپل محبوب سره خبرو کولو نه سوا نور هیڅ نه دی)

حاصل دا چه د اتباعِ هوٰی درے قسمه دی. یو بدعت د عقائدو متعلق دے. دویم معصیت (گناه) چه د اعمالو متعلق دے. دریم دا ئے کوم چه د دنیوی کارونو متعلق دے. او دا درے واړه بنده د سمے لارے نه بے لارے کوی. لکه چه الله تعالیٰ فرمائیلی دی. وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوٰى فَيُضِلَّكَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ (د نفسانی خواهش اتباع مهٔ کوه. دا به دِ د الله د لارے نه بے لارے کړی.) نو د اتباعِ هوٰی اعلیٰ درجه کفر او شرک دے. چه بنده د اسلام نه او باسی. او ادنیٰ درجه ئے دا ده چه بنده گنهگار کړی. او د کامل مسلمانئ نه ئے پاتے کړی. په يُضِلَّكَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ کښې دا دواړه داخل. ځکه چه د اضلال درجې مختلفې دی. اعلیٰ درجه ئے کفر دے. او کمه درجه ئے فسق دے. مولانا رح فرمائی.

۱ با هوٰی و آرزو کم باش دوست چون يُضِلَّكَ عَنْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اوست
۲ تا هوٰی تازه است ایمان تازه نیست چون هوٰی جز قفل آن دروازه نیست
۳ تازه کن ایمان نه از گفتِ زبان اے هوٰی را تازه کرده در نهان

(۱) (اے دوسته د نفسانی خواهشونو او ارمانونو پیروی ډیره مهٔ کوه. ځکه چه دا به دِ د الله د لارے نه واړوی).

(۲) خو پورے چه دِ نفسانی خواهش تازه او قوی دے. ایمان دِ تازه نهٔ دے کمزورے دے. د ایمان د دروازے بندولو د پاره د نفسانی خواهش نه زیات مضبوط قفل بل نشته.)

(۳) د زړهٔ په صدق ایمان تازه کړه. تش په خوله نهٔ تازه کیږی. تا خو په زړهٔ کښے نفسانی خواهشات بنهٔ قوی ساتلی دی.)

اوس پاتے شوه دا خبره چه د دے علاج به څنګه کیږی (دا خواهشات به د زړهٔ نه څنګه اوځی.) علاج ئے دا دے چه کوم احکام چه په شریعت کښے منصوص دی. د دګومو متعلق چه صفا حکم راغلے دے) هغه کښے د شریعت کامله اتباع پکار ده. او کوم چه منصوص نهٔ دی. په هغه کښے د هغه کسانو اتباع پکار ده. چا چه خپل نفسونه فنا کړی دی. یعنی د شیخ کامل اتباع پکار ده. مولانا فرمائی.

۱ وین هوا را نشکند اندر جهان ہیچ چیزے ہمچو سایہ ہمرهان

۲ یار باید راه را تنها مرو بے رفیقے اندرین صحرا مرو

(۱) (د هوئ دَ مرشد دَ اتباع په شان بل هیڅ شے نشی ختمولے.)

(۲) (دَ سلوک په لاره کښے مددګار پکار دے. یواځې مهٔ ځه. بے مرشده په دے صحرا کښے قدم مهٔ کیږده.)

دلته چا داو یلے شو. چه څنه کسان خو بے مرشده واصل شوی دی. بل شعر کښے مولانا" دَ هغے جواب کوی. فرمائی.

هرکه تنها نادر این ره را برید هم بعونِ همّتِ مردان رسید

(چا چه شاذو نادر دا دَسلوک لاره یواځې طے کړے ده. هغوئ هم دَ خدائے دَ دوستانو په پټ امداد رسیدلی دی) په دے شعر کښے دَ دے شبهے دوه جوابه شوی دی. یو دا چه اول خو بے مرشده واصل کیدل شاذو نادر یعنی ډیر کم دی. او نادر باندے حکم لګول او عامه قاعده ترې جوړول غلط دی. اَلنَّادِرُ کَالْمَعْدُوْمِ مشهوره مقوله ده. (شاذ نادر په نشت حساب دی) دَ دے مثال داسے دے. لکه یو سړے ډیر غریب وی دَ ژوند نه موړ وی. ځان پورے تنګ شوے وی. یو ځائے کښے غار کنی چه ځان ورکښے ښخ کړی. او دَ دے ژوند نه خلاص شی - ناڅاپه هغے کښے دَ اشرفو ډک مټ را اووځی. او دا غریب سړے مالدار شی. نو دا یو اتفاقی او نادره کار دے. او س که بل غریب په دے طمعه غار کنستل شروع کړی. نو هسے به ځان سر ټکرې کړی. ضروری نهٔ ده چه هغه هم خزانه بیا موټی -

دغه شان که یو کس چرته اتفاقاً بے شیخه واصل شوے وی. نو دَ دے نه قاعده جوړیدل او بل هم په دے طمع کیدل چه بے مرشده به کامیاب شم غلط کار دے.

بل جواب ئے دا دے چه خلق په دے کښے غلطی کیږی. کوم چه په ظاهره دَ چا بې مرشده رسیدلی دی. دا غلطه ده. اصل کښے هغه هم دَ چا په پټه امداد رسیدلی دی. ځکه چه فیوض دوه قسمه دی. یو ئې طلبه او بے خبره بل ته رسی. دَ دویم په پاره کوشش او اتباع حاصلیږی. بے طلبه فیض رسیدل بیا دوه قسمه دی.

یو قسم دَ هغې بزرګانو په اختیار او اراده وی. لکه دُعا کول - او دَ چا په حال توجه کول.

دویم بے اختیاره او بے خبره وی. چه خالص دَ دوئ دَ وجود په برکت نور مخلوق ته رسی. دَ دے مثال دا سے دے - لکه نمر چه را ښکاره شی. ټوله دُنیائے دَ رڼا نه فائده اخلی - لیکن نمر ترے خبر هم نۀ دے -

نو څوک چه پر ظاهره بے مرشده رسیدلی دی. هغوئ هم په اصل کښے دَ بزرګانو دَ فیض په برکت رسیدلی دی - اختیاری وی. لکه دُعا وغیره. که غیر اختیاری وی

دَ اُمتِ محمدیؐ هم عجیبه حال دے. پر دے کښے هر یو ته دَ بل نه فیض رسی - دَ مشرانو نه کشرانو ته رسی رسی - کله کله دَ کشرانو نه هم مشرانو ته فیض رسی - دے دَ پاره چه مشران مغروره نشی چه دا کشر مونږ ته محتاج دے -

دَ اُمت محمدیؐ حال خو دا سے دے - لکه یو ښځے نه چا پوښتنه کړے وه. ستا پر ځامنو کښے کوم یو ډیر ښۀ دے - هغې ورته په جواب کښے اووے - هم کالحلقة المفرغة لَا یُدْرٰی اَیْنَ طَرَفُهَا - (زما ځامن دَ غونډے کړئ پشان دی. چه دَ سر پته ئے نۀ لګی) یعنی چا کښے یو صفت زیات دے چا کښے بل - نو یو ته پکښے پوره ترجیح نشم ورکولے.

لکه یوه آئینه سره وی. بله زیړه - بله شنه - او ټولے یو بل ته دا سے مخامخ اودرولے شی. چه په یو بل ئے عکس پریوځی - نو دَ هرے یوے رنګ په بله کښے ښکاری - دغه شان حال دَ اُمتِ محمدیؐ هم دے - چه هر یو ته دَ بل نه فیض رسی -

دَ اماماتئ په مانځه کښے هم دا حکمت دے - چه په دے جمع کښے که دَ یو سړی مونځ هم مقبول وی. نو دَ هغهٔ دَ برکته دَ نورو هم قبول شی. کله کله برکت دَ دا سے سړی نه اورسی. چه دَ چا په خیال کښے هم نهٔ وی.

لکه وائی چه یو سړے مخکښے غټ غل وو. بیا ورته الله تعالیٰ دَ توبے توفیق

ورکړو۔ دَ یو پیر نه ئې بیعت اوکړو۔ دَ ذکر په حلقو کښې به کیناستو۔ ډیر په اخلاص او محنت ئې کار کولو۔ خو خاقو به ورته په هغه زور نظر سره نه کتل۔

یوه ورځ یو سړی دے پیر ته دَ ټولو موریدانو سره دعوت اوکړو۔ چه دَ هغه سړی کورته تلل۔ نو سخته ګرمی وه۔ الله تعالیٰ وریاندے دَ وریځې سوړے اوکړو۔ دَ ګرمئ نه ئې بچ کړو۔ ټولو دا خیال اوکړو۔ چه دَ پیرصاحب برکت دَ چه روټئ اوخوړے شوه۔ واپس راتلو نو هم وریځ وریاندے وه۔ په څه ځائے کښې دَ هغې غل لار بیلیده۔ چه هغه ترے جدا شو۔ وریځ دَ هغهٔ سره لاړه پیرصاحب او نور موریدان ئې په نمر پاتے شو۔ نو بیا معلومه شوه چه دا دَ هغې غریب برکت وو۔ چه دَ هیچا تر نظره نهٔ راتلو۔ خو دَ هغهٔ تواضع او عاجزی دَ الله تعالیٰ خوښه شوی وه۔

حضرت حاجی امداد الله صاحبؒ به وے۔ زهٔ خلقوته بیعت په دے نیت کوم۔ که دے کامیاب شو۔ نو ما به ځان سره (جنت ته) راکاږی۔ او که زهٔ کامیاب شوم۔ نو دے به راکاږم۔ ؎

بخت اگر مدد کند دامنش آورم بکف؛

گر بکشد زہے طرب ور بکشم زہے شرف

دکه بخت را سره امداد اوکړو۔ نو دَ محبوب لمن به په لاس راشی۔ که ځانته ئې راښکلم هم دَ خوشالئ خبره ده۔ اوکه ما را ښکلو هم دَ عزت اوخوشالئ کار دے)

کوم مشائخ چه ادراک لری۔ هغوئ شپه ورځ مشاهده کوی۔ چه دَ موریدانو نه ورته څومره فیض رسی۔ لیکن موریدانو ته حال نهٔ وائی۔ چه دماغ ئې خراب نشی۔

مطلب دا چه دَ کشرانو نه هم مشرانو ته فائده رسی۔ نو دَ مشرانو نه خو دَ استغنا هډو ګنجائش نشته۔ ځکه دَ اَهْلُ الله اِتِّبَاعْ دَ اِتِّبَاعِ هوٰی غټ علاج دے۔

نو خلاصه دا شوه، چه دَ اتباعِ هوٰی نه بچ کیدو دَ پاره دَ شریعت او دَ اهل الله اتباع پکار ده. انشاء الله په دے طریقه به دَ نفسانی خواهشاتو دَ جال نه خلاص شی.

اوس دُعا اوکړئ چه الله تعالیٰ مونږ ټول دَ اِتّبَاعِ هوٰی نه بچ کړی۔ او دَ اتباعِ شریعت او اِتّبَاعِ اهل الله توفیق راکړی۔ آمین

وَ صَلَّی اللّٰهُ تَعَالیٰ عَلیٰ خَیْرِ
خَلْقِهٖ سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّعَلیٰ اٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِیْنَ ۝
بِرَحْمَتِکَ یَا اَرْحَمَ الرّٰحِمِیْنَ ۝

نو ثابته شوه چه دَ ذکر خاصے پابندئ او خاصے طریقے دَ علاج په طور تجویز شوی دی. څه شرعی حکم او قُربتِ مقصوده نهٔ دی. چه بدعت ورته او وئیلے شی۔

حاصل دا چه سالکانو دَ پاره دوئیم دستور العمل دَ قرآن شریف تلاوت دَے. دَ دے ته پس ئ ارشاد دے. اِنَّا سَنُلْقِیْ عَلَیْکَ قَوْلًا ثَقِیْلًا ۵ دَ قولِ ثقیل نه مُراد وحی ده. چه درونده کلام وو. په مانځه او تلاوت دَ وحی دَ بوجه پورته کوو طاقت پیدا کیدو. ځکه ورته ورنبے دَ مانځه او تلاوت حکم اوشو. بیا دَ وحی نازلوو وعده اوشوه. اوس دا خبره چه دَ وحی نازلیدو په وخت دومره دُروند والے وو. دَ دے په حقیقت پوهیدل دَ عام عقل کار نهٔ دے. مونږ په نشو پوهیدے۔

دَ روایاتونه ثابته ده. چه دَ وحی نازلیدو په وخت که به حضوؐر په خپله اُوښه سور وو. نو اوښه به دَ ډیر دروند والی په وجه کیناسته. دا بوجه به ئے نشو برداشت کولے یو صحابی روایت کوی چه یو ځل دَ وحی نازلیدو په وخت دَ حضور صلی الله علیه وسلم سر مبارک ځما په پتون پروت وو. نو ځما په پتون دومره زور راغلو چه ما وے هډوکے ئے مات شو. په یخ ژمی کښے به دَ وحی نازلیدو په وخت حضورؐ خولے خولے شو۔

دَ دے حدیثونو نه ثابته شوه چه دَ وحی نازلیدل درونده بوجه وو. او دَ دے آیت مبارک نه هم معلومیږی. ارشاد دے. اَلَمْ نَشْرَحْ لَکَ صَدْرَکَ وَوَضَعْنَا عَنْکَ وِزْرَکَ الَّذِیْ اَنْقَضَ ظَهْرَکَ (آیا مونږ ستا سینه فراخه نکړه او مونږ تا نه هغه بوجه لرے نکړو چه ستا ملا ئے ماته کړی وه) یعنی دَ نزولِ وحی دَ بوجه برداشت کوو طاقت مو درکړو. دلته په وِزر کښے دَ وحی درونده والی ته اشاره ده. بل آیت مبارک دے. وَلَوْ اَنْزَلْنَا هٰذَا الْقُرْاٰنَ عَلٰی جَبَلٍ۔ (که مونږ دا قرآن په یو غر نازل کړے وے) په دے کښے خو وحی درونده والی ته ډیره واضحه اشاره ده۔

دَ تلاوت او نوافلو په کثرت سره دَ وحی دَ بوجه پورته کولو طاقت داسے پیدا کیدو چه دَ ذکر او تلاوت په وخت کښے قلب باندے علمی او عملی غیبی فیوض واردیږی. او په دے لږ لږ ورود سره روږد قلب کښے دَ برداشت طاقت پیدا کیږی. او دغه وجه ده چه سالکانو